په دغه ټولو اقسامو کي چی کوم پټ کړه شوي شی راپیدا شي ،که چیری ددغه په باره کي غالبه ګمان داوي چی دادیو مسلمان ملکیت ،ؤو ،اوهغه دی پټ کړی وي نو ددغه حکم د(لقطي) دی، یعنی ددي مالک اويا دهغه دورثا ؤ دی تر مناسبه وخته پوری معلومات وکړی ،که چیری هغه پیداشي نو دیئ وهغوته ورکړی ،اوکه پیدانشی نو دي پرفقراؤ اومسکنانو باندي صدقه کړی، اوکه چیری غالبه ګمان داوي چی دمسلمانانو ددغه سیمي دفتحه کیدلو مخکی چی کوم کافران آباد ؤو دغه خزانه هغو پټه کړیوه ،اويا دعلاماتو څخه دپټیدونکي په باره کي هیڅ معلومات نه کیدی ،نو که چیری مځکه داول قسمه څخه وي یعنی ددولت ملکیت وي نو دغه پټ کړه شوي شی دحکومت کیږي ،البته دولت که بیا وه پیداکونکي ته څه انعام ورکوي ورکولایې شي، دهغه کومه اندازه نده مقرره شوي .اوکه چیری په دوهم اودریيم قسم مځکه کي دغه پټه شوی خزانه راپیداشوه بیا به دهغه پنځمه حصه ودولت ته ورکوي ،اوپاتي ټوله خزانه دهغه چاده چی پیداکړي ئي وي.

في الدرالمختار: وماعليه سمة الاسلام من الكنوز فلقطة وما عليه سمة الكفر خمس (في ردالمحتار تحته) وقال ابويو سف: الباقي للواجد كما في ارض غيرمملوكة وعليه الفتوی آه قلت: وهو حسن في زماننا لعدم انتظام بيت المال وان خلا عنها ای العلامة او اشتبه الضرب فهو جاهلي على ظاهر المذهب. (شامی ص/م ۶۳و۶۴ج:۲)(۱) وفی ردالمحتار: قيل ذلک واما الثاني وهو مملوكة لغير معين فلم ار حكمه والذی يظهر لی ان الكل لبيت المال الخ (شامی ص:۶۰ج:۲)(۲) (۲)...... هوکې یا ا ددی صورت دشرعی دفيني دمعاملې سره هيڅ تعلق نشته او نه پرهغه باندي هغه احکام تطبيق کيږي ،وداسی کس ته چی دولت څونه اندازه انعام مناسب بولي ورکولاي يې شي. والله اعلم ۱۳۹۹/۱۰/۱۱(فتوی نمبر ۳۰/۱۷۳۸د)

ده دوو مځکوترمنځ په تبادله کي تر پينځه ديرش کاله وروسته په یوه مځکه کي کمبود او یا ډیروالي دښکاره والي ديو مخصوصه صورت حکم

(دمستفتی له طرفه خط)

وخدمت ته دجناب شيخ الاسلام صاحب دامت برکاتهم العاليه السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

احترامانه عرض دادي چی دمځکي يوه مسئله مخ ته راغله (څرنګه چی د درخواست سره چسپ وه) لکن په هغه کي فريقينو مذکوره مسئله دمختلفو ځايو څخه پوښتلي وه چی په هغه کي ديوي استفتاء دوه مختلف جوابونه مخ ته راغلي دی ،دوارو فريقينو ټينګښت کړيدي چی ددوی د پوښتل شوی استفتاء جواب دي قبول شی ليکن با لاخره د دوارو پردغه خبره باندي صلح وشوه چی دواړی فتاوا وي دي دشيخ الاسلام حضرت مولانا مفتي محمد تقي صاحب

(١) الدر المختار مع رد المحتار كتاب الزكاة باب الركاز ج: ٢ص: ٣٢٢ وص: ٣٢٣ (طبع سعيد) وفي الهندية ج: اص: ١٨٥ (طبع رشيدية كوئته) ومن وجد كنزا في دار الاسلام في ارض غير مملوكة كالفلاة فان كان على ضرب اهل الاسلام كالمكتوب عليه كلمة الشهادة فهو بمنزلة اللقطة ،وان كان على ضرب اهل الجاهلية كالدراهم المنقوش عليها الصليب والصنم ففيه الخمس ،واربعة اخماس للواجد...... ولو اشتبه الضرب بان لم يكن فيه شئ من العلامات يجعل اهليا في ظاهر المذهب ...... وان وجد في ارض مملوكة اتفقوا جميعا على وجوب الخمس فيه وفي مجمع الانهر ج: اص: ٣١٤،٣١٥ (طبع دار الكتب العلمية بيروت) وان وجد كنزا فيه علامة الاسلام فهو كاللقطة وما فيه علامة الكفر خمس وباقيه له ان كانت ارضه غير مملوكة وان مملوكة فكذلك عند ابي يوسف وعندهما باقيه لمن ملكها اول الفتح ...... وما اشتبه ضربه يجعل كافريا في ظاهر المذهب. (٢) باب الركاز ج: ٢ص: ٣١٩ (طبع سعيد)

عثماني وخدمت ته واستول شي هغه چې دکومې تصويب کوي پرهغه باند ی دواړه طرفين راضي دی . لهذا دهغه جناب په خدمت کي دواړی استفتاوی اودواړی فتوای وی پيش کړه شوی دجناب څخه عرض دادی چې تاسو پردواړو فتاوی ؤ نظر وکړی او دصحيح مسئلې وطرفته رهنمائي پرماياست . العارض قاري محمد ابراهيم (مدرسه عربيه کوثر ضلع بونير)

سوال : څه فرمائي علماء ددين اومفتيان دشريعت متين چې يو شخص محمد اکرم نوميړی ديو بل شخص سره چې يوسف خان نميړی د ١٩٨٠ء څخه دمځه دمځکي تبادله کړيوه لکن وکادستر ته ئي انتقال پاته شوی وو او په ٢٠١٠ء په اخرکی کله چې دکادستر وشعبې ته ورغلی چې هلته هم انتقال کړه شي نو دکادستر مامور ورته وويل چې دمحمد اکرم په مځکه کي زياتوب دی نو اوس يوسف خان او ورارہ ګانو ورته ؤويل چې اول به دهغه زياتوب عوض اداکوي اوبيا به ئي وکادستر ته دانتقال معامله ختموي ،اوحال داچې دکادستر څخه يوسف خان اوورېرو دااصرار وو چې دانتقال معامله دی ختم شي،او محمد اکرم داخبره منې چې زياتوب شويدي ،لکن په کادستر کي زياتوب اوکمبود کيدايشی، اودغه معامله په ډيره پخواني مځکه کي دتبادلې سره شويده ،صرف دانتقال کيدلو ترحده پوری په دولت کي باقی پاته ده، محمد اکرم بالکل په يقيني ډول سره دانه وايي چې ددې زياتوب عوض زه اداکوم په دی وجه سره چې ډير وخت تير شويدی،يوسف خان اودهغه وراره داوايي چې اول ددغه زياتوب عوض اداکړه ،بيا ده انتقال معامله کيږی، که چيری ددغه زياتوب عوض واقعتا په اول کي نوی اداشوی نو دونه زيانه زمانه تقريبا د ٣٥کالو په دوران کي ئي ولی ذکر نه کاوي اودونه اوږده زمانه دحاصلاتو

مطالبه ئي ولي نه کوله ؟ او حال دا چي طرفين د ۳۵ کالو څخه موجود دي، نه په سفر باندي وُ او نه بي خبره وُ ،بلکه يو دبل د مځکه څخه هم خبر وه، تر داسي اندازي پوري چي وه کادستر ته تر تګ د مځه او د زياتوب دياد ولو څخه مځکي دواړه طرفين په دولت کي پر انتقال باندي راضي وه، اوس قباله صرف د دغه وجهي څخه پاته شوه چي د محمد اکرم سره صرف د انتقال يا قباله د مصرف طاقت شته او د هغه زياتوب مځکي د مصرف طاقت ورسره نشته ،کم چي د هغه عوض يوسف خان او وريرونه غوښتونکي دي، اوس د يوسف خان او وريرونو د انتقال يا قباله څخه انکار په څه وجه سره دی ؟اوس سوا ل دا دی چي مدعی څوک دی او مدعی عليه څوک دی ؟ او که بالفرض پر محمد اکرم باندي دا ثابته شي چي د هغه زياتو ب عوض ئي اول ندی اداکړی نو اوس ۳۵ کاله مځکي قيمت به اداکوی اوکه د اوس وخت د نرخ قيمت به اداکوی او که يوسف خان بيله ثبوته داؤوايي چي د هغه زياتوب څخه نيمی مځکه او يا د نيمی قيمت راکړه پر طريقه د صلح نو د غه صلح جائز ده او کنه ده ؟

جواب د جامعه اسلاميه تيمر ګره څخه

الحمد لله رب العلمين ،الجواب باسم ملهم الصواب، د محمد اکرم له طرفه څخه چي کم زياتوب راغلی دی، هغه د دوی حق دی، محمد يوسف يا ده ده د وريرو دعوای صحی نه ده ،دا بيعه او مبادله ده، کله چي د مبادله په وخت کي حدود معلوم شوي وی ،بيانو ذهر طرف څخه چي زياتوب شوی وي ،د هغه حقداره کيږي ،د زياتوب دوژکولو او يا د هغه د عوض اخستلو حق نه کيږي، وهذا لان الارض من المذروعات وليست من المكيلات والموزونات فيكون الزرع فيها وصفا لااصلا . ومن اشترى ثوبا على انه عشرة اذرع بعشرة دراهم اوارضا على انها مائة ذراع بمائة فوجدها اقل فالمشترى بالخيار ،انشاء اخذها بجملة الثمن ،وان شاء ترك، لان الذراع وصف في الثوب ...... وان وجدها اكثر من الذراع الذی سماه فهو للمشتری ولا خيار للبائع ،و لانه صفة، فكان بمنزلة ما اذا باعه معيبا ،فاذاهو سليم . (الهداية ج:۵ص:۱۴) (۱)

الجواب صحيح بنده محيب الرحمن . المتعلم محمد اسحاق بجامعة العلوم الاسلامية تيمر گره.

(وضاحت دمصنف څخه)

دحضرت محترم دامت برکاتهم دسوال اودداړو جوابو دمطالعه څخه وروسته داصل استفتاء په باره کي څه تنقیحات مي ضروری وبلل اودسائل څخه دغه لاندی تنقیحات وغوښتل شوه (مصنف)

(تنقیح دحضرت محترم دامت برکاتهم العالیه څخه)

دلاندني ذکرشو امورو وضاحت دی داستفتاء سره یوځای شی تر دغه وروسته ان شاء الله جواب درکول کیږی، (١) دمځکی تبادله دمځکي سره سوي وه اوکه دنغدوروپو په ذریعه باندي ؟ (٢) دتبادلي په وخت کي مځکه اندازه شوي وه اوکه نه ؟ که چیری شوي وه نو په هغه وخت کي دغه زیاتوب معلوم ؤو که نه ؟ (٣) که چیری مځکه نه وه اندازه شوي نو بیا دمځکی تعین پرکوم بنیاد باندي شوي ؤو؟ (۴) اوس چی کوم زیادت راوتلي دي هغه څونه دي ؟ ددغه سوالاتو جوابونه دي ددواړو فتوی ؤو دکاپیانو سره راواستوي . والسلام بنده محمد تقي عثماني ۳۲/۵/۲۶ھ

دتنقیحاتو جواب دمستفتی څخه) (١)....... دمځکی تبادله په مځکه سره شوی وه نه دنغد قیمت په ذریعه باندی . (٢)..... یوسف خان ومحمد اکرم ته ویلي ؤ چی ته خپله مځکه ماته

---

(١)هداية ج:٣ص:٢۴(طبع رحمانية)

راکړه اوزه به خپله مځکه تاته درکړم ،اوس د ډیر وخت دتیریدلو په سبب داپه یاد نده چې :مځکې تعین پرکوم بنیاد باندي وشو ، داندازې په ذریعه باندي اوکه په اټکل سره اونه داپه یاد ده چې زیاتوب دغه وخت معلوم ؤو اوکه نه وو؟ (۳)...... اوس چې کوم زیاتوب ښکاره شو هغه تقریبا یونیم جریب ده .

جواب : (دحضرت محترم دامت برکاتهم العالیه څخه)

:تنقیح دجواب څخه معلومه شوه چې دمځکې تبادله په مځکه سره شوې ده ،اویوسف خان ومحمد اکرم ته ویلي وو چې ته خپله مځکه ماته راکړه اوزه به خپله مځکه تاته درکړم ددې څخه معلومه شوه چې ددواړو مځکه په خپل منځ کې معلومه اومعروفه وه، اندازه که معلومه وي اوکنه په داسې صورت کې شرعا تبادله صحې کیږي . (۱) ځکه چې داندازه څخه بغیر هم چې ددواړو دمځکې حدود متعین وي تبادله صحې کیږي ،که څه هم دیوې مځکې اندازه ترهغه بلې ډیره وي بیا هم تبادله شرعا صحې ده ،(۲)اوبعضې اوقات دموقعیت په وجه سره اویا د نورو اسبابو په بناء باندي دلږ اوډیرې مځکې په تبادله سره دواړه جانبین راضې وي ،لهذا که چیرې ۳۵کاله وروسته په اندازه کولو سره یوه مځکه زیاته شي نو پرهغه سابقه بیعه باندي کوم اثر نه پریوزي، نو اوس ویوسف خان ته ددغه زیادت حصه دقیمت دغوښتنې حق نشته . (۳) اودته په کارده چې دې ده دولت په کاغذانو کې دقبالې لپاره دغه شرط ونه لګوي چې ددغه بالابد مځکې قیمت اداکړه شرعا ودته دغه حق نشته . والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۴۳۲/۶/۴(فتوی نمبر ۱۳۵۶/۷۴)

دملکیت دحدودو شرعې تصوراو دحدودو په شرعې حیثیت پورې متعلق دحضرت مولانا محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه تک لاره

سوال : دملکیت دحدودو شرعا کوم ثبوت سته اوکه نسته؟ جناب اسد ګیلاني دجماعت دامیر څخه پوښتنه وکړه چې ستاسو په منشور کې دملکیت حدود شته اوددې شرعا کوم ثبوت دی؟

نوهغه وُویل چی دحضرت مفتي صاحب هم دغه رائیه ده آیا دغه صحی ده ؟ جواب: په اسلام کي نظام دارقم جوړشویدي چی په هغه کي دیو شخص ملکیت داسی نشی پاته کیدلا ی .چی هغه دی ونورو ته تاوان رسونکی وي ،بلکه خودبخود په ملکیت کي تحدید پاته کیږي .لکن

(۳،۲،۱) وفی الشامیة ج:۴ص: ۵۲۹ ومعرفة الحدود تغنی في معرفة المقدار ففی البزازیة باعه ارضا وذکر حدودها لا ذرعها طولا وعرضا جاز . وفی البحر الرائق ج: ۱۲ص: ۲۵۹(طبع دارالکتب العلمیة بیروت) ولانه مع الاشارة اذاکان لا یحتاج الی معرفة المقدار لایحتاج الی معرفة الوصف بالاولی.

دملکیت یوخاص حد ددباندی څخه په اسلام کي ندی مقرر شوی ،داسی تحدید شرعا جائزه ندي ،(۱)د حضرت مفتي صاحب مدظلهم فتوی هم دغه ده ،ددی په خلاف چی کومه خبره یو چا دده وطرفته منسوبه کړي وي هغه غلطه ده، داهم صحی نه ده چی یو سیاسی ټولي دی حضرت مفتي صاحب مدظلهم دمشوري څخه خپل منشور تک لاره دملکیت دپابندی اراده ظاهره کړي وي، دتحدید ملکیت په سلسله کي حضرت مفتي صاحب مؤقف اول هم شائع شوي وو او دصفري دمیاشتی د البلاغ څخه هم معلومیږی . والله اعلم ۱۳۹۰/۱/۱۷(فتوی نمبر ۴۰/۲۱۸)

(۱)دتفصیل لپاره دحضرت محترم دامت برکاتهم العلیه کتاب تکمله فتح الملهم، مسئله ملکیة الارض، ج:۱ص: ۴۴۵ (طبع مکتبه دارالعلوم کراچی) او ،وتحدید ملکیت کي شرعی حیثیت ،ملاحظه کړی.

كتابُ الأشرِبَة

(شراب او الكولُ سره دګډ شوو شيانو وغيره بيان)

فصل في احكام الكُحُول

دالکولو (شرابُ) احکام

چی الکول (شراب) په کښې ګډ شوي وي دهغه دواء حکم

سوال : (۱)..... په کمه دواء کي چی الکول(شراب) شامل وي، دهغه استعمال جائز دی او کنه؟

جواب: په کمه دواء کي چی د الکولو شتون معلوم وي دهغه د ډیرضرورت بغیر چښل رواء ندي (۱) او ډیرضرورت مطلب دادی چی هیڅ یو طبیب یا ډاکټر داؤو وایي چی ددي څخه بغیرد شفاء امید نشته . (۲) الجواب صحیح بنده محمد شفیع والله سبحانه اعلم احقر محمد تقي عثماني عفی عنه ۸۸/۶/۱ه

---

(۱) د او دهغه الکول حکم دی چی دانګورو اویا خورما څخه جوړشوي وي څکه که چیری الکول دانګورو اویا خورما څخه جوړ شوي نه وي نو بیا دهغه د دباندي داستعمال اجازه شته، لکه څنګه چی حضرت محترم دامت برکاتهم العالیه په تکمله فتح الملهم کي لاندني عبارات اوخپله راتلونکی فتوی کي لیکلی اوفرمائلي دی .البته په خورک کي بیله ضرورت څخه ئې فرهیز کول لازمی دی، وفی تکملة فتح الملهم کتاب الاشربة حکم الکحول المسکرة ج۳ص۶۰۸،(طبع مکتبة دارالعلوم کراتشی) وبهذا یتبین حکم الکحول المسکرة التی عمت بها البلوی الیوم فانها تستعمل في کثیر من الادویة والعطور والمرکبات الاخری فانها ان اتخذت من العنب اوالتمر فلاسبیل الی حلتها او طهارتها وان اتخذت من غیرهما فالامر فیها سهل علی مذهب ابی حنیفة ولایحرم استعمالها للتداوی او لاغرض مباحة اخری مالم تبلغ حد الاسکار لانها انما تستعمل مرکبة مع المواد الاخری ولایحکم بنجاستها اخذا بقول ابی حنیفة وان معظم الکحول التی تستعمل الیوم في الادویة والعطور وغیرهما لا یتخذ من العنب اوالتمر انما تتخذ من الحبوب او القشور اولابترول وغیره کما ذکدنا في باب بیع الخمر من کتاب البیع وحینئذ هناک فسحة في الاخذ بقول ابی حنیفة عند عموم البلوی . وراجع ایضا الی بحوث في قضایا فقهیة معاصرة ج۱اص۳۴۰و۳۴۱.(۲) وفی البحر الرائق ج۱اص۳۲۰ (طبع دارالکتب العلمیة بیروت) وقد وقع الاختلاف بین مشایخنا في التداوی بالمحرم ففی النهایة عن الذخیرة الاستشفاء بالحرام یجوز اذاعلم ان فیه شفاء ولم یعلم دواء اخر . وفی تبیین الحقائق فصل في البیع ج۱۶ ص۴۴۷ طبع ... وقال في النهایة یجوز التداوی بالمحرم کالخمر والبول اذا اخبره طبیب مسلم ان فیه شفاء ولم یجد غیره من المباح ما یقوم مقامه والحرمة ترتفع للضرورة فلم یکن متداویا بالحرام . وفی مجمع الانهر في شرح ملتقي الابحر فصل في البیع ای في بیع

المحتار الخ ج۴ص، ۲۲۴ (طبع دارالکتب العلمية بيروت) قيل يجوز التداوی بالمحرم کالخمر والبول ان اخبره طبيب مسلم ان فيه شفاء والحرمة ترتفع بالضرورة فلم يکن متداويا بالحرام فلم يتناوله حديث النهی .الخ

دهغه خوشبويي دحکم تفصيل چی الکول (شراب) ورګډ شوي وي

سوال : زه چی پرکالو خوشبويي لکوم هغه زياده دالکولو سره حل شوي وي ،آيا دcologne هغی استعمال روادی ؟ جواب : دخوشبويي حکم دادی که چيری دتحقيق څخه معلومه وي چی په دغه خوشبو کي الکول استعمال شوي دي او الکول هم دانګورو اويا خورما څخه جوړشوي وي نو هغه خوشبويي نجس اومرداره ده اودهغی استعمال روانه دی لکن که چيری دالکول دانګورو او خورما څخه بغير دبل شی څخه جوړشوي وي بيا ئي په استعمال کي ګنجائش شته . کذا في امداد الفتاوی ج:۱ص، ۲۲) (۱)

والله سبحانه اعلم ۱۳۹۷/۶/۲۸ه (فتوی نمبر ۶۶۵/۲۸ب)

چی الکول ورګډ شوي وي دهغی خوشبويي حکم

سوال : (په خط سره متعلقه حصه)آيا ده داسی خوشبو څخه علاوه داسی خوشبو چی په هغه کي الکول کډيږی ،هغه استعماليدايشی، ځکه چی دالکول په باره کي می دناپاکی اوريدلي دی مهربانی به موي ددي دحکم په باره کي موخبر کړی . (طلعت محمود راولپنډی)

جواب : محترمه وروره ! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته ! ستاسو خط راورسيدی الحمد لله موږ تولِه جوړيو خداي دي وکړي چی تاسو هم جوړياست، بنه خبره داده ،خوشبويي دي داسي استعمال شي چی په هغه کي دالکولو ګډ والي خدشه نه وي لکن کمه اسپري (پشاری عطر)

چی په بازار کي پیداکیږي ،په هغه کي استعمال شوی الکول ناپاکه نوي ،لهذا دهغه په استعمال کي هیڅ ممانعت نشته۔(۲) والسلام ۱۴۴۸/۴/۱۴ه .

(۱)دتفصیل لپاره دحضرت محترم دامت برکاتهم العالیه کتابونه، تکمله فتح الملهم ج:۳ص: ۲۲۴(طبع مکتبه دارالعلوم کراچی) او بحوث في قضایا فقهیه معاصرة ج:۱ص:۳۴۰ و ۳۴۱ ملاحظه کړی.(۲) وګوره! تیره شوي ۱۱۳او ۱۱۲ فتاوی اودهغه حواشی

كتابُ الطِب والتداوي

وَتلقيحُ الدمِ وَالاعضاء وَالاحبَالِ بِالآلاتِ وَضَبطِ الوِلادَة وَغيرِها

علاج ومعالجه، داعضاؤ پيوند كارى اوازمويښت دحامله (ټيسټ) اوتينګښت دکچني اوددي سره متعلق دنورو مسائلو بيان

دتنفس دبر قراره ساتلو لپاره دمصنوعی مشینانو داستعمالیدلو حکم

سوال: څه فرمائی ددین علماء په دغه باره کي چی زماورور انیس الرحمن دډیره وخته څخه نا جوړه دی. دغاړی څخه لاندي تول جسم ئي فلج دي. دساه اخستلو نظام یې هم ختم شوي دي. اوس په هسفتال کي دمصنوعی ساه اخستلو لپاره مشین ورته لګولي دی. اوس په آئنده کي دهغه مشین څخه بغیر ساه نه شي اخستلاي په دغه صورت کي مصنوعی مشین دساه اخستلو لپارهورته لګول ضروري ده اوکه دهغه لري کول جائزدي؟ جواب: دتنفس دباقی پاته والي لپاره دمصنوعی مشینانو استعمال شرعا ضروری ندی، بالخصوص کله چی دمشین څخه بغیر دژوندي پاته کیدلو امکان نه وي، اودمشینانو مصرف پر غاړه اخستل مشکل وي، لهذا په صورت مسئوله کي دمشین لري کیدل رواء دي . (۱) والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۴۲۰/۸/۱۵ه(فتوی نمبر ۳۹۱/۴۸) دمختلف اعضاؤ دیوه څخه وهغه بل ته د ورلګلو حکم

خلاصه دسوال : ټرانسپلانټ دلاري څخه (زړه ،پښتورګي، لبلبه ،اوڅینه ،وغیره) دیوه څخه وبل چاته ورلګول ممکن دي، په دغه باره کي یو کتاب تاسو ته دراستوم، چی زما دمطالعی ، مجموع دی اودټولو کتابو خبری په دغه کي مشوره comprehensive په وجه سره ډیرشوی دی، زه پوهیږم چی په پاکستان کي داعضاؤ تجارت دبندیدلولپاره یوه طریقه داده چی ټرانسپلانټ (دیوه څخه وبلته لګول) دي شروع شی ګواکی داسلامی نظریهCADAVERICنمائنده دی پردغه باندي خپل تربحث وروسته دی جائز وبولي ،دعلماؤیوه لویه ډله اوډاکټرانو حضراتوهم دغه ښه خبره نه ده بللي اوضرورت ددي خبري سته چی زیاتي ټولني ددي ددغه په باره کي یو دبله سره وشي ترڅوچی یوه لاره ښکاره شي، زه دافکر لرم چی ستاسو په څیر حضراتو باندي دالله تعالی له طرفه څخه دامسئولیت دی چی دغه داعضاؤ تبادله باندي خپله غوروکړی اویوه واضحه ښکاره لاره جوړه کړی اوبیا ئي ترخلقوپوری ورسوي ،أمید دی چی په دغه باره کي دي دغه کتاب ثابت شي . والسلام ډاکټرسعید اخترجواب : ګرانه قدرمنه مکرمه محترم ډاکټرسعید اخترصاحب ! السلام علیکم ورحمةالله ستاسو قدرمن لیک اوورسره د (ټرانسپلانټ څخه متعلق کتابچه

راورسيده، ترېوي مياشتي زيات کيږي ،دمصروفياتو اوسفرو په وجه سره تاسو ته مي خط ونه ليکي په هرحال ددغه

(۱)ويستنس عما في الفتاوى السراجيه كتاب الحظر والاباحة ص ۷(ط سعيد) رجل استطلق بطنه اورمدت عيناه فلم يعالج حتى اضعفه ومات لا اثم عليه رجل قال له الطبيب :قد غلب عليك الدم فاخرجه والا ليقتلك فلم يخرجه حتى مات لم ياثم كذا في العالمگيريه كتاب الكراهية الباب الثامن عشر في التداوى والمعالجات ج: ۵ص:۳۵۵(طبع رشيديه)

مهرباني څخه دزړه داخلاصه څخه شکر گزاره يم ،الله تعالى دى تاسو ته جزائي خير درکړى (آمين) ستاسو په علم کي دى وي چي دپاکستان اوهندوستان علماء په اکثريت سره (ديوه انسان اعضاء وبل انسان ته ورلگول) جائز نه بولي ،په فکرکښى دي وي (۱) که دغه اعضاء دژوندى انسان څخه واخستل شى اويا دمړه څخه اويا دقريب الموت څخه، تراوسه پورى چي په دغه موضوع کي کوم نوي تحقيقات راروان دي ،دهغه په نظردرلودلو سره پردغه مسئله باندي دي دسره څخه وغورکولو ته بيله شبي ضرورت سته . (۲) ددغه غرض لپاره تاسوته دغه مکتوب اومرسله کتاب ان شاء الله معاون کومکي ثابت شي، ما په خپل يوه کچني مجلس کي پردغه موضوع باندي دتحقيق کولو غوروکړى ،الله تعالى دى موږ وهغه نتيجي ته ورسوي چي دالله تعالى درضاءسره مطابق وي . والسلام ۱۴۲۴/۳/۲۹ھ

(۱او۲):ددى مسئله دزيات تفصيل لپاره دحضرت محترم دامت برکاتهم العاليه دمصدقه فتوى څخه ماخوذ دارالافتاء جامعه دارالعلوم کراچى دغه لاندى فتواى ملاحظه کړى ؛ سوال :آياداعضاؤ تبادله رواده ؟ جواب : داعضاؤ دتبادلې په اوس وخت کي مختلف صورتونه دى : (۱) ديوي انساني عضو پرځاى چي دغير ذى روح شى مثلا وسپنه ،اشتپل، وغيره عضوه ولگيږى .(۲) دانساني عضوى پرځاى ديو حلال حيوان مثلا بوزه ،وغيره عضوه لگول ،(۳) دانساني عضوى پرځاى ديو حرام حيوان مثلا سپى ،خنزير، وغيره عضوه لگول.(۴) دانسان دخپل جسم حصه ديوه ځاى څخه کاټ کړى وبل ځاى ته ولگيږى ،(۵) ديوه جوړ انسان يوه عضوه وبل مريض انسان ته ورلگول، په :نه کي اول ،دوهم، څلرم، صورتونه جائز دى، اوپه دريم صورت کي تفصيل دى، که چيرى اضطرارى حالت وو يىا دخنزير څخه علاوه دنورو حرامو حيواناتو داعضاؤ استعمال جائز دى، اوخنزير نجس العين دى اوبل دهغه په بدل کي نور حيوانات هم پيداکيږي له دغه وجي څخه ئي استعمال روا ندى، اوپه پنځم صورت کي اختلاف دى، دهندوستان اوپاکستان اکثره علماء ودغه ته ناجائزه وايي اودهندوستان

معض علماء او دعربو علماء دیو څو شرائطو سره ئې روا بولي، په هر حال دانسان ژوند دبچاویدلو لپاره او دعامی ابتلاء په نظر سره دهغه علماء په نزد دیو څو شرائطو سره ددغه صورت دجواز ګنجائش شته، لکن بیاهم دخرید اوفروخت څخه ځان ساتل ضروری دی. ځکه چې دانساني اعضاؤ بیع نا رواده داغه رقم که چیری دبعض علماؤ په قول باندي عمل وشی کوم چې په جواز باندي عمل کوی نو پر تاباندی توبه، استغفار اوصدقه خیرات کول لازم دی. هغه شرائط دادی : (۱) حتی الامکان کوشش دی وشی چې دیو مسلمان عضوه دی وبل مسلمان ته ونه لګول شي. (۲) دیو انسان دی داسی عضوه نه استلی کیږي چې دهغه ژوند وربوری موقوف وی لکه زړه وغیره. (۳) دیوی داسی عضوی استقال حرام دی چې دهغه دجلاکیدلو څخه دانسان یوه اساسی وظیفه محروم کیږي. لکه سترګی وغیره. (۴) معتمد او ماهر طبیبان دی ووایي چې ددې څخه بغیر بل علاج ممکن ندی. (۵) دچاچې یوه عضوه خیږي دهغه دطرفه به اجازه وی اویا به قریب الموت اویا به مړ وي نو دهغه دورثاؤله طرفه به اجازه وی (۶) دژوندی جسم څخه دهغه عضوی اخستل چې دهغه په باره کې داکټرانو داویلی وي چې ددې خاص ضرورت نشته. (۷) دعضوی داخستلو څخه به انسان بد نماء نه معلومیږی لکه مثلث اویا ورسره مشابه. (۸) دیو مسلمان عضوه دی ویو کافرته هیڅ کله نه ورلګیږی. (۹) که چیری کوم بی له وارثه مړی وي دهغه دعضوی انتقال جائزندی. (۱۰) دکوم انسان عضو چې ورکړه شی دهغه په باره کې به تشفی وی یعنی دهغه عضوی دانتقال څخه به جوړیږی. (ماخوذ ازتبویب ۸۷/۳۱۱) لقوله تعالی : (سورة البقرة :آیت ۱۷۲) انما حرم علیکم المیتة والدم ولحم الخنزیر وما اهل به لغیر الله فمن اضطر غیر باغ ولاعاد فلا اثم علیه ان الله غفوررحیم. في مشکواة المصابیح(۳۷۹/۲)، عن عرفجه بن سعد قطع انفه یوم الکلاب فاتخذ انفا من ورق فانتن علیه فامره النبی صلی الله علیه وسلم ان یتخذ انفا من ذهب. في الهندیة ج:۵ص:۳۵۴(طبع رشیدیه) قال محمد : لاباس بالتداوی بالعظم اذا کان عظم شاة اوبقرة او بعیر او فرس اوغیره من الدواب الاعظم الخنزیر والآدمی فانه یکره التداوی بهما . في الشامیة (۳۷۳/۶) انما الرخصة في غیر شعر بنی آدم تتخذه المرأة لتزید في قرونها، وذوائبها شیئا منالوبر،

الجواب صحیح لجواب صحیح الجواب صحیح والله اعلم محمد نعمان خالد اوله دربیع الثانی ۱۴۳۲هج اصغر علی ربانی حسین احمد عبدالرؤف سکهروي (فتوی نمبر : ۱۳۴۰/۱۷)

دطبُّ ګډ تعلیم ،اودنامحرمه علاج، دښځو دعلاج اوا پریشن (عملیاتُ) په وخت کي دپردې احکام

اودمریض اوډاکټر پوری متعلق دیوې ډاکټري مهم سوالونه اودهغې دسوالو جوابونه

(۱).....مریض اویا دهغه قریبان دمریض داصلِ مرض څخه دخبر ولو حکم

(۲).....دکچني دپیدا کیدلو په وخت کي دتولد دځای دپردې کولو حکم

(۴)......دښځني ډاکټري ديني مسئوليتونه

(۵)......دډاکټر لپاره اسلامي تعليم

(۶)......پرسرک باندي دټکر په وخت کي دډاکټر اويا عامو مسلمانانو لپاره کومک کول په کار دي اوکه ورڅخه تيريدل

(۷)......دښځو لپاره دطبي تعليم دزده کولو شرعی حکم

(۸)......په طبي تعليم کي دمخلوط نظام حکم

(۹)......دعملياتو په وخت کي دپردي په شرعی احکامو کي دکمي حکم :

محترم مولاناصاحب ! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته ! ټوله تعريفونه دهغه ذات لپاره دي چاچي دغه کائينات او انسان جوړکړيدی اوپر خپل مقرر شوي وخت باندي دغه نظام ختمه وي شکر دی هغه ذات ته چاچی تاسوته ددين علم درکړي اوو ماته اودارنګه خلقوته ددين دزدکولو شوق رانصيب کړيزه خپل تعريف درته کوم زماتعلق ديو طبي کالج سره دی خپل دغه تعلق مي په دي وجه بيان کړی چی ټوله سوالونه اومسائل ددي سره تعلق لری، اميد دي چی تاسو به دغه جوابونه راکړی اوزما مشکل به اسانه کړی . (۱)..... په هسپتال (شفاخانه) کي چی زما راشه درشه دداسی مريضانو سره کيږي ،چی دهغوی دړوند يوڅوورځی اويا يوڅومياشتي پاته وي ،يعنی هغه خوخپله نه په پوهيږی لکن زمادعلم مطابق هغه مريضی راته معلوميږی،مثلا کينسر،سرطان ،اوددي قسمه څخه ضررناکه مريضی چی هغه ټرداسی اندازي پوری رسيدلی وي چی ومرګ ته نږديکيږی، اومريض وخپل ځان ته اطمنان ورکوي ،اووايي چی زما دپلانی درد او يا فلانی تکليف وجه داده، يعني هغه چی دارنګه دخپله ځانه څخه پټوي اويا دا چی پرځان باندي د تکليف دراوستلو په وجه کوشش نه کوي چی دانو څه ناجوړيده ؟ نوزه په مشکل کي وليدلي يم چی يو انسان چی دهغه په دغه دنياکی وخت د ختم کيدلو دی اوونوي دنيا ته ئي دتللووخت ده رارسيدلو دی،اوزه په دغه پوهيږم نو په داسی

وخت کي دين پرما باندي کوم مسئوليتونه ايږدي ؟ آيازه وهغه ته وربښو ولای شم چی دهغه کمه ناجوړيده ؟ اوڅرنګه زه وهغه ته ووايم چی دخپلو ګناهو معافی دالله څخه واخله اودخپل آخرت فکر وکړه شايد چی يوڅوورځی دی پاته وي چی الله بخښنه درته وکړی، اويازه ودغه ته کومه دعاء وروښيم اوودده دنا جوړی فضائل ورته وښه يم اويا دده وقريبانو ته څه وروښه يم ،ماته داهم په فکر کي نه راځی چی يو انسان چی هغه ټوله ږوند پرخپله طريقه باندي تيرکړی وي اودمرګ په فکرکی نه وي ،هغه ته کومه داسی خبره اوڅرنګه ورته وښيم ،چی هغه دي مائيوسه هم نشی اودده اميد (بخښنه) دی هم پاته وي اومعافی دی هم وغواړی.

(۲)...ده ګچنی دپيدا کيدلو په وخت کي ده تولد دموقع درکمي اندازی پوری پرده کول روادي ؟ ځکه چی هغه داسی وخت دی چی به دغه وخت کي دمريض ده پښو اودپيدائش دځای پرده نکيږي ،دپښوپرده شوی وي خو په عام دول نوي شوي ،اوسره ددې چی وهغه ځای ته کتل هرګری کاوه کيږي اولاسونه ورسره لګيږی ددې څخه بغير دګچني (توليد) يو ډاکټر نشی کولای په دغه کي دګناه خبره شته نوسنګه وکوو؟ (DELIVERY) او د دې څخه څرنګه ځان وساتو ؟(۳)... ماچی کله زدکړي کولې چی دمسلمانانو ښځوته په کورونو کي دننه داوسيدلو دحکم سره سره دامسئوليتونه هم ورباندي شته چی هغه ښځه به دمعاشري دغلطو کارودکموالي (يعنی داسی چی په پرده کيږ وکړايشی) کوشش وکړی ،ماته راوښه ييه چی پرښځه کم قسم مسئوليتونه شته ؟ چی معاشره ئي ورباندي راګرځوی اودارنګه چی هغه په خپل کورکی دخاوند اوبچيانو سره ګزاره وکړای شی .

(۴)....پريوه ډاکټره ښځه باندي دخپل کار څخه علاوه کوم قسم مسئوليتونه شته، چی دهغه متعلق توجوه فکر وکړی؟ (دخپله کوره څخه علاوه) يعنی په معاشره کي . زموږ د اوس وخت دزمانې متعلق کوم شيان داسی دی چی دهغه لپاره کوشش وکړايشی ؟ څرنګه چی هغه ددې قابله ده چی ويونکې اوليکونکې ده اوددې لپاره دژوندانه دمعاش ذريعه هم ده اوددې صلاحيت هم دي . (۵)....اسلام ديو طبيب په باره کي څه وايې اوهغه بايد څنګه وي؟

(۶)......په یو ځاي کي چی ایکسیډنټ(ټکر) وشي اویوه ښځه یعنی زه دهغه ځای سره تیریږم اویاهلته یم نوآیا دین پرماباندي دامسئولیت عائده وي چی هلته به دریږم اوپاته کیږم اووګورم چی دچا زماوکومک ته ضرورت سته؟ یا دکوم مړه کیدونکی دژوند حفاظت کیږي اوکنه؟ اوکه دهغه ځای څخه تیریدل ښه دی؟ لکه څرنګه چی په نن وخت کي کیږي.

(۷)... مولوی صاحب زما تعلق دداسی کورني سره دی چی ټوله خاندان کي زماپلار داوله څخه دینداره ؤ چی دهغه وجهي څخه دلمانځه مکلفیت ؤ ،لیکن دا صرف ددې لپاره چی لمونځ کیږی، ځکه چی ټولو په کور کي کاوي، تقریبا درې کاله مخکی داعلم هم نه ؤ راته چی لمونځ ولي کیږي؟ اویا داووایم چی دیني علم می ښه نه ؤزده، شکر دی هغه پاک ذات لره چاچی زماغوندی انسان ته هدایت وکړی، کله چی دپوهنتون ته داوسیدلو ځای ته راغلم نو هلته به دفضائل اعمال درس کیدي، بیا داسی تبدیلی په ماکی پیداشوه چی پوه شوم، اوزما یوه سه روزه هم شویده، ددي وروسته خومی یو عجیبه حال شو، زما دټولي دنیا څخه بیلتون راغلی ،په ذهن کي می دآخرت بیره دارقم وولیده چی پ. شپوشپو می خوب نه ؤ، هیڅ کار خوند نه راکوي، خورک اوچښک مي پریښودل ،دهروخت دپریشانی اوفکر وهلو څخه می وزن هم کم شو او پرزدکړه می شوق نه راتلی په ذهن کي می دآخرت اوقبر بیره وه ،لکن یو شی ما دځان سره حفظ کړی چی په اول کي چی به مالمونځ په کومه خشوع سره کوی هغه خشوع اوس نه وه، اوپه ذهن کي به می دالله اواسلام متعلق ډیری وسوسي هم راتلي، ډیر وخت دغه ټوله راسره وه، بیا تقریبا څه وخت وروسته زموږ یو شناخته عالم راغلی نو ما وخپل پلارته وویل چی زما سره څه پوښتني دی،پلار راته وویل راسه کښینه دهمسایه ګانو نیکه عالم راغلی دی ته دهغه څخه پوښتني وکړه، اوس ماڅه سوالونه راواخستل دهغه وخواته ولاړم ،وهغه ته می وویل (هغه سوال زه تاته هم لیکم ددي وجه څخه ټوله قصه درته کوم چی تاسودهغه جواب داسی راکړی چی زه مطمئنه شم) هغه عالم ته مي سوال ؤوایه اوراته په خښم شو اوراته ئي وویل چی کور کښینه! هیڅ ضرورت نشته، داسي علم زدکړه فرض نده وغیره وغیره . زه وبیریدم ،اوحال داچی دغه زمادتعلیم اودلته زموږ په ملک کي چی کم نظام تعلیم رواج دی دهغه سره ئی تعلق دی ،کورته

راغلم او پلار ته می ؤویل چی زه نور سبق نه پرېږدم ،پلار می چپ پاتي شو ،بیا هغه د هغه نیکه سره لیدلي وو او د هغه سره ئي ټولي خبری کړی وي ،او وماته هغه داؤویل چی زویه! یو کال پاته دی آخرت خو هر وخت درسره ملګری دی که چیری د احرام وای او یا ناروا، واي نو فتوی به لګیدلی وه ،څرنګه چی د بنه بنه نیک کورو او د عالمانو او مفتیانو په اولادو کي ډاکټراني سته او ډاکټراني کیږی، ماخو د خپله ځانه څخه تاته تسلي درکړه ،لیکن هغه ټوله سوالونه زما په ذهن کي اوس هم شته، د هغه دلیکلو څخه وړاندی دونه درته ویلای شم چی هغوی په بنه غور سره و وایه او فکر ورکښی وکړه جواب راکړه چی زه د ګناؤ څخه وساتل شم او پرداسي لاربانديي ولاړه سم چی بد ګمانه نه شم ،ټوله سوالونه داسی دی چی د ښځو او نارینه ؤ نظام تعلیم یو ځای دی ،زه د سوالو پرځای ټوله حالات تاته وایم ،چی په هسفتالو (شفاخانو) کي د عملیاتو په خونه کي چی کله مریض بي هوښه شی که هغه نروي او که ښځه وي د عملیاتو څخه مخکی د هغه د عملیاتو ځای او د هغه شاوخوا ځای باندي مختلف قسم داسی مواد لګول کیږي چی جراسیم کشونکی دی او که چیری هغه وه نه لګول شی نو د عملیاتو څخه وروسته مریض د جراسیمو څخه پیښیدونکی مریضیو څخه مختلفو نونو ناجوړیو سره اخته کیږی،د دي کارلپاره عموما که یې د بدن لوړه حصه وی نو قمیص ورڅخه خیږی هغه که ښځه وی او که نروی ،او که د نس عملیات وي بیا خو قمیص نه بلکه پرتوګ هم ورڅخه خیږی ،ولی چی د بولو کولو پیپ هم وروليږی ،د جراسیم د ختمیدلو تردوا وروسته د عملیاتو تکران ورباندي اچول کیږي او پټیږی صرف د عملیاتو کولو حصه نه پټیږی، د عملیاتو څخه وروسته د مریض کالي د عملیاتو د خونی لاندني کارکونکی یعنی هغه چی سامانونه راوړی وراغوندي ،د دغه ټول کارکولو په دوران کي ډاکټر د ټول . علاوه تقریبا و۱۰ ته نژدی لاندی کار Female and male and medc.students کونکی چی په هغه کي ښځي ،نرساني، او د نښی والا ،او د سامان ورکولو والا ،او صفائی کولو، والا وي د مریض د داسی حالت په لیدلو سره انتهائي عجبه محسوسیږی او دالله څخه بیره وي چی د ابي حیائي نده نو بل څه ده! په دغه ځای د عملیاتو کي په خاصه طریقه د پردي کولو خیال نه وی، او په خاص ډول د کومو ښځو د عملیاتو څخه ګڼنی پیدا کیږي

اويا دهغوى ښځينه ناجوړى وي چې دهغه علاج دعملياتو څخه کيږي هلته هم نارينه موجود وي چې دهغوى له وجه څخه ډير شرم محسوسيږى اوپه ټولو لويو ښهروکى نارينه ډاکټران دولادت چارى مخته وړى چې دغه نوره هم دشرم خبره ده . په دغه ټولو کارو کي زما خيال دادى چې ضرورت ددي خبرى دى چې يو داسى نظام يا قانون دى جوړشي چې نارينه حضرات که څه هم ډاکټران وي که چيرى ئي ضرورت نه وي بايد هلته نه وي . صرف دى ښځي هغه علاج وکړى، اوکه چيرى داسى مسئله وي چې ښځى هغه علاج نشى کولاى، اونارينه ډاکټر ئي بايد وکړى نوبيا زما نظردادى چې پرده وي نو به جائزوي اواسلام اجازه ورکوى ددي لپاره قدم پورته کول دچارکاردى ؟ ښکارره خبره ده چې علماء به وى ،ځکه چې هيڅ يونارينه دانسي برداشت کولاى چې دده کوروالا دى اويادده لوردى دغه رقم علاج وکړى ،يقينا کم ټُشناب چې هلته سته هغه به هم دغه نکړى برداشت ، نو ضرورت ودي خبرى ته سته چې ستره محکمه دى داسى قانون جوړکړى: چې (۱)دکاريګروخونى ته به هم دنارينه د په وخت کي به په عمليات Delivery يعنى دګچنى C-sectionورتګ اجازه نه وي . (۲) دورکولو لپاره چې دى اودصفائي لپاره اوښځى دى پرکټ Anesthensiaخانه کي نارينه دباندي دايښودلو لپاره اودمريض دوړلو لپاره پرداسى ځايو باند ى دي ښځى مقرري شي . (۳)...دښځي پاته عملياتو په وخت کي ښځينه نرس اوښځينه سرجن دى دهغى کالي وربدل کړى اوهغى ته دى جراسيم کُش دوايي ورولګوى پروپلى دهانپنى وروسته دى ډاکټر راسى عمليات دى وکړى، ددي وروسته ښځينه نرس دى دهغى کالي ورواغوندى او پرتسکره دى پريباسى اووکمرى ته دى يوسى نارينه ډاکټر اوخاکروب اوضرورى نورکاريګر دى صرف هغه وخت راسى کله چې ښځه مريضه محفوظه شوه او دهغى دپردى دى خيال وشي . (۴)....... دښځى مريضى دبولو پيپدى ښځه ډاکټره يا نرسه ولګوى اودنارينه مريض دى نارينه کمپوډر ولګوى .(۵) په هسپتال کي دى دښځو حصه علاحده اوزنانه ډاکټر علاحده وي . زما داخيال دى که چيرى دغه تپوله قانون نا فذ شى ځرنګه چې نن ماپه اخبارکى ووايه چې په اتنده کيدى دښځي معلوما ت ښځينه ډاکټره کوى نو دزړه تسلى به مى شى اودابه مردانه ګى هم وي چې پاته ټول ککړ کارونه

هم لري شي . او انشاءالله ليري کيږي به نو بيا دي علماء پر دغه خبره متفق شي چې دښځينه ډاکټرې پرجوړيدلو باندې هيڅ بد والی نشته ځکه چې دپردې خيال په کښې کاوه کيږي . که چيرې ټولې ښځې په کورو کې کښېني نو بيا به دښځو علاج هم نارينه کوي او دوهمه خبره داده چې کمې خرابۍ په موږ کې راځي دهغه لريکول دي، کله چې ښځه دهر کار لپاره دکورڅخه دباندې راووزي نو آيا هغه په پرده کې پاتې به د دغه نيت سره نه شي راوتلای چې کله زما په وس کې وای او زما سره طاقت وای نو ما به دغه ټوله ختم کړې وای .

سوال (۱): کوم څه چې ما دخپله فکره څخه ليکلي دي آيا هغه صحی دي او که کورناسته ښه ده؟

(۲) : په دغه ټولو حالاتو کې زه اويا بل به دخپل نظر حفاظت څرنګه وکړو ؟ څرنګه چې اکثره مريضان نارينه وي، او چې کوم صورت حال دی هغه مې وتاسو ته وليکی . .(۳)...... دغه هرڅه دليک لوست په دوران کې پېښيږي، دزدکړې په دوران کې زموږ وخواته هرقم مريضان پېښيږي او وربنولو والا هم نارينه وي ،آيا ښځې تردغه اندازې پورې کم دي که چيرې وي هم نو صرف ماهرې دښځينه ناجوړيو وي څرنګه چې باقي ټولې شعبې لکه سرجرې ،سترګې ،پزه ،غوږ ،مخصوصه امراض ،دواخانه دهډوکو مرضونه، دګچنيانود مرضولپاره هم نارينه ډاکټران وي څرنګه چې دغه وخت په ټوله دنيا کې داسې ده که چيرې موږ داوغواړو چې زموږ وخواته دې داسې نظام وي چې ښځې دې ليک لوست وکړي او پر ښځو باندې دې ډوايي نو ددغه لپاره ضروري ده چې موږ دخلقو پرځای ښځې په دغه ټولو شعبوکې دضرورت مطابق موجودې کړوددې لپاره چې نوي انجوني دزدکړې لپاره ولګيږي او ښيځه به مخته حرکت وکوي اوبيا به په دغه نظام کې مخ ته ولاړشو، که چيرې نن موږ دغه فکر وکړو کور کښې نو سبا به وموږ ښځوته بيا ونارينه وو ته ورتګ شروع شي اونو ي خلقوته به دنارينه ؤو څخه زدکړه کيږي ،اوس دارا وښيه چې وښځو ته په داسې حالاتو کې اسلام اجازه ورکوي چې هغه مخ ته ولاړې شي او کله چې دپرمخ تګ لپاره يعنی دلازيات تعليم اونو کړې لپاره دنارينه ؤو سره يو

خای کارکولو ته ضرورت پېښېږی . (زه خدای نخواسته دښځو وکالت نه کوم صرف هغه لیکم چی زما په ذهن کي راځی ،علم ستاسو په وړاند یدی .تاسو دین مخ ته کښېږدی ددغه ټولو سوالاتو جواب راکړی چی په هغه کي موږ ته کوم اختلاف نه وی) (۴)....زما خپل شخصی فکر دادی چی زه اوس په کښته درجه کي یم اویو کال کورنی کارکوم، دهغه څخه وروسته ان شاء الله په خپل کور کي کلینک خلاسه وم او دنارینه ؤو سره کارنه کوم ،لیکن وبل طرفته ځه ښځی دنارینه ؤو ډاکټرانو څخه علاج کوی او زه ئي وینم نو بیا دافکرکوم چی ددغه نارینه ؤپرځای چی ما ددغه زنانه ؤ علاج کولای، اوپه دننه هسفتال کي چی کوم ګډودي ته او وبي ایماني ته ګورم هم فکرکوم چی ددغه مریضانوسره دغه کیدونکی بي ایماني اوزیاتوب او ده زیاتو فیسانو دظلم خاتمه به څوک کوي ؟ وماته راوښیه کمه خبره صحی ده ؟په داسی صورت کي ماته دکورڅخه وتل کیدای شی ،اوځرنګه چی اسلام ده ډیر سخت ضرورت څخه بغیر وښځی ته دباندي وتل حرام کړیدی . ضروری تاکید دی چی جوابی لفافه کي دغه خط دخپل جوابو سره راواستوي مهرباني به مووي . جواب :محترمي خور السلام علیکم ورحمة .

ستاسو مفصل خط راورسیدی، ستاسو سوالونه می وکتل خوشحاله سوم ،الله تعالی دی تاسو ته ددین لازیات فکر اوپه خپل فن کي ترقی درنصیب کړی اوستا سه دی دامت دکامیا بی کارواخلي، آمین . ستا دسوالو جوابونه دغه لاندی دی :(۱).... دمریض وقریبانو ته دمریض دناجوړی بالکل صحیح قسم اوحالت سره وربنول په کاردی اوانتهائي ضروري ده، ددي لپاره چی هغه په یو فریب اوچم کي رانسی ،البته دمریض په باره کي داکتل په کاردی چی د تشویش ناکه ناجوړی په باره کي چی هغه واوری دمایوسي اودزړه ماتیدلو په وجه خو به قوتِ مدافع بالکل دلاس څخه نه ورکوي او ددغه په باره کي دي دهغه دقریبانو سره هم مشوره وشی ،اوورته ودي وای نو په داسی انداز سره باید وویل شی چی وهغه ته نا ببره تاوان ونه رسیږی ،اودهغه سره سره کرارکراردی دهغه دصحی حالت اندازه هم واخلی ،ده آخرت فکر اودتوبي اواستغفارتلقین خو باید هر وخت او په هرحال کي مناسب دی . (۲)..... اصول دادی چی دعلاج دضرورت لپاره چی دبدن څونه حصه لڅیدل ضروری وي(۱) هغونه دی لڅه شی ،چی رواء

هم ده ،(۲) لکن د ضرورت تر اندازه زیات لڅیدل پکار ندی (۳) څونه حصه چې لڅه اویا دهغه لاس وهل ضروری وی دهغی لڅیدل اویا لاس وهلو کي ګناه نشته (۴) (۳)....داصحی خبره ده چې اسلام وښځی ته داحکم ورکړی دی چې هغه به حتی الامکان په کور کي اوسیږی (۵) لکن دضرورت په وخت کي دپردی سره هم وتل جائز دی (۶) ددینی تعلیم دحاصلولو لپاره او یا مثلا دضرورت په وخت کي دطبی تعلیم دحاصله ول هم په ضرورت کي داخل دی ،(۷) لکن په کور کي داوسیدلو دحکم اصلی بنیادی مطلب دادی چې اسلام دژوند دمعاش ذمه واری پر ښځه باندی نده ایښي ،دواده څخه وړاندی دغه ذمه واری ئي پر پلار باندي ده (۸) او دواده څخه وروسته بیا دښځی پر میړه باندي ده ،(۹) لهذا دا به دژوند دمعاش دپاره په عامو حالاتو کي ده دباندي وتلو پرځای به خپل د کور انتظام ،دګچینانو تربیت

(اثر ۴)......وفی البحر الرائق کتاب الکراهیة ج:۸ص:۳۵۲ طبع دارالکتب العلمیة بیروت : وینظر الطبیب الی موضع مرضها .....والطبیب انما یجوز له ذلک اذا لم یوجد امراة طبیبة فلو وجدت فلایجوزله ان ینظر لان نظر الجنس الی الجنس اخف وینبغی للطبیب ان یعلم امراة ان امکن وان لم یمکن ستر کل عضو منها سوی موضع الوجع ثم ینظر ویغض بصره عن غیر ذلک الموضع ان استطاع لان ماثبت للضرورة یتقدر بقدرها . وفی ملتقي الابحر مع مجمع الانهر کتاب الکراهیة فصل في النظر ج ۴ ص:۱۹۹ (طبع غفاریة) ویحرم النظر الی العورة الا عند الضرورة کالطبیب وکذا في تبیین الحقائق کتاب الکراهیة فصل في النظر واللمس ج۷ ص:۳۸۰ (طبع دارالکتب العلمیة بیروت) وکذا في الفتاوی السراجیة کتاب الکراهیة باب النظر واللمس ص ۷۳ (طبع سعید) وفی الدر المختار ج ۶ ص: ۳۷۰ (طبع سعید) ، ینظر الطبیب الی موضع مرضها بقدر الضرورة اذ الضرورات تتقدر بقدرها وکذا نظر القابلة وختان وینبغی ان یعلم امراة تداویها لان نظر الجنس الی الجنس اخف . وفی الشامیة تحته: في الجواهرة : اذا کان المرض في سائر بدنها غیر الفرج یجوز النظر الیه عند الدواء لانه موضع ضرورة وان کان في موضع الفرج فینبغی ان یعلم امراة تداویها فان لم توجد وخافوا علیها ان تهلک او یصیبها وجع لا تحتمله یستروا منها کل شئ الاموضع العلة ثم یداویها الرجل ویغض بصره ما استطاع الا عن موضع الجرح . (۵و۶) دتفصیل حوالو لپاره په دغه جلد کي فصل في الحجاب کي فتاوی او ص:۱۲۷ حاشیه نمبر اوله ملاحظه کری . (۷)... دتفصیل لپاره فتاوی عثماني جلد اول ص ۱۴۳ فتوی او دص ۱۴۴ باندي حاشیه او دص ۱۶۹ سه ص ۱۷۰ فتاوی او دهغی حواشی مطالعه کری . (۸) ...... قال الله تعالی : (وعلی المولود له رزقهن وکسوتهن با لمعروف (الآیة) البقرة ۲۳۳ . وفی احکام القرآن للجصاص ج۱ ص ۲۰۲ (طبع دار احیاء التراث العربي بیروت) ولا خلاف في وجوب هذا الرزق والکسوة .... الخ وکذا في تفسیر القرطبی ج ۳ ص ۱۶۳ (طبع بیروت) وفی احکام القرآن للجصاص ج۲ ص ۱۰۵ (طبع دار احیاء التراث العربي بیروت) اختصاص الاب بالزام النفقة دون غیره کذلک حکمه في سائر ما یلزمه من نفقة الاولاد الصغار والکبار الزمنی یختص هو لا یجابه علیه دون مشارکة غیره فیه لدلالة الآیة علیه .. الخ . وفی الهدایة کتاب الطلاق باب النفقة : ج۲ ص ۴۴۴ (طبع شرکت علمیه ملتان) ونفقة الاولاد الصغار علی الاب لا یشارکه فیها احد کما لا یشارکه في نفقة الزوجة لقوله تعالی (وعلی المولود له رزقهن) والمولود له هو الاب . وفی الدر المختار باب النفقة، ج: ۳ ص ۶۱۲ (طبع سعید) وتجب النفقة بانواعها علی الحر لطفله الفقیر الحر وفی الشامیة ای ان لم یبلغ حد الکسب . وفی البحر الرائق ج: ۹ ص ۸۱ (طبع دارالکتب العلمیة

بیروت) (وعلی المولود له رزقهن وکسوتهن بالمعروف) فهی عبارة في ایجاب نفقة المنکوحات اشارة الی ان نفقة الاولاد علی الاب . وکذا في مجمع الانهر باب الحضانة ج ۲ص: ۱۹۲(طبع دار الکتب بیروت) وفی المحیط البرهانی الفصل الثالث في نفقة ذوی الارحام ج ۴ ص: ۲۶۸(طبع دار احیاء اتراث بیروت) یجب النفقة علی الاب الان الله تعالی اوجب النفقة علی الوالد مطلقا قال الله تعالی (وعلی المولود له رزقهن وکسوتهن) (البقرة: ۲۳۳) الا انه خص عن هذا لانص من کان له اومن کان قادرا علی الکسب فبقی (پاته په راتلونکی صفحه کي وګوری).

اودکورني نظم وضبط بر قرار ساتلو فریضه به سرته رسوي اودمعاشرې دغه لوی خدمت به پرځاي کوي . که چیرې ویوي ښځی ته د پلار اویا میړه نعمت حاصل نه وي اوهغه دکسب اوژوند لپاره ؤوزي دباندي په وخت کي دضرورت وهغی ته بیا اجازه شته . (۱)

(۴)........دډاکټر په حیث نو دمریضانو خدمت او دپاي وازانو تشفی دا اصلی بنیاد کاردی اوپه نیت دخدمت چی وي داخو ډیرلوي عبادت دي، ددي څخه علاوه دخپل کور اودهغه مریضانو چی ترعلاج لاندی وي په ښه حکمت اوشفقت سره ددین او اخلاقو تلقین ورکولو سره هم دیو مسلمان ډاکټر دمنصب په فرائضوکی شامل دی . (۲) (۵)...... دطبیب لپاره رحم دلي ،اوخدمت په ښه جذبه سره اودثواب په نیت سره پکار دي . (۳) (۶)......بیشکه داصرف دډاکټر کارنه بلکه دهر مسلمان فرض دادی چی په داسی موقع کي دغم ځپلی کس مدد اوپه کومک رسولو کي کوشش وکړی . په حدیث کي فرمائل شوي دی چي مسلمان دبل مسلمان ورور دی هغه دغه سی بیله کومکه اومدده څخه مه پریږدي (۴) ترکمه ځایه چی دښځو لپاره دطبی تعلیم دحاصلیدلو تعلق دی، هغه شرعا دانه چی جائز دی بلکه فرضِ کفایي دی.(۵)

(دتیری شوی صفحه پاتی برخه) ماعداه علی ظاهر النص ..... وکذلک الاناث من الاولاد نفقتهن بعد البلوغ علی الاب مالم یُزوجن اذا لم یکن لهن مال لان بهن عجز ظاهر عن الاکتساب فتکن بمنزلة الزمنی من الزکور الخ وفی اللباب في شرح الکتاب (الجزء الثانی ص: ۲۱۵) (طبع دار الکتاب القربی بیروت) (ونفقة الاولاد الصغار)...... علی الاب لایشارکه فیها احد) مؤسرا کان الاب او معسرا الخ وکذا في مجمع الانهر في شرح ملتقي الابحر باب الحضانة ج :ت ص: ۲۰۰ (طبع دار الکتب العلمیة بیروت) (۹)...... وفی الهدایة کتاب الطلاق باب النفقة ج:۲ص: ۴۳۷ (طبع مکتبة شرکة علمیة ملتان) النفقة واجبة للزوجة علی زوجها مسلمة کانت اوکافرة اذا سلمت نفسها الی منزله فعلیه نفقتها وکسوتها وسکناها . وفی البحر الرائق ج:۸ ص: ۲۹۹ (طبع دار الکتب العلمیة بیروت) تجب النفقة للزوجة علی زوجها والکسوة بقدر حالهما ای الطعام والشراب بقرینة عطف الکسوة والسکنی علیها والاصل في ذلک قوله تعالی (لینفق ذوسعة من سعته) (الطلاق:۷) وقوله تعالی (وعلی المولود له رزقهن وکسوتهن بالمعروف) الآیة) وفی الدر المختار کتاب الطلاق باب النفقة ج: ۳ص: ۵۷۲ (طبع سعید) ونفقة الغیر تجب علی الغیر باسباب ثلاثة زوجة وقرابة وملک فتجب للزوجة بنکاح صحیح علی زوجها وفی

مجمع الانهر في شرح ملتقي الابحر باب الحضانة ج: ۲ص ،۱۷۳ (طبع دار الكتب العلمية بيروت) تجب النفقة والكسوة .... للزوجة على زوجها . (۱)........ وفی صحيح البخاری باب خروج النساء لحوائجهن ج،۵ ص: ۲۰۰۶(طبع دار ابن كثير بيروت) رقم الحديث ، ۴۹۳۹، قداذن الله لكن ان تخرجن لحوائجكن . اوهم دارنګه وګورئ ! ددغه جلد فصل في الحجاب فتوی اودهغه اول نمبر حاشيه . (۲و۳)په دغه ځای کي دتفصيل لپاره امام ابوبکر رازی رحمة الله عليه په کتاب، اخلاق الطبيب، ملاحظه کړی . (۴) وفی صحيح البخاری باب لايظلم المسلم المسلم ولا يسلمه رقم الحديث :۲۳۱۰ ج: ۲ص ،۸۶۲(طبع دار ابن كثير بيروت) عن عبد الله بن عمر رضی الله عنهما، اخبره :ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال :المسلم اخو المسلم لايظلمه ولا يسلمه ومن كان في حاجة اخيه كان الله في حاجته ومن فرج عن مسلم كربة فرج الله عنه كربة من كربات يو م القيامة ومن ستر مسلما ستره الله يو م القيامة . وكذا في صحيح المسلم رقم : ۶۷۴۳ باب تحريم الظلم ج ۸ ص:۱۸(طبع دار الجيل بيروت) (۵) وفی سنن ابی داؤد باب ماجاء في الرقی ج: ۲ص: ۱۸۶ (طبع سعيد) عن الشفاء بنت عبد الله قالت : دخل على النبي صلى الله عليه وسلم وانا عند حفصة فقال لی : الاتعلمين هذه رقية [illegible] كما [illegible] الكتابة . وفی بذل المجهود ج:۵ص:۱۸ (طبع معهد الخليل) فيه دليل على جواز كتا بة النساء. الخ وفی رد المحتار مطلب في فرض الكفاية وفرض العين ج: ۱ص: ۴۲ (طبع سعيد) واما فرض الكفاية من العلم فهو كل علم لا يستغنى عنه في قوام امور الدنيا كا لطب والحساب الخ وفی الاشباه والنظائر : من فرض الكفاية ..... والطب والحساب المحتاج اليه في المعاملات الخ.

ځکه اصلی حکم دادی چی دزنانه مریضانو علاج په زنانه وُو باید وشی . (۱)اوداتر داسی وخته پوری ممکنه نده ،تر څو پوری چی یو څه زناني دطبُ باقاعده تعلیم حاصل نه کړی البته کومي زناني چی دطبُ تعلیم حاصل کړی، پرهغوی باند ی واجبه ده چی هغه په خپله دشرعی حجاب داحکامو مراعت کولو سره تعلیم حاصل کړی ،اودماحول دآزادی څخه متأثِره نشي . دعملیاتو په وخت کي چی کومیی بي احتیاطي کیږي پرهغه باند تاسو دتردیره حده پوری صحی تبصره کړیده په شرعی اصولو کي می اول درته ذکر کړه چی دعلاج په وخت کي دبدن څونه حصه باید لڅه شی هغه اندازه باید لڅه شی، دهغه څخه بالابد نه . (۲) اوپه دغه کي هم دغه لحاظ شرعا ضروری دی چی دغه کاردی دهم جنس په وړاندی ضرور وی، (۳) یعنی دنارینه بدن باید نارینه لڅ کړی اودزاناني بدن باید زنانه لڅ کړی ،(۴)مګر نه هغه که چیری یو اضطراری حالت وي اوددغه اصولو مراعت بلکل ممکن نه وي ».اوس ستاسو دآخری سوالاتو جواب : (۱)...... تاسو چی خپل کوم حالات لیکلی دی، په هغه کي ستاسو لپاره زما دا مشوره ده چی تاسو خپل تعلیم مکمل کړي او دشرعی احکامو حتی الامکان دلحاظه ولو اهتمام وکړی، (۲)....... دعلاج دضرورت لپاره کوم کارکول چی لازمی وي دهغه ګنجائش سته البته دخپلو خیالاتو اودزړه حفاظت وکړی ،دالله تعالی څخه کومک غوښتونکی وه اوسی ،(۳).... په اوسنی

حالاتو کي چې دکومو نارینه ډاکټرانو څخه مخ ته زدکړې کوي .دمجبوری دوجه څخه دغه حالات دی نو له هم دغه وجهي څخه دخپلی پردي خیال وساتي دهغوی څخه زدکړې وکړي. او ورسره استغفار هم غواړي . (۴) ... دغه رائیه ډیره مناسبه ده چې تاسو خپل کلینک خپله خلاس کړی. اودزنانو دعلاج لپاره خپل ځان ورته وقف کړی .الله تعالی دی ستاسو هرډول حفاظت وکړی .اوتاسو ته دی دانسانیت دخدمت توفیق درکړي . آمین . والله اعلم ۱۴۱۶/ذی القعدة/۱۸ه .

مصنوعی (نقلي) پیدائش دآزموینتي بمبی دحمل شرعی حکم

دراولپنډی مفتي محمد رضوان صاحب دآزموینتي بمبي دحمل څخه متعلق یوه استفتا. په جواب کي یوه مفصله لیکنه ترتیب کړي ده چې دهغه څخه ډوی وحضرت محترم دامت برکاته العالیه په خدمت کي راستولي وه، هغه مفصله لیکنه اوحضرت برکاته جواب

---

(۱)وفی البحر الرائق کتاب الکراهیة ج؛ ۸ص؛۳۵۲(طبع دار الکتب العلمیة بیروت) والطبیب انما یجوز له ذلک اذالم یو جد امراة طبیرة فلو وجدت فلایجوز له ان ینظر لان نظر الجنس الی الجنس اخف وینبغی للطبیب ان یعلم امراة ان امکن الخ وکذا في الهندیة ج؛ ۵ص؛ ۳۳۰ والبدائع ج؛ ۵ص؛ ۱۲۴ (۲تر۴) وګورئ ! دتیری صفحه اوله تر۴پوری حاشیه .

دغه لاندی ذکر کیږي (مصنف) سوال:۔څه فرمائي علمائي کرام په باره کي !(دنقلی پیدائش اودآزموینتي بمبی دحمل دشرعی حیثیت) دمسئلی په باره کي ،په دلائلو سره ئي را ته وښه یاست او که چیری کوم اختلاف وي نو هغه هم راته په ګوته کړی او ددي پرطریقه کارباندي فکر وکړی ؟ (جواب دمفتي محمد رضوان صاحب)

داصلی مسئلی دجواب اوپرهغه باند ی دغورکولو څخه وړاندی مناسبه ده چې په دغه سلسله کي یو ضروری لاربنونه ملاحظه کړي . ضروری تمهید (لاربنونه) : هغه اولاد نعمت دی چې د

شرعی طریقه مطابق پیداشي ،اوکوم چې پیله شرعی طریقی باند پیداکیږي وهغه ته نعمت ندی ویل شوي ،اوداغه رقم دعفت پاک دامني اونسب حفاظت په اسلام کیږ یو خاص بند بست کړیدي ددغی وجی څخه زنا، ناروا اوناجائزه اوحرامه ده اوددغه په نتیجه کي وپیداشوي کوچني ته دزاني څخه ثابت النسبه نسی کیدای اودزانی زوی نه ورته ویل کیږي . اضافه پردغه که چیری دیوچا دمنکوحی سره یو څوک زنا وکړی اوپه وروسته کي کوم کوچنی پیداشی نو دغه کوچنی ته‌زانی نه ویل کیږي ددغه کوچنی نسب دمنکوحی دمیړه څخه ثابتیږی . دیوه انسان اوبه (یعنی منی) دبل انسان داوبو سره باید گډی نه شی ،بلکه صرف ددغه انسان اودده دشرعی منکوحی د اوبو څخه باید دکوچنی پیداشت وي ،ددغه شی په شریعت کي ډیر خیال شوی دی ،دهم دغه وجه څخه شریعت مطهره دغه مسائلي بیان کړی دی، چی دمطلقه حامله ښځی عده د بچي پیداشت دی، دحمل دپیداکیدلو څخه وړاند ی دهغي نکاح جائزه نده . که چیری یوه ښځه مسلمانه شي اودمسلما نانو وملک ته هجرت وکړی اوراشی نوددي نکاح دپخوانی کافر میړه سره ماتیږی، اودهغی لپاره عده نه وي، لیکن که چیری هغه ښځه حامله وی نو بیا دحمل دپیداکیدلو پوری دهغی سره نکاح روانده، ددي وجه سه چی دیوه انسان داوبو سره دبل انسان اوبه گډی نشی، داغه رقم یوه شرعی مسئله داده که چیری بی نکاح ښځه دزنا په وجه حامله شی اودهغي سره دزانی بغیر کوم بل څوک نکاح وکړی نو ددغه سړی لپاره رواند‌ه چی ددغي حامله منکوحی سره دحمل دپیداشت تر وخته پوری جماع ونکړی . دیو بل چا لوریا زوی وخپل ځان ته منسوبه کول اوخپل ځان ته دهغه پلارویل جائزندی، پردغه بناء باندي ده داسی پالل شوی گوچنی نسب ،وراثت ،نکاح، وغیره په احکامو کي هیڅ حیثیت نشته . ددي ټولو خبرو څخه معلومه شوه چی دشریعت له نظره څخه داپراښت دنسل که هره ذریعیه وي که هغه دهري طریقی څخه وي ښه ندی . بلکه داعمل په حیواناتو کي رائج دی چی دیوه جنس دحیواناتو دتلقیح سره دنورو حیواناتو تلقیح کیږی، اونوي قسم حیوانا ت په وجود باندي راځی ،حیوانات څرنگه چی دشریعت داحکاماتو مکلف ندی اونه دهغوی دنسب حفاظت کاوه کیږي اونه دهغوی مور اوپلار پرند گلوی کاوه کیږي اوددي سره سره دهغوی لپاره دسترکوم

حکم هم نسته بس قدرت چی دهغوی لپاره فطری اوخلقی طریقه باندي ده هغوی لپاره کمه سترپوشی کړیده هغه دهغوی لپاره کافی ده ـــــ لیکن انسان اشرف المخلوقات دی په هرمذهب کي دنسب اوخاندان حفاظت ،سترپوشی ،اوشرم ،حیاء ، احکامات موجود دي. صحی عقل اودانسان فطرت هم ددي خبر تقاضا کوي چی دغه عمل د(تولید) په سلسله کي دانسان اوحیوان ترمنځ معلوم فرق وي ،اوانسان دخپل اولا د په سلسله کي دا ویلایشی چی خالص زما اولاد دي، او دپلار فطری صفات دده په اولاد کي منتقله شوي وی .دمور اوپلار په زړه کي داولاد محبت اوشفقت جذبي موجودي وی، اوداولاد په زړه کي دمور اوپلار سره وفاداری اواطاعت جذبه موجوده وي، اواولاد دخپل موراوپلار وطرفته دمنسوب والي اودهغوی پر صفاتوباندي باید فخر وکړی . داخبره هغه وخت ممکنه ده، کله چی په انسانانو کي دتوالد اوتناسل سلسله پردغه طریقه باندي پاته وی، کمه طریقه چی شریعت اومذهب اجازه ورکړیده، ددي پرخلاف کولوباند ی که چیری هره ممکنه طریقه باند عمل وشی اودمصنوعی پیدائش چی هر صورت رواج کړایشی نو دانسانانو او حیوانانو ترمنځ به هیڅ فرق پاته نشی ،خاندانی نظام ،به ختم شی ستر، اوحیاء، اوشرم. به پائیماله شی اوداولاد اومور اوپلار ترمنځ به د تعلق، اوتقدس، اومحبت ،رشته به ختمه شی . په یورپ اوامریکه اووغیره کي چی مصنوعی تولید اوآزموینتی بمبي دحمل دطریقي .دتجارتی مقاصدو اودنوع بشري دخوب صورتي دبنه نوم څخه راپیداشویدی ،اوهم دارنګه دمختلفو اغراضو لپاره د(انسانی نطفوبنک) هم جوړ شوی دی، هلته په تیکنیکل(برقی) طریقه سره دنارینه ؤ نطفی (سپرم) ساتل کیږي ،اوتر یوي دیري مدي پوري ژوندي وي دغه نطفي (سپرمونه) دمعلوم اویانامعلوم اشخاصو څخه په خپله خوښه سره اویا بالعوض اخستلي کیږي اوددی په نتیجه کي بیشماره مسائلی پیداکیږي اودابنکاره ده چی اسلام وداسی شیانو قطعا اجازه نه ده ورکړی .

په دغه کي شبه نسته چی مصنوعی تولید اوآزموینتی بمبي باندي دحمل طریقه یوه فطری طریقه نده اوله هم دغه وجهی څخه بعض حضرات علماؤ ودغه ته په هرحال کي ناروا ویلي دی

لکن دمما نعت دغه څه معقول اوقوی دلیل ندي .په یو معقول ضرورت او د تقاضا په وخت کي هر غیری فطری صورت اختیارولوته نا روانشی ویل کیدلای، کله چی د شرعی حدود واوقیود و لحاظ وکړای شی ،اودیورپ اوامریکی وغیره کي رائج شوو غیرشرعی امورو مکمل اجتناب وکړه شي . له هم دغی وجه څخه مصنوعی تولید اوآزموینتی دبمبي په طریقه سره دبچی پیدا کیدلو دعام رواج څخه دځان ساتلو ضرورت دی، البته ددا سی مجبوری په صورت کي کله چی داولاد ضرورت وي او دهغه څخه بغیر یو څوک پریشانه وی اوددغی طریقی څخه بغیر، مثلا دماهرینو په فکرنورممکنه تدابیر غیر مؤثر وي داولاد حصول نشی کیدلای ،دشرائطو سره مخصوصه صورتونوکی محدود ه اجازه ورکول کیدلای شی، څرنګه چی درابطه ئي عالم اسلامی اسلامی فقه اکیډمی په خپله یوه فیصله کي لیکلی دی، په مصنوعي حمل کي په عام طور باندي حتی چی دهغوی په جائز صورتوکی هم دنورو امورو تعلق ورسره کیږی، دنطفو په حمل اخستونکو حصوکی هم دآزموینتی پیچکاریوسره دګډوالي امکانات کیدایشی، بالخصوص چی کله دغه کار په کثرت سره اویا عام کړه شي ،له هم دغه وجه څخه ددین پوهنتون، وه جذبه درلودنکو ته نصیحت کوی چی هغوی دغه طریقه اختیار نکړی، مګر که انتهائی سخت ضرورت وی اوپه آخری درجه احتیاط سره اودنطفودحمل اخستونکو حصوسره دګډیدلو دمکمل تحفظ اوساتنی سره دیي اختیار وکړی .

(د رابطه عالم احلامی داسلامی فقه اکیډمی اهمی فقهی فیصلي په حواله سره دعصرحاضر د پیچیدهمسائلو ص: ۱۵۳وص: ۱۶۶،ترتیب مولانا مجاهد الاسلام قاسمی صاحب - عربی حبارات په آخر کي شق نمبر، الف وب، ترعنوان لاندی وګوری) .

مصنوعی تولید اودآزموینتی بمبي دحمل طریقې اودهغه شرعی حکم

په اوس وخت کي دمصنوعی تولید اوده آزموینتی پیچکاری عموما پر اوو(۷) طریقوباندي کیږی، دحلال والی اوحرام والی اودشرعی حکم په اعتبار سره دمصنوعی تولید اودآزموینتی بمبی دلاری دحمل په باره کي داسلامی فقه داکیډمی جده) دنهایت غور اوفکر اوتفصیلی بحث وروسته خپل قرارداد نمبر (۳/۴/۱۶) دغه رقم منظوره کړیدی.

په اوس وخت کي دمصنوعی تولید لاندني اووه طریقي دی : (۱)... دښځی دمیړه نطفه راواخلی اودیوي بلي ښځی چی دده ښځه نه وی د(مادة هګی)سره ئي فیوند کړی بیا دتلقیح (فیوند) وروسته ئي ددغه کس دښځی په رحم کي کښیږدی . (۲)... دیوچا دښځی (هګی) راواخلی ددي ده میړه څخه بغیر دیوبل شخص دنطفی (سپرم) سره تلقیح (فیوند) کړی دده ددغه ښځی په رحم کیئ کښیږدی کوم چی هګی ئي ورڅخه اخستي وه . (۳) ... دمیړه نطفه (سپرم) اودښځی مادة (هګی) راواخلی دباندي ئي فیوند تلقیح وروکړی اوبیا ئي ددغه سړی ده هغه بلي ښځی په رحم کي ورکښیږدی چاچی دحمل لپاره خپل خدمات په رضاکارانه طریقه باند ی وړاندی کړي وي . (۴)... دیوه بیګانه شخص نطفه اودبیګانه ښځی هګی ؤوپه منځ کي دباندي تلقیح فیوند وروکړی اوددغه وچی ښځی په رحم کیئ کښیږدی . (۵)... دمیړه سپرم اودښځی هګی راواخلی دباندیئ تلقیح فیوند وروکړی اوبیا ئي دداغه میړه دبلي ښځی په رحم کي کښیږدی . (۶).... نطفه سپرم ئي دمیړه وي اوهګی ئي دخپلی ښځی وی صرف تلقیح ئي دباندي وروکړی اوبیا ئي ددغي ښځی په رحم کي کښیږدی . (۷).... دمیړه نطفه راواخلی دده دښځی په رحم کیئ یو مناسب ځای پرطریقه ده داخلی فیوند تلقیح کښیږدی.

(قراردادونه اوسفارشات ص: ۴۵)

دغه اووه صورته مخ ته کښیږدی دجده فقهی پوهنتون دغه لاندی قرار دادونه منظورکړیدی ددغه اووصورتوڅخه اول پینځه صورتونه قطعا حرام دی ،اودغه ټوله عمل په خپل ځان کي حرام دی اوددغه مفاسدو له وجهی څخه هم حرام دی کوم چی پردغه باندي مرتب کیږي ،چی په

هغه کي د نسب ګډوالي او دخاندان اونسل ضائع کيدل اونور شرعی ممنوعات ورکی شامل دی البته دسپرم او اووم صورت په باره کي د پوهنتون رائيه داده چي دضرورت په وخت کي د دغه د وطريقو داستعمال ګنجائش شته ،په دي شرط چي تول ضروری احتياطی تد بيرونه ئي کړی وي . والله اعلم (قرار دادونه اوسفارشات ص : ۴۵) او د(رابطی عالم اسلامی مکه مکرمی اسلامی فقهی پوهنتون) هم په خپله فيصله کي ددغه دوه صورتو جواز ورکړی دي وګوری(عصرحاضرکي پيچيده مسائل کاشرعی حل ص: ۱۶۰،داتمي جلسي دوهمه ناسته)(۱) دجدي داسلامی فقهی په پوهنتون کي ددنيا سرکرده بنه علماء شامل دی، هغوی اوهم دارنګه دمکه مکرمی رابطه عالم اسلامی فقهی پوهنتون هم مصنوعی توليد اوآزمويښتی بمبی دحمل ده دوو طريقواجازه ورکړيده ،اودجواز دغه دواړه صورتونه په زوجينو اودوی په سپرم اوهګيو پوری خاص کړيدی، له همدغه وجهی څخه ددواړو پوهنتونونوقرار دادونه اوفيصلی ډير اهميت قابل دی اودضرورت په وخت کي وحاجت مندو کسانو ته داحتياطی تدبيروسره پر دغه باندي دعمل کولو حق سته، (عربی عبارات په آخر کي شتنمبر، الف وب، ملاحظه کړی).

وزوجينو ته دمصنوعی توليد دطريقی داختيارولو وجهی

دماهرينو مطابق دمصنوعی توليد اوآزمويښتی بمبی د زوجينو لپاره دغه لاندي صورتونه خپله ولايشی. (۱).... که چيری دميړه په ماده منويه (سپرم) کي حياتي مقدار لږ وی.. اويا دميړه د(سپرم)څخه حياتي مواد راجمعه کړی اودده دښځی تررحمه پوریځ ورسوي . (۲)....دښځی دمهبل(بچه داني) تيزابيت ددي د ماده منويه (هګی) ژوند ختمه وي . (۳)....دميړه اوښځی ده دواړو دجرثمو(دحياتی موادو) ترمنځ تضادوي، ددغه وجهي څخه دغه مواد خپل ژوند دلاسه ورکوي . (۴)......دښځی درحم خوله تنګه وي دميړه ماده منويه(سپرم) هلته نشی داخليدلای . (۵)... دجرثمو(حياتی مواد) دوجود سره په ميړه کي

دننه يوه داسې کمزوري اوناجوړي وي چې هغه خپل سپرم دمباشرت په وخت کې دښځې وهغه مناسب ځاى (بچه داني) ته نشي رسولاى .

(عموم البلوى ص: ۴۷۷ تاليف سليم بن محمد ماجد الدسري په حواله سره اخلاقيات التلقيح الاصطناعى ص ۴۵ واطفال الانابيب بين العلم والشريعة ص : ۳۷،۳۸) .

(۱)حضرت مولانا ډاکټر مفتي عبدالواحد صاحب دامت برکاتهم ليکنه کړيده ، دآزموينتي طريقې جواز صرف په هغه صورت کې ښه کله چې دناوي اوزوم په نطفوکې ګډوالي وشي، اودغې ناوې به رحم کې ګېڼې پرورش پيداکړی ددې څخه علاوه نور ټوله صورتونه ناروا دي . (دمريض اومعالج اسلامي احکام باب ۴۲ آزموينتي حمل اخستل)ص : ۲۸۵) (طبع مجلس نشريات اسلام) تاريخ اشاعت ۲۰۰۶ ع) حاشيه دمحمد رضوان څخه .

په مذکوره وجوهو کې اکثره صورتونه په ناجوړي کې داخل دي اودناجوړي علاج شرعا يو جائز مقصد دی کله چې دمذکوره دغه جائز صورتو انتخاب وشي . په ذهن کې دوي چې په يورپ وغيره کې دزوجينو علاوه دبل بيګانه نارينه اويا زنانه دمادو هم اختلاط کيږي څرنګه چې شرعا جائز ندی .

دضرورت څخه زائد غير تلقيح (فيوند)شوي هګۍ

په دغه سلسله کې دجده فقهي پوهنتون دجنرل کونسل په خپل شپږم اجلاس چې په جده سعودي عرب کې په تاريخ ۲۳.۱۷شعبان۱۴۱۰ه تمطابق ۲۰.۱۴دمارچ ۱۹۹۰ء منعقده شوی وو په دغه مجلس کې چې کوم قرار دادونه منظورشوه هغه دغه لاندی دي . (۱)...ددغه علمي تحقيق په رڼاکې هغه ښځينه هګۍ چې فيوند شوي نه وي چې په آئنده کېږ استعمال لپاره ئې خوندي کيدل ممکن وي دهګيو دمصنوعي حمل اخستولو په وقت کې داضروري ده چې هروارديې دهګيو صرف په هغه اندازه اکتفاء وشي څونه چې دپوره فيوند کاري لپاره ضروري وي چې بالابد هګيودموجود والي امکان نه وي . (۲)....که چيرې دتلقيح (فيوند) شوو هګيو څخه که چيرې يوه هم بالاشي نو هغه دی دطبي توجه څخه بغير دغه سې پريښودل شي ،حتی چې ددغه

بالابد هگی ژوند کول طبعی طریقه باندي پوره شی . (۳)....دیوی ښځی دهگیوتلقیح (فیوند) کیدل په یوه بله ښځه کي حرام دی ،په دغه سلسله کي داسی احتیاطی تدابیر اختیار ول لازم دی چی ترهغه لاندی دیو ي ښځی تلقیح شویي هگی په یوه غیری شرعی حمل کي استعمال نشی . والله اعلم (قراردادونه اوسفارشات ص: ۱۴۲،۱۴۳)

دزوجینو تلقیح شوي هگی دمیړه دبلی ښځی (دبني) په رحم کي ایښودل

د ذکر شوی تفصیل څخه دغه خبره معلومه شوه چی دمیړه اوښځی دهگیوتلقیح فیوند چی وشی بیا دبني په رحم کیښ ایښودل روادی . په یاد دی وی چی درابطه عالم اسلامی مکه مکرمي داسلامی فقهی پوهنتون په خپل اووم سمینار چی په تاریخ ۱۱تر ۱۶ دربیع ثانی ۱۴۰۴ھ منعقده شوي وو دخپل پنځمی فیصلي مذکوره پینځه صورتونه کوم چی (په هغه کي دزوم اوناوي دنطفو حمل کاوه کیږي ددغه زوم ددوهمی ښځی په رحم کي دی کښیښودل شی) جائزه ئي بللی وه څرنگه چی داسی لیکل شوی وه :اوومه طریقه ،چی په هغه کي دمیړه اومايني نطفه اوهگی په آزمویښتی بمبه کي دفیوند څخه وروسته دداغه میړه د یوه بلی ښځی په رحم کي اچول کیږي کم چی درحم څخه محرومه خپلی بني له طرفه څخه دحمل اخستلو لپاره په خپله خوش رضائښ سره ورکول کیږی،دپوهنتو داجلاس په فکر کي دضرورت په وخت کي اودمذکوره عمومی شرائطو په لحاظه ولو سره داجائزه ده . په زکرشو دریوجائز طریقو کي پوهنتون دافیصله کوی چی ددغه نوي پیداکیدونکی نسب دهغه زوجینو څخه ثابتیږی چاچی نطفه اوهگی ورکړیده ،میراث اونور حقوق دنسب دثبوت تابع کیږی، لهذا دگوچنی نسب چی دکوم نر اوښځی څخه ثابتیږی،دوراثت اونورو احکام هم دگوچنی اوده دوي ترمنځ جاری پاته کیږي دچاسره چی دگوچنی نسب ثابت شو . دبني له طرفه چی وحمل ته په خپله رضاسره تیاره شوی زوجه ده کوم چی په اوومه طریقه کي ذکرشویده،دگوچنی لپاره درضاعی مور په درجه کي کیږي ،ځکه چی گچنی ده دي جسم اوعضو څخه ډیره زیاته استفاده وکړای شوه نسبت وهغه گوچنی ته چی درضاعت په وخت کیښ دشیدو څخه کوی ،چی درضاع له وجه څخه هغه

حرمت راځي کوم چې د نسب له وجهې څخه راځي، (ملاحظه کړی، عصر حاضر پیچیده مسائل شرعي حل، ص: ۱۵۲/۱۵۳) لیکن ددي څخه وروسته په خپله اتمه جلسه کي دهغه صورت دجواز څخه ئې رجوع وکړه له اوپه دغه سلسله کیږ مستقل قرار داد منظوکړی ،دهغه قرار داد مضون داوُو : دپوهنتون په اتمه ناسته کي هغه اختلافي تبصر وړاندي شوي چې پرهغه موضوع باندي پوهنتون داوومې ناستي دقرارداد په (۴) مادة کي چې دبعضی کارکونانو دپوهنتون له طرفه څخه راغلي وی چې دهغې مادة عبارت داوُو :اومه طریقه ،چې په هغه کي دمیړه اوماییني دنطفی اوهګی په آزمویښتی بمبه کي دفیوندیدلو وروسته ده داغه میړه ددوهمې ښځې په رحم کي داخل کړه سی کمه چې درحم څخه محرومه وه دخپلی ښني له طرفه څخه دحمل داخستلو لپاره په خوش رضایٔ سره خپل ځان پیش کړی وو، دپوهنتون د جلسی په خیال کي دضرورت په وخت کي اودمذکوره عمومی شرائطو په لحاظ کولوسره جائزه ده .
پردغه فیصله باندي دراتلونکی تبصري خلاصه داده : دوهمه ښځه چې ددي په رحم کي داولی ښځې حمل داره هګی اچول شوي وه، داممکنه ده چې پردغه هګی باندي درحم دبند والي څخه مخکی دخپل میړه سره په نژدی وخت کي دننه مباشرت جماع په نتیجه کي دی داغه ښځه دوهم وارحامله شي ،بیا جوړه ګچنیان پیداشوه ،اوداملعومه نسوه چې دهګی څخه پیداشوی ګوچنی کم یودی، اوددمیړه دمباشرت څخه پیداشوی کم یو دی،داغه رقم دانه معلومیږی چې ددغه هګی والامور کمه یوه ده ؟اوهغه دمیړه د همبستری والامور کمه یوه ده؟ هم دغه رقم دیر وخت دعلقه اویا مضغه په صورت کي دیوه حمل مرینه راشی اوده دوهم حمل دولادت سره هغه ساقط شی نو نه معلومیږی چې هغه دهګی بچی وو اوکه دمیړه دهمبستری بچی وو. دغه صورتحال دحقیقی مور دتعلق څخه دواړو حملونو ترمایین اختلاط نسب پیداکوی، اوپردغه باندي دمرتب کیدلو والا د احکامُ التباس راځي، دغه تو له خبری ضروری دی چې دمذکوره طریقی په باره کي چې اکیډمی دی خپله فیصله نه ورکوی پوهنتون دحمل وولادت ماهرین ډاکټرانو نظرونه په وړاند ایښی دی چې کمه دهګیو حامله ښځه دخپل میړه سره دمباشرت په نتیجه کي دوهم وار حامله کیدلای شي امکان ئې شته اودمذکوری تبصری مطابق دنسب دګډوالی بیره

هم پیدا کیږي . تر دغه بحث او سوال او جواب وروسته مجلس فیصله کوي چې د پوهنتون او ومه نا سته چې په ۱۴۰۴هج کي منعقده شوی وه د دغه بابته څخه په قرار داد کي د جواز د رییم حالت چې د حمل کیدلو او ومه طریقه ده خپله فیصله بیرته اخلي . (ایضا ص :د تیر شوی بحث) څخه دا معلومه شوه چې رابطۂ عالم اسلامی مکه مکرمه د اسلامی فقهی اکیډمی فیصله هم داده چې د زوجینو د نطفو تلقیح فیوندیدل د بني په رحم کي رواندي .

دمصنوعی تولید په جائزه صورتو کي مخ ته راغلی اختلافی امور

بعضی حضراتو د مصنوعی تولید او آزمویښتی بمبی د حمل د طریقیی کار د اختیارولو اجازه نده ورکړی . چې په هغه کي د نامحرمه په وړاندی کشفِ عورت او بي پردګی خامخا راځی یا د ښځی څخه بغیر په یوه بله ذریعه باندي (موټ وهل) باندي د منیو حاصلیدل راځی، او نورو حضراتو بیا د مجبوری او علاج د دغه امورو د عملی کیدلو اجازه ورکوي . له هم دغه وجهی څخه پر دغه امورو باندي د دواړو د نقطۂ نظر په رڼاء کي جلا جلا بحث کیږي . (۱)....

دبي پردګی او د کشفِ عورت مسئله : که چیری د دغه عمل په دوران کي د بي پردي والي او د عورت د لڅوالی وغیره خرابی خامخا نه راتللي مثلا د نا محرم په وړاند ی د بی ستری څخه بغیر ماینه او میړه خپله دغه عمل انجام کړی نو د دي په روا والی کي هیڅ شبه نسته، لکن بعض حضراتُ د حاجت په وجه د احتیاطی تدبیرو سره اجازه ورکړیده . (۱)....مولوی برهان الدین سنبهلی صاحب فرمائي :اوس پاته شو هغه صورت چې په هغه کي صرف د ښځی او میړه هګی یا مادة سره یو ځای شی (که هغه د آزمویښتی بمبی په ذریعه سره کښیښنو دل شی او که د میړه مادة په یوه طریقه سره واخستل شی او په یو ذریعه سره د ښځی په رحم کي داخل کړایشی)نو که چیری د زوجینو څخه علاوه دیوه بل چا په وړاندی د دواړه او یا د دوی څخه یو هم خپل شرمګاه ښکاره نکړی او د مادة ایستل هم وشی، او داغه رقم په رحم کي هم په دغه طریقه سره داخل شی که چیری ممکنه وي په دغه کي به شرعی بدوالي نه وي نو اُصولا خو دغه عمل نه حرامیږی .

څکه چې ددغه دحرام والی هیڅ تینګه وجه په فکر نه راځي ،غیر دخلافِ سنت اودمتوارثې طریقې څخه دمخالف والی دوجهې سره نودامکروه بلل کیدای شي ،لکن داولا د پیدائش که چیرې صرف پردغه طریقه موقوف وی نو دیوي زریعې له وجهې سره دمکروه والی دفعه هم لیرې نده . ددې څخه داثابته شوه چې دبمبی زاده دحکم دپیژندلو څخه مخکې دامعلومیدل هم ضروری دی چې په دغه صورت کې چې دمادهٔ تولید دوتلو کمه طریقه عموما اختیارول کیږي ؟اوبیا دښځې په رحم کې څرنګه داخلیږي؟که چیرې میره دعزل دطریقې څخه خپله مادهٔ یوځای کړی اوبیا هغه خپله په یوه بمبه یا پیچکاری سره دخپلې بی بی په رحم کې داخل کړی نوداشکل روادی . (جدید مسائل کا شرعی حل ص: ۲۱۲،۲۱۳) (۲).....حضرت مولانا مفتي رشید احمد لدیانوی رحمه الله فرمائي : دآزموینتی پیچکاري دحمل دطریقیه کارکی دیوداسی مرض علاج نکیږي چې دهغه له وجهې څخه یو څوک په بدني ناروغی اخته وی ،دغه دفعه دبدني ضرر نده بلکه دیومنفعت جلبیدل دی ،له هم دغه وجهې څخه دغه عمل دیوي ښځینه ډاکټري څخه کول هم جائز ندی دنارینه ډاکټره څخه کول خو انتهائي بي دیني ده بلکه بي غیرتي اوبي شرمي ده چې دهغې تصور هم دسړی څخه انسانیت تښتئي . الله تعالی ناراضه کې کم اولاد حاصل کړی هغه ورته عذاب جوړشي . (احسن الفتاوی ج :۸ص:۲۵۱) (۱) (۳).....
حضرت مولانا مفتي عبدالرحیم صاحب لاجپوری رحمه الله فرمائي :دډاکټرڅخه داسی عمل کول قطعی حرام دی ،اوستر دعورت فرض دی دښځې شرمګاه (دبولو ځای) عورت غلیظه دی ،دشرمګاه څخه لوړه حصه بیله شرعی وجهې څخه ونوروته ښکاره کول رواندي نوددنه ځای ته کتل اودشرمګاه سره لاس منبله ول څرنګه به رواشي ؟ زوم اوناوي به سخت ګنهګاره شي ،اومیره دحدیث موافق (دیوث) جوړیږی اودجنت دخوشبویی څخه به محرومه وي ،لهذا ددغه عمل څخه دی قطعا ځان وساتل شي . (فتاوی رحیمیه ج:۱۰ص: ۱۷۹)(۲) (۴).....جواهر الفتاوی دحضرت مولانا مفتي محمد عبد السلام چاټګامی صاحب مدظلهم تصنیف دی :
دمیره اوښځې دنطفو(سپرمونو) بیله فطری طریقې څخه راټستل اودښځې ورحم ته ورداخله ولو کې که چیری ددرییم کس نروی اوکه ښځه دکارکولو مداخله وی اودبیګانه نارینه یا زنانه

په وړاندې شرمګاه ښکاره کېدل اویا کتل یا مسه کېدل یا مسه کول ضرورت پېښیږي نو د ارقم بې حیائي اوبې پردګۍ سره د ګڼچني پیدا کیدل څه فرض اویا واجب کار خو ندی او نه د ګڼچني د نه پیدا کیدلو څخه وانسان ته جاني اویا د یوی عضوی خطره پېښیږي، نو ګواکې هیڅ شرعي ضرورت او اضطراري کیفیت نه پېښیږي .چې د هغه څخه دی د بدن مستوره حصه په خاص ډول شرمګاه دي ویبګنه نارینه اویا زنانه ته دوه ښکاره کیدلو اجازه وشي . نو له همدی وجهې څخه دآزموینتي پیچکاري له لارې څخه د یو بیګنه نارینه اوی زنانه د اکټر په ذریعه سره استعمالول جائز ندي ،یعنی د ګناه کبیرې کول دی، که چیری د ګڼچني نسب د میړه څخه ثابت شي .ودته دپلار څخه میراث پیدا کیږي، دصحی اولاد احکام پرده باندې جاري کیږي .

(جواهر الفتاوی ج:۱ص:۲۲۶ و ۲۲۷ مطبوعه :اسلامی کتب خانه بنوری ټاون کراچي)(۳)

---

(۱)حسن الفتاوی ۸/۲۱۵ کتاب الحظر والاباحة ،متفرقات الحظر و لاباحة. ټیسټ ټیوب بې بی کاحکم ط سعید) (۲) فتاوی رحیمیه ۱۰/۱۷۹ کتاب الحظر والاباحة ،فعل روا اوناروا، په ذریعه سره د پیچکاری مادة منویه ورحم ته رسول . ط دارالاشاعت . (۳) جواهر الفتاوی : ۱۶۱/۱ ټیسټ ټیوب بې بی کي شرعي حیثیت ،ط اسلامی کتب خانه بنوری ټاؤن کراچي شاعت : ګست ۲۰۱۱ء)

لیکن ددې پرعکس ددې غرض لپاره لګوالي دعورت چې څوک جائز بولی دهغوی وینا ده :چې داولاد نه شتون عموما دیوې ناجوړی له وجهې څخه کیږي ،یا په ښځي کي کمه نقصان وي، اویا په نارینه کي یو نقص وي، چې دهغه له وجهې څخه داولاد د پرحصول باندې نشي قادره کیدلای . څرنګه چې دمصنوعي تولید اوآزموینتي بمبي حمل مذکوره جائز دواړه صورتونه هم ددې متعلق دي ،چې په هغه کي دنارینه اویا زناني یوه ناجوړی ،نقص وي چې دهغې له وجهې څخه داولاد حاصلي دل ممکن نه وي ،څرنګه چې درته ذکرشوه ،اود ناجوړی علاج کول روادي، چې دهغې له وجهې څخه دعورت دلګوالي هم ګنجائش شته، دواده شوي ښځي او میړه لپاره د اولاد دحاصلیدلو ضرورت یو جائز او حلال مقصد دی »....فقهاؤ کرامو دګوچني حاجت په حاجت اصلیه ؤکی شمارلي دي !

»..... بلکي د اولاد حصول د نکاح د مهمو مقاصدو څخه دی !

».....او د فقهاؤ کرامو د تصریح مطابق خلق عادتا پرنکاح باندې اقدام د توالد په غرض سره کوي .او د جماع څخه مقصد هم د تقاضا ئي شهوت د پوره کیدلو سره د اولاد حاصلیدل وي . (عربي عبارات په آخر کي شق نمبر، ج، څخه لاندې ملاحظه کړی)

».....د اولاد د حصول څخه بغیر بعضې وخت و زوجینو ته تکلیف او تنګی رسیږي او یو د بله پره او ملامتیا سره وایي او بالآخره و جنګ ته رسیږي، له هم دغې وجهې څخه د اولاد په نه شتون کي عام خلق د پریشاني ښکار کیږي، او یو ځای او بل ځای د علاج کولو لپاره ګرځي »......د اولاد د نیستي له وجهې څخه نن ورځ د میړه او مائني ترمنځ طلاق واقع کیږي، او طلاق ډیر ناخوښه شی دی .چې د هغه د ځان ساتلو لپاره د تدبیرو د اختیارولو تعلیم شریعت ورکوي . »..... بعضې وختونه د اولاد د نست والي په صورت کي د دوهم واده ضرورت وي او په نن وخت کي په طبیعتو کي د مساواة او عدل کمي ده، یا د دغه په نتیجه کي اختلاف او نزاع پیدا کیږي . ».....
یا بعضې وختونه د طلاق یا دوهمي نکاح په صورت کي د دوو خاندانو په منځ کي نزاع ډیر وخت واخلی .چې د هغه په نتیجه کي وقتل او تاراک ته خبره ورسیږي . »....د دې څخه علاوه د اولاد د حصول لپاره د پیدائش په وخت کي او د هغه څخه وړاندې د حمل په وخت کي د علاج کولو په غرض دستر دلڅوالي شرعا اجازه سته ،چې د دغه څخه د اولاد د ابتدائي حاصلیدلو لپاره في الجمله دستر دلڅوالي ګنجائش ښکاره کیږي ،څکه چې د ډیروشیانو د پاته والي او ابتداء حکم یو وي . ».....او د ټولو څخه مهمه خبره داده چې د شریعت په پنځو مقصدو کی (حفظِ دین .حفظِ نفس. حفظِ عقل، او حفظِ مال څخه علاوه حفظ د نسل او د دغه پنځو مقاصدو د حصول او بقاء تدبیرونه په ضرورت او حاجت کي شامل دي (وګوری :اسلامی فقه د هند پوهنتون اهمی فقهی فیصلي ص: ۷۰) او په ټولنیز د ول د دغه ټوله امور او یا د دغه څخه یو څه مستقلا د (شرعی حاجت) درجه لری او (تلقیح) فیوند په اصل کي د نسل د حفاظت د حاصلیدلو په لارکی د حائل د مغ نوي دلیری کیدلو یو تد بیر او طریقه او ذریعه ده . او (رخصت د اسبابو)

او تخفيف د اسبابو) کي فقهاؤ کرامو سخت مرض او سپک مرض هم شميرلي دی چی دهغي له وجهي څخه دحاجت په وخت کي په ډيرو احکامو کي آساني حاصليږی، (ملاحظه کړی اسلامی فقهی پوهنتون دهند اهمی فقهی فيصلي ص: ۷۵) (۱) او داولاد دنشت والي په صورت کي مذکوره دری سره اسباب جمع کيږي (څرنگه چی پورته ذکرشوه) او دهغه وجوهو په نظر درلودلو سره وهغه ته ددفع دضرر درجه حاصليږی، لهٰذا دضرورت په وخت کي دمصنوعی توليد او دآزموينتی بمبی دحمل هغه مجوزه طريقه خپله ول صحی دی، دغه يوه مستقله موضوع ده چی دحاجت په وخت کي دممنوع فعل اجازه کيږي او کنه کيږی؟ او که چيری وشی نو بيا دکوم قسم ممنوع فعل اجازه کيږي؟ په دغه سلسله کي داهل علم حضراتو اختلاف دی او په دغه کي څورأيي پيدا کيږي په دغه کي که څه هم دبعض اهل علم حضراتو وينا داده چی دحاجت په وخت کي هرقسم حرام شی نه حلاليږی يا دکوم شي چی ممانعت پرعمومی قواعدو شرعيو يا قياس باندي مبنی نه وي ،بلکه منصوص وي هغه دحاجت په وخت کي نه روا کيږي . لکن دبعض علماؤ رائيه داده چی دکوم شی حرمت چی قطعی نوي بلکه ظني يامکروه تحريمي وي هلته دحاجت پربنياد باندي گنجائش پيدا کيږي . (ملاحظه کړی : ملکيتِ زمين اوراس کي تحديد ص: ۱۱۳تر ۱۱۵،(۲)نظرية الضرورة الشرعية لابی زهره ص : ۲۷۴(۳)،المدخل الى الفقه الاسلامی ج :۲ص:۲۹۸الشيخ زرقاء) (۴)(۵) اويوه رائيه داده چی دحاجت په وخت کي دحرام لغيره اجازه کيدايشي، دحرام لعينه اجازه نشی کيدلای ،داسلامی فقهی دهند دپوهنتون رائيه داده څرنگه چی دهند پوهنتون دضرورت او حاجت متعلق کمه متفقه قرارداد ونه منظور کړيدی په هغه کي داول تجويز څلورم

---

(۱)المصالح الضرورية هی التی يتوقف عليها حياة الناس الدينية والدنيوية بحيث اذا فقدت اختلت الحياة في الدنيا وشاع الفساد وضاع النعيم الابدی وحل العقاب في الاخدة وهذه الضروريات خمس وهی الدين والنفس والعقل والنسل والمال وهی اقوی مراتب المصالح ..... وقدحفظ الشرع هذه الضروريات من ناحيتين ناحية ايجادها وتحقيقها وناحية بقائها الاولى ايجابية تتعلق بمراعاتها من جانب الوجود والثانية سلبية تتعلق بمراعاتها من جانب العدم كما قال الشاطبی . (اصول الفقه الاسلامی لدکتور وهبة الزحيلی جلد ۲ص، ۱۰۲۱/۱۰۲۰ الباب السادس مقاصد الشريعة العامة ـ ثالثا انواع المصالح باعتبار آثارها في المجتمع الضروريات ط رشيديه (۲تر ۴) دمذکوره حوالو لپاره وگوری ! ملکيت زمين اودهغی تحديد ص؛۱۱۳طبع مکتبه دارالعلوم) (۵) يتضح من ذلک ومن بقية

لامثلة التي يوردها الفقهاء عند الضرورة والحاجة انهما يختلفان في الحكم من ناحيتين (الف) ان الضرورة تبيح المحظوز سواء كان الاضطرار حاصلا للفرد ام للجماعة بخلاف الحاجة فانها لايوجب التدابير الاستثنائية من الاحكام العامة الا اذاكانت حاجة الاجتماعية وذالک لان لكل فرد حاجات متجددة ومختلفة عن غيره ولايمكن لكل فرد تشريع خاص به بخلاف الضرورة فانها نادرة وقاسرة. (ب) ان الحكم الاستثنائي الذى يتوقف على الضرورة هو اباحة موقتة لمحظور ممنوع بنص الشريعة تنتهى الاباحة بزوال الاضطرار تتقيد بالشخص المضطر. اما الاحكام التي ثبت على بناء الحاجة فهى لا تصادم نصا ولكنها تخالف القواعد والقياس وهى تثبت بصورة دائمة يستفيد منها المحتاج وغيره (المدخل الى الفقه الاسلامى ج: ٢ص: ٩٩٩،٩٩٨).

دادي: دضرورت اوحاجت په احکامو کي هم فقهاؤ فرق کړيدی، چی دهغه حاصل دادی چی دضرورت په وجه سره ده داسی منصوصی احکامو څخه هم داستثناء ګنجائش کيدای شی چی دهغه ممانعت قطعي وی اويا هغه چی په خپل ذات کي ممنوع وي، حاجت که دعمومی نوعی نوي نودهغه په وجه سره دهغه په احکامو کي داستثناء ګنجائش کيدايشی ،دچاچی ممانعت په خپل ذات کي مقصودنوي ،بلکه دنورو محرماتو دسد باب لپاره دهغه څخه منعه کول کيږي (اهم فقهی فيصلي ص:۷۱) (۱)(۲) معلوه شو ه چی دحاجت په وخت کي دبعض علماء کرامو په نيز دمکروه تحريمی په عمل کولو باندي ګنجائش کيږي ،اودبعض علماء کرامو په نيز دمحظورلغيره اومنهي لغيره اجازه کيدايشی ،(۳) اوس خبره داده چی کشفِ عورت مکروه تحريمی دی اوکه حرام قطعی،نو دغورکولو څخه معلوميږی چی دغه مکروه تحريمی دی ځکه چی دعورت دلڅ والی ممانعت دليل ظنی څخه ثابت دی، اودغه لپاره چی دفقهی په کتابو کي دحرام يا تحريم لفظ استعماليږی دهغه څخه مراد کراهيت تحريمی دی ،(ضرورت وحاجت ص: ۲۷۹) (۴) داغه رقم کشفِ عورت دبعض حضراتو دتصريح مطابق منهی لغيره دی ځکه چی دهغه حرمت (سدا لباب الزناء) دی اوددغه څخه بد اخلاق پيداکيږي ،اوماحرم سدا للذريعة يباح للمحتاج، يوفقهی اصول دی (وګوری ضرورت وحاجت، ص: ۱۵وص ۵۰و۱۸۰)(۵) له دغه وجهی څخه دحاجت په وخت کي مکروه تحريمی اويا حرمت لغيره په جواز کي دقائلينود رائيو مطابق دتلقيح دغرضه څخه دعورت لڅ والي رواء ؤو، ددي څخه علاوه فقهاؤکرامو دحاجت له وجهی څخه دشهادت داخستلو له غرضه څخه دزنا په وقت کي ده دير سخت ستر دلڅ والي اوکتلو اجازه ورکړيده ،اوحال داچی دکتلو څخه وراندی کله ضروری

نوي اوکله دورکولو له لپاره داوله څخه دکتلو اجازه ورکړه شوی وي چی ښکاره ده هيڅ ضرورت اواضطراری حالت هم نوي ،اوفقهاؤ کرامو دحاجت په وخت کي دناجوړی دعلاج لپاره دعورت دلڅ والی اجازه ورکړيده

(۱)طبع ادارة القرآن کراچی (۲) ان المحرم لذاته لايباح الا للضرورة وذلک لان سبب تحريمه ذاتی فهو يمس ضروريا فلايزيل تحريمه الاضروری مثله فاذا کان التحريم بسبب الاعتداء على العقل کشرب الخمر فانها لاتباح الخمر الا اذا خيف الموت عطشا لان ان الضرورات هی التی تزيل المحظورات التی حرمت لانها مست ضروريا اما المحرم لغيره فانه يباح للحاجة لا لضرورة وذلک لانه لا يمس ضروريا ولذا ابيحت رؤية عورة المراة عند العلاج اذاکانت الرؤية لازمة للعلاج (اصول الفقه لشيخ ابی زهرة ص؛ ۴۰) کما وقع الاتفاق بينهم على ان المحرمات نوعان : محرمات لذاتها ومحرمات لغيرها فالاولى لايرخص فيها عادة الامن اجل المحافظة على مصلحة ضرورية والثانية يرخص فيها حتی من اجل المحافظة على مصلحة حاجية على انه لامانع من ان تعامل هذه معاملة الاولى ولو في بعض الحالات وعلى هذا الاساس ما قبله جاءت القاعدة الفقهية الحاجة تنزل منزلة الضرورة وقد خرج الفقها ء اعتمادا عليها جزئيات متفرقة يمکن ان تکون اصولا يلحق بها ما يماثلها من نظائرها (الموسوعة الفقهية جلد ۲۲ مادة رخصة (محمد رضوان) (۳) ددغه رائيو ذکر ما په خپل جلا مستقل مضمون په عنوان (اصطلاحی ضرورت وحاجت اودمحتاج لپاره استقراض با لربح په تحقيق کي کړيده (محمد رضوان) (۴) دضرورت وحاجت په احکام شرعيه کي اعتبار ص؛ ۲۷۸/۲۷۹ مسئله ضرورت وحجت دمولانا شير احمد قاسمی صاحب دحاجت مثالونه اوځايونه داستعمال ط. ادارة القرآن (۵) ايضا ص؛ ۱۵وص ۱۸۰و ۵۰).

(والطبيب انما ينظر من العورة بقدر الحاجة)

حکيم الامت حضرت تهانوی رحمه الله ديوه سوال په جواب کي فرمائيلی دی: ستر دعورت بي له شکه فرض دی مگر په ټولو حالاتو کي ندی بلکه دضرورت په وخت کي مستثنی دی اوداضرورت شرعيه ندی بمعنی (التاثير بترکه) بلکه طبعی وعادی دی چی په هغه کي شريعت مقدسه دمکلفينو ضعف سبب معتبر کړيدی اوطبعی اوعادی گرځول هغه په معنی د (موقوف عليه الصحة عادة غالبة) کول ښکاره دی بيانو دغه رقم ضرورت څخه من حيث العادة اوعدم ضرورت من حيث الشرع کي څه فرق نشته، اومتاخرينو دواکول په حراموسره هم رواکړيده اوپرهغه باندي دعمل کولو هم گنجائش شته (امداد الفتاوی ج۴ ص : ۲۱۱ دعلاج متعلق احکام ودوا وغيره) څرنگه چی دمرض ليری کيدل يو طبعی ضرورت دی داغه رقم داولاد

دلته دل هم طبعي ضرورت دی که چیری دغه خبره ونه منل شي نو لازميږي داچی عقم تشخیص وعلاج کي به هم دیو چا په وراندی دشرمگاه دښکاره کو (Infrctility)لو اجازه به نوي ځکه چی په دغه کي هم کوم تکلیف اوضررنه معلوميږي (مریض ومعالج کي اسلامی احکام صفحه ۲۸۲بتغیر)(۲)(۳)داغه رقم فقهاؤ کرامو (ختان بعدالبلوغ) دجواز بیان کړیدی ،چی په هغه کي کشف دعورت غلیظه راځی (کما في امداد المفتیین ص: ۹۷۰ محمودیه ج۱۲ ص: ۳۹۵ فتاوی حقانیه ج/۲ ص: ۴۶۶ په حواله بدائع وبزازیه وشامی)(۴)

---

(۱)مداد الفتاوی ،۲۱۱/۴ کتاب الحظر والاباحة احکام متعلقه علاج ودواء وغیره مرض فتق په علاج کي جواز پرشبه اودهغه جواب . طبع دارالعلوم کراچی . (۲) علامه شاطبی ستر دعورت په تحسیناتو کی شمیرلی دی اودتحسیناتو درجه دضرورت اوحاجت وروسته بیان کړیده، واما التحسینات فمعناها الاخذ بما یلق من محاسن العادات وتجنب الاحوال المدنسات التی تانفها العقول الراجحات ویجمع ذلک قسم مکارم الاخلاق وهی جاریة فیما جرت فیه الاولیان ففی العبادات کازالة النجاسة وبالجملة الطهارات کلها وستر العورة واخذ الزینة والتقرب بنوافل الخیرات من الصدقات والقربات واشباه ذلک وفی العادات کاداب الاکل والشرب ومجانیة الماکل النجاسات والمشارب المستخبثات والاسراف والاقتار في المتناولات وفی المعاملات کالمنع من بیع النجاسات وفضل الماء والکلاء وسلب العبد منصب الشهادة والامامة وسلب المرأة منصب الامامتوانکاح نفسها وطلب العتق وتوابعه من الکتابة والتدبیر وما اشبهها وفی الجنایات کمنع قتل الحر بالعبد اوقتل النساء والصبیان والرهبان في الجهاد وقلیل الامثلة یدل علی ماسواها مما هو في معناها فهذه الاومور راجعة الی محاسن زائدة علی اصل المصالح الضروریة والحاجیة اذلیس فقدانها بمخل بامر ضروری ولا حاجی وانما جرت مجری التحسین والتزیین (الموافقات في اصول الشریعة ص: ۲۰۲تر۲۰۴) اوداکتر وهبة الزحیلی هم په اصول الفقه الاسلامی کي ستر دعورت په تحسیناتو کي شمیرلي دی اودضرورت اوحاجت په وخت کي دهغه اجازه ئي ورکړیده ؛ وترتب علیه انه لایراعی حکم تحسینی اذا ادت رعایته الی ابطال حکم حاجی اوضروری فیباح مثلا کشف العورة عند الضرورة او الحاجة لاجراء عملیة اوجراحیة اوتشخیص مرض اوعلاج لان المحافظة علی النفس ضروری واما ادی الی ذلک فهو ضروری وستر العورة من التحسینات فلایلتفت الیه امام الضرورة اوالحاجة (اصول الفقه الاسلامی جلد ۲ص ؛ ۱۰۲۷ الباب السادس مقاصد الشریعة العامة) که چیری دغه خبره صحی ومنل شی نو ددغه ځخه په درجه اولی د تلقیح لپاره دمجبوری په وخت کي دعورت دلغ والی جواز ثابتیږی ،لکن فیه تأمل . محمد رضوان(۳) مریض ومعالج کي اسلامی احکام ص: ۲۸۳ باب :۴۱ مصنوعی تخم ریزی طبع مجلس نظریات اسلام۔ (۴) فتاوی محمودیه ۴۶۶/۱۹ کتاب الحظر والاباحة باب خصال الفطرة الفصل الخامس في الختان ،دبالغ ختنه ط ادارة الفاروق حقانیه ۴۶/۲ کتاب الکراهیة والاباحة باب الامر بالمعروف والنهی عن المنکر ط حقانیه اکوره ختک .

حضرت حکیم الامت رحمه الله فرمائي : فرض ستر دضرورت په وخت کي ساقطیږی، اودسنت ضرورت دمباح دضرورت ځخه لوړ دی اوتداوی صرف مباح ده (کله) چی دهغه لپاره کتل

اولس وروړل جائز وی نو دختني لپاره په اولي طريقه سره (امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۲۳۹)(۱)
ځکه چی ختنه سنت شول او ستر دعورت فرض شو (نو له دغی وجهی څخه فتاوی رحيميه ج: ۱۰
ص: ۱۳۴ باندي ختان وروسته تر بلوغ عدم جواز ذکرشويدی.) لکن علامه ظفر عثماني رحمه
الله دغی شبهی يو محققانه وفقيهانه جواب ليکلی دی هغه ليکي : وما تضمنه کلام السائل
من ان الحرام لا يباح الالامر واجب غير مسلم فان الفطر في رمضان حرام ومع ذلک يباح لامر
جائز کسفر کذا في فتح الباری ج: ۱ص: ۲۹۱ قلت : والاصل فيه ما قاله فقهائنا قد يفتقر ضمنا
مالا يفتقر قصدا (الاشباه ص: ۹۶) (امداد الاحکام ج : ۴ ص: ۴۲۹) (۲) ددي اصولو په
وړاندی ښکاره کيږي نو دتلقيح په مسئله کي دعورت لڅ والي او دستر ليدل دعلاج اويا ديو
حاجت دپوره کولو په غرض ضمنا دالازميږی .په خپل ذات کي او اصلا وقصدا دعورت لڅ والي
او پرستر باندي نظر کول مقصود نشی کيداي ـــ دغه وجه ده چی رابطه عالم اسلامی مکه
مکرمه کي داسلامی فقهی پوهنتون په دغه سلسله کي دغه قرارداد منظورکړی : واده کړه
شوي ښځه چی نه حامله کيږی، ددي اوددي دميړه لپاره د ګچنی ضرورت يو روامقصد دي،
دهغه لپاره دمصنوعی حمل جائزه طريقه خپله ول او علاج صحی دی. (رابطه عالم اسلامی کي
داسلامی فقهی اکيډمی اهمی فيصلی، په حواله عصر حاضر کي پيچيده مسائل ص:
۱۵۲وص: ۱۵۶ ترتيب مولانا مجاهد الاسلام قاسمی صاحب مطبوعه ادارة القرآن کراچی)
مولانا خالد سيف الله رحمانی صاحب ليکلی دی : اول خو داچی زه دی خاوند داولاد سم دايوه
غيری معمولی جذبه ده ،بالخصوص دښځو په معامله کي دولادت څخه محرومی په اکثره
وختو کي ښځه دمختلفو زنانه مريضيو اودماغی اوقلبی اوبدني ناجوړيو ښکارکيږي ډير
وخت دغه شی دزوجينو په منځ کي سخت دنفرت اوجنجال باعث کيږي اوبعض وختونه
پرعصمت اوعفت باندي هم جوړيږی ددي وجهی څخه دفقهی اصطلاح مطابق دهری ښځی
لپاره ممکنه ده چی ضرورت ئي نه وي لکن د بعضی خويندو لپاره دحاجت درجه اختيار وي چی
هغه ته په بعض ځايوکی دضرورت په حکم کي پريوزي . اوس چی زه فقهی تصريحات ګورم
نو ښکاره معلوميږی چی بعضی په داسی صورتو کي هم دبی ستری عمل کاوه کيږي چی په خپل

ذن کې کوم سخت مرض نوي لکن په امکاني طورباندې دسختومرضو باعث گرځي (جدید فقهی مسائل جلد ۵ص: ۱۴۵ مطبوعه زمزم پبلشرز کراچی تاریخ اشاعت جون ۲۰۰۵ء)(۲)

(۱)ایضاً ص: ۲۳۹ رضیع مکتبه دار العلوم کراچی)(۲)امداد الاحکام ۴۲۹/۴ کتاب اللباس والزینة مسائل متفرقة دبالغ دختنه حکم طبع دارالعلوم کراچی (۳) جدید فقهی مسائل : ۱۰۲/۵ ټیسټ ټیوب څخه تولید او دهغه متعلق احکام دښځي اونر دمادۀ گډول (طزمزم).

دآزموینتی بمبي ذریعه دهغه کسانو لپاره چی اولادونه نلری په اصل کي یوه ذریعه دعلاج ده اوپه دي کي شبه نشته چی فقهاؤ، دانساني مسائل پر دري قسمه تقسیم کړیدی (ضرورت. حاجت، تحسین ،) اوممنوعات ئی صرف دغه وخت جائز بللی دی کله چی ضرورت یا حاجت دهغه داجازی تقاضاوکړی، لکن دفقهی جزئیاتو دکتلو څخه معلومیږی چی علاج اومعالجی په باب فقهاؤ یو رقم دډیری فراخی څخه کار اخستي دی ،اوویُسر اوآساني ته ئي لارورکړیده (ایضا ص: ۱۴۸،۱۴۷) (۱) مولانا ډاکټر مفتي عبدالواحد صاحب زید مجدهم لیکي : دآزموینتي حمل څلور مرحلي دی : (۱)... دمیره (مادة) حاصله (هگی) حاصله ول . (۲)......په آزموینتی بمبه کي دښځی(Ovum)ول (۲).... دښځی نطفه نطفه دمیره دنطفه څخه حمل داره کول . (۴).... حملداره نطفه (چی تر اوسه علقه ده) دښځی ورحم ته انتقالول . دغه ټولی مراحلی دعلاج عقم په طریقه سره جائز اورروادی، لهذا که دبعضی عوارضو په بناء باندي یوه جوړه دغه طریقه اختیار کړی داولاد دحاصلیدلو کوشش وکړی نو رواء ده (دمریض اومعالج اسلامي احکام باب ۴۲ص: ۲۸۵ تاریخ اشاعت ۲۰۰۶ء)(۲) فائده ؛ زموږ په ناقص خیال کي په دغه سلسله کي دمجوزینو موقف راجع دی اوداولاد دحصول په خاطر دتلقیح لپاره که چیری په خپله باندي اویا دزوجینو یو دبله په کومک سره دیو تدبیر اختیار ول ممکن اوکارکونکی نشی اوداکټر په وړاندی دستر لڅ والی ضروری وي نو ددغه علاج اومعالجی دشرائطو په لحاظ کولو سره شرعا اجازه شته.

دبنځي دستر مندي حصې دعلاج اومعالجې شرائط

دمصنوعي توليد دآزموينتي بمبي دحمل چې دکومو دوو طريقو اجازه ورکړه شويده، په هغه کي که دبنځي دبل ومخ ته دستر مات والي ضروري وي اودعورت غليظه دبل په وړاندي ښکاره لازم شي نو دبنځي دعلاج په سلسله کي دستر دلځ والي چې کوم اصول دي، دهغه رعايت ډېر هم ضروري کيږي، ځکه چې دهغه دحاجت اجازه اوعلاج معالجه پر اصولو باندي بني دي. اوپه دغه سلسله کي فقهاؤ چې کوم اصول بيان کړيدی هغه دادي: دعلاج په باره کي قاعده

---

(۱)جديد فقهي مسائل:۱۰۲/۵ دآزموينتي بمبي ځخه توليد اودهغه سره متعلق احکام، دميره اوماينې دمنځو ګنيدل ځ زمزم پبلشرز شاعت ۲۰۱۲) (۲)مريض ومعالج اسلامي احکام ص:۲۸۵ باب ۴۲ ټيسټ ټيوب بېبي آوري ط مجلس نشريات اسلام اشاعت ۲۰۰۶.)

داده که دمريضي لپاره دستر دلځ والي ځخه بغير علاج ممکن وي يا دستر لځيدل جائز نه دي. دوهمه داکه چيري ځوک مسلمانه خور ډاکټره پيداشي نو يا دمريضي دبدن ديوي حصې دلځ والي لپاره دهغې دخدمتونه حاصلول ضروري دي، که چيري مسلمانه معالجه پيدانشي يا ديوي بلې غيري مسلماني بااعتمادي ډاکټري ځخه دې علاج وکړايشي، اوکه چيري هغه هم پيدانشي يا ديوه مسلمان نارينه ډاکټر دخدماتو دحاصلو اجازه شته ،که چيري مسلمان نارينه ډاکټرهم پيدانشي يا په دغه صورت دغير مسلمان نارينه ډاکټرځخه علاج کيداى شي .ليکن دنارينه ډاکټره ځخه په علاج کولو کي داشرط دي چې هغه به دمريضي دبدن صرف هغه حصه کتلاى شي کم چې دمرض دتشخيص اوعلاج لپاره ورځخه ناچاري وي، دهغه ځخه دې نوره حصه نه ګوري .اوداغه رنګه دې په اندازه دخپل طاقت دسترګو دکښته والي ځخه کاروانخلي اودعلاج په وخت کي دي دمريضي ميړه يا محرم يا کومه قابله داعتماد يوه بنځه دې هم موجود وي ددي لپاره چې خلوت لازم نشي . (وګورئ ! اسلامي فقه اکيډمی جده قرار داد اوسفارشات نمبر۸۰۰۱۲/۸۵) اودعصر حاضرپيچيده مسائل شرعي حل ص:

۱۵۱او ص: ۱۶۵، ۱۶۴، ۱۵۲، او دبهشتی زیور حصه ۲ ص: ۶۳ وطبی جوهر ضمیمه بهشتی زیور حصه ۹ ص: ۱۱۱) (۱)

یقوم بهذا التلقیح امراة طبیبة مسلمة ثقة فان لم یتیسر فطبیبة غیر مسلمة ثقة فان لم یتیسر فطبیب مسلم ثقة فان لم یتیسر فطبیب ثقة غیر مسلم (عموم البلوای ص: ۴۸۱)

دفقهاؤ کرامو دتصریح مطابق دنارینه دعلاج لپاره هم اول دنارینه په وړاندې اوبیا په دوهمه درجه کې دښځینه په وړاندې دستر دلغ والی اجازه شته، کما قال الفقها ء ان نظر الجنس الی الجنس اخف من النظر الی غیر الجنس .... (عربی عبارات په اخر شق نمبر، ج، لاندی وګوری)(۲)

---

(۱) بهشتی زیور: ۱۸۶/۳ لباس اوپردی بیان (ط خواجه محمد اسلام) (۲) بعضې اهل علم حضرات مصنوعی تولید اوآزمو ینتی بمبې دحمل طریقه دښځې لپاره صرف دښځې په وړاندې دعورت دلغ والی اجازه شته دنارینه په وړاندې نده ورکړه شوې. لکن کله ددغه حاجت اوعلاج په حصه کې که ورشامل شو نو بیا ددغه علاج لپاره پورته مندرج شوې قاعده دعمل کولو مطابق جائز ده.

دماده ئې منویه دحاصلیدلو مسئله

مصنوعی تولید اودآزمو ینتي بمبې دحمل ددغه طریقه ئي کار دخپله ولو لپاره دمادة منویه (سپرم) حاصله ول هم یوه ښکاره خبره ده، اوسوال پیداکیږي، چې نارینه ددغه طریقئي کار لپاره دمادة (سپرم) تولید څرنګه حاصل کړي؟ که چیرې میړه دخپلې ښځې سره د(عزل) په طریقه اوبیا دخپلې ښځې څخه (استمناء بالید) وغیره په ذریعه باندې خپله ماده منویه حاصله کړي نودغه شکل بیله شبه جائز دی، ځکه چې دلته دممانعت هیڅ وجه نه پاته کیږي. فقهاؤ کرامو دخپلې ښځې دجسم د (استمتاع واستمناء) اجازه ورکړیده او (استمناء بالید لزوجه ته دتقبیل وتفخیذ درجه ورکړیده. اوکه چیرې دغه صورت اختیار ول ممکن نه وي آیا بیا دښځې څخه علاوه په بله طریقه سره دمنیو خارجیدلو اجازه شته؟ ځکه چې په خپل لاس وغیره اوبیا

دبنځی او مینځی څخه علاوه په یوه بله طریقه سره دمنیو خارجیدل وشی نو ودغه ته په عامو حالاتو کي نقهء کرامو مکروه تحریمی ویلی دی. او د ممنوع موټ وهلو ممانعت یوخو ناکح الید ملعون او یا وهغه ته نژدی الفاظ د روایت څخه ثابت دی. (۱) دوهم د قرآن مجید د دغه لاندی آیت څخه ثابت دی: (الاعلی ازواجهم اوما ملکت ایمانهم فانهم غیر ملومین (۶) فمن ابتغی وراء ذلک فاولئک هم العادون (۷) (۲) څرنګه چی حضرت مفتي محمد شفیع صاحب رحمه الله د پورته آیت په ضمن کي تفسیر کړیدی اولیکلي ئي دی: یعنی منکوحه ښځه او یا په شرعی طریقه سره حاصله شوی مینځی سره د شرعی قاعدی مطابق قضاء شهوت څخه علاوه بل هیڅ صورت د شهوت پوره کیدلو حلال ندی، په دغه کي زنا هم داخله ده او کمه ښځه چی شرعا پرده باندي حرامه ده دهغی سره نکاح هم په حکم کي د زنا ده او د خپلی ښځی یا مینځی سره د حیض او نفاس په حالت کي او یا غیری فطری طریقه سره جماع کول هم په دغه کي داخل دي یعنی د کوم نارینه او یا زنانه څخه او یا د کوم حیوان څخه د شهوت پوره کیدل هم او د جمهورو په نزد استمناء بالید یعنی په خپل لاس سره مني راښتل هم په دغه کي داخل دی، (معارف القرآن ج: ۶ ص: ۲۸۹ (۳) په حواله سره د بیان القرآن وقرطبی وبحر محیط وغیره (کذافی تفسیر الجلالین) (۳) له هم دغی وجهی څخه بعض حضراتو رائیه داده چی مصنوعی تولید او آزموینتی بمبی حمل په عمل کي د ښځی علاه په یوه بله طریقه سره موټ وهل رواندی. څرنګه چی مولانا برهان الدین سنبهلی صاحب فرمائلی دی: آیا په لاس باندي د خپلی مادة راېستل یعنی موښت وهلو سره یستل د شهوت پرقیاسیدلو باندي اجازه شته؟

---

(۱) رد المحتار ۲ / ۳۹۹ باب مایفسد الصوم ط سعید وفی تقریرات الرافعی ۲/ ۱۴۷ باب مایفسد الصوم صبع سعید: قول الشارح حدیث ناکح الید ملعون هذا الحدیث موضوع کما نقله السندی عن ملاعلی قاری رحمه الله (۲) سورة المؤمنون: رقم الآیة: ۶، ۷) (۳) معارف القرآن ۶/ ۲۹۶ سورة المؤمنون آیت ۶، ۷ طبع ادارة المعارف

داحقرپه وړاندې ددغه جواب نفي دی. ځکه چې دمحض اولاد خواهش اودهغه موهوم امید په متفق علیه طریقه سره دیو ممنوع فعل اجازه نشي ورکول کیدلای. والعلم عندالله (جدید مسائل کاشرعی حل ص: ۲۱۳) لکن دمجوزینو وینا داده چې ممنوع جلق (موټ وهل) اودتلقیح (فیوند) مسئله دڅولاروڅخه ئي فرق ښکاره کیږي: ددې وجهې څخه ئي څلای د(وراء ذلک) په مفهوم کي داخل ندی، بلکه (الاعلی ازواجهم) په مفهوم کي داخل دی. چې پرهغه باندې د(هم العادون) پرځای د (فانهم غیرملومین) حکم لګول کیږي اودتلقیح په غرض دمني څخه علاوه په یوه بله طریقه سره استمناء په پورتنی عذاب کي نه داخلیږي. (۲)..ممنوع جلق (موټ وهل) زیاد زیاد مکروه تحریمی دی ..استمناء بالکف وانکره تحریما (درمختار کتاب الصوم .باب مایفسد الصوم) (۱) (په دغه سلسله کي مستدل حدیثونه محدثینو په نهایت درجه ضعف کي بللی دی اوکه چیر صحی شی بیا هم خبر واحد دي .چې دهغه څخه دظنی دلیل فائده حاصلیږی. اودسورة مؤمنون دمذکوره غیری مفسره آیاتوڅخه داحکم ثابتیږی کوم چې خپله دظنی درجه لری) (۲) اوحاجت په وقت کي د بعض فقهاء کرامو په نزد کراهت تحریمی پورته کیږي (کما مر) ددغه وجهې څخه دشهوت غلبه اوپه زنا کي دمبتلا کیدلو دګمان په وخت کی، اهون البلیتین. باندې عمل کولوسره داستمناء په لاس سره اجازه ورکړه شویده کم چې په ښکاره ئي ضرورت اواضطراری حالت ئي ندی بلکه له هری نګاه څخه په حاجت کي داخل دی ،(۳)..په ممنوع جلق (موټ وهلو) کي شهوت راپورته کیدل اوخوند حاصلیدل مقصود وي لیکن په تلقیح کي دغه مقصود په نظرکی نه وي (۴)..په ممنوع جلق (موټ وهلو)کی دمنیو ضائع کیدل خامخا راځی ،لیکن په تلقیح کي دضائع کیدلو پرځای دمنیو په کارولیدل مقصود وي ،(۵)...په ممنوع جلق (موټ وهلو) کي دنفع جلب والی په نظر کي وي ،لیکن په تلقیح کي دضرر دفع په نظر کي وي، (۶)..په ممنوع جلق کي دنکاح دیو مقصد حاصلیدل په نظر کي نوي ،لیکن په تلقیح کي دنکاح اهم مقصد یعنی دولد حاصلیدل مقصود وي .(۷)..په ممنوع جلق کي دیوي ناجوړی علاج نوي، لیکن په تلقیح کي دمرض علاج مقصود وي ،لهذا تلقیح (فیوند) لپاره که چیری دمني څخه دلاس څخه علاوه په یوه بله

طريقه سره منى حاصل كړاى شي نو دهغه شرعا اجازه شته، تر هغه وخت پورى ددغه شبهي تعلق سته چي داولاد دموهوم اميد په وجه دممنوع فعل اجازه نه وركړه

---

(۱) الدرالمختار ۳۹۹/۲ كتاب الصوم باب مايفسد الصوم ومالايفسد مطلب: فيحكم الاستمناء بالكف طبع سعيد (۲) مولانا مفتي شير احمد صاحب دارالافتاء مدرسه شاهي مراد آباد يوپي هندوستان په خپله مقاله كي ليكلي دى : كه چيرى ديوامر په ممانعت كي دليل قطعي څخه ثابت نوى بلكه دليل ظني يعني آيت غير مفسره اوغير محكمه يا حديث څخه ثابت كيږي نو دهغه څخه مراد حرام نسي كيدلاى .بلكه كراهت تحريمي مراديږي، كه څه هم فقهاء كرامو دلفظ څخه دحرام يا تحريم تعبير ندى كړى الخ (دضرورت اوحاجت احكام شرعيه كي اعتبار ۳۶۹ ترتيب حضرت مولانا مجاهد الاسلام قاسمي صاحب رحمه الله مطبوعه ادارة القرآن كراجى) محمدرضوان.

كيږي .نوددي جواب دادى چي دتلقيح په ذريعه داولاد حاصليدل دتوهم په درجه كي ندى.بلكه دتلقيح مسئله هروخت دتجربو څخه په عام ډول سره كاميا بيدل ثى ثابت شوي ثي، اوڅرنګه چي دبل علاج اودمعالجي طريقي اوتدبيرونه دتجربو په رڼاكى تجويز شوي دى، څكه چي دطبابت زياد دار اومدار پرتجرباتو باندي دى ،دغه معامله دتلقيح هم ده . كوم څه چي په دغه سلسله كي چي زموږ له طرفه څخه څه وراندي شوه دهغه تائيد ددغه لاندى حوالو څخه كيږي .(۱)....مولانا برهان الدين سنبهلى صاحب په خپل كتاب، جديد مسائل كا شرعى حل، په حاشيه كي ددي وضاحت داډول كړيدى:ليكن كه چيرى ددغه ذريعى څخه دګوچني دپيداكيدلو قوى امكان وي نو روادى، اودموټ وهلو دممانعت څخه (ضياع دنطفه) هم راځى . څكه چي دلته دنطفي ضائع كيدل نه دى بلكه دهغه څخه كاراخستل دي، ددغه غرض لپاره جلق موټ وهل منع نشو . (جديد مسائل كاشرعى حل ص : ۲۱۴)(۱) (۲)...... حضرت مولانا مفتي محمود الحسن ګنګوهى صاحب رحمه الله څخه سوال شويدي : چي دزيد اولاد نه كيږي ددغه وجهى څخه به دى خپل دمنيو آزمويښت كوي اودمنيو رايستل د(استمناء) باليد بغير نشى كيدلاى نو آيا په دغه صورت كي استمناء باليد رواده اوكنه ده ؟ حضرت مفتي صاحب رحمه الله ددغه په جواب كي ليكلى دى : دعلاج بله طريقه هم سته كه چيرى هم پيله دغه طريقى سره علاج نكيږي نو بيا ګنجائش شته (فتاوى محموديه ج: ۱۵ص : ۳۹۴ باب الحظر

والاباحة) (۲) (۳)......مولانا ډاکټر مفتي عبدالواحد صاحب زید مجدهم لیکلی دی: دطبیبو دلحاظه څخه استمناء بالید ضرورت په لاندی ذکرشووصورتو کي کیږي (۱).. داولاد دنشت والی په صورت کي دنارینه دماده ئي منويي دصلاحیت دپیژندلو په صورت کي دپاره دنظرورکولو، ځکه چی په دغه صورت کي خوند اخستل مقصود نوي چی دغه وخت دی ګناه وبلل شی، لکه چی مقصد شهوت راپورته کیدل اوپه خوند حاصلولو کي وي، لهذا په داسی ځایو کي دحدیث هغه ذکرشوی وعید (سزا) نه راځی لیکن که کوشش کیږي په داسی موقع کي دي هم دخپلی ښځی دلاس څخه استمناء وکړی دابه ډیره ښه وي. دمریض اومعالج اسلامی احکام ص: ۲۷۸، اشاعت: ۲۰۰۶ء) (۳)

فائده: داولاد دپیداکیدلو په وجه صرف دمنیو دتشخیص کولو په موخه استمناء بالید که چیری اجازه وی چی په هغه کي دمنیو ضائع کیدل یقینی دی نو په خپله ددغه مرض علاج اوداولاد دحاصلیدلو په وجه په کوم کي چی دمنیو ضائع کیدل هم خامخا راځی داستمناء بالید په درجه اولی سره باید اجازه وشی (۴)... مولانا خالد سیف الله رحمانی صاحب لیکلی دی:

---

(۱) (طبع اداره اسلامیات لاهور) (۲) طبع کتب خانه مظهری) (۳) دمریض اومعالج اسلامی احکام ص: ۲۷۸ باب ۴۰ موټ وهل (استمناء بالید) طبع مجلس نشریات اسلام)

اول خو داولاد ده درلودلو جذبه یوه فطری جذبه ده .... ډیر وختونه دغه جذبه داسی تینګه شی چی دعفت اوعصمت له نظره څخه د، ضرورت، درجه پیداکوی، بله خبره داده فقهاء کرامو بعضی داسی امور هم رواکړیدی چی دوخت په اعتبار سره لکه (جلق) داسی وی، مثلا (عزل) یعنی دخپلی ښځی سره داسی جماعی کول چی دانزال په وخت کي عضومخصوصه دباندي راوباسی، اودښځی رحم دانزال څخه وساتی، داحنافو په نزد دغه صورت جائز دی .... اوخاص لکه څرنګه چی په، استمناء، کي آرام والی دشهوت راځی اوماده منویه ضائع کیږی، فرق ئي

صرف دادې چې د شهوت د آرامولو لپاره د ښځې د بدن د خوند اخستلو پرځای د خپل لاس څخه خوند اخستونکی وي، د رپیمه خبره داده د موټ وهلو په ممانعت کې اصلي حکمت دادی چې دغه رقم انسان، ژوندی مادة، د انساني نسل د احترام پرځای بې مقصده استعمالول او ضائع کېدل دي، اوس غور وکړی که چیری دئ د مصنوعي تولید لپاره، موټ وهل، وکړی نو د. موټ وهلو، مقصد هم بدلیږی، دلته موټ وهل د ژوندانه د جوهر د ضائع کېدلو لپاره نشو ،بلکه د فائده او میوې راوړلو لپاره کیږی، له هم دغه وجهې څخه دغه صورت د، موټ وهلو، باید په هغه ممنوع صورتو کې رانشی. (جدید فقهی مسائل ج: ۵ ص: ۱۴۴،۱۴۵ مطبوعه: زمزم پبلشرز کراچی) (۱)

فائده : زما په ناقص فکر په دغه سلسله کې د مجویزینو موقِف رائج دی ،لهذا کله چې د میړه بی بی موجوده وي او دهغې په بدن باندې مصنوعی د تولید عمل کیږي نو تر څه وخته چې ممکنه وي د مادة منویې حاصلیدل ددغې بی بی په ذریعه سره ئې حاصله ول ضروری دی. او دبلې طریقې څخه د منیو د رائستلو جواز دیو سخت طبی ضرورت پوری محدود دی.

(څرنګه چې حضرت مولانا مفتي محمد تقي عثماني صاحب په خپل مکتوب کې دهغه تصریح فرمائلې ده او هغه مکتوب مخ ته راتلونکی دې)

دښځې د ماده منویې د حاصلیدلو مسئله

څرنګه چې د نارینه په حق کې د تلقیح لپاره د استمناء اجازه سته، داغه رقم د نارینه پر مسئله باندې قیاس کاوه کیږي د ښځې په حق کې هم د منیو د رائستلو اجازه کیږی، ځکه دواړه خایه یو ډول دی، البته د ښځې د سترمنې حصې دلته هم لکه د علاج او معالجې شرائط لحاظول ضروری دی. (عربی عبارات په آخر شق نمبر، د، لاندی وګورئ!).

(۱)جدید فقهي مسائل ، ۱۰۲/۵ د ټیسټ ټیوب څخه تولید او دهغه سره متعلق احکام ،د بنځي او میړه د مادي ګډیدل ،ط زمزم پبلشر. شاعت ، ۲۰۱۲ عیسوي.

(عربي عبارات)

(۱)قال النبی صلی الله علیه وسلم : الولد للفراش وللعاهر الحجر . (بخاری(۱)،ابو داؤد(۲) (۲)عن ابی هریرة ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال الولد للفراش وللعاهر الحجر .(مسلم (۳) ،ترمذی،(۴) نسائي ،(۵) ابن ماجه .(۶)) (۳) عن رویفع بن ثابت الانصاری قال : قام فینا خطیبا ، قال : اما أنی لااقول لکم الا ما سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول : قام فینا یوم حنین قال : لایحل لامرء یؤمن با لله والیوم الاخر ان یسقی ما ءه زرع غیره یعنی اتیان الحبالی ولایحل لامرء یؤمن بالله والیوم الاخر ان یقع علی امراة من السبی حتی یستبرئها ولایحل لامرء یؤمن بالله والیوم الآخر ان یبیع مغنما حتی یقسم ابو داؤد باب في وطء السبایا . (مسند احمد)(۷) (۴)عن سعد رضی الله عنهٔ ،قال سمعت النبی صلی الله علیه وسلم یقول : من ادعی الی غیر ابیه، وهویعلم انه غیر ابیه . فالجنة علیه حرام، فذکرته لابی بکرة فقال : وانا سمعته أذنای ووعاه قلبی من رسول الله صلی الله علیه وسلم .(بخاری (۸) (۵) عن ابی عثمان ،عن سعد، وابی بکرة کلاهما ،یقول : سمعته اذنای ،ووعاه قلبی محمد اصلی الله علیه وسلم یقول : من ادعی الی غیر ابیه، وهو یعلم انه غیر ابیه فالجنة علیه حرام (مسلم) (۹) باب بیان حال ایمان من رغب عن ابیه وهو یعلم) (۶) وفی المنتقي عن ابی حنیفة رحمه الله : واذا عالج الرجل جاریته فیما دون الفرج وانزل . فاخذت الجاریة ماءه في شئ واستدخلته فرجها في حدثان ذللک فعلقت الجاریة وولدت ولدا فان الولد ولد الرجل والجاریة تصیر ام ولده (المحیط البرهانی ،الفصل الثامن والعشرون في دعوی النسب، النوع الاول : في بیان مراتب النسب(۱۰) (۷) محمد بن (سماعة) عن ابی حنیفة ؛ اذاعالج الرجل جاریته فیما دون الفرج فانزل فاخذت الجاریة ماءه في شئ واستد خلته فرجها في حرمان ذلک فعلقت الجاریة وولدت ولدا فان الولد ولد الرجل وتصیر الجاریة ام ولده (المحیط البرهانی) (۱۱) (۸) واطلق في

الولادة من السيد فشمل ماذاكان بجماع منه او بغيره لما في المحيط عن ابى حنيفة اذا عالج الرجل جاريته فيما دون الفرج فانزل فاخذت الجارية ماءه في شئ فاستد خلته فرجها في حدثان ذلک فعلقت.

---

(۱)الصحیح للبخاری کتاب المحاربین ج: ۲ص: ۱۰۰۷(طبع قدیمی کتب خانه) (۲) سنن ابی داؤد کتاب الطلاق باب الولد للفراش ج: اص: ۳۱۷ (طبع امدادیه) (۳) رقم ۲۶۸۸ ج: ۴ ص: ۱۷۱(طبع داراجیل بیروت) (۴) رقم ۱۱۵۷ ج:۲ص: ۴۶۳ (طبع دار احیاء التراث بیروت) (۵) نسائی کتاب الطلاق باب الحاق الولد بالفراش ج:۲ص: ۱۴۴ (طبع امدادیه) (۶) کتاب النکاح باب الولد للفراش ص: ۱۴۴ (طبع قدیمی) (۷) مسند الامام احمد بن حنبل ۲۲۸/۱۳ رقم الحدیث ، ۱۶۹۳۴ مسند الشامیین حدیث رویفع بن ثابت الانصاری ؓ دارالحدیث القاهرة (۸)کتاب المغزی ج: ۲ ص: ۶۱۹ (طبع قدیمی) (۹) مسلم کتاب الایمان ج: ۱ ص: ۵۷ ط قدیمی (۱۰)ج: ۱۰ص:۳۹۳ط داراحیاء التراث العربي بیروت (۱۱) سابقه حواله.

الجارية وولدت فالولد ولده والجارية ام ولدله آه وافاد بالولادة من السيد انه لابد من ثبوت النسب منه اولا لتصير ام ولدله فانه السبب عندنا . (البحر الرائق كتاب العتق باب الاستيلاد)(۱) (۹) اقول : سنذكر في الاستيلاد عن البحر عن المحيط ما نصه اذاعلج الرجل جاريته فيما دون الفرج فانزل فاخذت الجارية ماء ه في شئ فاستد خلته في فرجها في حدثان ذلک فعلقت الجارية وولدت فالولد ولده والجارية ام ولدله آه فهذا لفرع يويد بحث صاحب البحر (رد المختار باب العدة فروع) ادخلت في فرجها هل تعتد) (۲)(۱۰) ومن هاجرت الينا مسلمة اوذمية حاملا باتت بلاعدة فيحصل تزوجها اما الحامل فحتى تضع على الاظهر لا للعدة بل لشغل الرحم بحق الغير (الدر المختار ج:۳ ص:۱۹۳) (۳) (۱۱) قوله على الاظهر) مقابله رواية الحسن انه يصح نكاحها قبل الوضع لكن لايقربها زوجها حتى تضع كالحبلى من الزنا ورجحها الاقطع لكن الاولى ظاهر الرواية نهر وصححها الشارحون وعليها الاكثر بحر (ردالمحتارج: ۳ ص: ۱۹۳) (۴) (۱۲) الاقرار بالولد الذى ليس منه حرام كالسكوت لاستلحاق نسب من ليس منه بحر وفيه متى سقط اللعان بوجه ما اوثبت النسب بالاقرار اوبطريق الحكم لم ينتف نسبه ابدا . (الدرالمختار ج: ۳ص:۴۹۳) (۵) (۱۳) التلقيح الصناعى مما يضطر اليه

الزوجان المحتاجان اليه بحيث يعسر استغنائهما عن العمل به حتى عمت بذالك البلوى. فهذه المسئلة تندرج تحت السبب السابع من الاسباب العامة لعموم البلوى وهو الضرورة والعموم هنا آت من شمول وقوع الحادثة للزوجين في عموم احوالهما بحيث يلزم من القول بعدم الجواز الحاق المشقة العامة بهما ...وقبل البحث في هذه العلاقة لا بد من الاشارة الى طرق التلقيح الصناعي المعروفة هذه الايام لتتضح العلاقة بعد ذلك وهذه الطرق سبع وهى : الطريقة الاولى : ان يجرى تلقيح بين نطفة ماخوذة من زوج وبيضة ما خوذة من امرأة ليست زوجته ثم تزرع اللقيحة في رحم زوجته . الطريقة الثانية . : ان يجرى التلقيح بين نطفة رجل غير الزوج وبيضة الزوجة، ثم تزرع تلك اللقيحة في رحم الزوجة . الطريقة الثالثة : انيجرى تلقيح خارجى بين بذرتى زوجين ثم تزرع اللقيحة في رحم امرأة متطوعة لحملها . الطرقة الرابعة : ان يجرى تلقيح خارجى بين بذرتى رجل اجنبى وبيضة امرأة اجنبية وتزرع اللقيحة في رحم الزوجة الطريقة الخامسة : انيجرى تلقيح خارجى بين بذرتى زوجين ثم تزرع اللقيحة في رحم الزوجة الاخرى . الطريقة السادسة : ان تؤخذ نطفة من زوج وبيضة من زوجته ويتم التلقيح خارجيا ثم تزرع اللقيحة في رحم الزوجة . الطريقة السابعة : ان تؤ خذ بذرة الزوج وتحقن في الموضع المناسب من مهبل زوجته اورحمها تلقيحا داخليا . اذاتقررت هذه الطرق فان العلاقة بين هذه .

---

(١)البحر الرائق كتاب العتق باب الاشتيلاد ج، ٤ ص، ٢٥٢.(ط داراكتب العلمية بيروت (٢)ردالمحتار، ٥٢٨/٣ كتاب الطلاق باب العدة تبيل مطلب في المنعى اليها زوجها ط سعيد (٣) اردالمختار، باب نكاح الكافر ج؛ ٣ ص، ١٩٣ ط سعيد كراجى (٤) ردامحتار باب نكاح الكافر ج؛ ٣ص، ١٩٣ (طبع سعيد) (٥) الدرامختار باب اللعان ج؛ ٣ ص، ٤٩٣ (ط سعيد كراچى) .

المسألة والمسائل الاصولية اوالقواعد الفقهية تبرز في جهتين : الجهة الاولى ؛ علاقتها بصلة عموم البلوى بالمسائل الاصولية وتتمثل هذه العلاقة في صلة عموم البلوى بسد الذرائع وفتحها حيث ان عموم البلوى والتيسير عنده غير معتبر في الطرق الخمس الاول للتلقيح الصناعي لكونها محرمة لذاتها اولمايترتب عليها من مفاسد عظيمة كاختلاط الانساب

وضیاع الامومة وغیرها فیکون في عدم اعتبار التیسیر في حال عموم البلوی سد للذریعة واما الطریقتان السادسة والسابعة : فان اعتبار عموم البلوی فیهما والتیسیر عنده لا یترتب علیه محذور شرعی اذا اخذت الاحتیاطات الازمة عنداجراء التلقیح وبعده فیکون في اعتبار التیسیرفی حال عموم البلوی حینئذ فتح للذریعة . الجهة الثانیة : علاقتها بصلة عموم البلوی بالقواعد المشقة تجلب التیسر وقاعدة لاضرر ولاضرار حیث ان التلقیح الصناعی في الطرق الخمس الاول لایعتبر من قبیل عموم البلوی المعتبر سببا في التیسیر لفقده شرطا من شروط اعتبار عموم البلوی سببا في التیسیر وهو ان لایکون العمل بعموم البلوی معصیة والعمل في غالب هذه الطرق الخمس عمل بمعصیة ان لم یکن فیها جمیعا والاضطرار فیه غیر معتبر حتی یقال بالاستثناء . اضافة الی ان العمل بالتلقیح الصناعی في تلک الطریق الخمس الاول قد فقد شرط اعتبار عموم البلوی من قبیل الضرر الذی تلزم ازالته اذ انه یترتب علی التیسیر بالقول بالجواز دفعا للضررعن الزوجین مثلا الحاق ضرر اعظم من اختلاط الانساب وضیاع الامومة وغیر ذلک فلا یعتبر استعمال التلقیح الصناعی هنا من قبیل عموم البلوی المعتبر من قبیل الضرر الذی تلزم ازالته وحینئذ فهذا الحکم هنا داخل تحت الضابط المتعلق بعموم البلوی اذا کان التکلیف به من قبیل الضرر المنطوی تحت قاعدة اذا تعارض مفسدتان روعی اعظمهما ضررا بارتکاب اخفهما او الضرر الاشد یزال بالضرر الاخف ونحوذلک . واما الطریقتان السادسة والسابعة من الطرق المذکورة للتلقیح الصناعی . (۱) فان اعتبار عموم البلوی فیهما ظاهر حیث ان القول بعدم الجواز حینئذ بناء علی انها لیست من الطرق المعروفة شرعا للانجاب ولاحتمال التلاعب حینئذ عند الاحتفاظ بالنطف في ثلاجات ونحوها اولاحتمال اختلاط النطف اوغیر ذلک من المفاسد یؤدی هذا القول الی عسر استغناء الزوجین عن هذا الاجراء فنعم بلواهما به فتلحقهما المشقة والضرر فیکون في القول بجواز استعمال هاتین الطریقتین للتلقیح الصناعی تیسیر علی الزوجین ودفع للضرر عنهما مما هو داخل تحت قاعدة، المشقة تجلب التیسیر، وقاعدة، لاضرر ولاضرار، خاصة وقد تحققت شروط اعتبار عموم البلوی في هذه القضیة وذلک باعتباره سببا في التیسیر او باعتبار التکلیف عنده من

قبیل الضرر الذی تلزم ازالته . .(وعموم البلوی ص: ۴۷۸تر۴۸۱ تالیف : مسلم بن محمد بن ماجد الدوسری مطبوعة مکتبة الرشد الریاض بحواله قرارت مجلس المجمع الفقهی الاسلامی لرابطة العالم الاسلامی من دورته الاولی لعام ۱۳۹۸ھ حتی الدورة الثامنة عام ۱۴۰۵ھ ص : ۱۵۲/۱۵۶ وقرارات وتوصیات مجمع الفقه الاسلامی ۱۴۰۶ھ و ۱۴۰۹ھ ص: ۳۲/۳۳ فتاوی علی الطنطاوی ص: ۱۰۲ ،) (۱۴) واما ماذکر مما یمکن ان یترتب علیهما من مفاسد فیمکن تلافی هذه المفاسد اذا اتخذت الاحتیاطات الآتیة : (۱)....ان یتم التلقیح بین زوجین في حال قیام الزوجیة اما اذا انتهی العقد بموت اوطلاق فلایحل ذلک . (۲)... ان یقوم بهذا التلقیح امراة طبیبة مسلمة ثقة فان لم یتیسر فطبیبة غیر مسلمة ثقة فان لم یتیسر فطبیب مسلم ثقة فان لم یتیسر فطبیب ثقة غیر مسلم . (۳)...... اتخاذ کافة الاحتیاطات الازمة لعدم اختلاط النطف وعدم الاحتفاظ بالمنی في الثلاجات بل اجراء التلقیح فور اخذه من الزوج ووضعه في الزوجة .... کما ان هذه المفاسد محتملة والمصالح متحققة ولاتترک المصلحة المتحققة لمفسدة محتملة ولذلک صرح کثیر من العلماء والباحثین المتأخرین بذلک التفصیل السابق في موضوع استعمال التلقیح الصناعی وما تضمنه من قیود واحتیاطات.... وینبغی في کل ذلک ملاحظة تحقق عموم البلوی ممثلا في الضرورة لاان یکون متوهما فاستعمال التلقیح الصناعی لاغراض تجاریة اولاجل تحسین النوع البشری او لتلبیة رغبة الامومة لدی نساء غیر متزوجات ونحو ذلک لایعتبر من قبیل الضرورة المعتبرة شرعا . ولذا فان عموم البلوی فیها غیر معتبر لعدم تحققه فهو هنا امر متوهم . (عموم البلوی ص: ۴۸۱،۴۸۲ (۱) بحواله الفتاوی للشیخ محمود شلتوت ص: ۳۲۹،۳۲۷،۳۲۸ وبحوث في الشریعة الاسلامیة والقانون في الطب الاسلامی ص: ۱۲۰،۱۲۱، قرارات مجلس المجمع الفقهی الاسلامی لرابطة العالم الاسلامی، من دورته الاولی لعام ۱۳۹۸ھ حتی الدورة الثامنة عام ۱۴۰۵ھ ص: ۱۵۲،۱۵۵،۱۵۶، وقرارات وتوصیات مجمع الفقه الاسلامی ۱۴۰۶ھ ۱۴۰۹ھ ص: ۳۲،۳۳، واخلاقیات التلقیح الصناعی ص. ۴۵،۴۶، مجلة الوعی الاسلامی العدد العاشرص:۸۷،والعددالسادس والستون ص: ۱۰۳،۱۰۴، مجلة رسالة الاسلام العدد الثانی

والعشرون ص: ۸، مجلة الفکر الاسلامی العدد العاشر ص: ۱۲۱،۱۲۲،(۱۵) التلقیح الصناعي مما یضطر الیه الزوجان المحتاجان الیه بحیث یعسر استغناؤهما عن العمل به حتی عملت بذلک البلوی (عموم البلوی ص: ۴۷۸(۲) (۱۶) ویستخدم التلقیح الصناعي في الحالات التالیة : ۱...اذاکان عدد الحیوانات المنویة لدی الزوج قلیلا فتجمع ثم تدخل الی رحم زوجته. ۲.....اذاکانت حموضة المهبل تقتل الحیوانات المنویة بصورة غیر اعتیادیة. ۳....اذاکان هناک تضاد بین خلا یا المهبل والحیوانات المنویة مما یؤدی الی موتها. ۴....اذاکانت افرازات عنق الرحم تعیق ولوج الحیوانات المنویة. ۵... اذا أصیب الزوج بمرض ادی الی اصابته بالعنة وهی عدم القدرة علی الایلاج مع قدرته علی افراز حیوانات منویة سلیمة. عموم البلوای ص: ۴۷۷ تألیف مسلم بن محمد بن ماجد ادوسری

---

(۱)طبع مکتبة الرشد (۲)ایضا مکتبة الرشد الریاض بحواله اخلاقیات التلقیح والاصطناعی ص: ۴۵، اطفال الانابیب بین العلم والشریعة ص: ۳۷،۳۸.

(۱۷)...... وقدظهر التلقیح الصناعی في العصر الحدیث تلبیة للحاجة الی الولد لما واجهت الانسان مشکلة العقم، فکانت البحوث والاکتشافات العلمیة في مجال المرض والطب متجهة لحل هذه المعضلة. (عموم البلوی ص: ۴۷۶،(۱) بحواله اطفال الانابیب بین العلم والشریعة ص :۵۵،۵۶) (۱۸)..... ولان مصالح النکاح اکثر فانه یشتمل علی تحصین الدین ،واحرازه وتحصین المرأة وحفظها والقیام بها وایجاد النسل ،وتکثیر الامة، وتحقیق مباهاة النبی صلی الله علیه وسلم وغیر ذلک من المصالح الراجح احدها علی نفل العبادة (المغنی لابن قدامة ،کتاب النکاح فصل الناس في النکاح علی ثلاثة اضرب (۲) (۱۹).... عقد النکاح یوجب الفراش بنفسه لکونه عقدا موضوعا لحصول الولد شرعا قال النبی علیه الصلاة والسلام. تناکحوا توالدوا تکثروا فانی اباهی بکم الامم یوم القیامة ولو بالسقط وکذا الناس یقدمون علی النکاح لغرض التوالد عادة فکان النکاح سببا مفضیا الی حصول الولد. (بدائع الصنائع ،بیان مایثبت النسب (۳) (۲۰).....ولهما ان المقصود من الوطء في الاصل حصول الولد لا

اقتضاء الشهوة، ومارکب فیها من الشهوة حامل لها علی تحصیل الولد . (تبیین الحقائق ،باب العنین وغیره)(۴) (۲۱)....لان الحاجة الی الولد اصلیة لان الانسان یحتاج الی ابقاء نسله کما انه یحتاج الی ابقاء نفسه . (العنایة شرح الهدایة ،باب الاستیلاد ،کتاب العتاق)(۵)

(۲۲).....(لان الحاجة الی الولد اصلیة) کحاجة الی الاکل : ای وحاجته الی امه مساویة لحاجته الی الولد ولهذا جاز استلاده جاریة ابنه بغیر اذنه، لحاجته الی وجود نسله کما جازله اکل ماله للحاجة وحاجته الاصلیة مقدمة علی الدین . (فتح القدیر ،باب الاستیلاد) (۶)

(۲۳)....ان الحاجة الی الولد اصلیة فتقدم علی حق الورثة الخ (البحر الرائق باب الاستیلاد) (کذافی مجمع الانهر) (۷)(۲۴).... فلابأس بالنظر الی العورة لاجل الضرورة فمن ذلک ان الخاتن ینظر ذلک الموضع والخافضة کذلک تنظر لان الختان سنة وهو من جملة الفطرة في حق الرجال لایمکن ترکه وهو مکرمة في حق النساء ایضا ومن ذلک عند الولادة المرأة تنظر الی موضع الفرج وغیره من المراة لانه لابد من قابلة تقبل الولد وبدونها یخاف علی الولد.

---

(۱)طبع مکتبة الرشد الریاض (۲) ج:۷ص، ۳۲۴(طبع دارالفکر بیروت) (۳) بدائع الصنائع ،کتاب الدعوی فصل واما حکم تعارض الدقوتین مع تعارض البینتین ط ... (۴) تبیین الحقائق ، ۲۳/۳ کتاب الطلاق باب العنین وغیره ط دارالکتب الاسلامی (۵) ج ۲:ص، ۴۷۳ (طبع مکتبه رحمانیه) (۶) ج: ۴ص، ۲۲۴ (طبع رشدیه کوئته) (۷) کتاب العتق باب الاستیلاد ج ۴: ص: ۴۵۶ (طبع دارالکتب العلمیة بیروت)

وکذلک ینظر الرجل الی موضع الاحتقا ن عند الحاجة اما عند المرض فلان الضرورة قد تحققت والاحتقان من المداواة .... وقدروی عن ابی یوسف رحمه الله تعالی انه اذاکان به هزال الفاحش نوع مرض یکون آخره الدق والسل ....وکشف العورة من غیر ضرورة لمعنی الشهوة لایجوز واذا اصاب امراة قرحة في موضع لا یحل للرجل ان ینظر الیه لا ینظر الیه ولکن یعلم امرأة دواء ها لتداوایها لان نظر الجنس الی الجنس اخف . الاتری ان المراة تغسل المراة بعد ل وموتها دون الرجل وکذلک في امراة العنین ینظر الیها النساء فان قلن : هی بکر فرق

القاضی بینهما وان قلن :هی ثیب فالقول قول الزوج مع یمینه ....وکذلک لو اشتری جاریة علی انها بکر فقبضها وقال : وجدتها ثیبا فان النساء ینظرن الیها للحاجة الی فصل الخصومة بینهما . (المبسوط للسرخسی کتاب الاستحسان ،النظر الی الاجنبیات)(۱) (۲۵).... اذاکان المرض في سائر بدنها غیر الفرج یجوز النظر الیه عند الدواء لانه موضع ضرورة وان کان في موضع الفرج فینبغی ان یعلم امراة تداویها فان لم توجد وخافوا علیها ان تهلک اویصیبها وجع لاتحتمله یستروا منها کل شئ الاموضع العلة ثم یداویها الرجل وغض بصره ما استطاع الاعن موضع الجرح آه فتامل والظاهر ان ینبغی هنا للوجوب (ج:۵ص: ۲۳۷ بحواله احسن الفتاوی ج: ۸ص: ۲۱۵)(۲) (۲۶)..... الضرورة والحاجة محققة في النظر الی العورة الغلیظة عند التحمل بالنسبة لارادة اقامة الحد وان لم تکن الضرورة والحاجة محققة بالنظر الی الستر فالاباحة بالنظر الی الاول ...... الطبیب انما یجوز له ذلک اذالم یوجد امراة طبیبة فلو وجدت فلایجوز له ان ینظر لان نظر الجنس الی الجنس اخف وینبغی للطبیب ان یعلم امراة ان امکن وان لم یمکن ستر کل عضو منها سوی موضع الوجع ثم ینظر ویغض ببصره عن غیر ذلک الموضع ان استطاع لان ماثبت للضرورة یتقدر بقدرها واذا اراد ان یتزوج امراة فلاباس ان ینظر الیها وان خاف ان یشتهی .... ولایجوز له ان یمس وجهها ولا کفها وان امن الشهوة لوجود المحرم ولانعدام الضرورة (البحر الرائق کتاب الکرهیة فصل في النظر والمس)(۳)

(۲۷)...ناکح الید ملعون لا اصل له کما صرح به الرهاوی في حاشیتّه علی المنار . (الموضوعات الکبیر لملاعلی قاری ص: ۱۳۴)(۴) (۲۸)..... ناکح الید ملعون قال الرهاوی في حاشیة المنار : لا اصل له . (کشف الخفاء للعجلونی حرف النون ج: ۲ ص: ۴۳۱)(۵)

---

(۱)المبسوط للسرخسی ۲۶۹،۲۶۸/۱۰،کتاب الاستحسان النظر الی الاجنبیات ط دارالفکر بیروت . (۲) طبع سعید (۳) ج:۸ص: ۳۵۲،۳۵۲(طبع دارالکتب العلمیة بیروت) (۴) ص: ۲۵۷ (طبع قدیمی کتب خانه) (۵)طبع مکتبة داراتراث العربي قاهره.

(۲۹)..... قول الشارح لحدیث ناکح الید ملعون هذا الحدیث موضوع کما نقله السندی عن ملا علی قاری رحمه الله (تقریرات الرافعی ص: ۱۴۷ مع الشامی ج : ۲) (۱) (۳۰)... ملعون من نکح یده .....الأزدی في الضعفاء وابن الجوزی منطریق الحسن بن عرفة في جزئه م المشهور من حدیث انس بلفظ سبعة لا ینظر الله الیهم فذکر منهم، الناکح یده، واسناده ضعیف ولابی الشیخ في کتاب الترهیب من طریق ابی عبد الرحمن الحبلی وکذلک رواه جعفر الفریابی من حدیث عبدالله ابن عمرو وفیه ابن لهیعة وهو ضعیف . (التلخیص الحبیر .کتاب النکاح فصل الاتیان في الدبر ج : ۳ ص: ۱۸۸) (۲) (۳۱).... ویجوز ان یستمنی بید زوجته وخادمته اه وسیذکر الشارح في الحدود عن الجوهرة انه یکره ولعل المراد به کراهة التنزیه فلا ینافی قول المعراج یجوز تامل وفی السراج ان اراد بذلک تسکین الشهوة المفرطة الشاغلة للقلب وکان عزبا لا زوجة له ولا امة اوکان الا انه لایقدر علی الوصول الیها لعذر قال ابو اللیث ارجو ان لا وبال علیه واما اذافعله لا ستجلاب الشهوة فهو آثم اه . بقی هنا شئ وهو ان علة الاثم هل هی کون ذلک استمتاعا بالجزء کما یفیده الحدیث وتقییدهم کونه بالکف ریلحق به مالو ادخل ذکره بین فخذیه مثلا حتی امنی ،ام هی سفح الماء وتهییج الشهوة في غیر محلها بغیر عذر کما یفیده قوله واما اذافعله لاستجلاب الشهوة الخ ؟ لم ارمن صرح بشئ من ذلک والظاهر الاخیر. لان فعله بید زوجته ونحوها فیه سفح الماء لکن بالاستمتاع بجزء مباح کما لو انزل بتفخیذ او تبطین بخلاف ما اذا کان بکفه ونحوه وعلی هذا فلو ادخل ذکره في حائط اونحوه حتی امنی او استمنی بکفه بحائل یمنع الحرارة یاثم ایضا ویدل ایضا علی ماقلنا ما في الزیلعی حیث استدل علی عدم حله بالکف بقوله تعالی، والذین هم لفروجهم حفظون) (المؤمنون :۵) الآیة وقال فلم یبح الاستمتاع الا بهما ای بالزوجة والامة اه . فافادعدم حل الاستمتاع ای قضاء الشهوة بغیرهما هذا ماظهر لی والله سبحانه اعلم (شامی ج:۲ص: ۳۹۹، باب مایفسد الصوم وما لا یفسده (۳)(۳۲)...(فرع) في الجوهرة : الاستمناء حرام وفیه التعزیر ولو مکن امراته او امته من العبث بذکره فانزل کره ولاشئ علیه (الدرالمختار) (وفی الشامیة) (قوله الاستمناء حرام) ای بالکف اذاکان لاستجلاب الشهوة اما اذا غلبته الشهوة ولیس له زوجة ولا امة ففعل

ذلک لتسکینها فالرجاء انه لا وبال علیه کما قاله ابو اللیث ،ویجب لو خاف الزنا (قوله کره) الظاهر انها کراهة تنزیه ،لان فی باب مفسدات الصوم ؛ یجوز ان یستمنی بید زوجته او خادمته وانظر ما کتبناه هناک (قوله ولا شئ علیه) ای من حد وتعزیر وکذا من اثم علی ماقلناه . (شامی ج:۴ص: ۲۷ کتاب الحدود ،باب الوطء الذی یوجب الحد والذی لایوجبه)(۴)

---

(۱)باب مایفسد الصوم (طبع سعید) (۲)التلخیص الحبیر فی تخریج احادیث الرافعی الکبیر ، ۲۹۹/۳، ۴۰۰ کتاب النکاح الفصل الخامس الاتیان فی الدبر طبع دار اکتب العلمیة (۳)طبع سعید (۴)طبع سعید

(۳۳)..... وهل یحل الاستمناء بالکف خارج رمضان ان اراد الشهوة لایحل لقوله علیه السلام ناکح الید ملعون وان ارادتسکین الشهوة یرجی ان لایکون علیه وبال کذا فی الولوالجیة . (البحر الرائق باب مایفسد الصوم وما لا یفسده)(۱)(وفی الحاشیة قوله وان اراد تسکین الشهوة) ای الشهوة المفرطة الشاغلة للقلب ،وکان عزبا لازوجة له ولا امة اوکان الا انه لایقدر علی الوصول الیها لعذر کذا فی السراج الوهاج . منحة الخالق باب ما یفسد الصوم وما لایفسد) کذا فی العنایة شرح الهدایة باب مایوجب القضاء والکفارة وکذا فی فتح القدیر) (۲) (۳۴)...... وله ان یستمنی بید زوجته وجاریته) المباحة له لانه کتقبیلها . (کشاف القناع عن متن الاقناع للفقه الحنبلی . کتاب الحدود، باب التعزیر) (۳) (۳۵).... (وله انیستمنی بید زوجته وجاریته)المباحة له لانه کتقبیلها (مطالب اولی النهی فی شرح غایة المنتهی للفقه الحنبلی کتاب الحدود باب التعزیر) (۴) (۳۶)...... ویجوز ان یستمنی بید زوجته وجاریته کما یستمتع بسائر جسدها ذکره المتولی (تحفة الحبیب علی شرح الخطیب للفقه الشافعی احکام الحیض کتاب الطهارة) (۵) (۳۷).... ویجوز ان یستمنی بید زوجته وجاریته کما یستمتع بسائر جسدها ذکره المتولی (حاشیة البجیرمی علی الخطیب للفقه الشافعی کتاب الطهارة)(۶) (۳۸)..... هل یجوز له ان یستمنی بیدها ؟ قال ابن غازی ؛ لمنقف علی نص فی المذهب ونص علی جوازه فی الاحیاء انتهی ذکره فی باب الحیض واطلاقات المذهب

والاحاديث تقتضى جواز ذلک والله اعلم : (مواهب الجليل في شرح مختصر الخليل للفقه المالکی ،کتاب الجهاد فرع النظر للشاتبة الاجنبية الحرة في ثلاثة مواضع)(۷) فقط والله سبحانه وتعالى اعلم :محمد رضوان (۱۴۲۵/۷/۲۰ه) (نظرثانی واصلاح : ۲۱/جمادی الاولی ۱۴۲۸ه /۷/جون ۲۰۰۷ء) اداره غفران ،راولپنډی)

جواب دحضرت محترم دامت برکاتهم العاليه څخه

مکرم بنده : السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته ! دمصنوعی تولید په باره کي ستاسو ليکل شوي مطبوعه (التبليغ) سلسله نمبر ۹ وبنده ته د ډير مصروفيت سره سره دلته پرته ده ،الحمد لله من الحيث المجموع ډيره مناسبه ده، جزاکم الله تعالى !

---

(۱)البحر الرائق ۴۷۶/۴۷۵/۲ کتاب الصوم باب مايفسد الصوم وما لايفسد ه ط داراکتب العلمية (۲) منحة الخالق على البحر ۴۷۶/۴۷۵/۲۰ کتاب الصوم باب مايفسد الصوم ومالايفسده ط دار الکتب العلمية (۳) کشف القناع عن متن القناع للبهوتی : ۱۲۵/۶ کتاب الحدود باب التعزير ط عالم الکتب بيروت (۴) مطالب اولى النهى في شرح غاية المنتهى : ۱۸/۲۳۲ کتاب الحدود باب التعزير (۵) تحفة الحبيب شرح الخطيب ج : ۶ص: ۱۶۹ (۶) حاشية البجيرمی على الخطيب : ۲۸۳/۲ کتاب الطهارة احکام الحيض ط .... (۷) ج :۵ ص: ۲۴ (طبع دار عالم الکتب)

ددلائل په تفصيل کي بعضی جزوی امور پاته شوی دی ددغه تحقيق دنتائجو څخه بنده متفق دی . البته داتصريح ضروری ده چی څرنګه دمسئلې په صورت کي دنارينه سرهٔ خپله ښځه موجوده ده، اوددې په جسم کي مصنوعی عملِ توليد څرنګه منل کيږي نوددی خبری دی پوره معلومات وشی ،چی دماده منويه حاصليدل ددې په ذريعه وشی دبل دګنجائش څخه دی فائده د يوه طبی سخت ضرورت څخه بغير نه اخلي ،اوپه اصلی مسئله کي دفقهاؤ کرامو رحمهم الله په بيان شويو جزئيو کي ددغه جزئيې څخه هم استدلال کاو کيږي . :اذاعالج الرجل جاريته فيما

دون الفرج فانزل ،فاخذت الجارية ماءه في شئ فاستدخلته فرجها في حدثان ذلک فعلقت الجارية وولدت ،فالولد ولده والجارية ام ولد له (ردالمحتار،باب العدة، ص: ۶۱۵ج: ۱۲(۱)

دآزمويښتي بمبې دحمل متعلق يو څو جزئيات ،اودآزمويښتي بمبې دحمل دنارينه اوزنانه دنطفو څخه دنسب دثابتيدلو حکم

(وضاحت دمصنف څخه)

دسوال خلاصه :مولانا مفتي عبدالواحد صاحب مدظلهم دآزمويښتي بمبې دحمل متعلق خپل يو څوتحقيقاتووحضرت دامت برکاتهم ته واستول ،چې په هغه کي دوی داموقِف اختيار کړی وو، چې دنطفې والا نارينه اوزنانه ددواړو څخه دګوچنی نسب ثابتيږي، يعنی که دناوي اوزوم ګډه نطفه ديوې بلي ښځی په رحم کي کښې ښودل شي ،نو دنطفه والانارينه ددغه بچی پلار اودنطفې والاښځه اودرحم والاښځه دواړي ددغه بچی مندي کيږي . دحضرت محترم دامت برکاتهم العاليه دنمورې ددغه موقِف سره اختلاف دي ،چي دهغه تفصيل دحضرت په لاندي درج کړه شوو جوابو کي موجود د ي، مفتي عبدالواحد صاحب مدظلهم ،اوحضرت محترم دامت برکاتهم العاليه په منځ کي ترېوه وخته پورې پردغه موضوع باندي ليکني وشولې . دغه ليکني اوسوالونه اودحضرت برکاتهم العاليه جوابونه په ترتيب سره ستاسو په خدمت کي دي . (محمد زبير)

---

(۱)ردالمحتار على الدرج؛۳ص؛ ۵۲۸(طبع سعيد) وفی البحر الرائق ج ؛۴ ص،۴۵۲ کتاب العتق باب الاستيلاد (طبع سعيد) وفی طبع دارالکتب العلمية بيروت ج؛ ۹ص،۲۷۵ اذا عالج الرجل جاريته فيما دون الفرج وانزل فاخذت الجارية ماءه في شئ فاستدخلته فرجها في حدثان ذلک فعلقت الجارية وولدت ولدا فان الولد ولد الرجل والجارية تصير ام ولده وکذا في مجمع الانهر في شرح ملتقي الابحر؛ ۲ ص : ۲۵۲ (طبع داراکتب العلمية بيروت

(سوال و تحقيق دمفتي عبدالواحد صاحب مدظله څخه)

دآزمويښتي بمبې دحمل متعلق يوڅو جزئيات اودآزمويښتي بمبې دحمل دنارينه اوزنانه دنطفو څخه دنسب دثابتيدلو حکم

{ARTIFICIAL INSEMINATION}

(مصنوعي تخم اچونه)

په دغه کي يوڅو سوالونه سته : (۱) ....چی مني دخپل ژوندي ميړه څخه وي.!. ددغه څخه چی کوم بچی پيداشي هغه ددغه ميړه څخه کيږي . !! دميړه سره يې جماع ياخلوت نوي کړی ليکن دميړه مني په خپل فرج کي واچوي اويا ورواچول شي ،ددغه څخه وروسته ميړه طلاق ورکړی ،نو پرښځه دعده تيريدل سته . (۲)... مني دميړه څخه بغير دبل چاوي ليکن دخپل ميړه مني يې وبولي اوورداخل يې کړی . اپه دغه صورت کي به ښځه عدة تيره وي ،اوترڅه وخته پوری چی عدة نوي ختمه شوی ترهغه وخته پوری ددې ميړه ددې سره صحبت نشی کولای کنه نو گناه به وي . !! اوکه چيری ددغه څخه حمل داره شوه نو بيا دحمل ترايښودلو پوری عدة ده . اودغه گوچنی دهغه څا کيږي ،دچامني چی په غلطی سره دغي ښځی په خپل فرج کي اچولی وُو . (۳)... مني دميړه څخه بغير دبل چاوي ليکن بيله رَضاڅخه دهغه چا په چم سره ښځی دهغه مني په خپل فرج کي اچولي وي . ! داسی کول دښځی په حق کي حرام اوسخته گناه ده . اوښځه دتعزير مستحقه کيږي . !! دعدة اونسب مسئلې هغه دی چی په (۲) کي تيرشول . (۴)..... مني دميړه څخه بغير دبل چاوي ليکن دهغه په رضاسره دغي ښځی هغه مني په خپل فرج کي واچول . ! داسی کول حرام دي اودزناء سره مشابه دي . که څه هم پردغه باندي دزناء هغه تعريف نه صادقيږی پرکم چی دزناء حد قائميږی . !! څرنگه چی دغه دزناء مثل دي ،لهذا دزناءپه رقم په دغه کي عدة هم نسی کيدلای . !!! که چيری دغه حمل شو نوبيا گوچنی دمني

والاندي بلکه دمیره کیږی، مګر که چیری میره دګوچنی ځخه دخپل ځان نفی وکړی اوبیا لعان شی.

(تنبیهات)

(الف) که چیری میره مړشو اودده مادة منویه محفوظه شوی وه نو وښځی ته یې ددغی مادة استعمال جائزندي. اودمرګ له وجهې ځخه دنکاح دختم کیدلو باعث داشو چی اوس هغه مادة دبل چابلل کیږي. (ب) که چیری ښځی په خپله مني نه واچول بلکه دیوې ښځینه ډاکټری په واسطه ئي اچولی وي اوډاکټر په غلطی سره دمیره بغیر دبل چامنی ورواچول، بیا هغه احکام دی کوم چی د ښځي د غلطی په صورت کیدی. البته که چیری ډاکټرییله پوښتنی ګرویږني ځخه دبل چا مني وراچولی وي، که یې دښځی په رضاء اومطالبه سره داسی کړی وي، اوبیا یې دهغې دمطالبې ځخه بغیر داسی کړی وي، نودغه ښځینه ډاکټره هم ګناه ګاره شوه اودتعزیر مستحقه کیږي. (ج) دمصنوعی تخم اچولو ځخه پرښځه باندي غُسل نه واجبیږی. دمصنوعی تخم اچولو متعلق مسائل په درالمختار اوردالمحتار وغیره کي بیان شویدی، اوددغه جزئیاتو ځخه اخستل شوید ی. : (۱)..... اما النکاح الفاسد فلا تجب فیه العدة الابالوطء ....قلت ومما جرى مجراه مالو استدخلت منیه في فرجها کما بحثه في البحر (۱) (۲)..... اذا ادخلت منیا فرجها ظننته منی زوج اوسید علیها العدة کالموطوءة بشبهة قال في البحر ولم اره لاصحابنا والقواعد لا تاباه لان وجوبها لتعرف براءة الرحم. (۱) (۳)....ادخلت منیه في فرجها هل تعتد في البحر بحثا نعم لاحتیاجها لتعرف براءة الرحم(۲) (قوله : في البحر بحثا نعم) حیث قال: ولم ارحکم ما اذاوطئها في دبرها اوادخلت منیه في فرجها ثم طلقها من غیر ایلاج في قبلها، وفي تحریر الشافعیة وجوبها فیهما، ولا بد ان یحکم على اهل المذهب به في الثاني لان ادخال المنی یحتاج الى تعرف براءة الرحم اکثر من مجرد الایلاج اه یعنی واما في الاول فلا لان الوطئ في الدبر ان کان في الخلوة فالعدة تجب بالخلوة وانکان بغیر خلوة فلاحاجة الى تعرف البراءة لانه سفح الماء في غیر محل الحرث فلایکون مظنة العلوق. (۳) (۴).... اذاعالج الرجل جاریته

فيما دون الفرج فانزل فاخذت الجارية ماءه في شئ فاستدخلته في فرجها في حدثان ذلک فعلقت الجارية وولدت فالولد ولده، والجارية ام ولد له (۴)

دآزمويښتی بمبی حمل {TEST TUBE FERTILISATION}

د مصنوعی تخم اچوني دمسائلو څخه يو څو اصولی خبری معلومي شويدی چی هغه دغه دي : (۱)...دنسب په ثابتيدلو کي چی دکوم کس نطفه وي هغه معتبره ده ،په دی شرط چی زنا اويا دهغه سره مشابه طريقه به نوی (چی هغه تفصيل په ۲، کيدی . (۲)....دکومی ښځی دنطفی سره چی دنارينه دنطفی ګډيدل سوی وي ،هغه به يا دداغه کس زوجه کيږي اويا به دبل کس زوجه کيږي ،ليکن دغه ګډيدل دشبه اوغلطی دوجهي څخه شوی وي . ا وکه چيری ددغه دواړو څخه يوه خبره هم نوی ،نو بيا دنطفی والا نارينه څخه نسب نه ثابتيږی ،لهذا دآزمويښتی بمبي دحمل دمختلفو صورتو احکام دادی : ! دميړه اوښځي دنطفو ګډيدل شوي وي ،ورسته تردغه بيا د ده دښځی په رحم کي اچول شوی وي ،په دغه صورت کي ګوچنی دميړه کيږي اوښځه دګوچنی مورکيږي . !! دميړه اوماينې دنطفو ګډيدل شوی وي وروسته تردغه دده دښځی څخه علاوه دبلي ښځی په رحم کي اچول شوی وي ،په دغه صورت کي بچی دنطفی والا کيږي ،اودکومی ښځی په رحم کي چی حمل داري نطفی قرار نيولی وو هغه که چيری مړوښی وه بياهم ګوچنی ددي دميړه نه کيږي ،ځکه چی دګوچنی په ترکيب کي دداغه ښځی نطفه نسته ،اودنسب دتعلق دنطفو څخه کيږي اودرحم څخه نه دی . (په دغه صورت کي هغه ښځه دچاچی نطفه (هګی) ده اوهغه بله ښځه دچا په رحم کي چی بچي پرورش کړيدی،دواړی مندی بلل کيږي ،ديوه ګوچنی دوه پلرونه داسی نظير موجود دی باب دعوی النسب . کنز)

---

(۱)رد المحتار علی الدرج:۳ص۵۰۴(ط سعيد) (۲و۳) الدرالمختار مع الرد ج:۳ص:۵۲۸(ط سعيد (۴) الدرالمختار مع الرد ج:۳ص: ۵۲۸(طبع سعيد)

دخپلې ښځې اودميړه څخه بغير دبل چا دنطفو ګډيدل سوی وي . وروسته تردغه بيا دخپلې ښځې په رحم کي ولوېږي . (الف) که چېرې ګډيدل دشبهې اوغلطی څخه سوی وي ،نو بيا بچی دنطفی والا کيږي ،اودغه ښځه به دحمل تروضعی پورې خپله عده تيره وي ،چی په دغه وخت کي ميړه دخپلې مايني سره نزديکت نشي کولای . (ب) اوکه چيری دغه ګډيدل په قصد سره شوی وي نوبيا بچی دميړه کيږي مګرنه په هغه صورت کي که ميړه دبچی څخه دخپل خاند څخه انکارکړی وي اوپه دغه دواړه صورتو کي ښځه دګوچنی مورکيږي . په دغه موقع کي څوخبری قابل دغور دی . (۱)... ديوی شبهی څخه دنطفو دګډوالي په صورت کي دبچی نصب دنطفی والاڅخه ثابتيږی ،څرنګه چی دزنا اويا په قصد سره دميړه څخه بغير دنطفو دګډوالي په صورت کي نسب نه ثابتيږی ،داسی ولي ده ؟ (۲)... دمصنوعی تخم اچولو څخه اودآزموينتي حمل په دواړو صورتو کي استمناء باليد {MASTURBATION} ته ضرورت راځی نوآيا داجائزه ده ؟ (۳)... آيا داولاد دحاصليدلو لپاره دغه مصنوعی طرقې اختيار ول جائزدی ؟ بحث اول : په شرعی قانون کي دنارينه دنطفی اودهغه څخه دجوړکړه شوی بچی په بشپړه توګه عزت شويدی ،چی په هغه کي دی بل څه ګډ نه وي ،اودهغه علحيده والی دی پرځای وي ،ليکن دغه عزت ترهغه وخته پوری دي چی دغه نارينه هم دغه خپله نطفه په هغه ځای کي اچولی وي چی شريعت ورته روابللی وي، اوکه چيری دغه سړی داسی نه وي کړی نو دشريعت له نظره څخه ددغه نطفی انفراديت اوعزت پرخپل ځای نه پاته کيږي ،له هم دغه وجهی څخه دزنا څخه نسب نه ثابتيږی چی په حقيقت کي ددغی نطفی او په نتيجه کي ددغه سړی دسزاء په وجه سره ذلت دی ،البته په شبه اوغلطی سره که يوه بيګانه ښځه خپله ښځه وبولی اونزديکت ورسره وکړی ،نوڅرنګه چی په دغه صورت کيې دشريعت دمقرر شوو حدودو څخه سرکښی مطلب نه وه بلکه ديوی شبهی څخه وشو ،لهذا شريعت دداسی شخص تذليل نکوی،بلکه ددغی شبهی فائده به داوي دده اودده دنطفی احترام پرخپل ځای ساتی ،لهذا ددغه څخه نسب هم ثابتيږی . اوکه چيری دغه ښځه مروښی وه ،نو ميړه هم ورڅخه بنديږی ترهغه وخته پوری چی دښځی درحم فراغت معلوم شوی نوی،(يعنی ښځی چی ترکومه وخته

پورې عده نه وی تیره کړې تر هغه وخته به د میړه سره نزدیکت نه کوی، د دې لپاره که چیرې حمل وي چې هغه دغه حمل په خپله نطفه سره ککړ نکړی.

دویم بحث : استمناء بالید (یعني موټ وهل)

هغه استمناء چې په خپل لاس سره وي یا دخپل جسم دیوي حصې په ذریعه سره وي، دخوند لپاره وی داحرام دی او قابل دتعزیر دی، او پردغه باند سخت وعید په حدیث کي هم راغلی دي ،رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائلی دي (۱) اوه قسمه انسانان دی چې الله تعالی په ورځ دقیامت نه وهغوی ته په نظر درحمت ګوری ،اونه هغوی دګناهونو څخه صفا کوی ،اونه دوی ده د جهانیانو سره یوځای کوی ،بلکه دوی وجهنم ته داولینو خلقوسره یوځای وراچوي ،مګرنه چې دغه خلق توبه وکاږی ،مګرنه که دغه خلق توبه وکاږی ،مګرنه که دغه خلق توبه وکاږی ،اوقاعده داده) کوم څوک که توبه وکاږی الله تعالی دهغه توبه قبلوی . ددغه اوو اقسامو څخه یو (موټ وهلو والادی ،(۲)...الخ لیکن که چیری پریو چادشهوت زیاده غلبه راسی اودهغه کوروالا نه وی ،یا دکوروالا سره نوی ،مثلا دغه څوک مسافر وی اویا په جهاد کي وي، نودشهوت دختم کیدلو لپاره اوآرامیدلو لپاره داستمناء بالید اجازه شته، اوکه چیری دشهوت غلبه دونه سخته شی چې په زنا کي مبتلا کیدلو ییره وی نو استمناء بالید واجبیږی، اویا دشهوت دغلبی په حالت کي دښځی سره یو ځای وی خو هغه یا په حیض اویا نفاس کوی اویا دناجوړی له وجی ورسره نزدیکت ممکن نه وی ،نودی دخپلی بی بی په لاس باندي موټ وهی اویا دی دهغی د ورنوپه منځ کي دخپل ځان څخه منی خارج کړی . دضرورت په وخت کي دخپلی ښځی په لاس سره موټ وهل اومني خارجول بیله مکروه والی څخه روادي . البته بیله ضرورته څخه صرف دخوند لپاره موټ وهل مکروه تنزیهی دي . (ملاحظه : په یاد ولری دحیض اونفاس په وخت کي دنامه څخه کښته یا ترځنګانه پوری دښځی واعضاؤ ته کتل اومسه کیدل روانه دی . دطبو له نظره څخه داستمناء بالید ضرورت په دغه لاند صورتو کي راځی : (۱).....

داولاد دنه شتون په صورت کي دنارينه د نطفی (سپرم) دصلاحيت د پڅندلو په خاطر دپاره دنظر ورکولو . (۲)..... دمصنوعی تخم اچولوپاره . (۳)... دآزموينتي بمبې لپاره . که څه هم په دغه صورتوکی خوند حاصليدل مقصود نه وي، څرنګه چی دخپل لاس څخه په موټ وهلو اومني راتستلوکی د ګناه سبب د شهوت راپورته کيدل اوخوند حاصليدل دی ،لهذا په داسی ځايو کي په حديث کي ذکرشوی وعيد نه راځی ليکن که کوشش وشی چی په داسی ځايو کي هم دخپلی ښځی دلاس په موت وهلو سره منی حاصل کړی دا به ډيره ښه وي اودشريعت دحکم دپوره کيدلو لپاره ومانع ته دشرم اعتبارنشته . (درېيم بحث) (۱)...دمصنوعی تخم اچولو دوی مرحلی دی : يوه منی حاصليدل . دوهم هغه بيا دخپلی ښځی په رحم کي داخلول . داولی مرحلی په باره کي بحث پورت وشو، اودوهمی مرحله هم رواده، لهذا د ضرورت په وجه (علاج دعقم) په طريقه باندي ،ددغه طريقی څخه داولاد دحاصليدلو کوشش کول جائز دی .

(او۲)شعب الايمان للبيهقی ج: ۴ ص: ۳۷۸(طبع دارالکتب العلميه بيروت) والجامع الکبير للسيوطی ج: اص: ۱۳۲۳۷ رقم :۱۳۰۵۷وکنزالعمال ج: ۱۶ص: ۱۲۹ (طبع مؤسسة الرسالة بيروت) .

(۲)..دآزموينتي بمبې دلاری دحمل څلورمرحلی دي :مني حاصليدل دښځی هګی {ovum} حاصله ول . ددواړو نطفو ګډيدل اوترحمل وروسته دغه علقه دښځی ورحم ته انتقالول . دغه ټولی مراحلی هم دعلاج عقم په طريقه سره روادی . لهذا دبعض عوارضو په بناء باند که چيری يوه جوړه دغه طريقه اختيار کړی داولاد دحاصليدلو کوشش کوی نورواده . ليکن دغه جواز صرف دآزموينتی بمبی په اول شکل کي دی ،پاته دواړه شکلونه ناجائزه اوحرام دی . (تنبيه : دغه خبره ډيره ضروري ده چی ددغه طريقو په اختياريدلو کي دپردی اوحجاب دی پوره لحاظ وکړل شی اودښځی متعلق مراحل که چيری ممکنه وی کومه يوه ښځينه ډاکټره دی وکړی ،)

جواب دحضرت محترم دامت برکاتهم العالیه څخه

(دقدرور مکرم جناب مولا نامفتي عبدالواحد صاحب مد ظلهم :السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !!ستاسو قدرمند لیک باعث دافتخارشو . دمصنوعی تخم اچولو اودآزمویښتی بمبی دحمل په باره کي تاسو چی کوم جزئیات لیکلی وو، داول نظره څخه واحقر ته دهغه سره من حیث المجموع اتفاق معلومیږی البته {BORROWED WOMB} چی کوم صورت تاسو لیکلی دی ،دهغه دوه اړخه دی یودادی چی داسی کول جائز دی اوکنه ؟ یعنی آیا دمیړه اومایني ګډه نطفه دیوي بلي ښځی په رحم کي اینبودل صحی دی او کنه ؟ په دی باره کي داحقر حتمی رائیه داده چی داهیڅ کله جائزه نده ،ځکه چی دمیړه څخه بغیردیوی ښځی لپاره په خپل رحم کي اینبودل حرام دی . دوهم اړخ دادی که چیری یوچا ددغه حرام کار عمل وکړی نو دهغه به څه حکم وي ؟ ددی په باره کي محترم فرمائیلی دی ،چی دنطفی خاوند پلار دی ،اوخاوند ه دنطفی اوخاونده درحم دواړی مندی دي، دغه امر تر ځای پوری تعلق لری، که چیری صرف دنارینه نطفه دښځی بغیر دبلي ښځي ورحم ته ولاړه شی نو بچی ثابت النسب نکیږی، که چیری دنارینه سره دده دښځی نطفه هم دبلی بیګانه ښځی ورحم ته ولاړه شی نو هغه ثابت النسبه څرنګه کیداشی ؟ په خاص دول کله چی دغه طریقه حرامه وبلل شوه لکه پورته چی ذکرشوه ،ددغه یوه صورت څخه بغیر نور چی څونه احکام تاسو لیکلی دی . دلومړنی غورکولو څخه واحقرته پرهغه باند ی کوم قوی سوال پیدانشو . والسلام

(سوال او تحقیق اضافه دمولانا مفتي عبدالواحد صاحب مدظله څخه)

(دحضرت محترم د ذکر شوی جواب وروسته مفتي عبدالواحد صاحب خپله په دغه موضوع باندي زیات تحقیق کړی دی ،لاندنی لیکنه ئي را استولی ده . (مرتب)

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته (احترامانه لیک راورسیدی دالله تعالی څخه دعا ده چې دجناب مهربانی او شفقتونه زموږ پر حال باندي دا دول قائم اودائم پاته وي.

BORROWED WOMB په باره کي زيات تفصيل اووضاحت ستاسو و خدمت ته وړاندی کوم ،چې شايد دجناب په وړاند ی به نوی، که څه هم مخکی زما دافکر ؤ چې جناب ته به ددی څه علم وی. دخپل مضمون په آخر کي ما ليکلی وه چې دآزمويښتی بمبی دحمل څلور مرحلی دی : (۱) ... دميره څخه منی حاصليدل ،(۲)... دښځی نطفه (OVA) حاصلول (۳)....په آزمويښتی بمبه کي ددواړو نطفو ګډيدل (اودمادة نطفه حمل) (۴)....حمل داره نطفه په رحم کي داخلول اوهلته دهغی پالنه، تر کومه ځايه چې ددغه عمل تعلق دی چې حامله نطفه دی دخپلی ښځی درحم پرځای دی ديوی بلي ښځی ورحم ته دپرورش لپاره منتقله شی، که هغه په اجرت سره وی اوکه بغيری اجرته، دتي په حرمت کي اختلاف نسته ،بلکه دخپل مضمون په آخری حصه کي ددغه تصريح می هم کړيده، البته مسئله داوه که چيری يو څوک داسی وکړی نو په دغه صورت کي به دنسب څه حکم وی ؟ دټولو څخه مخکی دحمل کيدلو عمل راواخله، دښځی ورحم ته نږدی دی دهغه راسته طرف اوچپه طرف (ovary) په نامه يوه عضوه ده چې په هغه کي ډيرذرّات (سپرمونه) وی ددغو ذرّاتو څخه هره مياشت يوه نشوه ؤ نماءکوی دښځی د(بيضه) سره ورحم ته داخليږی، اوپه عام ډول سره د دولس (۱۲) څخه بياتر (۲۴) ساعتوپوری که حامله نه شی محفوظه پاته کيږي ،په داغه دوران کي که دنارينه نطفه (کم چې په يوه وخت کي پر لکهاؤ سپرمونو باندي مشتمله وی) که چيری ورحم ته داخله شی ،نو دښځی هګی (ovum) په عام ډول باندي حامله (fertilization) کيږي ،دغه حمل ديوه جرثوم(سپرم)(spermalozoon) څخه کيږي پاته جرثومونه (سپرمونه) ټوله ختم کيږي ،چې نوی يوه جرثومه (spermalozoon) دښځی هګی (ovum) چې هغه يوه خليه وی چې دخپلی دائيری(zona pellucida) سره تماس لری نو دمضبوطی څخه دهغه سره چسپ کيږي اوپه خليه (دښځی هګی) کي په تيزی سره داخليږی لکه چې په ليکل شوی شکل کي معلوميږی ،په

عام دول سره دیوی جرثومی ده داخلیدلو وروسته داسی تغیرات منځ ته راځی چی بیا اضافه هیڅ یوه جرثومه (سپرم) په هغه کي نشی داخلیدلای.

The spermalozoon meanwhile moves forward until it lies in close proximity to the female pronucleas. The nucleus becomes swollen and forms the male pronucleus while the tail is detached and dagenerates .

ده دي څخه وروسته تقسیم او دویشلو عمل شروع کیږي . اویوه دغه خلیاتی (هګی وسپرم) مرحله و دیرو خلیاتی مرحلوته رسیږي . دغه (developmental process) مخ ته ځی اودګوچني صورت اختیاره وی ،په دغه وخت کي پردوو خبروباندي تأکید مناسب دی، (۱)...دنارینه اوزنانه دنطفو دګډیدلو په نتیجه کي هغه دښځی حامله هګی (fertile ised ovum) ومخته دبچی دجوړیدلو ترټولو اولنی مرحله ده . (۲)....پردغه حامله هګی (fertilized ovum) باندي دیوی بلی ښځی نطفه درباندي مداخله نشی کولای . اودویشلو دمرحلی څخه وروسته دیوه بل نارینه نطفه دګوچنی په اصلی تخلیق کي دحصه ده درلودلو امکان هم نیستی دی .

(دښځی حامله هګی ورحم ته انتقال کیدل)

حامله هګی دښځی (fertileised ovum) کله چی ترآتو اویا ترهغه لږڅه بالا خلیاتی مرحلو ته ورسیږی ،نو دآزموینتی بمبی په صورت کي ودغه رحم ته انتقالیږی ،چیری چی دتخلیق مخکنی مراحل واقع کیږي ،ودغه ټوله عمل (process) باندي غور کیږي نو معلومیږی چی دګوچنی دتخلیق عمل شروع کیږي ،دنارینه نطفه پرخپل اصلی حالت باندي نشوه پاتي، بلکه سره وپاشل شوه (دښځی هګی یعنی په نطفه کي داخله شوه) لهذا دآزموینتی بمبی څخه دغه منتقلی دخپلی ښځی درحم وطرفته وی اوکه دبلی ښځی درحم وطرفته وی، داوینا ممکنه نده چی په رحم کي دغه داخل کړه شوی شی دنارینه نطفه ده، وبل طرفته دکومی ښځی ورحم ته چی ورانتقالیږی هغه د دواؤپه ذریعه سره وداسی اندازه ته رسوی چی دحامله په څیر دهغی په رحم

کي نوري ښځينه هګۍ (ovum) نشي داخليدلای ،اوکه بالفرض داخلی هم شي نو ضررمنی ندی ځکه چی هغه مراوي دی .

اوس که په آئنده وخت کي داسی حالات جوړشي چی په آزمويښتی بمبه کي حاصله شوی دغه کثير الخلياتی (Fertilised ovum) ځخه اضافه Development درحم ځخه دباندي په مصنوعی طريقه سره په يوه (Incubator)کی راشي اودرحم ځخه بالکل دباندي ګوچنی پيدا شي نو دنسب دثابيتيدلو داهميت په وړاندی چی دصحيح نکاح ځخه دميړه اومايني دنطفو ګډيدل اوحامله کيدل وشی نو به ويل کيږي چی ګوچنی ددوي دی . ماته په ياديږی چی د جناب دويناؤځخه ددی خبری سره اتفاق وو. والله اعلم ددی ځخه داخبره هم ښکاره شوه چی په آزمويښتی بمبه کي هم دنسب دثابتيدلوبنياد پرځای دی ،له هم دغه وجهی ځخه ديوی بلی بيګانه ښځی په رحم کي دداخليدلو ځخه دنسب ثبوت اودنسب غيرثبوت نشي جوړيدلای ترځوچی ددغی ښځی ورحم ته ديوه سړی نطفه نه وی ورغلی ،اونه ددغه ښځی ونطفی ته په دغه کي کمه مداخله سته ،بلکه دي خوصرف ځای اوغذا برابره کړيده لکه چی ممکنه ده په آئنده مصنوعی طريقه کي به برابره شي ،ددي پرعکس په حرمونی کي خو دښځی ورحم ته دبل چانطفه ورداخله شوه ،اودښځی دنطفی ځخه بغير ګچنی نشي جوړيدلای . دنارينه نطفه بيله شبهی ځخه وحرام محل ته د داخليدلوپه وجه سره ئي اعتبار اواحترام ساقطيږی ،لهذا دنارينه ځخه دبچی نسب نه ثابتيږی . حاصل دادی چی دميړه اومايني نطفي په آزمويښتی بمبه کي حمل داره کول اودتقسيم اوويشلو دسلسله ځخه وروسته بيا ديوی بلی ښځی ورحم ته د وراچولواوپرورش سره ميړه اوښځه ددغه حا صل شوی ګوچنی مور اوپلار کيږی، پردغه باندي دغه حديث دليل دی :فبم يشبهها ولدها ...وفی رواية ان ماء الرجل غليظ ابيض وماء المرأة رقيق اصفر فمن ايهما علا اوسبق يكون منه الشبه . (۱) ملاعلی قاری رحمه الله ليکلی دی :وهو استدلال علی ان لها منيا كما للرجل والولد مخلوق منهما اذلولم يكن لها ماء وخلق من مائيه فقط لم يشبهها . (مرقات ص:۳۲ج:۲) (۲)ترڅه وخته چی په يوه حديث کي راغلی داسی مضمون دی چی ترځلويښت ورځو پوری نطفه وي او بيا ترځلويښت ورځوپوری علقه

ضروري دانده چې ددې ځخه دې دامراد وي چې دنارينه نطفه پرخپل اولني حالت باندې ځلوېښت ورځې پاته کيږي اومشاهده هم دامعلومه کړيده ،چې په ځلويښت ورځوکې سر ،سترګې ،لاسونه ،پښنو پوري جوړيږي ،لهذا زه داويلای شم چې يو روان عمل پرمختلفو باندې تقسيم سويدی ،چې په هغه کې به يو حکمت وي اوپه اوله مرحله کې وټولو شکلو ته دنطفې نوم ورکړه شويدی . اوس دونه خبره دبحث کولو پاتيږي ،چې صاحبة الرحم يعنی خواستې رحم والې ښځې ته کوم حيثيت ورکړه کيږي ؟ په دغه باره کې تفصيل داد ی چې په ښکاره سره دموږ جوړيدلو درې مرحلې دی.

(۱) الصحيح للامام مسلم ج، اص، ۱۷۹ (طبع مکتبه رحمانية) (۲) مرقاة المفاتيح باب الغسل ج،۲ص، ۲۵۵ .

(۱)...دښځې نطفه دنارينه دنطفې ځخه حملداره کيدل (که هغه نارينه دهغې ميړه وي اوکه بل څوک چې درته ذکربه شي) (۲)... ددغې حمل داری نطفې په رحم کې پاته کيدل اوپرورش (۳).... دحمل اېښول . اوله مرحله ځرنګه چې دنسب په ثابتيدلو کې اصل دی ،دهغه په باره کې په تفصيل سره بحث پورته تيرشويدی چې هغه په ښځه کې وُو. اوراتلونکې دواړې مرحلې (چې که څه هم داولې مرحلې تابعدې ليکن بياهم) داسې دی چې په هغه کې : (۱)...دګوچنې اولين جوړښت (BASIC STRUCTURAL FORMATION) کې ددغې صاحبة الرحم ځخه مواد حاصليږي . ددې وجهې ځخه دادمرضعی په ډيره لوړه درجه کې ده اودموږ شبه په دې کې قوی ده . (۲)... دحمل اودحمل داېښودلو سختې چې دچا دګاللو په وجه سره وموږ ته دهغه عظمت سرلوړی حاصليږي، هغه دغه ښځه ګالي . (۳)... بيا دحمل اېښودل يوداسې عمل دی چې دهغه دوجې ځخه دلغت په لحاظ اېښودونکې دحمل ته موږ ويل کيږي . لهذا ددغه پورته ذکرشوامورو په بناء باندې دغه صاحبة الرحمَ داصله ځخه دمو . الی ځخه ايستل ممکن ندی که چيری داسوال وی چيديوه ناروا عمل ځخه مور والی ځرنګه دی ؟ نوپه دغه باره

کي دغه عبارت وګوری: قال رحمه الله (ویرث ولد الزنا واللعان من جهة الام فقط) لان نسبه من جهة الاب منقطع فلایرث به ومن جهة الام ثابت فیرث به امه واخته من الام بالفرض لاغیر وكذا ترثه امه واخته من امه فرضا لاغیر. (البحر الرائق ص:۵۰۳ ج:۸)(۱) وفی تبیین: بدل اخته من الام اخوته من الام. فلومات شخص عن بنت وام واخ توام من الزنا او اللعان فالمال للبنت والام ارباعا فرضا وردا ولاشئ للتوام لانه اخوه لامه فلا یرث مع البنت شیئا آه (حاشیة شلبی علی تبیین الحقائق) (۲) دزنا څخه پیدا شوی ګوچنی لپاره مزنیه څوک چی دهغه پیدا کیدلو والا هم ده وهغی ته مور ویل حالانکه زنا یو حرام فعل دی، نو که چیری دا ډول په دغه تربحث لاندی مسئله کي د ذکر شو امورو په بناء باندي په دغه صاحبة الرحم کي هم دی مورو الی تسلیم کړه شی، څه ګنجائش په نظر راځی اوځرنګه چی دغه صاحبة الرحم درحم په وسیله سره ورته مورو الی ثابتیږی، لهذا زما په رائیه کي دغه د صاحبة النطفة سره په میراث کي د مور په حصه کي شریکه کیږي، او ګوچنی هم د دواړو وارث کیږي او دا هم کیدای شی چی د اصلی مورو الی د نشت والی په وجه ده دوی تر مابین دوراثت قول دی ونشی، لیکن په هر حال! د غه د حرمت د ثابت والی سره منافی نه دی. فقط هذا ما عندی والعلم عند الله تعالی.

---

(۱) ج: ۹ ص: ۳۹۱ طبع دار الکتب العلمیة بیروت) (۲) تبیین الحقائق العصبات في المیراث.

جواب (دحضرت محترم دامت برکاتهم العالیه څخه)

د قدرور مکرم جناب مولانا مفتي عبدالواحد صاحب مدظلهم: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! ستاسو قدرمند خط او د آزموینتی بمبی د حمل په باره کي ډیر تفصیلات د ډیره وخته څخه اول واحقرته رارسیدلی وه، لیکن مسئله چونکه ډیره عمیقه وه د غور او فکر تقاضائ کوله له هم دغه وجی څخه دغه لیکنه دفرصت په انتظار کي اینبودل شوی وه. اوس څه ورځی مخکی واحقرته ستاسو دلیک په غور سره دویلو موقع پیدا شوه، او تاسو د حمل کیدلو په باره

کي چي کم تفصیلات لیکلی دی . دهغه څخه داحقر ومعلوماتو ته اضافه توب وشو ، جزاکم الله تعالی لیکن ددغه تشریح څخه وروسته هم ستاددغه موقف سره داحقر اتفاق نه شی کیدلای .که چیری دمیړه اومایني گډه شوی نطفه دیوی بلی ښځي ورحم ته ورولویږی اودهغی درحم څخه زیږیدنه وشی نوصاحب دنطفه پلار دی اوصاحبة النطفه اوصاحبة الرحم دواړی مندی دی، ترکومه ځایه پوری چی دصاحبة الرحم دموروالی تعلق دی ،په هغه کي خبره نشته .لیکن د صاحب النطفه اوصاحبة النطفه څخه دبچی د نسب دثابت والی ډیرسخت اعتراض دی، دقرآن کریم وینا ده (ان امهتهم الااللائی ولدنهم) سورة المجادلة آیت نمبر ۲) څخه په دغه باره کي ښکاره دامعلومیږی چی موروالی په هغه ښځه کي حصر دی کم چی ئي درحم څخه بچی پیدا شوی وی ،اوهم دارنگه (حملته امه کرها ووضعته کرها) سورة الاحقاف آیت نمبر ۱۵) مقتضی هم داغه ده ،لهذا دکومي ښځي درحم څخه چی بچی نوی پیداشوی دمذکوره آیت قرآنی څخه وهغي ته شرعا موروېل ممکن په نظرکی نه راځی . پاته شوه داخبره چی اصلی نطفه خو ددغه ښځی ده نوصرف ددغه خبری څخه ددي موروالی ثابتیدل مشکل دی. اول ددی وجی سه چی ستادخپل ارشاد مطابق دگوچنی په بناءاصلیوکی دصاحبة الرحم څخه موادحاصلیږی ،چی دهغه معنی داده چی صرف نطفه دبچی دتخلیق لپاره کافی نده، ترکمه پوری چی هغه تریوه وخته په رحم کي پاته شی دصاحبة الرحم مواد حاصل نکړی، لهذا دکومي ښځي په هګی کي چی دنطفی جرثومه (سپرم) داخل سی ،هغه دولادت لپاره کاپی سبب ندی .دوهم ددی وجی څخه که چیری یوه نطفه په قصد سره په یوه غیر شرعی طریقه سره په یوه رحم کي داخله کړه سی نو که چیری عملا دگوچنی دولادت سبب دغه جوړشی، لیکن شرعا بچئ دده وطرفته نه منسوبه کیږي اودبچی نسب دده څخه نه ثابتیږی - الولد للفراش وللعاهر الحجر (۱) ددی تقاضا هم داده ،په دغه حدیث کي وللعاهر الحجر، جمله دابنه ئي چی حالات داسی دی چی په هغه کي ظاهرا بچی دزانی معلومیږی، اودطبی نقطه نظره څخه دغه خبره یقینی هم کیدای شی .چی بچی دزانی دنطفی څخه پیداشو .

---

(۱) الصحیح للبخاری کتاب المحاربین ج: ۲ص: ۱۰۰۷ (قدیمی کتب خانه).

ددې سره سره بچی دزانی وطرفته شرعا ئي منسوبه نکړی ،ددی څخه دااصول معلومیږی که چیری بالفرض یوځای په طبی طریقه سره داثابته هم شی اوپه یقینی طریقه سره ثابته شی چی ددغه ګوچنی اصل دفلانی سړی نطفه ده، لیکن هغه نطفه په یوه داسی رحم کي داخله شویده ،چی دنطفه دخاوند لپاره حلاله نده نومذکوره ډاکټری دیقینه سره دبچی نسب د نطفه دخاوند څخه نشی ثابتولای ،په دغه تربحث لاندی صورت کي داخبره خلاصه شویده چی دنارینه اوښځی داګډه نطفه په کم ځای کي چی داخله شویده ،هغه ددغه لپاره حرام ؤو اوداداخلیدل هم حرام ؤو ،څرنګه چی تاسو خپله فرمائلی دی ،لهذا که چیری هغه ګډه نطفه بالفرض دولادت دسبب لپاره کافی هم وبلل شی بیا هم د ذکرشو اصولو مطابق نه دصاحبة النطفه څخه دبچی نسب ثابتیږی اونه دنطفه دخاوند څخه . اوس چی کله دغه دولادت سبب لپاره کافی هم ندی نو په طریقه اولی سره دنطفی والا سړی اوښځی څخه دی دده نسب باید ثابت نشی . په دغه سلسله کي چی جناب دالیکنه کړیده چی ده نارینه نطفه چی کله په بیضه انثی کي داخلیږی نو هغه سره پاشل کیږي ،لهذا داوینا ممکنه نده چی اوس په رحم کي داخل شوی شی دنارینه نطفه ده، احقر ددي سره هم متفق ندی، واقعیت دادی چی دنارینه نطفه نه پاشل کیږي ،بلکه په بل شکل سره اوړی ،اوبل شکل اختیاره وی، دهغی وجود نه ختمیږی، که ئي چیری وجود ختم کیدلای نو به بیا دبچی نسبت ودغه نطفی ته ممکن نه واي ،لهذا دنارینه نطفه ده یوي حرامی ښځی په رحم کي ،که هغه په خپل اصلي صورت کي ولاړه شی اوکه بل صورت اختیار کړی ،په دواړو صورتو کي شرعا هیڅ فرق نشته، . دویمه خبره تاسو دالیکلی وه چی دنسب دثابت والی بنیادونه دازمویښتی بمبی څخه ثابتیږی، لهذا دبلی ښځی ورحم ته ده داخلیدلو څخه دنسب ثابتیدل اوغیری ثابتیدل نه شی جوړیدلای، داحقر په دغه کي هم تأمل شته، د نسب دثابتو والی لپاره صرف دنطفو انعقاد ،استقرار ،اواختلاط، کافی ندی ،بلکه په حلال رحم کي ترهغه معلومی مدی پوری استقرار اویا دحلال رحم څخه ولادت هم ضروری دی ،ددي څخه بغیر دنسب ثبوت

نشي کیدلای . کوم څه چې مې پورته درته وړاندې کړه ،داده مسئلې دنفس الامري تحقیق سره متعلق دی ،لیکن ددی یوعملي اړخ هم شته ،اوهغه دادی که چیرې دهغه ښځې چې په رحم کیښي ګوچنی ندی پیداشوی دنطفی والا میړه اوښځې څخه نسب ثابت کړل شي نو زه دافکرکوم چې ودغه طریقې ته دحرام ویلو سره سره ددغه عمل درواج بندیدل به ممکن نشي اوددی منکر عمل عام والی به دونه زیات شي چې دهغه دتصورڅخه به زړه لړزیږي .. هذا ماظهر لی والله سبحانه وتعالی اعلم والسلام (حضرت مولانا محـــمد تقي عثماني مدظلهم) بقلم محمد عبد الله میمن ۵شوال ۱۴۱۱هجری .

صرف په حمل سره دنسب دثابت والی حکم

دحضرت محترم دامت برکاتهم العالیه دمذکوره جواب څخه وروسته مفتي عبدالواحد صاحب د خپل موقف په تائید کي لاندني جوابی خط راواستوی .) سوال اواضافه تحقیق دمفتي عبدالواحد صاحب څخه :حامدا ومصلیا وخدمت ته دجناب حضرت مولانا تقي عثمان صاحب مدظله العالی . مکرم اومحترم !! الســـلام علیکم ورحمة الله وبـــرکاته :

دجناب احترامانه لیک په تاریخ د۵/شوال /۱۴۱۱هجری دیوی میاشتی څخه وروسته راورسیدی ،دیره مننه : دیوڅو بالابد وړاندیزونو دوړاندې کیدلو دلاوری کوم ،که څه هم ددي سره سره بیریږم هم چې زما ددغه وړاندیزو څخه جناب زهیر نشي ،دجناب دمصروفیاتو هم راسره فکرشته ،لیکن دخپلي مجبوری په خاطر اودحضرت دعدم التفات باعث دجناب وطرفته هرګړی نظر کولو باندي مې آماده کوی.(۱)..په خپله مخکني عریضه کي مادالیکلی وه :چې ددی څخه داخبره ښکاره شوه چې په آزموینتي بمبه کي دنسب دثابت والی بنیادونه پراته دی، لهذا دیوی بلی بیګانه ښځې په رحم کي ده داخلیدلو څخه دنسب ثابتیدل اویا نه ثابتیدل نه جوړیږی . پردغه باندي جناب دغه تبصره فرمائیلی ده چې : دنسب دثابت والی لپاره صرف

د نطفو انعقاد، استقرار، او اختلاط، کافي ندی، بلکه په حلال رحم کي تريوی معهودی مُدی پوری استقرار او يا د حلال رحم څخه ولادت هم ضروری دی، د دي څخه بغير د نسب ثابتيدل نشي کيدلای. د معهودی مُدی څخه په ښکاره توګه د حمل کمه مده يعنی شپږ مياشتی فهمول کيږي. والله اعلم د جناب پر تبصره باندي زما دا سوال دی چی زموږ فقهاؤ د حمل لپاره هم د نسب د ثابت والی قول کړيدی، قطع نظر د دي څخه چی حمل به څونه وخت تيره وی. په بدائع کي دی:

ولو قال لامرآته وهی حامل: ليس هذا الحمل منی لم يجب اللعان في قول ابی حنيفة. لعدم القذف بنفی الولد وقال ابويوسف ومحمد: ان جاءت بولد لاقل من ستة اشهر لم يجب، وجه قولهما انها اذا جاءت به لاقل من ستة اشهر من وقت القذف فقد تيقنا بوجوده وقت النفی كان محتملا للنفی اذ الحمل تتعلق به الاحکام، فان الجارية ترد علی بائعها ويجب للمعتدة النفقة لاجل حملها فاذا نفاه يلاعن فاذا جاءت به لاکثر من ستة اشهر فلم تتيقن بوجوده عند القذف لاحتمال انه حادث ولهذا لا تستحق الوصية ولابی حنيفة ان القذف بالحمل لو صح اما ان يصح باعتبار الحال او باعتبار الثانی لا وجه للاول، لانه لا يعلم وجوده للحال لجواز انه ريح لا حمل ولا سبيل الی الثانی، لانه يصير في معنی التعليق با لشرط......... ولا يقطع نسب الحمل قبل الولادة بلا خلاف بين اصحابنا اما عند ابی حنيفة فظاهر، لانه لا يلاعن وقطع النسب من احکام اللعان. واما عندهما فلان الاحکام انما تثبت للولد لا للحمل وانما يستحق اسم الولد بالانفصال، وعند الشافعی يلاعن ويقطع نسب الحمل واحتج بما روی ان رسول الله صلی الله عليه وسلم: لاعن بين هلال بن امية وبين امرأته وهی حامل والحق الولد بها فدل ان القذف بالحمل يوجب اللعان وقطع نسب الحمل ولا حجة له فيه، لان هلالا لم يقذفها بالحمل بل بصريح الزنا وذکر الحمل وبه نقول ان من قال لزوجته: زنيت وانت حامل يلاعن، لانه لم يعلق القذف بالشرط واما قطع النسب فلان رسول الله صلی الله عليه وسلم. علم من طريق الوحی ان هناک ولدا. الا تری انه قال صلی الله عليه وسلم: ان جاءت به علی صفة کذا فهو لکذا وان جاءت به علی صفة کذا فهو لکذا ولا يعلم ذلک الا بالوحی ولا طريق لنا الی معرفة ذلک فلا ينفی الولد والله الموفق. (ج: ۳ص: ۲۴۰) (۱) که څه هم هلال بن اميه رضی الله عنه په قصه کي پر نفی د ولد

باندې اعتراض شوېدی دا ؤول لکه په ردالمحتار کې چې دی : ولکن لم يذکر فيه انه صلى الله عليه وسلم نفاه قبل الوضع کما اقتضاه کلام الشارح تبعا للنهر، وانما فيه قوله : صلى الله عليه وسلم. انظروها فان جاءت به کذا فهو لهلال ،اوجاءت به کذا فهو لشريک وانها ولدت فالحق الولد بالمرأة وجاءت به اشبه الناس بشريک . (۲) ليکن کومه خبره چې زموږ لپاره فائده منده ده هغه يله اعتراضه واقع شويده. يعنی دا چې حمل ثابت النسب دی ،که چيرې ترمعهود ی مُدی پورې اويا دحمل ترايښودلوپورې نسب نه ثابتيدلای نو صاحبينو (رح) و قول ته فاذا نفاه يلاعن، به جواب داورکول کيدلای چې اوس حمل ددغه څخه ثابت النسبه ندی اونشو . نو هغه نفی دکوم شی کنې ؟کله چې دهغه نسب ثابت شی بيا ديې هغه وخت نفی وشی. بالابد پرهغه باندې داوينا چې، ولايقطع نسب الحمل قبل الولادة، په دغه وخت کې صحی کيږي کله چې هغه اول ثابت النسبه شی ،کنه نو قطعه دنسب هسی خبره ده . کله چې دحمل لپاره هم دنسب ثابتيدل کيږي اوداکوم قيد موجود ندی چې دڅونه وخت حمل به وي نودعام والی له وجی څخه د (مضغه ،علقه) مراحل هم په دغه کې شامليږی . دحلالو نطفويعنی دميږه اوښځی دنطفوڅخه جوړه شوی علقی لپاره دنسب ثابتيدل آيا هغه وخت کيږي چې کله دنطفو ګډيدل دښځی په رحم کې وشی ،اوکه درحم څخه دباندې ګډيدل وشی اودعلقی د حاصليدلوپه صورت کې يعنی په آزموينښتی بمبه کې هم نسب ثابتيږی ؟ څرنګه چې ددواړو ترمنځ دفرق کولو لپاره هيڅ دليل موجود ندی ،لهذا په آزموينښتی بمبه کې دحلالو نطفودګډيدلو په نتيجه کې حاصليدونکی علقه ثابت النسبه کيږي . په مخکنی عريضه کې چې ما ذکر کړيوه چې آزموينښتی بمبه کې د کثيرالخلياتی (Multicellular) مرحلو په حاصله ولوباندې او ورحم ته په انتقال کيدلو باندې ددې مراد دعلقی ابتدائي مراحل دی . دحمل څخه دنسب دثابت والی په باره کې يوه بله حواله :

(۱) بدائع الصنائع ج: ۳ص: ۲۴۰ (طبع سعيد) وفی طبع مکتبة دارالکتب العلمية بيروت ج: ۸ص: ۲۱۶ (۲) ردالمحتار علی الدر مطلب الحمل يحتمل کونه نفخا ج: ۳ ص: ۴۹۱ (طبع سعيد).

وتلخيص هذا الوجه انه قياس زوجة الصغير الحامل وقت موته بغير ثابت النسب على زوجة الكبير الحامل وقت موته بثابت النسب في حكم هو الاعتداد بوضع الحمل بجامع انه لقضاء حق النكاح اظهارا لخطره متعرضا فيه لا لغاء الفارق وهو وصف ثبوت نسب الحمل وعدمه. (فتح القدير ج : ۴ ص: ۳۲۴) (۱) ترکومه ځايه چې ددغه آيات تعلق دی چې دهغه ذکر جناب کړيدی يعنی، ان امهتهم الا اللائي ولدنهم، (۲) او، حملته امه کرها ووضعته کرها، (۳) نوددغه په باره کي دپورته ذکرشو حوالو په رڼاکی زما رائيه داده چې دغه ذکر پرطريقه دعادت دی ،اوعادتا دمورجوړيدلو دری مرحلی دی . (دهغه مراحلوذکرما په مخکنی عريضه کي هم کړی ؤو) يعنی : (۱)... دښځی نطفه دنارينه دنطفی څخه حمل داره کيدل (۲).... ددغی حملداری نطفی په رحم کي قرار اونشوونما (۳)... دوخت په پوره کيدلو سره دحمل اېښودل . دريمه مرحله چې دهغی ذکر په اول آيت کي دی ،عادتا واولو دومرحلو ته مستلزم دی داسی هم نده چې دښځی نطفه دګوچنی په تخليق کي شريکه نده ،اوصرف دحمل دايښودلو وجود دهغی په مورو الی کي کافی دی ،داغه رقم حمل اودحمل اېښودل يعنی دويمه اودريمه مرحله چې دهغه ذکر په دوهم آيت کي دی ،عادتا واولی مرحلی ته مستلزم دی ،ځکه چې عادتا بچې دمور دنطفی څخه بغير نه پيدا کيږی، ملاعلی قاری رحمه الله په عبارت کي نقل شويدی : وهو استدلال على ان لها منيا كما للرجل والولد مخلوق منهما اذلولم يكن لها ماء وخلق من مائه فقط لم يشبهها، (۴) ليکن آيا اوله مرجله هم دنسب دثابتيدلو لپاره ومخته دوو مرحلو ته محتاجه ده، د ذکرشو پورته حوالو په رڼاکی داحتياج نه پاته کيږی، په دغه بناء باندي که چيری په راتلونکی کي داسی حالات جوړشی چې په مصنوعی طريقه دی غذا آماده شی اودکوچنی نشوونما دمشينانو په ذريعه باندي وی نود بچې نسب ثابتيږی .(۲).... زما پريوه بل عبارت چې پرهغه باندي جناب اعتراض کړی دی هغه دادي : پردغه ټوله عمل دی غوروشی نو په فکر کي راځی چې دبچې د تخليق عمل شروع شويدی ،دنارينه نطفه پرخپل اصلی حالت باندي پاته نده ،بلکه سره پاشل شويده (دښځی په هګی کي داخله شويده) پردغه باندي جناب دغه

اعتراض کړی دی چی : دنارینه نطفه سره پاشل کیږي نه بلکه تبدیلیږی اوبل صورت اختیارږه وی، دهغه وجود نه ختمیږی . که ئي چیری وجود ختم کیدلای نوبه دبچی منسوبه کیدل دهغه وطرفته ممکن نوای، لهذا دنارینه نطفه دیوه ی حرامی ښځی په رحم کي که هغه په اصلی صورت سره ورداخله شی اوکه په یوه بل صورت سره بدله شی اوورورسیږی، په دواړو صورتوکی شرعا هیڅ فرق نشته .

(۱)باب العدة ج: ۴ص: ۲۹۱(طبع مکتبه رشیدیه (۲) سورة المجادلة آیت نمبر ۲ (۳) سورةالاحقاف آیت نمبر ۱۵) (۴) مرقاة المفاتیح شرح المشکوة باب الغسل ج: ۲ص: ۳۲ (طبع مکتبه امدادیه ملتان) .

خپل په مخکنی عریضه کي می ذکر کړی وه دنارینه اوښځی نطفی چی یوځای کړه شی دتقسیم دمرحلوڅخه تیریږی اومخته یوه خلیاتی مرحله کیږي هغه چی دویشلو دعمل څخه تیریدل وکړی وکثیر الخلیاتی مرحلی ته رسیږی ،دغه دعلقی مرحله ده څرنګه چی دغه وخت یو انقلابی ماهیت کیږی، لهذا پردغه بناء باندي ما ئي په پاشلو سره تعبیر وکړی . که یو څوک داخیال وکړی چی دتقسیم اوویشلوسره دنارینه دجرثومی سپرم اجزاء باقی دی ،لهذا د مردانه سپرم صرف شکل بدل شوی دی لکه په معلومه طریقه سره دیو هلک اویا انجلی بنیاد دی ،یعنی دا چی ددي جنس متعین شویدی څرنګه چی دمردانه اوزنانه نطفو حال داسی نسی کیدای (۱)لاندنی حواله ملاحظه کړی :

When the spermatozoon meets the ovum it penetrates the Oolemma by means of its head-cap . the tail becomes absorbed but the head and body pass in and the head forms the male-pronucleus which fuses with the nucleus of the ovum (female pronucleus) to form the segmentation nucleus. In this way the fertilized ovum is furnished with the male and the female , contributing the half . the body of the spermatozoon furnishes the apparatus necessary for the first division of the ovum. And thus initiates segmentation ,which thereaftergoes on rapidly by the ordinary process of mitosis it may be well to

recallat this point the chromosome mechanism which is now generally accepted as the basis of sex determination. The original spermatocyte cell contains ۴۴ somatic chromosomes and ۲ sex chromosomes which may be called x and y. from this cell four spermatozoa arise by the maturation divisions, each containing۲۲ somatic chromosomes and one sex chromosomes eithct x or y . the oocyte contains ۴۴ somatic chromosomes and ۲ sex chromosome, both x, so that after maturation the ovum is left with ۲۲ somatic chromosomes and one sex chromosome x . the union of the ovum with a spermatozoon with an x chromosome x , the union of the ovum with aspermatozoon with an x chromosome will reproduce the full

(۱)یعني عادي په تحقیق ده اطباء اودغه تحقیق تبدیلیږي هم(حاشیه دحضرت محترم برکاتهم څخه)

Female complement of ۴۴ somatic and ۲x sex chromosomes, making atotal of ۴۶ which is characteristicof the human species. The union of the ovum with aspermatozoon with a y sex chromosome will reproduce the male pattern of ۴۴ somatic chromosomes and ۲ sex chromosomes, x & y. (A text- Bookof midwifery by johnstone).

اضافه پردغه کومه خبره چې قابل غورده اودچا وطرفته چې ما توجه په سابقه عریضو کې کړیوه ،هغه داده چې مستعار رحم ترنقل کیدلو وروسته داوله څخه دامکان نه وی (۱)چې د خواست کره شوی رحم دبنځې نطفه دهغه سره ګډه شي اودهغه دنطفې دشامل والي څخه بغیر هغه دی کامله اواصله مور قبوله شي دا ولی نه متصوریږی ؟

The main results of fertilization are (I) restoration of the diploid number of chromosomes and (۲) determination of the sex of the new individual. (medical Embryology by langman)

(۳).... زمادپخوانی لیک یوه جمله داوه چې :دګوچنی اصلی بناء(Basicstructural formation) کي ددغه صاحبة الرحم څخه مواد حاصلیږی . ده موادو زما مراد غزاء ده چې

وګوچنی ته دوینو په ذریعه سره حاصلیږی، دغه ما اول هم ذکر کړیوه ،یعنی دا چی خواستی رحم والا صرف ځای اوغزاء برابره وي، اوښکاره داده چی په یوه خاصه طریقه باندي دغزاء برابریدل دګوچنی په خلقیت او ماهیت کي شامل ندی ،هغه یو خارجی امر دی، چی دهغه لپاره عقلا نوری ذرائعی هم ممکنه دی ،دغه وضاحت می له دی وجی ځخه کړیدی چی جناب دالیکنه کړیوه چی زما ددغه جملی معنی داده : چی صرف نطفه دبچی دتخلیق لپاره کافی نده ،ترڅو چی هغه دیوي مده لپاره په رحم کي پاته شی اودصاحبة الرحم مواد حاصل نکړی ،لهذا دکومی ښځی په هګی کي چی دنطفی جرثومه داخله شوه ،هغه دولادت لپاره کافی سبب ندی. (۴)..... جناب وښځی ته (دچاچی نطفه دمیړه دنطفی سره ګډه سی په علقه سره بدلیږی)دموروالی په خلاف ئي دادلیل هم وړاندی کړیدی چی : دوهم ددی وجی سه که چیری یوه نطفه په قصد سره په یوه نارواطریقه سره په یوه بل رحم کي ولویږی ،نوکه هغه عملا دګوچنی دولادت سبب هغه جوړشی ،لیکن شرعا بچی دهغه وطرفته نه منسوبه کیږي۔الخ دغه اصلی مسئله چی جناب لیکلی وه،منونکي ده، لیکن په دغه کي دمذکوره نطفی ځخه مراد دنارینه نطفه ده ځرنګه چی پرخپل اصلی حالت باندي (که دهغه سره داوله سه دخپلی ښځی نطفه نوی ،اویا وي، نوپرخپل اصلی حالت باند ی ده)که چیری په یوه حرام رحم کي داخله شوی وی ،ځرنګه چی زموږ تربحث لاندی کم صورت دی ،په هغه کي دنارینه نطفه دخپلی ښځی دنطفی سره ګډه کړی په علقه سره تربدلیدلو وروسته په حرام رحم کي داخله کړه شی، پردی باندي علاوه په دواړو صورتوکی یوفرق بل هم سته اوهغه دادی چی دجناب په لیکل شوی صورت کي د صاحبةالرحم خپله نطفه هم دبچی په تخلیق کي شریکه کیږي اودهغی ځخه بغیر تخلیق عادتا محال دی ځرنګه چی تربحث لاندی صورت کي دبچی په تخلیق کي دښځی نطفه شریکه شویده ،دصاحبة الرحم نطفه داوله ځخه نده شریکه شوی. (۵)..... په خپل دغه تحریر کي ما دعلقه لفظ استعمال کړیدی اوځرنګه چی په مخکنی لیکنه کي می دهغه استعمال نه ؤو کړی ،دهغه بیان دادی چی په مخکنی لیکنه کي ما دآزموینتی بمبی دحمل (T.T (fertilization تولہ مراحل اوبیا ورحم ته دانتقال کیدلو مرحلی په تفصیل سره بیان کړیوی

.او خیال می داؤو چې دخپله طرفه څخه ویوی مرحلی ته معلوم نو م دور کولو څخه بغیر ټولی خبری دی مخ ته کښنی ښودل شی ،لیکن اوس می خیال داشو ،چې شاید پرجناب به حقیقتِ حال نوی واضح شو ی، له دغه وجی می اوس ددغه لفظ داستعمال څخه کومک وغوښتی .

(۶).... تراوسه پوری چې زما وړاندیزونه پر دغه خبره باندي ټینګ دی چې ښځه یعنی صاحبة النطفه دی اصلی مور وبلل شی، ددی څخه وروسته اوس فقط دونه سوال باقی پاته کیږي چې صاحبة الرحم دی څه وبلل شی ؟ په خپل مخکنی لیکنه کي ما ویلي ؤو چې : (!)... دګوچنی په اصلیت کي دصاحبة الرحم څخه مواد (غذاء) حاصلیږی ،(!!) ... دحمل دایښودلو تکلیفونه چې عادتا دقبلیدلو په بناء باندي وهری مور ته دهغه برتری حاصلیږی، هغه دغه صاحبة الرحمه قبلوی، (!!!)... بیا دحمل ایښودل یو داسی عمل دی چې دهغه له وجی دلغت له لاری دحمل ایښودولو والا ته مور ویل کیږي ،لهذا ددغه پورته ذکرشوو امورو په بناء باندي ودغی صاحبة الرحمی ته دسره څخه دمور والی داستلو امکان نشته ،لیکن بیا وروسته زما رائیه بدله شوه ،چې دهغه وجی دادی (۱)...کله چې دمیړه اومايني څخه نسب ثابت شو نو بیا دبچی دنسب دثابتیدلو اضافه ضرورت پاته نشو . (۲)...دښځی دمور والی دثابتیدلو تقاضا داده چې دمیړه سره به نسب ثابت وی لکه چې دصاحبة الرحم څخه دنسب دثابتیدلو تقا ضا داده چې دمیړه سره به نسب ثابت نوی . ددواړو دمور والی څخه داتضاد لازمیږی، څرنګه چې دصاحبة الرحم دمورګرځولو لپاره هیڅ دنسب دثابت والی ضرورت نه لیدل کیږي ،لهذا ددي تضاد دځان ساتلو په وجه سره دی وصاحبة الرحم ته مورونه ویل شی،پاته شوی هغه مذکوره پورتنی وجی ،چې دهغی دمور والی تقاضا کوی نو دهغه جواب داورکول کیداشی چې کامله اوحقیقی تقاضا عادتا هغه وخت ثابتیږی چې کله دهغی سره د صاحبةالرحم نطفه هم په تخلیق کي شریکه وی . اوحال داچې هغه شرکت نیستی دی، لهذا کامله اوحقیقی تقاضا هم نیستی ده . البته چې پررضاعت باندي قیاس کره شی وهغی ته هم درضاعی مور په څیر ویل کیدایشی ،که څه هم په دی کي درضاعت په مقابله کي بالابد معنی پیدا کیږی، ددغه څخه هغه غیری پوره شوی تقاضا هم پوره کیږي ــ (۷) .... پاته شوه دجناب هغه وینا چې : لیکن دهغه یو عملی اړخ هم شته

اوهغه دا که چیری د ښځی څخه بغیر دیوه بل رحم څخه پیدا کیدونکی ګچنی ته دنطفی والا مور دښځی سه ثابت النسب وبلل شی نوزه پوهیږم چی ودغه طریقی ته دحرام ویلو باوجود به دد غه عملی کار بند یدل ممکن نشی اوددی منکر کار عام والی به دونه شی چی دهغه دتصور څخه به زړه په لرز اخته شی . نوپه دی باره کي عرض دادی چی ماپه اول سرکی وضاحت کړی وو چی دمغرب په تقلید کي زموږ وخواته هم څه خلق داسی کارونه کوی ،اوکه چیری یوڅوک داسی وکړی نوبیا نسب دچاڅخه ثابتیږی ؟ دغه سوال خامخا پیدا کیږي چیری چی دا فکراهم وی ،هلته دبچی نسب هم اهم دی ،ددغه خطري دبندیدلو لپاره دحکومت له لاری قانون جوړیدایشی . (یاداشت :دحکومت سه صرف زموږ دملک موجوده حکومتونه ندی مراد بلکه ټول اسلامی حکومتونه اوپه راتلونکی کي جوړیدلووالا حکومتونه هم دی . داوضاحت می په دی وجه سره وکړی چی په یوځای کي یووخت چی نااهله حکومت ولیدل شی نو په مکمله توګه به نه نااُمیده کیږي . فقط والله تعالی اعلم طالب دعا عبداواحد غفرله ۳/دمحرالحرام ۱۴۱۲هجری جامعه مدنیه کریم پارک راوی روډ لاهور .

(دحضرت محترم دامت برکاتهم العالیه جواب)

قدرمند اومکرم جناب مولانا ډاکټرعبدالواحد صاحب مدظلهم العالی :

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته :ستاسو محترم لیک راورسیدی اودآزموینتی بمبی په سلسله کي ستارائیي مکرره استفاده وکړه ،داخویوعلمی تحقیق دی ،له هم دغه وجی څخه دخاطردمانده کیدلو سوال نه پیداکیږي . په داسی قسم نوی مسائلوکی چونکه صریح حکم په کتابوکی موجود ندی له هم دغه وجی ستا لیکونه په نیت داستفاده سره وایم،لیکن دښه پراخ ذهن سره سره دویلو باوجود احقرتراوسه پوری ستادرائیي سره متفق نشو،دمفصلی تبصری مهلت واحقرته نشوپیدا ،البته یوڅونکتی ستاسو دمکرر غورلپاره دراستوم (۱)...تاسو

دحمل دثبوتِ نسب په سلسله کي دبدائع چی کوم عبارت نقل کړی ؤو (۱) او دهغه څخه چی کوم دلیل ویل شوی ؤو چی حمل بالکل په اولو مراحلو کي هم ثابت النسبه کیدایشی .هغه واحقرته دڅووجوهو څخه بنه نه معلومیږی : اوله وجه خوداده : چی زما دوینا سره نطفه دهغی مرحلی سره تعلق پیدا کوی چی ستا دنوی تحقیق سره مطابق چی لاتراوسه علقه وی په

(۱) بدائع الصنائع ج : ۸ ص : ۲۱۶ (طبع دارالکتب) وفی طبع سعید ج : ۳ ص : ۲۴۰ .

دغه مرحله کي پردغه باندي دحمل دهغو احکامو اطلاق نشی کیدای کوم چی تاسو ذکر کړیدی، هغه تراوسه لا دنسب دثابتیدلو اویا دنسب دقطع کیدلو په ځای کي ندی ،ځرنګه چی ترکومه وخته پوری دهغه یوڅه اعضاء نوی ښکاره شوی ،ترهغه وخته پوری دهغه پرتلف کیدلو باندي دګوچنی دیت هم نه لازمیږی ،بلکه په شامی کي داسی دی که چیری مضغه جوړه شوی وی لیکن استبانه خلق (داعضاؤتخلیق) نوی بیاهم په هغه کی، غره، نه واجبیږی — ولو القت مضغة ولم یتبین شئ من خلقه فشهدت ثقات من القوابل انه مبدا خلق آدمی ولو بقی لتصور فلا غرة فیه وتجب فیه عندنا حکومة (۱) دتاوان عدم وجوب ددي وجی سه دی چی هغه لا تراوسه ګچنی ندی تسلیم شوی اوترکمه ځایه چی دحکومت دجوب تعلق دی ،هغه پرهر قسم ضررباندي کیږي اوهغه دلته هم ستنه . (۲)...حمل هغه وخت وارث جوړیدلای شی کله چی هغه ژوندی پیداشي ،دمړه پیداکیدلو په صورت کي هغه وارث نشی جوړیدلای، البته که چیری دیوه جنایت څخه حمل شوه شوی وی نوکه هغه مړپیداشی بیاهم هغه وارث بلل کیږی، ځرنګه چی په ټولوفقهی کتابوکی په تصریح سره شته . (وګوری عالم ګیری: ۴۵۶/۶) (۲) لیکن ترکومه وخته چی هغه دمضغه په شکل کي وی،که چیری په جنایت سره هم ولویږی بیا هم هغه وارث نه بلل کیږي ،اوحال داکه چیری هغه دنسب دثابتیدلو محل وای نوځرنګه چی ګوچنی مستبین الخلق دجنایت په صورت کي وارث کیږي داغه رقم داهم وارث کیږي . (۳)... تاسو داعبارت نقل کړی دی ،په هغه کي دی د صاحبینُ مؤقف بیان کړیدی اودا الفاظ دی نقل

کړيدی :واما عندهما فلان الاحکام انما تثبت للولد لا للحمل وانما يستحق اسم الولد بالانفصال ولهذا لايستحق الميراث والوصية الا بعدالانفصال . (۳) ددي عبارت څخه، ښکاره معلوميږی چی دصاحبينو رح په نزد دحمل چی ترڅه وخته جلاوالی نوی راغلی ترهغه وخته پوری نه دنسب قطعه کيدل ممکن دی اونه دنسب اثبات ،ځکه چی هغوی دټولو احکامو دثبوت نفی کړيدی . (۴)...که چيری فرض کړو چی دفقهاؤ په يوه عبارت کي وحمل ته ثابت النسبه ويل شوی وي اوهغه وخت ورته ويل شوی وي چی هغه لا مستبين الخلق نه وي نو هغه يقينا په اعتبار دمايؤلو کاوه کيږي اودفقها ؤ په کلام کي تاويل هوساه دی نسبت وآيتِ کريمه ته، ان امهتهم الا اللائی ولدنهم، (۴) دتأويل کولو سه ،ځکه چی فقهاء کرامو دغه تصور ندی کړی چی په کم وخت کي دحمل داستقرارځای دولادت دځای څخه علحيده کيدای شی، ليکن دقرآن کريم په باره کي داخبره هيڅ کله نشی ويل کيدای ،ځکه چی الله تعالی عالم الغيب دی اودغه آيت ددغه علم سره نازل شويدی چی يو وخت داسی

(۱) ردالمحتار على الدرفصل في الجنيين ج ۶،ص، ۵۹۰(طبع سعيد) (۲)وان ولد ميتا لاحكم له ولا ارث .....ومتى انفصل الحمل ميتا انما لا يرث اذاانفصل بنفسه فاما اذا فصل فهو من جملة الورثة وبيانه انه اذا ضرب انسان بطنها فالقت جنينا ميتا فهذا الجنين من جملة الورثة .الفتاوی الهندية كتاب الفرائض الباب السابع في ميراث الحمل ج : ۶ص ۴۵۶ (طبع رشيدية) (۳) بدائع الصنائع ج : ۸ ص: ۲۱۶ (طبع دارالكتب العلمية بيروت) وفی طبع سعيد ج :۳ ص: ۲۴۰ (۴) سورة المجادلة آيت نمبر ۲ .

راځي چي کله استقراراوځای دولادت سره جلاوي، لهذا په آيت کي دتاويل کولوپرځای دفتهاؤ په عبارتوکی تاويل کول اولی دی . (۵).... احقردنارينه دنطفی دانقلاب نفی ندی کړی، دوجود دختم والی نفی ئي کړی وي، لهذا زما استدلال اوس هم باقی پاته دی چی دنارينه نطفه که هغه په خپل اصل صورت کي ديوی ښځی ورحم ته ولاړه سی، يا په يوه بل څه سره بدله ولاړه سی ،په دواړو صورتو کي شرعا کوم فرق نه معلوميږی . تاسو ليکلی دی چی : ومستعار رحمته ترانتقال کيدلو وروسته داوله سه دامکان نشی کيدای چی مستعار رحم والا ښځی نطفه

دی دهغه سره ګډه شي . په دغه سلسله کي د احقر عرض دادی چې دغه ټوله عدم امکان عقلي یا عادي دی، که چیری عقلي وی نو دمحال والي یو دلیل باید وي، اوکه چیری عادی وی نو ښکاره ده چې هغه پرموجوده طبی تحقیق باندي بناء کیږی، چې دهغه دبدلیدلو هروخت امکان سته ،اوپه هرصورت سره دښځې دنطفی دګډوالی امکانِ عقلي پاته کیږي اودداسی امکانِ عقلي شرعا معتبریدل هم دبعض احکامِ شرعیه ؤ څخه معلومیږی مثلاً، لایسقین ماءاحدکم زرع غیره (۱) اوهم دارنګه حامله دزنا څخه دنکاح دصحی والی سره سره دوطیو دحرام والی وغیره ،لهذا صرف ددغه وجې څخه د صاحبة الرحم دموروالی نفی نه شی کیدای . ددي څخه علاوه داخبره هم د دلیل محتاجه ده چې دښځې دمور والی لپاره دهغې دنطفی ګډیدل ضروری دی، دهغې درحم څخه دګوچنی غذاء اودرحم څخه پیداکیدل دمور والی دثبوت لپاره کافی ندی . (۶)....ددغه نکتی وطرفته دوهم ځل توجه غوارم چې ستا دټوله بحث حاصل دادی چې په نفس الامر، کي نطفه چې دکوم نارینه اوښځې ده ،دګوچنی نسب دهغه څخه باید ثابت شی، اوحال داچې شریعت په دغه معامله کي نفس الامر باندي ئي مدار ندی کړی ،بلکه که چیری ولادت دیوه داسی ځای څخه شوی وی چې هغه بیله شبهې څخه حرام وی نود ګچنی نسب نشی ثابتیدلای، که څه هم په نفس الامر کي نطفه دهرچاوی، اوتاسو پردغه باندي دصاحبة الرحم دنطفی دګډوالی دغیرامکان څخه کم استدلال فرمائلی وو، دهغه په باره کي خپل عرض اول درته وړاندی کوم . (۷)....دشریعت په اصطلاح کي اوپه خپله په قرآن کریم کي هم، اُم، او مور، ته په یوه معنی سره ویل شویدی . ددي څخه هم دامعلومیږی چې ،ولادت دمور والی لپاره لازم شرط دی، که بالفرض ستا دقول مطابق دولادت یوه مشینی طریقه ایجاد کړه شی نو هغه وخت داخبره قابله دغورکولوده چې دولادت په مفهوم کي دی دنطفی ګډوالی هم شامل کړه شی، ځکه چې کله دولادِت حقیقی معنی متعذره شی نو دمجاز وطرفته رجوع ممکنه ده لیکن چیری چې دیوی

(۱)وفی سنن ابی داؤد ج: ۲ص : ۲۰۴(طبع دارالفکر بیروت)لایحل لامرئ یؤمن بالله والیوم الآخران یسقی ماءه زرع غیره وکذا في السنن لکبری للبیهقی رقم الحدیث : ۶۶۲۵ (طبع مکتبة دارالباز مکة المکرمة ومصنف ابن ابی شیبه ۱۷۴۶۰ ج : ۴ ص: ۲۸ (طبع مکتبة الرشد ریاض).

داسی ښځي رحم موجود وي چي دهغه څخه دکوچني ولادت وشی نو، والده، او، ولدنهم. دالفاظو حقیقی مصداق موجود دی ،په داسی صورت کي رجوع ومجازته گنجائش نسته ،لهذا په دغه صورت کي مور وهغی ته ویل کیږي ده چاچی دنس څخه گوچنی پیداشوی وی .

(۸)...دنن څخه تقریبا دکال اویونیم کال مخکی خبره ده ،ما په امریکائي رساله، ټائم، کي یو مضمون واییه چی دامریکی په محاکمو کي دامسئله تربحث لاندی وه چی قانونا دی مورو، صاحبة الرحم، ته اوکه و، صاحبة النطفه ته وویل شی . صاحبةالرحم دگوچنی دعوه کړیوه اوترکومه ځایه چی زما په یاد ده هغه مقدمه کامیابه شوی وه، که چیری دغه بي دینه محاکمی چی دهغوی دفیصلو دار اومدارصرف پرطبی اوعقلی تحقیق باندي دی ،دشرعی قوانینوسره دهغوی هیڅ اړه نشته هغه صاحبة الرحمی ته مور ویلی وه ،نو خاوندان دنصوص شرعیهؤ ته په طریقه اولی سره داپکارده بالخصوص کله چی په دغه کي دډیرو فتنو یوه سخته اودرنه خطره وی لکه څرنگه چی احقر اول هم عرض کړیوه ،بی له شکه دگچنی نسب ثابتیدل یوه اهمه مسئله ده ،لیکن چیری چی دهغه په شرعی حدودو کي گنجائش نوی، هلته ځان پیچل دیوه صفا امرچی د غیری مشروع طریقی په نتیجه کي وپیداشوی بچی ته دنسب دثابت والی ویل واحقرته ډیره درنه معلومیږی . بیاهم څرنگه چی مسئله نویده اودهغی دصریح حکم دفقه په کتابوکی دپیداکیدلو امید هم نشته ،له هم دغه وجی په داسی معاملاتوکی واحقرته پرخپل رائیه باندي ډیر یقین نوي، کوم وړاندیزونه چی په فکر کي راځی هغه وړاندی کړی ،اوس مناسبه دامعلومیږی چی ستا خپل اوداحقر لیکونه دنورو خاوندانو دفکر وعلماؤته ورواستوه دهغوی رائیي حاصلی کړه ،زماپه رائیه کي حضرت مولانا مفتي عبدالشکورترمذی صاحب دساهیوال دسرگودی داولسوالی ،اوجناب مفتي عبدالستار صاحب مدرسه خیرالمدارس

ملتان ،مولانا مفتي جميل احمد صاحب تهانوی ،جامعه اشرفيه لاهور اومفتي رشيداحمدصاحب دارالافتاء والارشاد ناظم آباد نمبر۴کراچی . څخه په دغه مسئله کي استصواب بنه دی . که چيری کم نوی دليل مخ ته راشی نو ان شاء الله پر هغه به غورکيږي اوکه چيری رائيه وی نو ددي مسئلي څخه متعلق زما اوستا دغه خط اوکتابت، په البلاغ کي خپورکړه .چی دنورو اهل نظرعلماؤرائيه به وراندی شی نودغه هم ده دواړو لپاره باعث دلارموندلوده . په دُعاءُکي دياديدلو غوښتنه ده .

والسلام .

(حضرت مولانا محمد تقي عثماني مدظلهم) بقلم : محمد عبدالله ميمن اوله دصفری ۱۴۱۲هجری) .

(جوابی خط دمفتي عبدالواحد صاحب مدظلهم څخه)

وخدمت ته دجناب حضرت مولانا تقي عثماني صاحب مدظله العالی مکرم اومحترمه: السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته !!دجناب رااستول شوی عنايت نامه راته ورسيده اودجناب پرنظراورائيه می هم غور وکړی فکرمی شوچی آخری ار اضافه زما وړانديزونه ملاحظه کړی. که چيری اوس هم جناب زمارائيه خطاءوفهم يي نوشايد دجناب له طرفه څخه يو دليل پرخطاء باندي راته حاصل شی، کنه بيا نو دجناب دهدايت مطابق دجناب دلائل اوخپل وړانديزونه دنورو خاوندانو ته دخدمت وړانديکوم . که څه هم دجناب ذکرکړه شوی می اول هم دبعض حضراتو وخدمت دعريضه په شکل کي واستول ،ليکن دهغوی دنظريه حاصله ولو کي کامیابه نشوم اودهغوی دجواب څخه دسره محرومه شوم . په هرحال که چيری دهغوی رائيه حاصله شی اوبيا دټولورائيي زما په خلاف شی نو انشاء الله خپله رائيه به پريږدم ، که اطمنان وي اوکه نه ، چی په هغه کي مصلحت په نظرراشی ،الله تعالی می دی په خپل عافيت کي ولری اودنفس

وشیطان دوسوسو څخه دی حفاظت راکړی . دډیروورخوڅخه خپل مضمون می وجناب ته دهدایت مطابق دمقالی په صورت کي می ولیکل یوه زمانه تیره شوه، چی والبلاغ ته می استولی ده تراوسه می څه ندی ورڅخه اوریدلی چی چاپ شوی ده اوکنه ؟ والله تعالی اعلم په خپل یوه تصنیف کي دډاکټر اسرار احمد خپل نظرونه اوافکار دتنقید . په میزان کي یوه نسخه دجناب وخدمت ته می ورواستول، که چیری رسیدلی نه وه نو خبر راکړی دوهم ځل ئي دراستوم . واذااستبان بعض خلقه غسل وحشر هو المختار (وادرج في خرقة ودفن ولم يصل عليه) وكذا لا يرث ان انفصل بنفسه . (درمختار) (۱)(قوله وحشر) المناسب تاخيره عن قوله هو المختار لان الذى في الظهيرية والمختار انه يغسل وهل يحشر؟ عن ابی جعفر الكبير انه ان نفخ فيه الروح حشر ،والا لا والذى يقتضيه مذهب اصحبنا انه ان استبان بعض خلقه فانه يحشروهو قول الشعبى وابن سرين آه ووجهه ان تسميته تقتضى حشره اذلا فائدة لها الا في ندائه في المحشر باسمه وذكر العلقمى في حديث سموا اسقاطكم فانهم فرطكم الحديث . فقال : فائدة سال بعضهم هل يكون السقط شافعا ومتى يكون شافعا هل هو من مصيره علقة ام من نفخ الروح ؟والجواب ان العبرة انما هو بظهور خلقه وعدم ظهوره كما حرره شيخنا زكريا . (ردالمحتارج۱ص: ۶۵۵.(۲) (قوله : ولم يصل عليه) اى سواءكان تام الخلق ام لا . (قوله ان انفصل بنفسه) امااذاانفصل كما اذاضرب بطنها فالقت جنينا ميتا فانه يرث ويورث لان الشارع لما اوجب الغرة على الضارب فقد حكم بحياته نهر اي يرث اذا مات:

(۱)باب صلاة الجنازه ج:۲ص:۲۲۸(طبع سعيد) (۲) الدرالمختار مع ردالمحتارج۲ص۲۲۸ط سعيد.

ابوه مثلا قبل انفصاله (ايضا)(۱) ددي عبارت څخه لاندنی فائدي حاصلی شوی (۱)... بعض اعضاء يعنی ديوی عضوی په جوړيدلو سره نسب ثابتيږی ،ځکه چی دهغه شفاعت دخپلو والدينو لپاره کاوه کيږي . (الف) وان السقط المحبنطا عند باب الجنة حتى يجئ ابواه لرزين(۲) (ب)(على رفعه : ان السقط ليراغم ربه اذا ادخل ابويه النار فيقال : ايها السقط المراغم ربه

ادخل ابويک الجنة فيجرهما بسرره حتى يدخلهما الجنة (۲) للقزوينى بضعف (کلاهما من جمع الفوائد) (۲)...علقمه چې دکوم سوال يادونه کړيده ،هغه دادي چې دمذکوره مراحلو څخه شفاعت په کومه مرحله کي کيږي .په هغه مراحلو کي دعلقه هم يادونه سته څرنګه چې په حديث کي دمور اوپلار لپاره دشفاعت ذکرشويدى ،لهذا که چيرى دنسب ثابتيدل دعلقه په مرحله کي نشي نو په سوال کي ددغه مرحله يادونه بي معنى وه اوجواب کونکى ته هم مناسب وه چې په سوال کئي ددغه غلط سوال راوړل ردکړى واى . (۳)... دعالمګيريه دي دغه عبارت هم په وړاندى کښى ښودل شي : ومتى انفصل الحمل ميتا انما لا يرث اذا انفصل بنفسه فاما اذا فصل فهو من جملة الورثة وبيانه انه اذا ضرب انسان بطنها فالقت جنينا ميتا فهذا الجنين من جملة الورثة لان الشرع اوجب على الضارب الغرة ووجوب الضمان بالجناية على الحى دون الميت فاذا حكمنا بحياته كان له الميراث ويورث عنه نصيبه كما يورث عنه بدل نفسه وهو الغرة. (ج۶ص۴۵۶)(۴)

اضافه پردغه دبحر الرائق دغه عبارت لان انفصاله حيا من البطن شرط لارثه – (ج۸ص ۵۰۳)(۵) وان فصل ميتا لم يرثه لانا شككنا في حياته وقت موت الاب بجواز انه كان ميتا لم تنفخ فيه الروح ويجوز انه كان حيا فلايرثه بالشک (ايضا)(۶) درد المحتار اوعالمګيرى دعبارت څخه معلومه شوه چې دژوند مخکى ترجلاوالى حکم پرتعميليږى، ولى که چيرى دژوند مخکى ترجلاوالى حکم ولګول شي نو بايد ديت ورباندي لازم شي ،لکه په دغه صورت کي چې کيږي چې کله تروهلو وروسته ګچنى ژوندى پيداشي اوبيا وروسته مرشي (دوهلو دسبب څخه) حاصل ئې داراښکاره کيږي چې دوهلو په وخت کي به بچى ژوندى بولي ،اوددغه وهلو په وجه سره مرګ مخکى ترجلاوالى ورته راغلى دى . که چيرى دنسب ثابتيدلو لپاره درحم څخه جلاوالى شرط ومنو نو لازمه به شي چې دوهلو له وجهى څخه به دګوچنى مړينه مخکى ترجلاوالى به واقع شوى وى نه هغه نه وارث جوړشو اونه دا موروث ،ځکه چې څه وخت جنايت واقع شوى وو هغه وخت دهغه نسب ثابت نه ؤو اوڅه وخت چې نسب ثابتيږى ،هغه وخت بيا دى ژوندى ندى نوکله چې لازم باطل شو نو ملزوم هم دهغه په مثل شو .

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ج۲ ص: ۲۲۸ (طبع سعید) (۲) جامع الاصول في احاديث الرسول ج۹ ص: ۵۸۸ (طبع مکتبة دار البیان ومکتبة الحلوانی) (۳) شعب الایمان للبیهقی ج۷ ص: ۱۳۹ (طبع دارالکتب العلمیة بیروت) (۴) الفتاوی الهندیة ج: ۶ ص: ۱۴۵۶ (طبع رشیدیه) (۵) البحر الرائق ط ج۹ ص: ۳۹۱ طبع دارالکتب العلمیة بیروت) (۶) البحر الرائق ج: ۹ ص: ۳۹۲ (طبع دارالکتب العلمیة بیروت.

بیا نو دبحر رائق دعباراتو څخه هم دغه معلومیږی ،دوارث جوړیدلو لپاره جلاوالی دنس څخه دژوندی شرط دی، سبب اوعلت ندی لکه نسب چی دی، اودنسب دجلاوالی څخه مخکی دثبوت دلیل شته چی دحمل لپاره په میراث کي حصه موقوفه پاته کیږي ،که چیری دجلاوالی څخه پخوا دنسب ثابتیدل نشی نومیږه لره دحمل په وخت کي دوفات کیدلو په صورت کي دحمل لپاره دیوی حصی دموقوف والی هیڅ اصل نشته . اوداشرط هم له دغه وجی څخه دی چی میراث اووصیت وغیره داحکامو تعلق دژوند یو سره وي .دمړوسره نه وی ،اوپه دغه صورت کي لکه څنګه چی دموجوده وخت انتهائي Sophisticated آلات نوی دژوندی والی قطعي علم دګوچنی دژوندی پیداکیدلو څخه کیږی، دغه یي دصاحبینو رحمهما الله وطرف ته داسی منسوبه کړیده : اما عند هما فان الاحکام انما تثبت للولد لا للحمل وانما یستحق اسم الولد با لانفصال ولهذا لا یستحق المیراث والوصیة الا بعد الانفصال . (۱) اوداغه وجه ده چی کله شریعت دغُره ایجاب وکړی نو دهغه لپاره فقهاؤ دژوندی والي حکم کښنی بنودی، ځکه چی دشریعت له طرفه څخه دغه ایجاب دګچنی پرژوندانه باندي دلیل جوړیږی، پاته شوه دنسب دثابتیدلو حکم نو هغه علحده دی دسقطی متعلق روایات اوهغه عبارات پردغه باندي دلیل دی ،اوپاته شو دجناب دا عبارت چی : ددي عبارت څخه صفا دامعلومیږی چی دصاحبین (ت) په نزد دحمل چی ترڅو جلاوالی نه وي راغلی ترهغه وخته پوری نه دنسب دقطع والی امکان شته اونه دنسب دثابت والی امکان شته ځکه چی هغوی دټولو احکامو دثابتیدلو څخه نفی کړی دی نو د ذکر شو پورته امورو په رڼاکی زما دهغه سره اتفاق نه وشو . والله تعالی اعلم .

اضافه پردغه باندي دحمل کم ترکمه شپږ میاشتی وخت دی، که چیری دآزموینتی بمبی دحمل

تردريو اويا څلورو ورځو وروسته دغه حاصله شوی علقه ورحم ته منتقله شي نو امکان سته چې په رحم کې دشپږ میاشتی څخه په دغه ورځو کم دی بچیٔ پیداشی . په دغه صورت کې انفصال که څه هم موجود دی لیکن دمستعار رحم والا ښځی ته دنسب ثابتیدل ممکن نسی کیدای اودا دعادت څخه دباندي هم نده . بالابد پردغه باندي هيڅ يو دليل داسی نشته چې دهغه په بناء دی ديوی عضوی دښکاره کيدلو څخه اودعلقی اومضغی په منځ کيدی دنسب دثابتيدلو فرق وشی . مطلقی حوالی په مخکنی عريضه کي وراندی شوی وي . (نور وضاحت په آخر کي ملاحظه کړی) د خبرو خلص دادی چې نه دنسب دثابت والی لپاره جلاوالی درحم څخه شرط دی ،اونه د اعضاؤتخليق شرط دی ،دآيات متعلق په مخکنی عريضه کي ذکرشوی خبری که قبولی نشی نو عرض دادی چې : ترکمه ځای چې دآيت، ان امهاتهم الا اللائ ولدنهم، تعلق دی (۲) نو دهغه دغورکولو څخه وروسته داخبره مخته راځی چې دامهاتو اضافه دمسلمانانو مظاهرينو طرفته ده ځکه چې دهغه

---

(۱)بدائع الصنائع ج:۳ص:۲۴۰(طبع سعيد) وفی دار الکتب العلمية بيروت ج:۸ص:۲۱۶ (۲)سورة مبادلة ۲۰ .

څخه مخکی دادی، الذين يظاهرون منکم من نسائهم ماهن امهاتهم، (۱) اوپه منکم کي دواړه دواړه داغه احتماله دی چې مخاطبين اول مراد دی اوکه ټوله اهل اسلام مراد دی ،داول احتمال په صورت کي هيڅ سوال نشی کيدای ،ځکه چې په دغه وخت کي ظهار کونکی چاچي زيږونه کړيوی بيله شکه دهغوی نطفی هم په تخليق کي شريکی دی ،اودويم احتمال په صورت کي دغه آئنده ترقيامته پوری پيشين ګوئي هم سوله چې دمسلمانانو څخه ظهارکونکی حقيقی مندي هغه کيدای شی چا چې هغه زيږولی هم وي . (اواول اومخته ذکر کړه شوی دلائلو په بناء خرنګه چې نطفه دنسب دثابتيدلو لپاره علت دی ،لهذا ددی خبری څخه بالابد داهم منل کيدلاشی چې دهغه نطفه دی په تخليق کي هم شريکه شی .) هغه چې مظاهرين نه وی دهغوی مند ی څوک دی ؟ دغه آيت ددی څخه ساکت دی ،د ذکرشوو پورته دلائلو په رڼاکی ددوي

دمندولپاره ضروري ده چې ده دوی نطفې دی دهغوی (یعنې غیرمظاهرین) په تخلیق کي دی شریکې وی. پاته شوه داچې هغوی به دوي تولید کړی هم وي نو دا ددی آیت دقیاس څخه ثابته شول او د قیاس څخه په ثابته شوی کي تاویل مشکل ندی پاته شو دغه آیات، ووصینا الانسان بوالدیه احسانا حملته امه کرها ووضعته کرها، (۲) نوپه دغه باره کي عرض دادی چې اول خو علامه آلوسی رحمه الله لیکلی دی : نزلت کما اخرج ابن عساکر من طریق الکلبی عن ابی صالح عن ابن عباس في ابی بکر الصدیق رضی الله تعالی عنه الی قوله تعالی (وعد الصدق الذی کانوا یوعدون) (۳) یو احتمال خو دادی چې لام دی دعهد شي، په دغه صورت کي ددغه آیت څخه استدلال نشي صحی کیدلای، اوکه چیری پرعموم باندي نظر وکړه شي ،بیا هم عرض دادی چې ددغه آیت څخه داستدلال ولی نشي کیدای چې حمل اویا وضع دحمل دنسب دثابتیدلو لپاره علت یاشرط دی ،بلکه دهغه یادونه صرف دبالابد احسان دحق والی دسبب په لحاظ سره ده، چې دهغه دلیل دادی چې دمور اوپلارسره دښه کردار وصیت شویدی ،په دغه نفس احسان کي مور اوپلار دواړه شریک دی، بیا دمور دزیات احسان دمستحق والی بیان شویدی، علاوه پردغه باندي ددي آیت تقاضا داهم معلومیږی چې مور اوپلار (یعنې ښځه اوخاوند) دواړو څخه دنسب دثابتیدلو علت دی یو وي لکه څنګه چې په نفس احسان کي دواړه سره شریکان شول ،اوهغه علت دی دبچې په تخلیق کي دنطفی شراکت. بیا نو د ذکرشوو پورته دلائلو په بناء باندي حمل اوایښودل دحمل شرط هم نشي مقرره کیدالا ی،اودمور سره دحمل اووضع دحمل ذکردعام عادت مطابق ده ،څکه چې کوم صورت تربحث لاندی دی هغه انتهائي نادره دی اوبالاتردغه دهغه نه جواز دهغه په نادروالی کي اضافه توب دی، زما دغه عبارت : ومستعار رحم ته ترانتقال کیدلو

---

(۱)سورة المجادلة:۲) (۲)سورة الاحقاف :۱۵) (۳) روح المعانی ج:۱۳ الجزء السادس والعشرون ص ۱۶ او۱۷ (طبع مکتبه امدادیه ملتان)

که چیرئي عدم امکان عقلي شي نو دمحال والي باید یو دلیل وي ،اوکه چیرې عادي شي نو ښکاره ده چې هغه پرموجوده طبي تحقیق باندي بناء ده ،چې دهغه دبدلیدلو هروخت امکان شته ،اوپه هرصورت دښځې دنطفې دګډوالي امکانِ عقلي پاته دي اوداسي امکان عقلي شرعا معتبر والي هم دبعض احکام شرعیه ؤڅخه معلومیږي ،مثلا، لایسقین ماء احد کم زرع غیره، (۱) ددي په جواب کي عرض دی چې دا دامورو عادیه ؤڅخه دي اوپه امورو عادیه ؤکي دنورو احتمالاتو عقلیه ؤاعتبارنشي کیدلای، دهغه معتبریدل دعادت څخه دباندي خبره ده اوښکاره خبره ده چې دغه صورت زموږ دبحث څخه خارج دی . لایسقین ماءاحدکم زرع غیره الحدیث، کي هم ذکرشویدی چې کرهنه دبل چاده اودحمل په وخت کي خو اول درحم خوله بالکل بندوي چې هیڅ شي نه شي ورداخلیدلای ،ثانیا دبچې شاوخوا پردې وي، ددې وجوڅخه داممکنه نده چې دحمل په دوران کي دې دیوه نارینه نطفه دې دګوچنی سره ګډه شي . لهذا دونه ویل کیدایشي چې دنطفې دنزدیکت له وجې څخه پرګچنی باندي دهغه څه اثرات پریوزی مثلا دګچنی دوربښتانو نشواونماء باندي اثر ولیږي ،لکه څرنګه چې شارحین فرمائي ،لیکن ددونې خبرې څخه نسب نشي مشتبه کیدلای . داغه رنګه دښځې نطفه دنارینه دنطفې سره ګډیږي اوحمل داره کیږي دهغې تولـه عمل دجناب به خدمت کي وړاندې شویدی . دغه ګډوالي اوحمل کیدل ئي فقط دنارینه دنطفې څخه کیږي ،علقه اومضغه وغیره سره نوی، بالابد پردغه باندي دحمل په وخت کي دښځې دنطفې وتل اودحیض بندیدل دي ،په میاشته کي یو وار دښځې نطفه یعنی هګی خروج کیږي ،نو ددغه دورانِ حمل ده دریدلو په صورت کي دمقابلي کولو لپاره درحم په دننه خانو کي تغیرات واقع کیږي . که چیرې حمل برقراره شي نو بیا سلسله مخته ځي ،اوکه حمل قرارونـنسي نو بیا درحم دننه خانې پوړسیږي چې دهغه له وجې څخه دوینو بهیدل شروع کیږي ،دغه نو دحیض وینه وي اوپه دغه کي هغه دښځې هګی هم خارجیږي . یو ه پله چې حیض ودریږي نو په بدن کي دتغیراتو په بناء باندي ددیرو زنانه هګیو دوتلو بندیدل کیږي اوهم دارنګه دحیض راتلل هم بند یږي . مستعار رحم هم اول ده دواوو په ذریعه باندي تیاریږي اوهغه تردغه مرحلې پورې رسول کیږي چې هغه علقه قبوله کړي . اوس

ښکاره ده چې دعادت مطابق دزنانه هګيو وتل نشي کيداى اوبالفرض که چيرى وشي هم هغه ښکاره کيږي موجوده علقه اويا مضغى سره دهغى ګډوالى نشي کيدلاى دغه ټوله امور پرليدلو اوتجربه باندي بناء دى صرف پرقياساتو باندي ندى .

(۱)سنن ابى داؤدج :۲ص:۲۰۴ (طبع دارالفكربيروت) والسنن الكبرى للبيهقى رقم ۵۳۶۶(طبع دارالبازمكة المكرمة

پاته شوه دجناب دغه وينا چې : ددي ښخه علاوه داخبره ددليل وړده چې دښځې دموروالى لپاره دهغى دنطفى ګډوالى ضرورى دى، صرف دهغى درحم ښخه تغذيه اودرحم ښخه پيداکيدل دمورووالى دثابتيدلو لپاره کافى ندى . په دغه باره کي ديرڅه وړاندى ذکرشوه ،اضافه چې کومه خبره کيږي هغه داده چې دنارينه ښخه دنسب دثابتوالى بنياد فقط دهغه نطفه ده ،نو داغه رقم چونکه دښځې هم نطفه پيداکيږي اوډګوچنى د اصلى تخليق بنياد ده دواړو نطفى دى اوپه اصلى خلقت کي صرف ده دوى له وجى ښخه جزئيت حاصليږى، لهذا دښځې ښخه دنسب دثابتيدلوبنياد هم دهغى نطفه کيداى شي . نمبر (۶) ښخه لاندى جناب چې دکومى نقطى وطرفته دوهم وارتوجه کړى ده، په هغه باره کي عرض دادى چې زه دا ويل غواړم چې په نفس الامر کي نطفى دکوم ميره اومايني (نارينه اوزنانه) نشي کيداى، دبچې نسب دهغوى ښخه بايد ثابت شي ،ځکه چې دغه خو ښکاره ده چې دغيرواده شوى مزنيي اولاد دنارينه ښخه نه ثابتيږى ،(۱) فقط والله تعالى اعلم طالب دعا عبدالواحد غفرله جامعه مدنيه کريم پارک راوى روډ لاهور .

داولاد دتولد اوتناسل دبندیدلو دتحریک شرعی حیثیت او په دغه سلسله کي د قاري محمد طيب صاحب رحمه الله موقف

سوال : تقریبا دوی هفتی شویدی چی ده دیو بند دمدرسی مهتمم صاحب درادیو سره مصاحبه کوله چی دغه پلان دتولد اوتناسل بندیدل بالکل صحی دی، ددي وضاحت وکری چي ددغه پلان عمل رواء دی او کنه ؟ جواب : دتولد اوتناسل دبندیدلو کوم پلا ن چی نن سبا روان دی، هغه دشریعت خلاف دی، دیوه علاحده انفرادی عذر په وجه داولاد دبندیدلو عمل شرعا جائز کیدای شی ،لیکن دعامی مفلیسی دبیری څخه داولاد دبندیدلو تحریک چلول صحی ندی

---

(۱) ددی څخه وروسته حضرت دامت برکاتهم العالیة دطرفه څخه کوم زاید جواب ندی ثبت شوی . حضرت دامت برکاتهم څخه شفاهی پوښتل شوه نو هغه وفرمائل چی غالبا زاید جواب ددی وجی څخه نه واستول شو چی دهغه رائه دحضرت مفتي عبدالواحد صاحب مدظلهم ذکرشوی پورتنی لیکنیو وروسته هم نه ده بدله شوی او دهغه موقف دادی چی دبچی نسب صرف صاحبة الرحم څخه علاوه دکوم بل چاڅخه نشی ثابتیدلای لیکن دیو قسم دلائلو دتکرار پرځای هغوی دانظر داوله څخه وړاندی کړی ؤو چی ددواړو طرف دلیکنو څخه دنورو مفتیانو په خدمت کي وادی ستول شی . اوس هم دغه لیکنه ددغه وجی څخه خپره کیږي چی نور اهل علم هم پردغه باندي غور وکړی (مرتب)

دعزل (دباندي تويدلو) اجازه هم ديوازيني اعذارو په بناء باندي دی . (۱) دمفلسی دبیری څخه وعزل کولو ته هیڅ چا رواندي ويلي . دمفلیسی مکمل تفصیل داحقر په رساله کی، ضبط ولادت، کي موجود دی چی په مکتبه دارالعلوم کراچی ۱۴ څخه ترلاسه کیدایشی . حضرت قاری محمد طیب صاحب مدظلهم تهوله الفاظ زموږ سره نشته هغوی به غالبا یوازنی عذرونو په بناء باندي دتولید دبندیدلو طریقه روابللی وی . والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۳۹۲/۱۲/۷هجري .

ده داسی رګ دپریکیدلو حکم چی دهغه څخه دتولید صلاحیت ختمیږي

سوال : که یوڅوک په زور باندي درګ پریکیدل وکړی چی دهغه دوجی څخه انسان داولاد قابله نشی کیدای په دغه باره کي دشریعت څه حکم دی ؟

جواب : داسی رګ پریکیدل شرعا بالکل ناروادی اویوڅوک په زوره ودغه کارته مجبوره کیدل نوره هم زیاده ګناه ده، دتفصیل لپارہ داحقرکتاب، ضبط ولادت، وګورئ ! . والله سبحانه وتعالی اعلم ۹۷/۴/۳هج (فتوی نمبر ۲۸/۳۷۹) .

دسترګودورکولو دوصیت حکم

سوال : آیا ویوچاته دځپل مرګ څخه وړاندی دځپلو سترګو دورکولو وصیت کولای شی اوکنه؟ (۲) دمرګ څخه وروسته سترګی کښل کیدایشی نو پرورکولو والا اوکښلو والا باندي کومه ګناه شته اوکنه ؟ مهربانی به موي که مو فتوای صادره کړه ؟

جواب: (او۲) دسترګودکښلو وصیت کونکی اویا دیو چادمړینی څخه وروسته دهغه دسترګو کښل ویو بل چاته ورلګول شرعا صحی دی اوکنه ؟ددی مسئلی دتفصیل لپارہ دحضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه رساله، اعضاء انسانی کي پیوندکاری، وګورئ ! والله سبحانه وتعالی اعلم . ۱۳۹۷/۸/۲۷هجری .

---

(۱)وفی رد المحتار کتاب الحظر والاباحة فصل في البیع ۴۲۹/۶(ویکره ان تسقی لاسقاط الحمل وجازلعذر)کالمرضعة اذا ظهربها الحمل وانقطع لبنها ولیس لابی الصبی ما یستآجربه الظئر ویخاف هلاک الولد قالو ا یباح لها ان تعالج في استنزال الدم مادام الحمل مضغة اوعلقة ولم یخلق له عضو وقدروا تلک المدة بمائة وعشرین یوما .وفی الفتاوی التتارخانیة ، شرب الدواء لاجل اسقاط الحمل قبل ان یصیر صورة یجوز عندالضرورة والکف عن هذا خیرو اولی (تتارخانیة کتاب النکاح ۲۱۶/۳ الفصل السادس والعشرون) وکذا في الطحطاوی علی الدر المختار کتاب الحظر والاباحة ۲۱۴/۴ .

دسترګو دورکولو شرعی حیثیت

سوال: نن سبا دسترګو دورکولو خبری اوریدل کیږي زما په خیال سره دغه یو واقعی انسانی اوغټ خدمت دی ،آیا په اسلامی دین کي روا دی ؟

جواب : دشرعی لحاظه څخه دیوه انسان عضوه وبل انسان ته ورلګولو اجازه نشته (۱). که څه هم هغه ددوارو جانبینو په رضاسره وی . ددي مسئلی نقلی اوعقلی تشریح اومفصل دلائل دمفتي اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه په رساله، اعضاءِ انسانی کي پیوند کاری، کي موجود دی که ضرورت وی هغه رساله وګورئ ! (۲) . والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۲/۱۰/۹۷.

---

(۱)لایجوز الانتفاع به بحال ما والادمی محترم بعد موته علی ماکان علیه في حیاته فکما یحرم التداوی بشئ من الادمی الحی اکراما له فکذلک لایجوز التداوی بعظم المیت .(شرح کتاب السیر الکبیر باب دواء الجراحة ۱۲۸/۱) اوهم دارنګه بدائع الصنائع کي راغلی دی ؛ ولوسقط سنه یکره ان یاخذ سن المیت فیشدها مکان الاولی بالاجماع . (بدائع الصنائع کتاب الاستحسان ۱۲۳/۵) (وکذافی الهندیة ج: ۵ ص؛ ۳۵۴ الباب الثامن عشر في التداوی والمعالجات) وعن عائشة ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ؛ کسر عظم المیت ککسره حیا . (سنن ابی داؤد ۱۰۱/۲ باب الحفار یجد العظم هل یتنکب ذلک المکان ـ(۲) اوهم دارنګه دزیات تفصیل لپاره دجامعه دارالعلوم کراچی مفصله فتوی سابقه ص : حاشیه نمبر او ۲ ملاحظه کری.

كتابُ الحَظرِ وَالإباحَة

(دحلال ،اوحرامُ ،درواء ،اودنارواء ،بيان)

فصل في الأكل والشرب

(دخورک اوچیښاک دمسائلو بیان)

دهغه شیانو دخورک حکم چی سائنس (ذائقه) اوشراب ورکښی ګډ شوی وی.

اودهغه پنیر (ګاړه) حکم چی انزائم (ویټامن) ورګډ شوی وي

سوال : (۱) دخورک خواږه شیان مثلا کیک، پیسټری، پیرینی، وغیره کي چی کوم سائنس(ذائقه) دخوشبویی لپاره وراچول کیږی، هغه په عام ډول سره د میوي اودګل دمادي سره دالکولو په ګډیدلو سره راوزی کله چی کیک، پیرینی، وغیره په (۳۰۰،۲۰۰) درجه ئی حرارت کي کښی ښودل شی نو هغه الکول په هواکی ورځخه پورته کیږي اوصرف دمیوی ،اوګل ،خوشبویي پاته کیږي ،آیا په خواږه شیانو کي دخوشبویی داچولو لپاره سائنس (ذائقه) استعمالول روا دی اوکنه ؟

سوال : (۲) په امریکه کي د پنیر (ګاړی) دجوړیدلو لپاره دیو (Enzyme) ویټامن استعمالیدل روادی اوکنه ؟ چی هغه دمردارشوی غوایي اوخنزیردمواد وځخه (Extract) جوس استل کیږي آیا ده داسی پنیر خوړل روادی ؟

جواب : (۱)... دخورک په شیانو کي دالکولو استعمالیدل بغیرددیره سخت ضرورت ځخه باید پرهیز وشی، البته که چیری واقعتا الکول په هواء کي پورته کیږي ،نو هلته بیا عامه ابتلاء شوه اوبل دخورک شی به هم نه پیداکیږی، هلته بیا ده داسی کیک داستعمالیدلو ګنجائش شته لکون المستطیر من عصارة الخمر مستحیلا وقال الشامی : و مقتضاه عدم اختصاص ذلک الحکم با لصابون، فیدخل فیه کل ماکان فیه تغیر وانقلاب حقیقة وکان فیه بلوی عامة فیقال : کذلک في الدبس المطبوخ اذاکان زبیبه متنجسا .... وکذا دردی خمرا صار طر طیرا وعذرة صارت رمادا اوحماة . (شامی ج:۱ص:۲۱۰) (۱)

(۱) رد المحتار کتاب الطهارة باب الانجاس ج ۱ص ۳۱۶ (طبع سعید) وفی البحر الرائق کتاب الطهارة باب الانجاس ج: ۱ص ۲۹۲ (طبع دار الکتب العلمیة بیروت) والسابع انقلاب العین فان کان في الخمر فلا خلاف في الطهارة وانکان في غیره کالخنزیر والمیتة تقع في المملحة فتصیر ملحا یؤکل ...وعلی قول محمد فرعوا الحکم بطهارة صابون صنع من زیت نجس . وفی الهندیة کتاب الطهارة الباب السابع في النجاسة الفصل الاول في تطهیر الانجاس ج، ۱ص ۴۵ (طبع رشیدیه) ومنها الاستحاله.....الحمار اوالخنزیر اذا وقع في المملحة فصار ملحا اوبئر البالوعة اذا صار طینا یطهر عندهما خلافا لابی یوسف الخ .

جواب : (۲)..... که چیری دغه انزائم (ویټامن) انفحه دحیوان اجزاء (وریښتان ،هډوکی ،) وی نوشاید د ناحلال شوی حیوان څخه به اخستل شوی وي ددغه پنیر استعمال روادی اوکه چیری دغه یوبل شی وي نو بیا ددغه پنیر حکم هم دادی چی په هغه کي داستعمال شوی انزائم (ویټامن) که چیرئ په دغه کیمیاوی عمل سره حقیقت بدلیږی، بیا دهغه استعمال روادی اوکه ئي حقیقت نه بدلیږی بیا نا روادی والله سبحانه اعلم ۹۷/۶/۲۸هج (فتوی نمبر ۲۸/۶۶۵ب)

جیلټین (ماتحله الحیاة) پرانفحه (مالا تحله الحیاة) باندي دقیاسولو حکم

(دپنیر او جیلټین څخه متعلق اهم تحقیق)

سوال: جیلټین هم دحیوان جز دی، که چیری رینټ وانفحه (لکه وریښتان ،هډوکی ،وغیره) دامام صاحب په نزد سره حلال دی، سره لدي چی حیوان په شرعی طریقه سره حلال شوی نه وی، نو جیلټین (غوښه ،وازګه ،وغیره) هم دحیوان جزدی اودحیوان په غیری شرعی طریقی سره دحلاله ولو سره سره دي پرانفحه باندي دقیاس کولو ګنجائش پیداشی، په دواړو کي اصولا کوم فرق په نظر کي نه راځی ،غیرله دغه څخه چی په پنیر کي نص (دلیل) سته اوپه دغه کي نشته ،اوداکوم خاص فرق ندی، په خاص دول کله چی بیا ئي عام نصوص معلوموي، مهربانی به موي که مو لاربنونه راته وکړه ! ابراهیم دیسائي جواب: محترم قدرمند جناب مولانا ابراهیم

دیسای صاحب مدظلهم العالی، السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !! ستاسو دغه خط دفیکس په ذریعه سره په تاریخ ۲۴ داکتوبر کال ۱۹۹۶ع ومونږ ته راستول شوی ؤو. مادهغه جواب دډاک په غوښتنه ددي وجی څخه اینبی وو چی په اطمنان سره به جواب ورکوم لیکن ددي څخه وروسته یو په بل پسی سفرونه شروع شوه چی هغه په ډاک کي پاته شو اوزه ولاړم اودجواب موقع نشوه پیدا ،اوس څه ډول ده پخوانی ډاک دکتلو مرحله راغلی ده ،نو درته دغه ځولیکی لیکم ،امید دی چی له ځنډ څخه مو معاف کړی. تاسو لیکلی ؤچی څرنګه امام ابوحنیفه رحمة الله علیه دغیرمذبوح حیوان (انفحه) یا Rennet حلال بللی دی هم دغه رقم دی جیلټین (Gelatine) هم پرهغه باندي قیاس شی او جائزدی وبلل شی دغه ګنجائش معلومیږی. په دغه سلسله کي عرض دادی چی جیلټین پر انفحه باندي قیاس کول دټولووجوهو څخه صحی نه معلومیږی، درینټ یا انفحه د حلال والی وجه داده چی انفحه دحیوان وهغه اجزاؤ ته ویل کیږي چی (مالا تحله الحیاة) ورته ویل کیږي لکه : وریښتان، ښکرونه ،هډوکی ،وغیره اودمردارحیوان دغه اجزاء داحنافو په نزد پاک دی، لیکن هغه اجزاء چی (ماتحله الحیاة) کي داخل دی لکه غوښی، وازګه، پوستوکی ،وغیره ،چی بغیر دشرعی حلالیدلو څخه نه پاکیږي. علامه کاسانی (رح) فرمائلی دی : واما الذی له دم سائل فلا خلاف في الاجزاء التی فیها دم من اللحم والشحم والجلد ونحوها انها نجسة ،لاحتباس الدم النجس فیهاوهو الدم المسفوح واما الاجزاء التی لا دم فیها فان کانت صلبة کالقرن، والعظم، والسن ،والحافر، والخف ،والظلف، والشعر، والصوف، والعصب، والانفحة ،الصلبة ،فلیست ینجسة عند اصحابنا (بدائع الصنائع ص : ۶۳ ج: ۱) (۱) داغه رقم په درمختار کي دی دانفحه دطهارت بیان ئي کړی دی داالفاظ دی چی : وکذا کل مالاتحله الحیاة حتی الانفحة واللبن علی الراجح ......طاهر. (الدرالمختار مع ردالمحتارج: ۱ص: ۲۰۶) (۲) ددي څخه هم معلومه شوه چی دانفحی دپاکی علت دهغی د، مالاتحله الحیاة، څخه ښتون دی داغه رقم دهغی پاکی اودخورک پرجوازئي نصوص هم سته، لکه چی اما م ابوبکر جصاص رحمة الله علیه فرمائي : ویدل علی ذلک ایضا ـ ماروا ه شریک عن جابر عن عکرمة عن ابن عباس قال : اتی النبی صلی الله علیه وسلم في غزوة

الطائف بجبنة فجعلوا يقرعونها بالعصا فقال، : اين يصنع هذا ؟ فقالوا بأرض فارس فقال، اذكروا اسم الله عليه وكلوا، ومعلوم ان ذبائح المجوس ميتتوقد اباح عليه السلام اكلها مع العلم بانها من صنعة اهل فارس وانهم كانوا، اذذاک مجوسا ولاينعقد الجبن الا بانفحة ،فثبت بذالک ان انفحة الميتة طاهرة . (احكام القرآن للجصاص ص: ۱۲۰ ج: ۱ باب انفحة الميتة ولبنها) (۳)اوس د جيلټين صورت حال دادی چی زما دمعلوما ت تراندازی پوری اکثره اوزيات دحيوانانو دپوستوکی څخه جوړيږی ،البته کله کله دهډوکو څخه هم جوړيږی که چيری هغه دخنزير څخه علاوه ديو حلال حيوان دهډوکو څخه جوړشی بيا هم هغه پر، انفحه، باندي قياسيږی ځکه چی هډوکی هم په، مالا تحله الحياة، کي داخل دی کله چی دانفحی دپاکی علت داشو چی د مالاتحله الحياة، څخه شو . البته دپوستوکی څخه جوړکړه شوی جيلټين کي د گنجائش يو بل اړخ هم معلوميږی او هغه دا چی که څه هم په هغه باره کي دعصری علماؤ رائيي مختلفی دی چی دپوستوکی څخه جيلينټين حاصلولو په عمل کي دماهيت بدليدل راځی اوکنه ؟ ليکن يوه خبره تقريبا يقينی ده چی جيلټن په اصل کي د (Collagen) څخه حاصليږی اوددي کارلپاره دپوستوکی دپريوللو ،اودآهاک ورباندي لګول، اوپخول اودنورومختلفو کيمياوی مرحلو دتيريدلو په نتيجه کي دهغه (دباغت ضروری کيږی، ځکه چی ده دباغت حقيقت دادی چی پرپوستوکی باندي چی دوينوکم اثرات اولندوالی پاته کيږي هغه ليری کوی لکه چی علامه کاسانی دباغت يوه طريقه دپاکی بللی ده اووجهی ئي بيان کړيدی اوليکي : ولان نجاسة الميتات لما فيها من الرطوبات والدماء السائلة انها تزول بالدباغ فتطهر كالثوب النجس اذاغسل (بدائع ص: ۸۵ ج : ۱) (۴) دپوستوکی څخه دجيلټين دحاصليدلو لپاره دهغه دداسی يوه اوږده عمل څخه تيريدل دهغه ددباغت مقصد يقينا

---

(۱)فصل في الطهارة الحقيقية ط سعيد (۲)كتاب الطهارة باب المياه ط .سعيد (۳) طبع سهيل اكيدمی لاهور)(۴) كتاب الطهارة فصل واماييان مايقع به التطهير طبع سعيد .

حاصلیږی ،څکه چې پوست اول په ساده اوبو کې پریولل کیږي بیا داهاکو په اوبو اوپه مختلفو تیزابو سره پریولل کیږی، چې دهغه په نتیجه کې دپوستوکی وینه ،وریښتان، اونور (Non-collagenous) اجزاء صفاکیږي ،په دغه ټوله عمل کې ددرو څخه تر آتو هفتوپوری وخت تیریږی بیا کولاجین په جیلټین سره دبدلیدلو لپاره دغه پر اور باندي تقریبا شپږ هفتی پخیږی ،چې دهغه په نتیجه کې یو محلول تیاریږی دغه محلول (ماده) هروارصفاء کیږي چې دهغه جراثیم وژل کیږي اوهغه لندوالی ئي لیری کیږي بیا چې هغه یخ کړشی نو ورڅخه جیلټین تیاریږی . دغه ټوله عمل د دباغت لپاره بیله شبهی کافی دی ،اوده دباغت څخه خو مردار پوست هم پاک کیږي له هم دغه وجی څخه جیلټین که دمردارحیوان دپوست څخه جوړشی بیا هم دهغه په پاکی کې شبه نه پاته کیږي . البته خنزیر ځرنګه چې نجس العین دی ددي وجی څخه دهغه پوست نه په دباغت سره پاکیږي اونه ئي هډوکی په مالاتحله الحیاة په وجه سره ورته پاک ویل کیدایشی ،لهذا کم جیلټین چې دخنزیردپوستوکی اویا هډوکو څخه جوړشوی وی دهغه حکم پردغه خبره باندي موقوف دی چې دجیلټین دجوړیدلو څخه دیوشی په ماهیت کې انقلاب راځی کنه ؟ (۱) اوپه دغه مسئله کښی اوس هم واحقرته تردد شته . ولعل الله یحدث بعد ذلک امرا . والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۴شوال ۱۴۱۷ھ(ف۴۷/۲۵۵)

دسروزرو اوسفینو زرو په لوښوکی دخورک حکم

سوال: دسفینوزرو اوسروزرو په لوښوکی خوړل روادی اوکنه ؟ جواب:(۲)هیڅ کله ندی رواء

---

(۱)وفی الدر المختار۱/۲۱۵ط سعید) ویطهر زیت تنجس بجعله صابونا به یفتی للبلوی وفی الشامیة : ثم هذه المسئلة قد فرعوها علی قول محمد بالطهارة بانقلاب العین الذی علیه الفتوی واختاره اکثر المشایخ خلافا لابی یوسف کما فی شرح المنیة والفتح وغیرهما .

(۲)وفی الهدایة ج: ۴ص:۴۵۳(طبع رحمانیة) ولایجوز الاکل والشرب والادهان والتطیب فی انیة الذهب والفضة للرجال والنساء . وفی الدر المختار ج: ۶ص: ۳۴۱ (طبع سعید) وکره الاکل والشرب والادهان والتطیب من اناء ذهب وفضة للرجل والمرآة وفی الهندیة کتاب

الکراهیة ج: ۵ص: ۳۲۴ (طبع رشیدیه) یکره الاکل والشرب والادهان والتطیب في آنیة الذهب والفضة للرجال والصبیان والنساء. کذا في السراجیة.

دمړی درېیمه ورځ لمانځل او په هغه کښی د پخلي دخوړلو حکم

(تفصیل دترتیب ورکونکی څخه)

(درېیمه، پنځلسی، یوولسمه، ددی مسائلو متعلق که څه هم دسنت اوبدعت جلاوالی شته ددي لپاره فتاوی عثماني ج اول مخ ۱۰۱و۱۰۲و۱۰۷و۱۲۵و۱۲۶باندي پردغو موضوعاتو حضرت دامت برکاتهم فتوای موجود ده بیاهم دلته ددی ځای متعلق ؛فصل في الاکل والشرب: کښی لاندی دوي فتواوي له دي وجهی څخه شاملی کړل شوي چی په دغه فتواوو کښی ددغه رواجو د(سنت اوبدعت) پرحیثیت باندي ترحدزیاد خاص بیاپه دغه موقع کښی دپوخ کړل شوی خوراک متعلق تفصیلی حکم بیان شوی دی لکه څرنګه چی ددغه سوالو اوجوابو څخه معلومیږی . سوال :په درېیمه چی کوم خوراکونه تیارېږی دهغه روښانه حکم راوښیاست. جواب: ده درېیمي ورځی اوداسی نورکم رواجونه چی کول کیږي په هغه کښی شریک کیدل اوپه هغه کښی خورکه خوړل نارواده ،لیکن هغه خورک په خپل ځان کښی حرام ندي . که چیری دحرمت بله وجه نوي نوخورکه ددغه وجي څخه نه حرامیږی ،البته : په دغه رواجو کښی کله کله داسی وي چی دوارثانو داجازی څخه بغیر دمړی دپاتي سوي مالو څخه خورکه پخول کیږي ،کله په وارثینو کښی نابالغه کچنیان هم وي اویاداسی اولاد وي چی دهغه اجازه شرعا نه صحی کیږی، اویا په دغه اندازه روپو خرڅه ولو باندي ټول وارثین راضی نوي نوکه چیری داسی قسم یوه نارواء وجه وي بیا نو هغه خورکه هم نارواګرځی ،لیکن فرض کړی که چیری یو څوک دخپل شخصی روپو څخه دغه د درېیمي خورکه تیاره کړی دصدقی اویا دمیراث روپی په ګډی نه وي نوبیا دغه خورکه په خپل ځان کي حرامه نده . په دغه مجلس کي ګډون کول نارواادی، اوس فرض کړی که یو څوک دغه خورکه ستاسو کورته واستوی بیا دهغه

په خوړلو کي ګناه نشته، اوددغه خورکی واستولو والاته به دابنيي چی زه ده داسی رواجو منونکی نه یم اودغه رواجونه صحی ندی .والله اعلم

دپنځلسی دشپې حلوه او دمیاشتي دیوولسمي دخورکې دخوړلو حکم

سوال: دبرات دپنځلسی دحلواوو اودمیاشتی دیوولسم دخورکو شرعی حکم څه دی ؟ خاص بیا په دغه ځایو کي دخورک په اړه پوښتنه ده ایا دغه خورکي دپنځلسی اویا دمیاشتی دیولسم حلواوی اویادنور پخلي خوړل اواستعمالول روادی اوکه څنګه ؟ جواب : ده دي ټولو احکام جلاجلا دي، دپنځلسی حلواوی خو اوس خلق صرف دیو عادت په بناء باندي پخوي په دغه کنبی دیو بل چا نوم نه اخستل کیږي ،پخول ئي ضروری ګڼل اویاسنت بلل خوبدعت دی لیکن هغه حلواحرمه نده . که چیری دیو ځای څخه حلوا راغله اوهغه وخوړل شوه نو انشاءالله ګناه نه لری ،پاته شوه داچی دمیاشتی دیوولسم خورکه پخوی په هغه کي نه پوهیږم چی څه څه خرافاتی کوي په هم دی وجی ده هغه څخه حتی الوسع پرهیز کول پکاردی، که چیری دالله جل جلاله دنامه څخه بغیر دیو حیوان حلالیدل وشی دهغه خوړل قطعا حرام دی . اوکه د غیر الله په نامه باندي حلالیدل نوي شوی لیکن نذر ئي کړی وی اوپه نذرکئی دغیر الله دخوشحاله کولو لپاره ئي هغه کار کړی وي که څه هم په دغه کنبی داسی حرمت نه راځی لیکن دغه کار په خپل ذات کي حرام دی ،اوس داخبره معلومول په کاردی چی چا څه رقم دغه کارکړی دی داغښ مشکل دی له هم دغه وجی څخه ددغه څخه پرهیزکول پکاردی . والله اعلم

فصل في اللباس والزينة

(دکالو اولباس اودزیب اوښکلاء مسئلي)

دمنعه شوی وریښم تعریف اودنارینه ؤلپاره داصلي اومصنوعی وریښم داستعمال حکم

سوال: دوربښمینی جامي چی دهغه متعلق رسول صلی الله علیه وسلم دنارینه ؤلپاره ئي اغوستل حرام بللي دی ،ددغه صحی تعریف څه دی ؟ سمر، تترون، کیرالئین، بوسکی، زنانه ندتن، ساتن، شنیل، ددغو څخه کوم وربښمیني جامي دی ؟ ایاداصحی ده چی دنارینه ؤلپاره چی کوم وربښم حرام دی هغه صرف د چنجیانو څخه تولید شوی وربښم دی . ددي څخه علاوه نن سبا چی علماءکرام کم وربښمین دسملان، اویا دډبلی والا دسملان، اویا دمکی اویامدینی څخه راوړل شوی سفین رنګه دسملان . چی پرسر تړل کیږي اویا پراوږو باندي اچول کیږي داصلی وربښموپه تعریف کي راځی اوکنه ؟ اودهغه استعمال رواء دی اوکنه؟ جواب : په حدیث شریف کي د (حریر) ممانعت راغلی دی . (۱) ددغه تعریف ټول اهل لغتو په (الابریسم المطبوخ) سره کړیدی (وګوری المغرب) (۲) له هم دغه وجی څخه صرف هغه جامی منعه شویدی کم چی دچنجیو څخه ایستل شوی وربښم دی . (۳)په هغه کښی هم داتفصیل دی که چیری لاندنئ تاروربښم وی اوباندنئ تارکوم بل شی وی بیا هغه دنارینه ؤلپاره منعه ندي، (۴) هوکي مکمل وربښم اویا باندنئ تاروربښم اولاندنئ کوم بل شی وی بیا ئي هم استعمال منعه دی .(۵)

(۱)وفی سنن الترمذی ابواب اللباس باب ماجاء في الحرير والذهب للرجال ج: ۱ص: ۳۰۲ (طبع قديمی کتب خانه) عن ابی موسی الاشعری ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال : حرم لباس الحرير والذهب علی ذکور امتی واحل لاناثهم . (۲تا۶) المغرب فصل الحاء مع الراء: ۱ص: ۱۹۴ (طبع مکتبة اسامة بن زيد حلب) وفی المصباح المنير في غريب الشرح الکبير کتاب الحاء راتلونکی

اوس چی څومره چنجیان په اوس وخت کي مروج دی هغه ته دی پردغه اوصولو باندي وکتل شی چی وهغه ته شرعا وربښمینی جامی ویل کیږي اوکنه ؟ په اوس وخت کي زیاتره جامي په میکانکي ډول سره جوړیږی، دچنجیانودوربښمو څخه ندی، له هم دغه وجی څخه دهغه اغوستل دوربښمو جامو داغوستلو په حکم کي ندی، نائیلن، تترون، وغیره هغه هم په دغه حکم کي راځی . البته د (بوسکي) په باره کي ترکمه ځایه چی ماته معلومات شته هغه دخالص

وريښمو څخه جوړيږي، له هم دغه وجې څخه دهغه اغوستل دنارينه ؤ لپاره رواء ندي . (۶)
الجواب صحيح بنده محمد شفيع والله اعلم .

احقر محمد تقي عثماني عفی عنه ۱۳۹۱/۵/۲۵ (فتوی نمبر ۲۲/۶۸۶ب)

بيله لنګوټې څخه صرف دخولي دپرسر کولو حکم

محترم المقام حضرت مولانا مفتي محمد تقي عثماني صاحب دامت برکاتهم

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته :

د حکيم الامت حضرت تهانوی قدس سره د مکتوبات، ملفوظات وخطبات ،خلاصه (دحضرت په الفاظو کی) ؛؛ دوائي دل ؛؛ په نامه سره مرتب شويده چی دهغه په صفحه ۵۷ باندي ملفوظات کمالات اشرفيه په حواله سره دغه لاندی الفاظ موجود دی . تواضع عاجزی مهمه ده يو چا خپل حال ليکلی وو چی دلنګوټې ترل خاص بيا په جمعه اوپه اخترو کي په وجه دحياء او شرمندګی ئي پريښودل کيږي اوکنه ؟ دسنت دپريښودلو په وجه سره وحياء ته دترجيح ورکولو همت نشی کيدای ؟

په جواب کئي وفرمائل چی دامقصوده سنت ندی، بيا نو وبل طرفته تواضع هم سنت ده، چی دهغه بعض افراد واجب هم دي، نودمقصوديت شان په تواضع کي زياد دی نسبت ولنګوټي ته .

ج :۱ص: ۱۲۹ (طبع المکتبة العلمية بيروت) وفی رد المحتار فصل في اللبس ج: ۶ ص: ۳۵۱ (طبع سعيد قال في المغرب ، الحرير الابريسم المطبوخ وسمی الثوب المتخذمنه حريرا وفی تنوير لابصار مع الدرالمختار فصل في اللبس ج: ۶ص: ۳۵۶ (طبع سعيد) ويحل لبس ما سداه ابريسم ولحمته غيره ككتان وقطن وخز لان الثوب انما يصير ثوبا بالنسج والنسج باللحمة فكانت هی المعتبر دون السدی وفی الهندية کتاب الحظر والاباحة الباب التاسع في اللبس مايكره من ذلک ومالايكره ج: ۵ ص: ۳۳۰ و۳۳۱ (طبع مکتبة رشيديه کوئته) يجب ان يعلم ان لبس الحرير وهو ماکانت لحمته حريرا وسداه حريرا حرام على الرجال في جميع الاحوال الخ هم دارنګه دزيات تفصيلاتو

لپاره وګورئ: دحضرت دامت برکاتهم العالیه په کتاب تقریر ترمذی ج: ۲ص: ۳۲۹ وص: ۳۳۰ (طبع میمن اسلامک بکس وامداد الفتاوی احکام متعلقه لباس ج: ۴ ص: ۱۲۶ و۱۲۷ (طبع مکتبة دارالعلوم کراچی وامداد الاحکام ج: ۴ ص: ۳۲۳).

دهغه محترم څخه غوښتنه کيږي چې پردغه لوړو ويل شو کلماتو باندې یو څه تفصیلي کلمات وليکي ځکه چې دلنګوټي په باره کي دنقشبندي طریقې دمشائخو ډیر اسرار او التزام معلومیږي ستاسو دليکني څخه دشرعي مسئلي دوضاحت سره سره دحضرت رح د ذوق هم وضاحت کيږي . دعامې فائدې لپاره به ستاسو ليکنه به په خپله میاشتنۍ رساله : محاسن اسلام، کي هم خپره کړو ډیر امید مو دی چې محاسن اسلام رساله به ستاسو له مبارک نظر څخه تیره شوی وي بیا هم ددغه یو څو داني به دنوي کتابو (دوائي دل) سره ستاسو وخدمت ته درولیږم احقر محمد اسحق عفی عنه ملتان.

جواب : الحمدلله رب العلمين والصلوة والسلام على رسوله الكريم وعلى اله واصحابه اجمعين وعلى كل من تبعهم باحسان الى يوم الدين.

حقیقت دادی چې حضرت حکیم الامت قدس سره دلنګوټي په اره چې کم څه په دغه ملفوظ کي فرمائلي دی . هغه صحی اومعتدل موقف دی . یقینا درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دلنګوټي تړل ثابت دي، لهذا ددغه سنت په اتباع کي دلنګوټي تړل باعث داجر اودخیر اوبرکت سبب دی، لیکن لکه څنګه چې حضرت وفرمائل : چې دادمقصود دی سنت څخه ندی ،ځکه چې دانحضرت صلی الله علیه وسلم څخه دخولي پرسر کیدل هم په متعددُ روایاتو باندي ثابت دی، اوبعض حضراتو چې څه ویلی دی چې دلنګوټي څخه بغیر صرف دخولي پرسر کیدل دمشرکینو دعمل په وجه مکروه دی، کما نقله العلى القارى عن بعض العلماء في مرقاة المفاتيح ج : ۸ ص: ۱۴۷ کتاب اللباس) ددي په بناء دحضرت رکانه رض حدیث دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمائلی دي ؛: فرق ماييننا وبين المشركين العمائم على القلانس .زموږ اودمشرکینو په منځ کي فرق پرخولیو باندي دلنګوټو په تړلوسره کيږي ،ددي مطلب هغه بعض حضراتو دافهمولی دی چې مشرکین صرف خولی پرسر کوی اومسلمانان پرخولیو باندي لنګوټي هم

تړی، (۲) لیکن اول خو دغه حدیث ضعیف دی امام ترمذی رح ددي دروایت کولو څخه وروسته فرمائیلی دی، هذا حدیث حسن غریب واسناده لیس بالقائم .(۳) وامام ابوداؤدرح هم دغه حدیث ذکر کړیدی .(۴) لیکن هغه هم دابوالحسن عسقلانی او دابو جعفر بن محمد ابن رکانه څخه روایت کړیدي (۵) چی دهغه څخه امام ترمذی رح دغه حدیث روایت کړیدی اودغه دواړه راویان مجهول دی اوحافظ منذری رح بیا له دی وجی څخه پردغه حدیث باندي خبره کړیده دامام ترمذی پرنظر باندي ئي اعتماد کړیدی (تلخیص المنذری ص: ۴۵ ج: ۶)(۶) دوهم دا ددغه حدیث مطلب علامه طیبی رح دابیان کړیدی چی مشریکینو ترلنګوټولاندی خولی نه پرسر کولی اومسلمانانو بیا ترلنګوټولاندی خولی پرسر کولي. (حاشیي په راتلونکی صفحه کښی وګوری)

ای الفارق بیننا انا نحن نتعمم علی القلانس وهم یکتفون بالعمائم؛ یعنی زموږ اوددوی ترمنځ فرق دادي چی موږ پرخولیو باندي لنګوټی تړو اوهغوي صرف پرلنګوټوباندي اکتفاء کوي (الکاشف عن حقائق السنن للطیبی رح ص: ۲۱۶ ج: ۸)(۱) اوهم دارنګه ملا علی قاری رحمة الله علیه دعلامه ابن الملک اودبعضی نورو شراحو دحدیث څخه هم دحدیث دغه تشریح نقل کړیده (مرقاة المفاتیح ص: ۱۴۷ ج: ۸ کتاب اللباس) ددي پرعکس داتشریح چی مشرکین عمامه لنګوټه نه پرسر کوی صرف خولی پرسر کوی ملا علی قاری رح دجزری په حوالو دبعضی نامعلومه علماؤ څخه نقل کړیدی. (۲) اودمعلومو علماؤ څخه ئي صرف دمیرک رح حواله ورکړیده، اودغورکولوڅخه دغه تشریح صحی نه معلومیږی. (۳) ځکه چی اول خو دعرب په مشرکینو کي دعمامی لنګوټی رواج وو، بلکه دادهغوی شعار بلل کیدی (د تفصیل لپاره ملاحظه کړي؛ المفصل في تاریخ العرب قبل الاسلام لجوادعلی ص: ۴۸تر ۵۲ پوری چی په هغه کښی هغه وائي: والعمامة هی فخرهم وعزهم وافخر ملبس یضعونه علی رؤسهم.(۴) اوپه اخیر کښي لیکلی دی: وجعلوا العمامة شعارا للعرب ورمزالهم اذازال زالت عروبتهم. دریم. ددی تشریح څخه چی کومه نتیجه راؤوتله چی دلنګوټی څخه بغیر دخولی پرسرکولو سره دمشرکینو سره مشابهت دی، نوپه دغه وجه هغه مکروه شوه.

داخبره په دغه وجه صحی نده چی په متعدد روایاتو کي خپله درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اودصحابه کرامو رض عنهم څخه صرف دخولی پرسرکیدل مروی دی مثلا: (۱)... په صحیح بخاری کښی دحضرت حسن بصری دغه قول ئي تعلیقا نقل کړیدی چی: ان اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم کانوا یسجدون وایدیهم في ثیابهم ویسجد الرجل منهم علی قلنسوته وعمامته؛؛ (صحیح بخاری، کتاب الصلاة باب السجود علی الثوب ص: ۵۶ج:۱ (۲) په مصنف عبد الرزاق کښی دغه اثر موصولا تقریبا په دغه الفاظو سره مروی دی. (فتح الباری ص: ۴۹۳ج: ۱)(۴) ددي مطلب دادی چی صحابه کرامو رض پرلنګوټوباندي هم سجده کوله اوپرخولیو باندي هم، ښکاره خبره ده چی پرخولیو باندي سجده کول هغه وخت

دتیری شوی صفحی حواشی، (۱) الفصل الثانی رقم الحدیث ۴۳۴۰(طبع رشیدیة) (۲) وفی مرقاة المفاتیح ۴۳۴۰(طبع رشیدیة ..... ای نحن نتعمم علی الفلانس وهم یکتفون بالعمائم الخ (۳) سنن الترمذی ابواب اللباس ج. ۱ص: ۳۰۸ (طبع قدیمی کتب خانه) (۲و۳) سنن ابی داؤد کتاب اللباس باب في العمائم ج ۲ص: ۲۰۷ و ۲۰۸ (طبع سعید) (۴) طبع المکتبة العصریة) (۵) طبع ادارة القرآن والعلوم الاسلامیة) (۶) مرقاة المفاتیح رقم الحدیث ۴۳۴۰ (طبع رشیدیه) (۷و۸) مرقاة المفاتیح رقم الحدیث ۴۳۴۰ (طبع رشیدیة کوئیټه).

(۱و۲)باب اللباس ج: ۹ص: ۴۸تر ۵۲پوری طبع دارالساقی، موقع مکتبة المدینة الرقمیة. (۳) باب السجود علی الثوب في شدة الحر وقال الحسن: کان القوم یسجدون علی العمامة والقلنسوة ویداه في کمه ج ۱ص: ۸۶ (طبع دار طوق النجاة وفی طبع دارابن م کثیر یمامه بیروت ج: ۱ص: ۱۵۰ (۴) ج: ۲ص: ۳۲۸ (طبع دار المعرفة بیروت).

متصوره کیدای شي چی کله دهغه سره عمامه نوی، که چیری خولی ترلنګوټی لاندی وي نو هغه خو په لنګوټه کښی پټیږی نو له دی وچی څخه پرهغه باندي سجده نه وشوه، (۲)........متعدد محدثینو دحضرت عمررضی الله عنه داحدیث روایت کړیدی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم په جهاد کښی دشهید شویو څلورقسمه بیان کړیدی: اوداول قسم یادونه کوی اوفرمائیلی ئي دی: چی دهغه درجه به دونه لوړه وي چی خلق به دهغه وطرفته داسی سرورپورته کوي اوورته ګوری به دائي ووئیل سرمبارک ئي دونه پورته کړی چی دسرڅخه ئي خولی ولیده روای وائي چی وماته په دی کښی شک دی چی خولی درسول صلی الله علیه وسلم ولیده اوکه حضرت عمررضی الله عنه داحدیث روایت کوي سرمبارک ئي

پورته کړی اوده خولی دسرڅخه ولیده (جامع ترمذی ص: ۲۹۳ ج: ۱ (۱) ومسند احمد ص: ۲۲ ج: ۱ (۲) (۳)...حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه په معجم طبرانی کښی روایت شویدی : ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یلبس قلنسوة بیضاء ؛؛ (مجمع الزوائد ص :۲۱۱ ج: ۵ حدیث :۸۵۰۵) (۳) پردغه باندي علامه هیثمی رح داتبصره کړیده چی :فیه عبدالله بن خراش وثقه ابن حبان وقال : وربما اخطاوضعفه جمهور الائمة وبقية رجاله ثقات (۴) ددي څخه وروسته هغوی دغه حدیث په یو بل ضعیف سند سره نقل کړیدی چی دعبدالله بن خراش متابعت کوی (۵) (۴).......علامه عراقی په شرح ترمذی کښی فرمائیلی دی : اجوداسناد في القلانس مارواه ابو الشيخ عن عائشة : كان يلبس القلانس في السفر ذوات الآذان وفی الحضر المضمرة يعني الشامية . دخولیو په باره کي ترټولو صحی سندهغه دی کم چی ابو الشیخ رح دحضرت عائشه رضی الله عنها څخه نقل کړیدی چی رسول الله په سفرکی دغوږو والا خولی پرسرکوله اوپه کور کښي بیله غوږو والاپرسرکوله (شامی خولی) (اتحاف السادة المتقين ص: ۱۲۹ ج: ۷) (۶) ښکاره خبره داده چی په دغه روایاتو کي درسول الله دخولی دپرسر کولو کمه یادونه شویده هغه بیله لنګوټی څخه لکه چی امام غزالی رح اوعلامه ابن قیم رح فرمائي : وكان يلبسها تحتها القلنسوة وكان يلبس القلنسوة بغير عمامة ::اورسول صلی الله علیه وسلم لنګوټه ترله پرخولی باندي اودلنګوټی څخه بغیرئي هم خولی پرسرکوله(احياء العلوم مع شرح الزبیدی ص: ۱۲۹ ج.۷) (۷)وزادالمعاد ص:۱۳۵ج:۱ فصل في ملابسة رسول الله صلى الله عليه وسلم.(۸)

---

(۱)سنن الترمذی فضل الشهداء عندالله ج: ۴ ص: ۱۷۷ (طبع داراحیاء اتراث العربي بيروت وفی طبع دارالفكر بيروت ج: ۳ ص:۹۸ (۲) مسند احمد الجزء الاول ج: ۱ص:۲۹۳طبع مؤسسة الرسالة بيروت وفی طبع مكتبة مؤسسة قرطبة قاهرة ج:۱ص:۲۲) (۳تر۵) باب في القلنسوة ج: ۵ص:۲۱۱و۲۱۲(طبع دارالفكربيروت) (۶) ج:۸ص: ۲۵۵ (طبع دارالكتب العلمية بيروت)(۷) اتحاف السادة المتقين شرح احياء العلوم ج: ۸ص:۲۵۴(طبع دارالكتب العلمية بيروت) واحياء العلوم مع تخريج الحافظ العراقی ج: ۲ ص:۴۴۴(طبع بيروت)(۸)ج:۱ص:۸۸(طبع داراكتب اعلمية بيروت).

ددي ځخه علاوه دصحابه رض او دتابعينو رح ځخه صرف دخولی دپرسرکولو په باره کي په ډيرو رواياتو کښی په درجه داستفاضي مروی دی :دهغی جملی ځخه لکه حضرت وابصه بن معبد رض حضرت ابو موسی اشعری رض حضرت عبدالله بن زبير رض حضرت علی بن حسين رح حضرت ضحاک رح حضرت ابراهيم نخعی رح داخل دی . (وګوری : سنن ابی داؤد باب الصلاة علی عصا، ص:۱۰۷ ج:۱ (۱) ومصنف ابن ابی شيبة ص: ۲۱۲ج:۸ في لبس القلانس (۲) وطبقات ابن سعد ص:۱۶۱ ج:۵(۳)که چيری بغير دلنګوټی ځخه دخولی پرسرکيدل دمشرکينو دلباس په وجه مکروه واي نودغه حضراتو به دځان دحفاظت لپاره يو بند وبست کړی وای . بلکه دغه کراهت به مشهوراومعروف وای اوحال داچی دصحابه رض اوتابعينو رح ځخه داسی يوه خبره هم نده نقل شوي . له هم دغه وجی ځخه يوازی دخولی پرسرکيدل مکروه بلل صحی خبره نده اودغه حکم په لمانځه کښی اودباندي دلمانځه ځخه يو ډول دی . بعض حضرات په دغه سلسله کښی دحديث يوه فقره وړاندی کوی چی :صلاة بعمامة تعد ل خمسا وعشرين صلاة بلا عمامة وجمعة بعمامة تعدل سبعين جمعة بلا عمامة والصلاة في العمامة بعشرة آلاف حسنة . يعنی دلنګوټی سره لمونځ کول د خولی سره دلمانځه ترکولو په پنځويشت لمنځوسره برابر دی او دلنګوټی سره دجمعی لمونځ کوّل دخولی سره دجمعی ترلمانځه کولو داويا جمعوسره برابر دی اودلنګوټی سره لمنځ کول دلس زره نيکيو سره برابردی .ليکن دغه حديث موضوعی دی اوډيرو محدثينو دغه حديث په موضوعاتو کي ذکر کړيدی، حافظ سخاوی رح په المقاصد الحسنة (ص : ۲۶۳نمبر۶۲۴)(۴) کي اوملاعلی قاری رح په الموضوعات الصغری (ص:۸۷نمبر۱۷۷)(۵) کي اوعلامه شوکانی رح په الفوائد المجموعة (ص:۱۸۷کتاب اللباس والتختم نمبر۳)(۶)کيئي موضوعی بللی دی . خلاصه داده چی لنګوټه تړل دنبی کريم صلی الله عليه وسلم سنتِ عاديه دی اوددغه سنت دمطابعت په نيت باندي دلنګوټی تړل باعث داجر اوفضيلت دی، ليکن دا واجب بلل اويا دلنګوټی ځخه بغير صرف په خولی کښی لمونځ کول اويا ورکول مکروه بلل صحی ندی، البته کم شخص که دلنګوټی ځخه بغير ددباندي وتلو ځخه اويا ويو مجلس ته دورتللو ځخه پرهيزکوی نو ددغه شخص لپاره بيله شکه بغير دلنګوټی ځخه

لمونځ کول مکره دی. او دغه نظر زموږ د ټولو اکابرینو علماؤ دی، حضرت ګنګوئي قدس سره په فتاوی رشیدیه کي هم دغه نظر اختیار کړیدی (۷) حضرت حکیم الامت مولانا تهانوی رح په امداد الفتاوی ص: ۲۵۶ج:۱کی) (۸) دیوڅوسوالو په جوابوکی دغه فرمائیلی دی حضرت مولانا عزیزالرحمن صاحب په فتاوی دارالعلوم

---

(۱)ج:۱ص:۳۵۷(طبع داراکتاب العربي بیروت)(۲) طبع دارالسلفیة اهندیة وطبع دارالقبلة (۳) ج: ۵ص: ۲۱۸(طبع دارصادربیروت (۴) ج: ۱ص: ۴۲۳ وج:۱ص: ۴۶۶ (طبع دارالکتاب العربي بیروت (۵) طبع مکتب امطبوعات الاسلامیة حلب) (۶) طبع دارالکتب العلمیة بیروت)(۷)فتاوی رشیدیة ص:۳۳۹ (طبع سعید) (۸) طبع مکتبة دارالعلوم کراچی.

دیوبند کي (ص:۹۷وص:۱۲۰ج:۴)(۱) اوحضرت مولانا ظفراحمد عثماني په امدادالاحکام کي (ص:۵۲۲ج:۱) (۲) اوحضرت مولانا مفتي کفایت الله صاحب په کفایة المفتي کي (ص:۱۱۵ ج:۳) (۳) کښی څه کم اوزیات دغه احکام بیان کړیدی. څرنګه چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم هرسنت که هغه مقصود وی او که غیری مقصود وي دیو محبت کونکی لپاره قابل داتباع او باعث دخیر اوبرکت دی، له هم دغه وجی څه ډیرعلماء او اهل الله دعمامی (لنګوټی) پابندی کړیده، د حضراتو مشایخود نقشبندیی اتباع هم پردغه بناء باندي ده او دغه اتباع یقینا ډیره مبارکه ده، په خپل عمل کښی ده داسی سنتواتباع اوخپل متعلقینو ته ترغیب ورکول چنداني داعتراض ورخبره نده. لیکن څرنګه چی د ډیرو خلقو فکرداسی کیږي چی هغه دغه سنت عادیه دواجب ودرجی ته رسوی په خاصه توګه بیا په لمانځه کښیئ ضروری بولي تر داسی اندازی پوری چی بغیر دلنګوټی څخه لمونځ مکروه بولی، اوزموږ په ښارو کښی دغه غلط فهمی ډیره عامه شویده، له هم دغه وجی څخه زموږ ډیرو علماء کرامو د دغه غلط خیال دتردید لپاره دلنګوټی ډیرزیات اهتمام ندی کړی. حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی قدس سره چی کوم هدایات تاسو په خپل خط کي لیکلی وو په هغه کي حضرت وخپل یو مُرید ته جواب ورکړی وو داخبره په یادولری چی شیخ وخپل مُرید ته کمه

مشوره ورکوی په هغه کښې دهغه مُرید باطنی حالات اونور ئي ډیرملاحظات په نظرکی نیولی وي اوداخبره ضروری نده چی کمه مشوره ویو شخص ته ورکول شوی وي هغه دي نو دهرچالپاره دعمل وړوي، دهغه صاحب په حق کښې حضرت دامناسبه وبلل چی تواضع چونکه مقصودی سنت دی اوپه بعض حالاتو کي واجب دی، اولنګوټه یو غیری مقصودی سنت دی اودهغه په حق کښې ده دواړو تعارض وو له هم دغه وجی حضرت وتواضع ته ترجیح ورکړه اوشاید دهغه صاحب داغلط فهمی هم وه چی عمامه سنت مؤکده ده اودهغه سنت په پرېښودلو کي مکروه والی شته، دهغه څخه دغه غلط فهمی هم لیری شوه . البته چیری چی دعمامي اوتواضع په منځ کي کوم تعارض نوي هلته یقینا دسنت دمتابعت په نیت عمامه تړل افضل دی په دی شرط چی دهغې مستحب والي په خپله درجه کښې برقراره وساتل شی کم چی په هغه کښې واقعتا شته، دهغه څخه وراندی ولاړنشی ځکه چی زموږ په دین کښې هرشی لره خپل مقام سته اودهغه مقام ساتنه تفقه په دین کي ده الله تعالی دی وموږټولو ته ددین صحی پوه اوپه هغه باندي دعمل کولو توفیق راکړی آمین .

والله سبحانه وتعالی اعلم محمد تقي عثماني ۲۷/۵/۱۴۲۶ه (فتوی نمبر ۸۰۴/۵)

---

(۱) دارالاشاعت کراچی (۲) طبع مکتبة دارالعلوم کراچی (۳) طبع دالاشاعت کراچی .

دخولی شرعي حیثیت

(تفصیل دمصنف څخه)

دراولپنډی مفتي محمد رضوان صاحب (دخولۍ) متعلق د یوي استفتاء په جواب کي یوه تفصیلی فتویا دحضرت محترم ومقام ته استولی ده چی په هغه کښې دخولۍ ثبوت اوپرخولۍ

باندي برسیره دسمال تړل او دلنګوټۍ څخه بغیر دخولۍ حکم او په لڅ سرباندي دلمانځه کولو متعلق داحکامو بیان کړی دی، دحضرت دامت برکاتهم ددغه مسوَدی ترمطالعی وروسته دهغه متعلق خپله رائیه لیکلی ده . دغه فتوی نهایته اوږده ده او هم دخولۍ شرعی حیثیت په نامه باندي دمفتي محمد رضوان صاحب له طرفه څخه علیحده دکتاب په بڼه هم شائع شویده دلته داوږدول څخه دمخ نوي په خاطر دهغه فتوی صرف اصلی اولني حصه او دفتوی متعلق دحضرت دامت برکاتهم العالیه رائیه شائع کیږي . (مرتب)

څه فرمائیلی دی ددین علماؤ او دشرع متین مفتیانو دلاندی مسائلو په باره کښي

(۱)....آیا دخولۍ پرسر کیدل دنبی کریم صلی الله علیه وسلم او دصحابه کرامو رض څخه ثابت دی ؟ دبعض حضراتو وینا ده چی دخولۍ پرسر کیدل بیله لنګوټی څخه او بیله لنګوټی څخه صرف په خولۍ کي لمونځ کول دپیغمبر صلی الله علیه وسلم او صحابه کرام رض څخه ثابت ندی، او پیغمبر(ص) او دصحابه (رض) څخه علاوه بلکه په خیرالقرون کي به ټولو نارینه حضراتو لنګوټی پرسرکولي او دلنګوټوسره به ئي لمنځونه کوله او پیغمبرصلی الله علیه وسلم او یا دصحابه رضی الله عنهم څخه په خولۍ کي دلمانځه کولو هیڅ ثبوت نشته۔

(۲).... په اوس وخت کي دټولی دنیا علماء او نیک خلق پرخولی دپاسه یو خاص قسم دسمال تړی په دغه باره کي سوال دادی چی آیا ددغه هم دسنت څخه ثبوت شته ؟ او دبعضی خلقو وینا ده چی دا داوسنی خلقویو جوړدی ددي دسنت څخه هیڅ ثبوت نشته او ددي ثواب بلل بدعت دی.

(۳).... بعضی خلق دترمذی شریف حدیث وړاندی کوی او وائي چی ددغه حدیث څخه دلنګوټی څخه بغیر دخولۍ پرسر کیدل دمشرکینو دعمل ثابتیدل دی.

(۴).... نن سبا اکثره مسلمانان په لڅ سر ناسته پاسته اوپه بازاروکښې په ګرځيدو راګرځيدو اومجلسونو ته په ورتګ باندي عادی دي اووائي چې دخولۍ هيڅ ضرورت نشته، که چيری ضرورت وي هغه هم صرف دلمانځه لپاره سته ؟

(۵)... په نن وخت کي په خلقو کي څکه دخولی دپرسرکولو رواج نشته، له هم دغه وجی ډير خلق لڅ سر لمونځ کوی اوکله چی هغه دلڅ سرلمونځ کولو څخه منعه کيږي نو هغه په جواب کي واي چی دخولي دپرسرکيدلو هيڅ ثبوت نشته ؟ دشريعت په دغه باره کي څه حکم دی ؟ ددغه سوالو مدلل اومفصل جوابونه راکړه دشکريي موقع درته وراندی کوو.فقط

جواب : (دمفتي محمد رضوان څخه) سرپټيدل دپيغمبرص اودټولو انبياؤعليهم الصلواة والسلام اودصحابه کرامو رض اودتابعينو اوتبع تابعينورح اودټولو اولياؤاوصلحاؤسنت اوعادت پاته شوی دی .اوددي بنياد پرحياء اوپرانسانی غيرت باندي بناءدی اوپه سر پټيدلو کي لکه څرنګه چی دالله تعالی څخه حيا ،اوغيرت پيداکيږي داغه رنګه دنورو انسانانو څخه هم حياء اوغيرت کول پيداکيږی، اودسرحصه په ټولو قوموکی دنورو قومو څخه دجلاوالی لپاره ډير اهميت لری اوسرته دبدن ترنورو حصو ډير فضيلت حاصل دی ،اودپيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه اودصحابه ؤکرامواودتابعينو څخه پرسر باندي دلنګوټی تړل اودخولی پرسر کيدل دواړه ثابت دی . رسول صلی الله عليه وسلم اوصحابئي کرام اوتابعين عظام پرخولی سربيره عمامه (لنګوټه) هم تړله، اوپه بعض وختو کي دلنګوټی څخه بغير ئي صرف خولۍ پرسر کوله، له همدغه وجی څخه څرنګه چی پرخولۍ باندي سربيره لنګوټه.تړل سنت اودسلف صالحينُ طريقه ده، داغه رقم بيله لنګوټی صرف دخولۍ پرسرکول هم دسنت څخه ثابت اودسلف صالحينُ طريقه اودصلحاءُ دامت څخه په هروخت کي قرنا بعدقرنٍ راروان دی، اوپرخولی باندي سربيره دعلماؤ اوصلحاؤ مخصوص دسمال تړل هم دسنت څخه ثابت دی، اوبيله لنګوټی صرف دخولۍ پرسرکيدلوته غلط ياخلاف دسنت ويل اويا پرخولۍ باندي سربيره لنګوټه تړل ضروری يا لازم بلل صحی ندي،درسول الله صلی الله عليه وسلم اوصحابه

کرامو اوتابعین عظامو څخه مختلف قسمه خولۍ پرسر کیدل ثابت دی، پرسر باندي مبنتی خولۍ، اواوږده خولۍ، اوغوړوو الاخولۍ، اوساده دټوکر څخه جوړه شوی خولۍ، اودأونو څخه جوړه شوی خولۍ، او کرمه خولۍ هم، اوصرف په خولۍ پرسرکولو سره لمونځ هم ثابت دی.
لیکن د نن سبا په رقم لڅ سر اوسیدل او ګرځیدل اوپه لڅ سرباندي لمونځ کول دنبی کریم صلی الله علیه وسلم اوصحابه کرامو څخه ثابت ندي ،بلکه داطریقه مکروه اودسنتُ خلاف ده ،اوپه مسلمانانو کښی اول دارواج نه ؤ، بلکه ډیر وروسته داطریقه په مسلمانانوکی دکافرانو څخه راغلي ده، لهذا دحیاء اوغیرت په لحاظ کولوسره اودمسلمانانو خپل شان اوشوکت ښکاره کیدلوسره اودنورو څخه دجلاء والی په غرض پرسرباندي داسلامی طریقی خولۍ اویا لنګوټه تړل پکارده ،اودلڅ سرګرځیدلو څخه پرهیزپه کاردی، ځکه چی لڅ سرګرځیدل اسلامی لباس ندی بلکه داسلامی شان څخه خلاف اوبد عادت دی.

(ددي څخه وروسته تفصیلی دلائل اونور احکام ذکرشویدی ،من شاء التفصیل فلیراجع الیه)

جواب : دحضرت دامت برکاتهم العالیه څخه) قدرمند اومکرم زیّد مجدکم، السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته :ورسره نښتي مسودة الحمدلله سرسری وکتل شوه په اول کي پرحاشیه باندي څه نظرونه لیکل شوی ؤ، ماشاءالله پردغه موضوع باندي چی دهغه نن سبا ضرورت ؤ ډیره ښه مواد تاسو راجمعه کړی وه، جزاکم الله تعالی، صرف دونه خبره ده چی څونه احادیث وروایات دي دټولو اسنادي تحقیق اودآئیمه ؤحکم پرحدیث باندي که یو ځای شی ښه به وي، بیا دهغه عربی ترجمه هم مناسبه ده، ځکه چی په عربی ممالکو کي دغه بلاء عامه ده، دهغوی لپاره په خاص ډول داسنادی تحقیق ضرورت شته ..والسلام ۱۴۳۰/۴/۹هجري.

(فصل في التصاوير والتلفيزيون)

(عکسونه، تلویزیون، اودکمپیوټر سی ډی، اودډي متعلق احکام)

عکس اخستل اودعکس اخستلو حکم، سوال : دعکس اخستلو څه حکم دی ؟ ستاسو هم عکس ښکاره کیږي څه وجه ده ؟ جواب : دعکس اخستل اوآخستل دواړه ناروا دی . (۱) په نافهمی که یوعکس درڅخه واخستل شی خومجبوری ده . الجواب صحیح محمد عاشق الهي .

والله اعلم احقر محمد تقي عثماني عفی عنه ۱۳۸۷/۱۲/۱۴هجری .

دتلویزون دکتلو حکم

سوال : دتلویزون کتل ګناه ده اوکنه ده ؟آیا ښځی تلویزون کتلای شی ؟ جواب : په اوس وخت کي دتلویزون کتل د ډیرو ګناهو مجموعه ده، اوددغه څخه دنارینه اوزنانهٔ دواړو پرهیز کول لازم دي . الجواب صحیح محمد عاشق الهی، فقط والله اعلم احقر محمد تقي عثماني عفی عنه ۸۸/۲/۶(فتوی نمبر ۱۹/۲۰۹الف) .

---

(۱)دتفصیلی دلائلو اوحوالو لپاره (تصویر کي شرعی حیثیت)په نامه کتاب دمفتي اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه وګورئ !

دتلویزون په کورکي دایښودلو حکم

سوال : زما بچیان ضد کوی چی تلویزون راته رانیسه اوماندی ورته رانیولي نو زما بچیان مابنام وخت دخپلو دوستانو کره ځی په تی وي کي بعضی پروګرامونه ښه وي اوبعضی فضول وي داسلام له نظره څخه ئي زه ور رانیسم اوکنه ؟ داګناه وره ده اوکه غټه ؟ او د تلویزون څخه خبرونه کتل رواء دی اوکه ناروا ء ؟

جواب : په مجموعی حالاتو کي تلویزون د ډیرو منکراتو مجموعه ده، اوددغه په کور کي دایښودلو څخه ډیر مفاسد پیداکیږی، لهذا دغه رانیول اوکور ایښودل صحی نه دی، بچیان په مناسبه طریقه سره روزل په کاردی اوپه کراره کراره سره دهغوی په ذهن کي دغه معامله جوړیدل پکاردی.والله اعلم ۱۳۹۸/۲/۹ه (فتوی نمبر ۲۹/۱۵۰الف

دتی وي (تلویزون) اوراډیو پخواني فتوی

(تفصیل دمصنف څخه)

دتی وی پروګرامونه اوپرهغه باندي دعلماؤ دراتګ څخه متعلق اول ددارالافتاء جامعه دارالعلوم کراچی څخه دحضرت دامت برکاتهم العالیه لاندني درج کړه شوی فتوی جاری شوی وه، وروسته دنوی حالاتُ اومسائلو په بناء باندي داغه رقم د ډیجیټل (برقی) کیمري دعکسونو دفنی مهارت په بناء باندي حضرت دامت برکاتهم العالیه تحقیق کړیدی چی پرهغه باندي په تحقیقی مجلس کښی په تفصیل سره غور اوفکرشویدی، ددغه نوی تحقیق مطابق د دارالافتاء دارالعلوم کراچی څخه دحضرت دامت برکاتهم چی کومه فتوی جاری کیږي هغه په راتلونکی صفحه باندي راځی لهذا هغه فتوی لازمي وبولی (محمد زبیر)

(۱)...دتلویزون فلم (ننداره) اوپه ښکاره سره دپروګرام حکم.

(۲)... پر وعظ اوتبلیغی امورو باندي بناء شوي د ویدیو یي فیتی حکم. (۳)... دتلویزون اوراديو دجوړيدلو حکم.

(۴).... پرمذکوره امورو باندي دفقهی پوهنتون رائیه.

(۵).. پرتلویزون باندي دعلماؤد ښکاره کیدلو حکم.

(۶)... دتلویزون په اداره کي د کارکولو حکم.

سوال: خبره ذاده دپاکستان په بعض مذهبی ډلو کي داخبره اوریدل کیږي چی تلویزون مطلق ناجائز دی، اوڅرنګه چی وبل طرف ته موږ وینو چی په حرمینو شریفینو کښی دتی وي کیمری نصب دی چی دهغه څخه علیحده اذانونه اولمنځونه نشر کیږی، دغه کار دتی وي پر رواوالي باندي اثر کوي، دعوامو دلارښوني لپاره ستاسو څخه دلاندي درج شوسوالوجوابونه غوښتونکي دی، (۱) آیا دتی وي فلم دعکسو په احکامو کښی داخل دی اوکنه دي ؟(۲)..آیا تی وی په خپله ځان کي غیری شرعی اوناروادي اوکه دهغه حصرپه ښه اوبد فلم کي دی.؟(۳) آیا پرتبلیغی امورو باندي جوړه شوي ویدیو فیته کتل اوجوړيدل هم ناروادي.؟ (۴)..آیا دتی وي اوراديو اود نورو برقی آلاتو دجوړیدلود دکان کته رواء ده ؟ (۵)..آیا دفقهی پوهنتون په دغه امورو کی کومه فیصله کړیده ؟ (۶)...آیا دتی وي په پروګرامو کښی چی داسلامي تبلیغ په سلسله کښی وي برخه اخستل رواء دي ؟ (۷)..آیا دتلویزون په اداره کښی نوکری (کارکول) نارواء دی ؟

جواب: په اوسنی حالاتو کي تلویزون چی پرډیرو نارواء اومحرماتو اوبد کاریو باندي مشتمل دی چی دهغه څخه بغیر هیڅ وخت د تی وي تصور نه کاوه کیږی، پرده غه بناء باندي داخبره مکمله شویده چی دتی وي په کورکښی اینبودل اودهغه استعمال نارواء دي.

واوسنی وخت ته په کتلو سره څرنګه چی دتی وی غالبه استعمال په حرامو کارو کي دی، له هم دغه وجی څخه دغه بحث صرف نظریاتی اوعلمی نوعیت لری چی کوم پروګرام في نفسه رواء

وي، صرف دهغه دکتلو اوبنکاره کیدلو څه حکم دی؟ له هم دغه وجې دتې وی په باره کي سوال کاوه کیږي چې په دغه بحث کښې ولاړشی نو دعدم جوازحکم لیکل کیږی، ځکه چې که چیرې علمی اونظری بحث ولیکل شی که څه هم دعملی دنیا سره دهغه هیڅ تعلق نشته، له هم دغه وجې څخه دغه غلط فهمی اودخلقو له طرفه څخه دهغه ناروا. استعمالیدلو فکرکیږی. لیکن څرنګه چې تاسو دمسئلی علمی وضاحت غوښتی وو، له هم دغه وجې څخه داوایم چې کوم فلم پریو کاغذ اویا پریوه بله ماده باندي دارنګه ثبت شي چې هغه په یو معمولی نظر باندي هم معلومیږی، دهغه په عکس والی کښي هیڅ شبهه نشته . لهذا دهغه کتل رواء ندی، داغه رنګه هغه پرتې وي اویا پریو بله انداره باندېځ غځیدل اولیدل رواء ندي .دافلمونه نو که څه هم په بنکاره پریو تبلیغی پروګرام باندي مشتمل وي، دهغه کتل ناروا. دی ځکه چې هغه تصویر دی ــ البته که کوم پروګرام پرتې وي باندي رأسا شکاره کیدی چې په هغه کښې دکوم فلم واسطه نه وي، اویا دیو داسی ویدیوئي فیتی له لاری نشرکیږي چې په هغه کښی بذاته هیڅ تصویر نه پاته کیږي د ذخیری په شکل ،بلکه یو داسی انځورئي پاته کیږي چې هغه بیا دیو خاص ضرورت په وخت کښی په یو خاص ترتیب سره پرتې وي باندي جوړشی دکتلو لپاره نو بیا ددغه عکس بلل دفکر ځای دی، ځکه چې عکس وهغه نقش ته ویل کیږي چې هغه همیشه توب ولری، لهذا که چیرې بالفرض ددغو دواړو ذریعو څخه یو داسی پروګرام نشر شي چې دمحرماتو اومنکراتو څخه خالی وي نو دمحض عکس والی په بناء باندي دهغه دکتلو نارواوالی مشکوک دی، لیکن په اوسنی وخت کي څرنګه چې په هر ملک کي ددغه ذرائیعو څخه هم ناروا، پروګرامونه نشرکیږی، له دغه وجې دتې وی اینبودل رواء ندی . ددغه تمهید څخه وروسته ستاسو دسوالو جوابونه نمبر واره ذکرکیږي.

(۱و۲)...فلم یا(انځور) بیله شبهې دعکس په حکم کښی داخل دی، البته رأسا دپروګرام یا ویدیو ئي فیتی عکس بلل مشکوک دی، لکه څرنګه چې پورته ذکرشوه .. (۳) ...دویدیوئي فیتی غالبه استعمال چونکه په حرامو کاروکی کیږي اوپه تبلیغی امورو کي دهغه داستعمال څخه دویدیوي فیتي ناروا. استعمالیدلو همدردی کیدای شي، له هم دغه وجې په تبلیغی

امورو کي هم ویدیو فیتی یو ذریعه ګرځول صحی ندي، ددي څخه علاوه دهغه په عکس والي کښی که یقین نه وي بیا هم دشبهی څخه خالي ندی . (۴).. درادیو اوداسی نورو جائز برقی سامان آلاتو د جوړیدلو په ګټه کښی کم حرج نشته . البته د ټی وی په جوړیدلو کی څرنګه چی پورته ذکرشوی مفاسد موجوددی له دغه وجی دهغه څخه ځان ساتل لازم دی، بیا هم که یو چا دټی وي دجوړیدلو څخه کمه ګټه ترلاسه کړی وي نو څرنګه چی دټی وي جائز استعمال هم ممکن دی لکه څرنګه چی په هوائي میدانو وغیره کښی دغیرذی روح سره اعلانات کیږی، له هم دغه وجی بلکلیه حرام هم نشی کیدای، احتیاط په هره طریقه په دی کیدی چی داسی ګټه دی خیرات کړل شی، (۵).. په فقهی پوهنتون کي دغه مسئله تراوسه تربحث لاندی نده راغلی، (۶)..پورته ذکرشویده چی دتبلیغ په کارکی هم دټی وی اوویدیو ئي فیتی استعمال صحی ندی . خاص بیا که علماء ټی وی ته ورشی اوتبلیغ وکړی، نو ددغه څخه دټی وي دمذکوره پورته مفاسدو اهمیت د ذهنو څخه ختم کیږی، له دغه وجی دهغه مشوره نشی ورکول کیدای .(۷).. دټی وي په اداره کي یو داسی کارکول چی دهغه څخه دټی وي ونارواء پروګراموته کومک رسیږی جائز ندی . والله سبحانه اعلم ۱۴۰۸/۸/۲۳ه

(فتوی نمبر ۳۹/۱۷۳۲و)

دفلم (انځور) جوړه ولو حکم

سوال: جناب مولانا صاحب ! السلام علیکم ورحمة الله :

ستاسو څخه دیوی مسئلی په باره کښی پوښتنه کیږي چی آیا آنځور (مووي، فلم) جوړیدل رواء دی اوکه حرام ؟ځکه چی زما اوزما ددوست پردغه خبره باندي لفظی شخړه شویده، ماورته وویل چی آنځور جوړه ونه حرام دي، ځکه چی دآنځور په فیته کښی عکس موجود وي، تاسو چی کله وغواړی هغه پرتلویزون باندي کتلای شی، اوپه مقابل کي زید راته وای چی آنځور فلم

جوړیدل جائزدی ځکه چې دفلم په هغه فیته کي عکس موجود نه وي، ځکه که چیری هغه فیته ورونیاته وکتل شي په هغه کي هیڅ هم نه معلو میږی، لکه څرنګه چې دعکس فلم که چیری تاسو ورونیاته وګوری! نو تاسو ته باقاعده عکس په نظر کي راځی اوزید داهم راته وائي چې مفتي تقي عثماني صاحب صرف دنارینه ؤ فلم اودښځو فلم چې هغه نامحرمه ونه ګوری جائز بللی دی. لهذا ستاسو څخه هیله ده چې دمسئلي جواب راکړی منندوی مویم ؟!

جواب: محترم ومکرم! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته: نن سبا په فلم جوړیدلو کي دونه زیاد مفاسد دی چې دهغه څخه ځان ساتل مناسب دی. په خاصه توګه بیا (دواده په مراسموکی اوپه غیره داسی مراسموکی اوداخبره هم ښکاره ده چې دهغه دکتلو لپاره په کور کي تی وي اینښودل کیږي کم چې نن سبا دډیرومنکراتو مجموعه ده. ما چې کمه خبره کړی وه هغه یوه نظریاتی خبره وه چې دویډیو فیتی په ذریعه چې کم عکس پر اینداره باندي ښکاره کیږي هغه به دعکس په حکم کي وي اویا به نوي؟ لیکن دامشوره می هیڅ کله نده ورکړی چې خلق دی فلمونه جوړکړی داوسنی مفاسدو په وجه دهغه څخه ځان ساتل پکاردی. والله اعلم ۳/٦/۱۴۲۲ه (فتوی نمبر ۴۹۰/٦۸).

دعلماؤ پرتی وي باندي راتګ اودبرقی عکسوپه باره کي دحضرت دامت برکاتهم حتمي فتوی

سوال: جناب مفتي صاحب جامعه دارالعلوم کراچی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! څه فرمائي ددین علماء ددي مسئلي په باره کي چې نن سبا پرتی وي باندي چې کم علماء ښکاره کیږی، دهغوی پرتی وي باندي دراتګ څه حکم دی اودهغوی ددینی پروګرام څه حکم دی ؟ اودغه برقی عکس شرعا په حرام عکس کي داخل دی اوکنه دی ؟ ستاسو په نزد راجح کم شي دی ؟

جواب: برقی اطلاعات (الیکټرانک میډیا) لکه تلویزون وغیره په باره کي دونه خبره ښکاره ده چی په اوسني حالاتو کي پرهغه باندي ښکاره کیدونکی پروګرامونه په معاشره (ټولنه) کښې بداخلاقی، بي حیائي، فحاشی، وجُرمونو اودهشت ګردی ته فروغ ورکوي. اودامی پروګرام اول خو په ډیره سختی سره پیدا کیږي چی په هغه کي دی څه ناڅه شرعی بدوالی موجود نوي. دوهم که چیری یو څوک تلویزون په خپل کور کي کښیږدی نو داخبره به ناممکنه وی چی هغه دی ددغه منکراتو څخه محفوظه شی، لهذا دتلویزون داینـودلو څخه په کورکی په اوس وخت کي پرهیز کول پکار دی. ترکمه ځای چی ددغه سوال تعلق دی چی تلویزون اویا دبرقی کیمروپه ذریعه سره چی کم شکلونه ښکاره کیږي هغه شرعا دعکسونو په حکم کي دی اوکه ندي؟ نو ددي جواب دادی چی کله ددغه شکلوچاپ واخستل شی اویا هغه په همیشني طریقه سره پریوشی باندي نقش شی نو پرهغه باندي شرعا دعکس احکام جاري کیږي. (۱) البته ترڅه وخته چی دهغه چاپ نه وي اخستل شوی اویا هغه په همیشني طریقه سره پریوشی باندي نوی نقش شوی دهغه په باره کي دوخت دعلماؤ نظرونه مختلف دی. (۱)..بعض علما ؤ دغه هم دتصویر په حکم کي بللي دی. (۲)....اودبعض علماؤ په نزد پردغه باندي دعکسوداحکامو اطلاق نه کیږي. (۳)....اوبعضی علماء وائي چی دغه ددوي په رائیه عکس خودی لیکن څرنګه چی پرهغوی باندي دعکس والي اویانه تریوی زیاده فقهي رائیه موجود ده له هم دغه وجی داجتهاد په بناء باندي دحاجت شرعیه په وخت کي مثلا لکه جهاد وغیره په موقع باندي دهغه داستعمال ګنجائش شته. زموږ په مذهب که څه هم دوهمه رائیه راجح ده چی ترڅوپوری هغه په همیشنی طریقه سره پریوشی باندي نقش شوی نه وی، پرهغه باندي دعکس داحکامو اطلاق نه کیږي. (۲) لیکن په یوه لحاظ سره احتیاط په اوله رائیه کي دی لکه څنګه چی ښکاره ده اوپه بل لحاظ سره وموږته احتیاط په دوهمه اودریمه رائیه کي معلومیږی، ځکه چی پردین اسلام باندي داسلام ددشمنانو له طرفه چی کم یلغار دبرقی میډیا په ذریعه باند ی په منظمه طریقه سره کیږي دهغه څخه دفاع کول هم دامت مسلمه ذمه داری ده، چی دهغه څخه حتی الامکان دخپلی ذمه واری دپوره کولو لپاره وبرقی میډیا (اطلاعاتو) ته لکه تلویزون دداسی

استعمال لپاره په کار اچول ضروري دي، چې د فواحش او منکراتو څخه پاک وي. لهذا کم حضرات علماء کرام چې د مذکوره دريو رائيو (۳) څخه د کمې يوي سره متفق وي او په هغه باندي عمل وکړي هغه ټول له قابل د احترام دي او د هغه څخه يوه هم زموږ په نزد ملامتيا مستحق نده (۴) والله اعلم بالصواب محمد تقي عثماني ۱۴۲۷/۴/۲۲ الجواب صحيح محمد رفيع عثماني عفاالله عنه ۱۴۲۷/۴/۲۲ ه الجواب صحيح بنده محمود اشرف غفرالله له ۱۴۲۷/۴/۲۲ه، الجواب صحيح بنده محمد عبد الله عفی عنه ۱۴۲۷/۴/۲۲ه الجواب صحيح محمد عبدالمنان عفی عنه ۱۴۲۷/۴/۲۲ه هجري.

(۱و۲) د تفصيل لپاره تکمله فتح الملهم ج: ۴ص: ۱۶۲و ۱۶۳او د راتلونکی صفحی مکملی حاشيې وګورئ! (۳و۴) د دغه دريو رائيو او د برقی کيمری عکسو څخه متعلق د حضرت دامت برکاتهم د نظر مزيد تفصيلی وضاحت لپاره د حضرت دامت برکاتهم العاليه تصديق شوی لاندی فتوا ملاحظه کړئ!

سوال: جناب مفتي صاحب دارالافتاء جامعه دارالعلوم کراچی ! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته ! محترمه:

وروسته تر سلام عرض دادی چې ده ذی روحه د عکس حرمت د احاديثو صحيحه وْ څخه ثابت دی، ليکن په اوس وخت کي د برقی نظام لاندی چې کم مناظر د کمپيوتر دايندارۍ او يا د ټی وي دايندارۍ څخه ښکاره کيږي، آيا د شرعی نقطهٔ نزره څخه هغه هم د عکسو په حکم کي داخل او حرام دی؟ او دامی خيال دی چې بعضی اهل علم حضرات د دغه مناظروته عکس ويلی دی او يا د عکس سره مشابه ورته وايي او د عکس څخه انکار کوی، او بعضی اهل علم بيا ورته عکس وای، او هم دارنګه په ټی وی پروګرام کښی د علماؤ کرامو راتګ او دينی مسائل او يا د دين تبليغ کولو په باره کي هم د علماء کرامو متضاد ی رائيي مخ ته راځی، له هم دغه وجی څخه ستاسو حضراتو څخه وړانديز کوو چې وموږ ته د دغه مسائلو په باره کي دا را وښياست چې راجحه کوم قول دی؟ او د جامعه دارالعلوم کراچی موقف کم شی دی؟ خلاصه داده چې

دډیجیټل مناظرو اودټی وي په باره کي دجامعه دارالعلوم کراچی دموقف څخه موږ په تفصیل سره خبر کړی الله تعالی دی وتاسو حضراتو ته جزادخیر درکړی ــ وقاراحمد

جواب : الحمدلله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید نا وشفیعنا محمد وآله وصحبه اجمعین اما بعد !! پرلاندنی ذکرشو دریو عنواناتو باندي دشرعی نقطئه نظره څخه دمفصل کلامه سره سره د برقی مناظرواودتلویزون دشرعی حیثیت په باره کي دجامعه دارالعلوم کراچی مؤقف اومفصله فتوی (۱).... د ذی روحه دعکس په باره کي دفقهاؤ کرامو نظر، (۲).... دبرقی نظام په ذریعه باندي پر ډسک اویاسی ډی باندي حاصل کړه شوی مناظر اودهغه حقیقت . (۳) ..... په اوس وخت کي دټی وی داستعمال شرعی حکم . اول :د ذی روحه دعکس په باره کښی دفقهاء کرامو رحمهم الله نظرونه : دجانداره عکس جوړول اواستعمالول حرام دی، دغه حکم دډیرو احادیثو صحیحه ؤ اودصحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین اودتابعین عظام رحمهم الله تعالی داقوالو اودهغوی دعمل څخه ثابت دی ، له دغه وجی بیله سخت ضرورت څخه دژوندی شی دعکس پرحرام والی باندي څلورو اماما نو او ورسره فقهاء کرامو رحمهم الله تعالی اتفاق دی، دهیڅ یو ه ددغه څخه اختلاف نشته. هوکی که مخ ته ولاړشو دیوڅو تفصیلاتو په باره کي دفقهاء کرام رحمهم الله تعالی په دغه کي څه اختلاف پیداکیږي . دفقهاؤ نظرونه مختصرا دارقم بیان کیدای شی : که چیری عکس دمجسمو په شکل کي وي اودهغه هغه ټوله اعضاء موجود وو چی پرهغه باندي دژوندانه انحصارکاوه کیږی، اوهم دارنګه هغه عکس به ډیر کچنی هم نه وی او دمسالی دناوکیو دقسمه څخه به هم نه وی نو ددغه پرحرام والی باندي دټوله امت اتفاق دی، یعنی دهغه جوړیدل اودهغه استعمالیدل په اتفاق سره حرام اونارواه دی، اوپه دغه کي دهیڅ چا اختلاف هم نشته . لیکن که چیری عکس دمجسمو په شکل کي نۀو بلکه وه کاغذ یا کپړی وغیره باندي دارقم جوړشوی ۇو چی دهغه سایه نه معلومیدل نو ددغه په باره کي دآئیمه ۇ په نزد اختلاف سته، جمهور فقهاء کرام رحمهم الله تعالی رائیه په دغه کښی داده چی داهم نارواء دی، البته امام مالک رحمه الله څخه دداسی عکس په باره کي درواء اونارواء دواړه قوله منقول دی، ددغه

وجې څخه دعلماء مالكيه ؤ په نزد په دغه مسئله كي اختلاف دى دمالكى مذهب دكتابو د مطالعې كولو څخه معلوميږي چې دمالكيه ؤ اكثره علماء دغه عكس هم نارواء بولي، اوكه چيرى دغه تصوير دامتحان په ځاى كي وي يعني داسې ځاى وى چې دهغه څخه دهغه سپكاوى كيږي نو دهغه استعمال مكروه تنزيهى اوخلاف داولى دى، څرنگه چې بعضې مالكيه ؤ وداسې عكس ته بيله كمه مكروه والى څخه مطلقا جائيز ويلى دى، كه هغه دامتحان په ځاى كي وي اوكنه وي . دماليكيه ؤ څخه چې كوم حضرات دداسې عكس درواء والى فتوى وركوى، په هغه كي ډير لوى لوى محقيقين علماء هم شامل دى، مثلا علامه ابن القاسم مالكى رح، علامه دردير مالكى رح علامه ابى مالكى رح، علامه ابو عبدالله مواق رح علامه محمد العليش المالكى رح وغيره جليل القدر محقيقين چې قابل دياد وني دى دحنابله ؤ په نزد هم پرده باندې دجوړ كړه شوى عكس ددجائز اوناجائزددواړو روايتونه موجود دى، دحنبلى مذهب جليل القدر ترجمان علامه ابن قدامه الحنبلى رح په (المغنى) كي اوعلامه ابن حجر عسقلانى رح په (فتح البارى) كي دحنابله ؤ مذهب بيان كوى اوليكى چې دهغوى په نزد پر كپړه باندې جوړكړه شوى تصوير حرام ندى، علامه ابوالحسن على بن سليمان المرداوى رح اوعلامه شيخ ابن عقيل وغيره علماء حنابله درواياتو مطابق هم امام احمد بن حنبل رحمه الله په نزدپر ديوال اوپرده باندې جوړكړه شوى عكس حرام ندى، علامه ابن حمدان حنبلى رح فتوى هم دداسې عكس دجواز ده، هم دارنگه دمالكى اوحنبلى مذهب څخه علاوه هم بعض سلف مثلا حضرت قاسم بن محمد بن ابى بكر رضى الله عنه (چې دهغه شمار دمديني په فقهاؤ كي كيږى) ورسره بعضې صحابه اوتابعينو په باره كي نقل شويدى چې هغه حضرات هم د سايه والا اوغيرى سايه والا په عكسو كي فرق كوي، سايه داره عكسونه ناجائزه اوغيرى سايه داره عكسونه جائز بولي، ددغه وجې علامه ابن حجرعسقلانى رحمه الله دعلامه نووى رحمه الله دغه خبره خپل نظر بللى دى چې په هغه باره كي هغوى دغه مسلک نقل كړى دى اودغه مذهب ئي باطل بللى دى،.

قلت : المذهب المذکور نقله ابن ابی شیبة عن القاسم بن محمد بسند صحیح ولفظه عن ابن عون قال: دخلت علی القاسم وهو باعلی مکة في بیته فرأیت في بیته حجلة فیها تصاویر القندس والعنقاء ففی اطلاق کونه مذهبا باطلا نظر) دپورته تفصیل لپاره ملاحظه کړی :
(۱)المدونة الکبری (۹۰/۱)دارالفکر بیروت (۲) الشرح الکبیر للدردیر مع حاشیة الدسوقی (۲۰۱/۳و (۳۳۷/۲) (۳) الشرح الصغیر للدردیر مع حاشیة الصاوی (۴۰۴/۱و(۵۰۱/۲) (۴) شرح الخرشی علی مختصر العلامة خلیل (۳۰۲/۳)باب الولیمه، (۵) شرح منح الجلیل علی مختصر العلامة خلیل (۱۶۷/۲) (۶) شرح الزرقانی علی مختصر العلامة خلیل (۵۳/۲) (۷) المغنی لابن قدامة (۲۱۵/۷و(۲۰۱/۱۰) (۸) کشاف القناع للبهوتی (۱۱۹/۵) (۹) نهایة المحتاج الی شرح المنهاج (۳۶۹/۶) (۱۰) حاشیة البجیرمی علی الخطیب (۳۹۰/۳) (۱۱) فتح الجواد لابن حجر (۱۲۷/۲) (۱۲) حاشیة القلیوبی (۲۹۷/۳) (۱۳) شرح مسلم لابی (۳۹۴/۵) (۱۴) شرح الزرقانی علی المرطا (۳۶۷/۴) (۱۵) فتح الباری لابن حجر (۳۸۸/۱۰و(۳۸۳/۱۰) (۱۶) الانصاف للمرداوی (۱/۴۷۴) (۱۷) التمهید لابن عبدالبر (۱/۳۰۱) (۱۸) التاج والاکلیل للمواق بهامش مواهب الجلیل (۴/۴) (۱۹) چواهر الاکلیل للابی (۱/۳۲۴) فضل الولیمة (۲۰) المبدع ۱/۳۷۷) (۲۱) الموسوعة الفقهیة (۱۲/۱۰۱) اصلاح تصویر).

فوټوګرافی (په کیمره سره عکس) په فکر کي دی وي چی دعکس یو دریېم قسم فوټوګرافی (صور شمسیة) عکس هم سته چی د ذکرشو دواړو صورتو څخه په دی لحاظ مختلف دی چی هغه په لاس سره نه بلکه په کیمره سره جوړیږی اوبعینه داصل سره مطابق وي، ددغه فرق په وجه سره په اوس وخت کي ډیر حضرات دکیمری عکسونه یا خوئي عکس نه بولی اویا داسی عکسونه رواه بولی، دعربو علماؤ څخه بعض مهم علماؤ هم دکیمری عکس دتصویر دحکم څخه دباندي بللي دی، پر دغه رائیه باندي الشیخ العلامه محمد بن صالح العثیمن، شیخ سالوس، شیخ احمد الخطیب، استاذ احمد محمد جمال، فضیلة الامام المرحوم محمد الخضر حسین، شیخ الازهر، الشیخ حسنین، محمد مخلوف مفتي مصر، شیخ محمد نجیب المطیعی، شیخ محمد متولی الشعراوی، شیخ سید سابق وغیرهم شامل دی. څرنګه چی شیخ سید په خپل کتاب (فقه السنة) جلد ۲صفحه ۵۸ کي لیکلی دی چی هغه عکسونه چی دهغه سایه نه وی لکه دیوار اوکرنسی (نوټونه) باندي چی

نقش شوی وي اوهغه عکسونه چې پر ملبوساتو اوپردوباندي وي اوهم دارنګه دفوټوګرافی عکسونه (دکیمری عکسونه) دغه ټوله جائز دی . کل ماسبق ذکره خاص بالصور المجسدة التی لها ظل اما الصور التی لاظل لها کالنقوش في الحوائط وعلی الورق والصور التی توجد في الملابس والستور والصور الفوتو غرافية فهذه کلها جائزة :: په دغو حضراتو کي علامه شيخ محمد بخيت مفتي مصر رحمه الله دی چې هغه پردغه موضوع باندي (الجواب الشافی في اباحة التصوير الفوتو غرافی) په نامه سره یوه رساله هم ليکلی ده، دهغه نظر دادی چې فوټوګرافی په حقيقت کښی په عکس جوړونه کښی داخل نده، بلکه داصرف داصل دعکس ساتل دی چې هغه دعکس په حکم کي داخل ندی هغه چې شرعا حرام دی، دغه رقم دکتور یوسف القرضاوی حفظه الله تعالی هم دکیمری عکس دحرام عکسو څخه خارج بللی دی، لکه څرنګه چې موصوف په خپل مشهور کتاب (الحلال والحرام في الاسلام) ص: ۱۱۴باندي په دغه باره کي ليکلی دی چې دعکس خاني عکس رواکيدای شی دشريعت له نظره ډير نږدی اوزيات ترزيات نو به خلاف داولی څخه وي اما تصوير اللوحات وتصوير الفوتو غرافی فقد قدمنا ان الاقرب الی روح الشريعة فيهما هو الاباحة الغ) ډير تفصيل لپاره وګورئ ! (۱) الجواب الشافی في اباحة التصوير الفوتو غرافی (ص: ۲۰) (۲) الحلال والحرام للشيخ القرضاوی (ص: ۱۱۲) (۳) حکم الاسلام في الصور والتصوير (ص: ۴۹) (۴) احکام التصوير في الفقه الاسلامی لمحمد بن احمد علی واصل (ص: ۳۲۸ تر ۳۳۶) ليکن دمحقيقينو علماؤ اکثريت ئې د کيمری عکس دفوټوګرافی دهغه تصوير په حکم کي داخل کريدی کم چې شرعا حرام دی، دبرصغير تقريبا دټولو علماؤ بردغه باندي اتفاق دی چې دکيمری دعکس اوپه لاس باندي دجوړکړه شوی عکس په ناروا والي کښی هيڅ فرق نشته، دبرصغير تقريبا ټول دارالافتاوی هم دغه فتوی ورکړيده چې بيله سخت ضرورته څخه اويا دحاجت عامه په وخت کي د ذی روحه عکس اخستل نارواه دی . ددارالعلوم کراچي دارالافتاء اودارنګه دنورو دارالافتاؤ اوس هم دادی چې عکس جوړيدل صرف داندی چې عکس په قلم اورنګ وروغن سره پرکاغذ اويا پرټوکر کپړه اويا لوحه اويا ديوار وغيره باندي په لاسو سره جوړکړه شی اويا دمجسمو په څير ددبرو وغيره څخه بت تراش کړه شی، بلکه هغه ټوله صورتونه په عکس جوړيدلو کی داخل دی چې دهغه په وجه سره ديو ژوندی شی بنه ښکاره اوبا لکل واضحه شکل وصورت پرکاغذ يا لوحه اويا کپړه اويا بل داسی شی باندي جوړکړه شی، (که څه هم دهغه شی صورت اوشکل دډير لږ وخت لپاره جوړشی)چې دغه شکل اوصورت دی پردغه شی باندي منقش کړه شی، هغه که څه هم دپخوانی الاتو په ذريعه باندي جوړکړه شی اوکه داوسنی عصری وخت په نوی سامان آلاتو باندی، بلکه ديوه ژوند ی شی اصل عکس يا سايي ته هم که چيری دژوندئ شی ښکاره کيدی په ظاهری شکل وصورت کي که څه هم ترټولو دنوي آلاتو په مټ اويا دکيميکل وغيره په ذريعه سره پريو شی باندي جوړشی نوهغه هم حرام تصـ ـ عکس

دی او دغه جوړونکي هم عکس جوړونکي دی، مثلاً دساده کیمری پر (ریل) نوار) باندي جوړکړه شوی تصویرونه (عکسونه) نه دغه وجی زموږ په نزد دفوټوګرافی دعکس جوړونی څخه علیحده بلل اویا دفوټوګرافی په ذریعه حاصل شوی عکسونه تصویریاعکس نه بلل صحی ندی (وګوری تکمله فتح الملهم ۴/۱۶۲/۱۶۳) ـــ مفتي اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه دعکس پرموضوع باندي یوه مستقله رساله (دعکس شرعی احکام) تصنیف کړیده، چی په هغه کي حضرت مفتي اعظم رحمة الله علیه شرعی دلائلو سره ښکاره فرمائیلی دی چی عکس که په لاس سره جوړشي اوکه په جدید آلاتو سره هغه عکس دی. دآلاتو په تبدیلی سره هیڅ فرق نکوي.

(دفوټوګرافی (کیمری) دعکس او دډیجیټل برقی ترمنځ فرق) خلاصه داده چی زموږ اکابرینو دفوټوګرافی عکسونه هم حقیقی عکسونه بللی دی، ځکه چی عکس دیو شی همیشئ اوبرپایه نقش دی، یعنی هغه پریو شی باندي همیشه پاته وی چی هلته دهغه څخه دغه قرار اوثبات حاصلیږی، دغه همیشه توب اوقرار دیو حقیقی عکس اصلی خصوصیت اودعکس اوغیر عکس ترمنځ یو حد فاصل دی، یعنی دعکس دغه خصوصیت دحقیقی عکس اومجازی عکس (مثلا دعکس اوسایي اویا خیالی عکس) ترمنځ دامتیاز یوه بیلګه ده که دذی روحه شکل وصورت پریو شی باندي همیشه پاته اوقائم شي نو حقیقی عکس تصویر دی اودحرام تصویر په حکم کي داخل دی، لیکن که دهغه شکل وصورت هلته قائم اوهمیشه نه وو نو دشرعیت له نظره څخه دحقیقی تصویر اویا حرام تصویر په حکم کي داخل ندی، ځکه چی دحقیقی تصویر اصلی بنیادی شرط چی قیام اواستقرار دی هغه په دغه کي نیستي شو، البته که یو څوک مجازا پردغه باندي دتصویر اطلاق وکړی نو دهغه وجی څخه هغه په حرام تصویر کي نه داخلیږي، لکه څنګه چی دعکس اویا خیالی تصویر وغیره باندي مجازا د تصویر اطلاق کیږی، لیکن دهغه سره سره شرعا پرهغه باندي دحرام تصویر حکم نشی کیدای.

دفوټوګرافی په تصویر کي څنګه چی دحقیقی تصویر بنیادی خصوصیت (یعنی یو قسم همیشه توب اوقیام) پیداکیږي له دغه وجی څخه دساده کیمری څخه د ذی روحه چی کوم عکسونه جوړیږی هغه دحرام تصویر په حکم کي دی، ځکه چی دساده کیمری څخه جوړکړه شوی عکسونه که هغه پر(نوار) وي اوکه پرکاغذ اویا پرده وغیره باندي وي په هرصورت سره هغه دهغه ژوندی په شکل اوصورت سره هلته برقراره اوقائم اوهمیشه پاته کیږي ـ ددي څخه په خلاف دډیجیټل کیمری څخه حاصل شوی منظر ترکمه وخته پوری چی پرکاغذ وغیره باندي دهغه چاپ وانخستل شی نو تر ایندازی ترحده پوری هغه کله هم دعکس په شکل کي منقش اوقائم نسی کیدای، ځکه چی برقي ډیجیټل مناظر چی کله په سی دی اویا (چپ بورډ) باندي

محفوظه کیږي نو دیو څو شعاعي اعداد وشمار په شکل کي دارنګه محفوظه کیږي چی نه په خلاف سترګو سره: هغه مشاهده کیدای شي، اونه هم دخوردبین وغیره په ذریعه سره موږ هغه کتلای شو، ځکه چی هغه دتصویریا عکس په شکل هلته موجود نوی، بیا کله چی هغه داسکرین یا پردي اینداری په ذریعه سره ښکاره کیږي نو هغه هم دبرقي روښنائي په نامعلومو شعاعو ذراتو (پیکسیلز) نامعلوم شکل کي پر اینداره باندي ښکاره کیږي اوسم دستي ورکیږی، دیوه ګړی لپاره هم دغه ذرات پراسکرین یا اینداره وغیره باندي قائم اوثابت نشي پاته کیدای، (دهغه تفصیل مخ ته راځی له هم دغه وجی څخه دعکس یا تصویر بنیادی شرط (استقرار اوقیام) دلته نیستی دی، لهذا دساده کیمری تصویر بیله شبهی دحرام تصویر په حکم کي داخل دی، اودډیجیټل کیمری منظر دحرام تصویر په حکم کي داخل ندی ،د ډیجیټل نظام په ذریعه پراسکرین (اینداره) باندي ښکاره کیدونکی شکل وصورت اودساده کیمرې په ذریعه دنوار (ریل) کي دحاصل شوی فلم یا کاغذ وغیره باندي دپرنټ شوی تصویر په منځ کښې راپیداشوی دغه فرق دفن ماهرینو په خپل کتاب کښې بیان کړیدی، دلته دنموني په شکل دوه مثالونه وګورئ ! : دکمپیوټر په دنیا کي دیوه معروف مصنف مارشل برین په خپل کتاب (How stuff works) کښی دساده کیمری اوډیجیټل کیمر ی په ذریعه دحاصل شوی عکس په منځ کښی فرق په لاندني الفاظو کي بیان کړیدی:

Marshal brain writes : HOW DIGITAL CAMERAS WORK? A digital camra,a camcorder and awebcam,all work about the same way.they turn light into electrical signal and record it. In adigital camera, the signals are recorded in flash memory or on adisk. In acamcorder,the signals are recorded in flash memory or on adisl. In acamcorder, the signals are recorded on video tape at ۳۰ frames per second . in a webcam, they are recorded in afile for web page. At it's most basic level adigital camera is adevice that measures light bouncing ogg objects and coriverts this information into adigital file in some standard format. Most digital cameras produced JPEG or TIFF files by taking the following steps; (۱) Focus the light from the scence onto asensor. (۲) Convert the measured light on the sensor into an electrical charge. (۳) Convert this analog information into adigital form. (۴) save the digital information in the proper file format.____________ light capture: Adigital camera focuses light the same way afilm camera does with a series of lenses. Bug whereas a film camera uses chemically treated celluloid to capture an image, a digital camera focuses gight onto an electronic image sensor instead. The standard sensor technology for most digital cameras is acharge coupled-device (CCD).the CCD is acollection of tiny light sensitive electrons. Each photosite is sensitive to light the brightet that hits a single photosite, the greater the electrical charge that accumulates at that site. The number of photosite on a CCD determines its maximum resolution.

ترجمه: ډیجیټل کیمری څنګه کارکوي: یوه ډیجیټل کیمره اوهغه پلش (کیمکارډر) یا ویب کیم تولویو رقم کارکوی، دغه رڼا په برقي سګنل (ذراتو) باند بدلوي اوهغه دځان سره ثبته وي، په یوه ډیجیټل کیمره

کښې برقی ذراتی (flash memory) اویا پوری یاداشت) یا ډسک، (یعنی سی ډی، فلاپی، یا هارډ ډسک، وغیره باندې ثبت کیږي. په کیمیکارډر کښې (یا دکیمرې هغه برخه چې ثبت کوی) برقی ذرات په ثانیه کښې ۳۰ فریمه رفتار سره یوه ویډیووي ټیپ باندې ثبت کړه کیږی، داچې په یوه ویب کیم کښې هغه په یوفائل کښې دیوی ویب صفحې په واسطه سره ثبت کیږي. که چیری موږ دیر پربنیادی سطحه باندې ولاړشو اوو ګورو نو ډیجیټل کیمرا یوه داسې آله ده چې دشیانو څخه په انعکاس سره راتلونکی روڼاوي سره یوځای کوي اوهغه معلومات په یوه ځیرل شوی طریقه سره (یعنی اصولی برق اعدادوشمار په شکل) سره بدلوی ویوه ډیجیټل فائل ته ئې انتقال وي. زیاد بیا ډیجیټل کیمره (TIFF /J[EG) دوسیي په لاندې شکل سره تیره وی اوجوړه ئیي: (۱) روڼا په کم لیډو سره پر بورډ باندې ولیږی. (۲) پر بورډ باندې چې هغه روڼا مرکوزه شي او هغه اندازه شوی روڼا بیا په برقی اشارو سره بدلول. (۳) دغه جاری اویا روان معلومات (Analog in formation) په ډیجیټل معلومات (دشماعو په حساب اودشمار په شکل سره بدلول) (۴) دغه حاصله شوی ډیجیټل معلومات دشماعی حساب وشمار په شکل کښې په مناسبه طریقه سره ذخیره کول. دروڼا احاطه. یوه ډیجیټل کیمره روڼادارقم مرکوزه کوی لکه څرنګه چې کیمری فلم ئې کوي یعنی دډیرو اعدادوشمار په مټ سره، لیکن په دواړو کښې بنیا دی فرق دادی چې یوه فلمی کیمرا دعکس په اخستلو اوجوړه ولو کښې کیمیکل طریقه ئې کار استعمالوی اوپه کیمائي طریقه سره تیارشوی فلم (سیلو لائډ) باندې عکس اخلی ـــ اوبل طرف ته ډیجیټل کیمرا چې په هغه کښې فلم نه وي اونه دنفس عکس یو چپ یعنی ثبت ځای وغیره کښې مقید اومحفوظ کیدای شی، له دغه وجې ډیجیټل کیمره عکس واخلی دځان سره داخستلو پرځای ئې دروڼا په یوه حساس آله (sensor) باندې مرکوزه وي، (دعکس دلیدلو دغه آله عکس تفصیل زیاته وی اودهغه مطابق معلومات داعدادوشمار په شکل کې پر سی ډی وغیره باندې ثبت کوی، په زیا ته طریقه سره په ډیجیټل کیمرو کښې دعکس بندی لپاره یو معیا ری حساسه ټیک نالوجی (ccd) یعنی (charge coupled-device) استعمالیږی. (سی سی ډی) دروڼا څخه دمتأثر والی د انتهائي کچنی کچنی حساسو ذراتو (Diodes) یوه مجموعه وي چې روڼا په برقی طریقه سره تبدیلوي، هره زره (ډایوډ) دروڼا په معامله کښې انتهائي حساسه وي اوڅونه چې ډیره تیزه روڼا پریوه ذره باندې ولیږی هغومره ژر برقی چارج په هغه کښې جمعه کیږی، پر (سی سی ډی) باندې د(ډایوډ) دتعداد څخه په دغه ځای کې دروڼاوالی صلاحیت ظاهریږی اودغه څخه دهغه زیاد ترزیاده د(ریزولیشن) تعین کیږي ـــ دتفصیل لپاره ملاحظه کړی دمارشل برین کتاب (HOW STUFF WORKS) نمبر ۱۸۲).

اوهدا رنګه په (WIKIPEDIA ENCYCLOPEDIA) کښې دی.

When you work with bitmap images like digital photographs, you work with pixels. A pixel (short for picture element) is the smallest unit in a computer image or display. Every image on your computer is made up of acoloredgrid of pixels. Your digital camera records pixels , your scanner converts physical images into pixels, your photo editing software manipulates pixels, your computer monitor displays pixels. And your printer paints pixels onto paper. تفصیل لپاره ملاحظه کړی (وکی پیډیا انسائیکلوپیډیا) عنوان (understanding rdsolution).

ترجمه :کله چی تاسو پر ډیجیټل عکس باندي کارکوی مثلا پر ډیجیټل فوټوګرافی باندي نو تاسو په اصل کښی د پکسل سره کارکونکی یاست پکسل (یا picture element) دیو کمپیوټری مناظرو اویا دعکس انتهائي ګجني کسي دي. تاسو ته چی دکمپیوټر پر اسکرین باندي کم عکس په نظر کي راځی هغه دپکسل (کسي) رنګین برقی شعاعو مجموعه ده، ستاسو ډیجیټل کیمرا پکسلز(کسی)محفوظه وي ستاسو سکرین (پرده، ایندازه) پر یو شی باندي طبعا قائم او همیشنئ عکس وپکسل(کسي) ته منتقله کوي ستاسو (photo editing software) عکس قطعه کوي اوترتیب ورکولو والا سافټ ویر پروګرام پکسل ته په ښه سلیقه سره ترتیب ورکوي، ستاسو (computer monitor) (کمپیوټر اسکرین) پکسلز (کسي)پرکمپیوټر اسکرین باندي روښا اوښکاره کوي، کله چی ستاسو (پرینټر) دغه پکسلز پرکاغذ باندي پینټ (په رنګ اوروغن) سره پائیداره کړای شی نو تصویر یا عکس جوړیږی. (۲) دډیجیټل نظام په ذریعه سره ډسک یا په سي ډي کښی د حاصله شویو مناظرو حقیقت. داخبره کافی دډیره وخته څخه تربحث لاندی ده چی د ډیجیټل سسټم (ترز) دطریقه کارپه ذریعه سره چی کم شکل وصورت اومناظرد کمپیوټر پر ډسک، سی ډی، ویډیو فیته، او په ډیجیټل کیمره کي ثبت اومحفوظه کوی، کیمره، اسکرین، ایندازه، اوتلویزون وغیره په ذریعه باندي نشر کیږي او پر ایندازه باندي ښکاره کیږی، آیا داهم دناروا تصویرعکس په حکم کښی داخل دی اوکنه دی ؟ د نن څخه تقریبا څورلس پينځه لس کاله مخکی د صحیح مسلم په شرح تکمله فتح ملهم کښی دا لیکنه شوی وه چی د ډیجیټل دغه طریقه کار سسټم دغه مناظر پریو کاغذ وغیره باندي دچاپ کیدلو څخه وراندی اول دتصویر په شکل کښی هیڅ ځای هم موجود اونه ثابتیږی، له هم دغه وجی وهغه ته ناجائز تصویر عکس ویل ډیر مشکل دی، اوځای دنظر دی، له دغه وجی په کتاب کښی اهل علم حضراتو ته دعوت ورکړه شوی وو چی ددغه معامله دی لازیاد تحقیق وشی، ترڅو دشرعی نقطه نګاه څخه دهغه شرعی حکم ښکاره اوواضحه طریقه سره معلوم شی . جامعه دارالعلوم کراچی کښی څرنګه چی په دغه باره کي ډیر زیات سوالونه راځی، له هم دغه وجی ددغی مسئلي غورجاري وو ددغه مقصد لپاره دشرعی دلائلو دتحقیق څخه علاوه دفن دماهرینو څخه هم معلومات حاصل کړه شو، اودهغه خبرو اومعلومات پرشرعی دلائلوباندي دعرض کولو کوشش هم کیږی، په دغه سلسله کښی تقریبا دری څلور کاله مخکی (مجلس تحقیق مسائلی

حاضره کراچی) دمشهورو مدرسو دمفتیانو کرامو څخه یوه اجتماع جوړه شوه، چې دهغه اول مجلس ۲۴ دمحرم الحرام ۱۴۲۵ه په جامعه دارالعلوم کراچی کې وشو اودوهم نشست یا مجلس بیا په داغه جامعه کښې په ۱۶ دصفر ۱۴۲۵ه باندي وشو، بیا دغه مجلس دغه لاندی کمیتی (عمله) مقرره کړه چې ددغه عملي څخه تریوزیات مجلسونه وشوه اوددغه (غړیو) له طرفه څخه پرداغه موضوع باندي پرمختلفو اړخو باندي ترلس زیاد تحقیقونه مضمونونه! ولیکنی ورانده شوی چې پردغه موضوع باندي دجمعه شویو نورو فقهی مقالو ومضامینُ څخه علاوه وي . د مجلس تحقیق مسائل حاضره کراچی د اراکینو اوددغه کمیتی دغړیو مفتیانو کرامو له طرفه څخه ورانده شوي قرارداد یا (پریکړه لیک) په کتوسره پردغه خبره باندي تقریبا اتفاق وشو چې دډیجیټل تر طریقه ئې کار لاندی داوسنی وخت دوسائیلو دنشر واشاعت څخه داسلام ددښمنانو غیری معمولی اومسلسل حملو دډفاع په خاطر ئې داستعمال څخه ناچاری ده اوباید دهغه اجازه وکړای شی، مګرپه فقهی لحاظ سره هغه بایډ په یوشی کښی داخل کړه شی، په دغه باره کښی ده هغه حضراتو رائیي مختلفی وي، لکه د (مجلس حقیق مسائیلی حاضره کراچی) پریکړه لیک (دډیجیټل عکس دمسئلی متعلق په تمهید کښی)؛ دمجلس تحقیق دغړو اودلاندی کمیتی دشرکاؤ مفتیانو کرامو پردغه خبره تقریبا اتفاق وو، چې تردیجیټل طریقه کار لاندی داوسنی وخت دنشر واشاعت دوسائیلو څخه داسلام ددښمنانو دسفین سترګو حملو دډفاع لپاره داستعمالولو څخه ناچاری ده ،اوباید دهغه اجازه وکړای شی، مګرپه فقیهی لحاظ ددغه حضراتو رائیي مختلفی وي، دغه رائیي دهغوی په مهمومقالاتو سرلیکنوکښی الحمد لله په ښه ضبط سره موجودي دي ـــ ددغی سلسلی یو اهم مجلس ۲ دربیع الثانی ۱۴۲۷ه برابر د اولی دمئ ۲۰۰۶ع په دارالافتاء جامعه دارالعلوم کراچی کې وشوه چې په هغه کښی پردغه موضوع باندي تراوسه دشوي کار کتنه شویده . په دغه اجتماع کې دمجلس تحقیق مسائلی حاضره کراچی دغړو څخه علاوه نور اهل علم حضرات شریک کړه شوه، تقریبا (۳۵) مفتیانو اوعلماؤ حضراتو په دغه اجتماع کښي ګډون وکړی چې په هغه کښی دځو حضراتو محترم نمونه لاندی ذکرکیږي.

شمیره	محترم نمونه	علمي مرکز
۱	حضـرت مولانـا مفتـي محمـد رفیـع عثماني صاحب	رئیس جامعه دارالعلوم کراچی
۲	حضرت مولانا مفتي محمد تقي عثماني صاحب	نائب رئیس جامعه دارالعلوم کراچی

۳	حضرت مولانا مفتي عبدالمجيد دين پوري مدظله	جامعة العلوم الاسلاميه علامه بنوري ټاون کراچي
۴	حضرت مولانا فضل الرحيم صاحب مدظلهم	جامعه اشرفيه لاهور
۵	حضرت مولانا مفتي محمد زاهد صاحب مدظله	جامعه اسلاميه امداديه فيصل آباد
۶	حضرت مولانا مفتي منظور احمد مينګل صاحب	جامعه فاروقيه کراچي
۷	حضرت مولانا مفتي محمد صاحب مدظله	دارالافتاء والارشاد کراچي
۸	حضرت ملانا فتتي عبدالحميد صاحب مدظله	جامعه اشرف المدارس کراچي

په اجتماع کي شرکت کونکو مفتيانو حضراتو کرامو ترغور اوفکر څخه وروسته دغه خبره وکړه له چی پر اليکټرونک (برقی) ميډيا باندي راتلونکی شکلونه يعنی د ډيجيټل نظام په ذريعه سره دکمپيو ټر پر ايندارو، او ډيجيټل کيمری پر ايندارو اويا دتلويزون پرايندارو باندي چی کم شکلونه اويا مناظر په نظر کي راځی هغه شرعا دتصوير عکس په حکم کي دی اوکنه دی ؟ څرنګه چی مسئله اجتهادی وه چی په دغه وخت کي پيداشوی وه اوهم دارنګه هيڅ يو حتمي اوقطعی حکم په قرآن اوحديث کي په دغه باره کي نه پيدا کيږي. له هم دغه وجی ددغه په باره کي به مجلس کي شريک مفتيانو کرامو پريوه رائيه باندي متفق نشوه، دهغه لاندی درج کړه شوی اقتباسات دي ملاحظه وي:

(۱)..پردغه خبره دټولو اتفاق دی چی ډيجيټل اليکټرونک (برقی) اطلاعاتو کنبي دليدونکی منظر پر عکس والی اويا نه عکس والی کي يو اړخ لا قطعی ندی، بلکه مجتهد فيه دی اوپه هغه کي داوسنی وخت دعلماؤ اختلاف دی. (۲)په دی کي هم کوم شک نشته چی تی وي پر بي شماره مفاسدو باندي بناء دی، له

دغه وجی څخه په موجوده حالاتو کي دهغه په کور کي اینبودلو څخه ځان ساتل په کاردي. - (۳) دالیکټرانک برقی میډیا اطلاعاتو باندي راتلونکی شکل په باره کي دري رقمه رائیي ستاسو په وړاندی کښی ذکر کیږي. (۱)... مطلق ممانعت، یعنی دالیکټرانک برقی اطلاعاتو استعمال دضرورت شرعیه څخه بغیر جائز ندی. (۲)... پر الیکټرونک برقی اطلاعاتو کي ښکاره کیدونکی شکلونه دتصویر په حکم کي داخل ندی، له دغه وجی دهغه استعمال جواز لري په دغه شرط چی بل شرعی ممنوع نوي. (۳)... صرف په جنګی وجهادی ضروریاتو کي دهغه داستعمال اجازه شته .. (دلازیات تفصیل لپاره وګورئ! (قراردادونه دمجلس تحقیق مسائل حاضره) (متعلقه مسئله دډیجیټل تصویر) ۲ دربیع الثانی ۱۴۲۷هج مطابق اوله مئی ۲۰۰۶عیسوي.

دجامعه دارالعلوم کراچی ددارالافتاء موقف : زموږ په نزد دوهمه رائیه راجح ده. ځکه حقیقت دادی چی دډیجیټل نظام په ذریعه پر اسکرین ایندارہ باندي په نظر راتلونکی ژوندی منظرې نه خو بعینه تصویرونه دی اونه بعینه عکسونه دی اوداچی سایه لرونکی ندی داخوتقریبا متفق علیه ده اوښکاره خبره ده، له هم دغه وجی داچی نه تصاویر اونه عکسونه دی ددي مختصر وضاحت وړاندی کیږي. (۱).. تصاویر له دی وجی څخه ندی چی پریوه هم مثله اوصورت باندي په حقیقی معنی کي دتصویر اطلاق هغه وخت کیدای شی. چی کله هغه په همیشني شکل سره پریو شی باندي نقش وی، کله چی ویډیو فیته .سی ډی، فلاپی ډسک، usb. کمپیوټر هارډ ډسک، وغیره کښی چی کمي ډیټا وي (DATA) پرتې دي اومحفوظه دی هغه په ډیجیټل کیمره کښی دنصب شویو آلاتو (Analog-to-Digital coriverter) and . C.C.D . CHIP . C.MOS< په مرسته سره دکم عکس دشعاعو څخه حاصل شوی معلومات اوانفارمیشن وي اودغه معلومات هم دتصویر په شکل سره هلته نه محفوظیږی. بلکه دډیجیټل اعداد وشمار(۰۱) په شکل کښی داډول محفوظه کیږي چی نه موږ هغه لیدلای شو اونه ئي ویلای شو، حتی چی دیو خورد بین په وسیله ئي هم نشو کتلای، بلکه که چیری دیو آلې دمرستی په وجه سره دغه اعداد به نظر کي هم راشی بیا هم موږ نه پوهیږو چی دغه اعداد دکوم شی نمائیندګی کوي، لهذا په ویډیو کیست یا سي ډی وغیره کي محفوظ کړه شوی اعداد و تصویر نه بلل بلکل یقینی اوښکاره ده اودویډیو فیتی اویا سي ډی وغیره ترچلولو وروسته پر اسکرین ایندارہ وغیره باندي چی کوم څه په نظر راځی هغه هم له دی وجی څخه تصویر ندی چی هغه په حقیقت کي دروشنی روڼا شعاوي دی (ریډیائي سګنلز)Electron Beam/Electrical signals Device)، یا مخصوص چپ Analog converter to Digital)، یعنی (A.D.C) په مرسته پر دیوال اویا پرده اویا اسکرین ایندارہ وغیره باندي په ناپائیداره شکل سره ښکاره کیږي اوفورا فناه کیږی، یعنی دنقطو په شکل کي شعاوي په کیمره کي

دنصب آله (ډیوائس) څخه راووزي اوپه هم دغه وخت کې په اسکرین وغیره باندې ښکاره کیږي اوپه هم دغه لمحه ایګرې کښې ننداره کیږي. دغه مناظر په کاغذ وغیره باندي دپرنټ کیدلو څخه وړاندې تراسکرین اینداري ترحده پورې په هیښني شکل سره هیڅ ځای هم منقش اوثابت نوي اونه هغه یوځای دتصویر په شکل کې قرار اوثبات لري اونه ورته حاصلیږي، نو دغه وجې مناظر دتصویر عکس په حکم کې ندی.

ملاحظه کړی دمارشل برین دکتاب څخه یو بل اقتباس؛

The standard sensor technogogy for most digital cameras is acharge coupled-device (CCD). The CCD is acoggection of tiny light sensitive diodes (called photosites) Which convert photons (that is, light) . into electrons. Each photosite is sensitive to gight the brighter that hits asingle photosite. the greater the electrical charge that accumulates at that site The number of photosites on a CCD determines its maximum resolution. The next step is to real the value (that is the accumulated charge) of each cell in the image. In a CCD,the charge is actually transported across the chip and real at one comer of array. An analog to digital converter (ADC) turns each pixels value into adigital value. The ADCis a sophisticated piece of equipment,but the basic concept is very simple · think of each photositeon the CCD as abucket. Now think of the photons of light as raindrops. As the raindrops fall into the bucket, water accumulates (in reality, electrical charge accumulates). Some buckets have more water the others,representing brighter and darker section of images. The ADC measures the depth of water in each bucket one by one. Then it records this information as abinary value. Even the simplest digital images contain thousands of buckets, and the best digital camera has millions of photosite on CCD .

ترجمه: ډیرخله په ډیجیټل کیمرو کې (دعکس اخستلو) لپاره موقته حساسه ټیکنالوجي (CCD) یعنی CHARGE COUPLED-DEVICE استعمالیږي (سي سي ډي) درونا څخه دمتأثرکیدلو له وجې کچني کچني ذراتی (ډیوایسز) یوه مجموعه وي، چې هغه رونا په برقي زراتو سره تبدیله وي هرذره (DIODE) ده رونا په معامله کښې انتهائي حساسه وي اوڅومره زیاته تیزه رونا چې پرکمه زره باندې ولویږي هغومره زیات برقي چارج پرهغه باندې جمعه کیږي. پر(CCD)باندې د(DIODES) دشمیر څخه ددغه ځای درونا والې صلاحیت ښکاره کیږي، اوددغه څخه دهغه څخه بالابد لازیات د(Resolution) تعین کیږي . ددې څخه وړاندې مرحله په عکس کې موجود هره هره برقي زره (cell) اندازه زیاتیږي یعنی دجمعه شویو برقي ذراتو دمقدارتعین کاوه کیږي (په سي سي ډي) کې ټوله چارج په یوه چپ کې تیریږي پریو بل ځای باندې جمعه کیږي، اوپه دغه وخت کې دموجوده چارج داندازې معلومات کیږي. (پردغه ځای analog (جاري) کرنټ ویو (digital) عددي کرنټ کښې دبدلیدلوآله (converter) هم نصب کیږي Analog-to -digital converter یعنی همیشني کرنټ په عددي کرنټ باندې دبدلیدلو آله (ADC) ټول PIXELS(دشعاؤر د ذراتو)اندازه په یو برقي ډیجیټل اندازې سره تبدیلوي.

(ADC) : يوه مصنوعي اوبيچلي پرزه ده، ليکن دهغې بنيادي بنسټيز تصور ډير ساده دی، پر (CCI) باندي دروڼا برقي سګنلونه په اشارو سره بدليدونکي (ډايوډز) تاسو ديو سټل سره تشبيه ورکولای شی، اوپرهغه باندي پريوتونکي روڼا اندازه دباران دڅاڅکو په څير پرمختلف ځايو باندي اينبودل شوي سټلونه دی دپاره دباران دجمعه کيدلوچی په يوه سټل کي دنوروپه وړاندی زيات څاڅکی جمعه شوي وي، هم دغه رنګه په (سی سی ډی) کي دروڼا مقدار کم اوزيات کيدای شی، چی دعکس دروښوالی اوتاريک والی عکاسی کوی (ADC) يو په بل پسی وروسته دهرسټل اندازه معلوموي يا دغه معلومات دشعاؤ په اعداد وشمار (۰۱) په شکل سره محفوظه وي، ترټولو ساده ډيجيټل عکس (منظره) هم دغه رقم په زرهاؤ سټلونوباندي مشتمل وي، لکه چی ډيره ښه ډيجيټل کيمره هغه وي چی په هغه کښی پر (سی سی ډی) باندي دلکهاؤ په تعداد ډائيوډز وي.

ددی تفصيل لپاره ملاحظه کړی د مارشل برين کتاب : هاو سټاف ورکز) صفحه نمبر ۱۸۲تر ۱۸۴ پوری) دشعاؤ دمنظر معلومات په سی ډی يا چپس وغيره کي دارقم محفوظه وی لکه څنګه چی پر آډيو فيته کښی پر (عين روبا) فيتي باندي دآوازونو صورتي ترڅونه ثبت کيږی، چی هغه هم موږ په سترګو سره نشوليدلای، نوهم هغه دضرورت په وخت کښی په يو ټيپ يا آډيو مشين کي اينبودل کيږي دفيتي ترچليدلو وروسته ديو خاص آله په واسطه سره هغه دآواز ترڅونه راوزی اوده راډيو يا ټيپ کښی موجوده خاص آلی سره مبتلی اوداوريدلو قابله ګرځی، ليکن په راډيو اوټيپ کي هيڅ ځای هم قائم او ثابت نه پاته کيږی، بلکه آله يا ټيپ وغيره بنديږی، کله چی دترڅونودغه سلسله منقطع شی نو پورا آواز هم بند شی، کم چی په ټيپ کي وو اويا دلته اوريدل کيدی، فرق ئي صرف دونه دی چی هلته اوريدلو والا آوازونه دآواز دترغ څخه پيدا کيږي کم چی په آډيو مشين کښی دنصب شوی آله په مرسته دآډيو فيتي اويا دټيپ وغيره کي دخاص آلی دټکرکيدلو څخه پيدا کيږي . اودلته بيا پراسکرين يا اينداره باندي معلوميدونکی شعاوی ليدونکی شعاوی کم چی په هارډسک ؤ سی ډی، يا چپ، کي دمحفوظ معلومات په مرسته ډيجيټل کيمره يا ډيجيټل مشين کي دنصب شوی آلی په مرسته سره دشعاؤ په څير کي راوزی، يو لک شپږ اتيا زره ميله تقريبا درې لکه کلوميټره رفتار سفر په يوه سانيه کښی کوي اوبر اسکرين باندي ښکاره کيږي اوورسره ګړی په ګړی فناه کيږي او دشاله خواپيا هم په دغه رفتارسره نوی شعاوی دهغه پرځای راځرګنديږی، اوداغه ډول هم فناه کيږي حتی چی ددغه شعاؤ څخه يوه ذره هم ديوه ګړی لپاره هم پراسکرين اينداره باندي نه پاته کيږی، پراسکرين باندي دشعاؤ دغه دوليدلو اوفناه کيدلو عمل په دغه اندازه سره تيز پرمخ روان وي چی (pixels ۱۲۸۰*۷۲۰) ذراتوباندي مشتمل منظر يو درميانه (اوسط) ريزوليشن والا مانيټر(کمپيوټراسکرين) چی په يوه سانيه کي يو کروړ

دروئنوي لکه نوي زره (۱۹۳۹۰۰۰۰) بائټ سره (۶۰) فريمونه جوړه وي اوما ته وي ئي (19.39mbps) کم چې پراسکرين اينداره باندي معلوميدونکي اوفناه کيدونکي دشعاوو پر (اربو، کرورو) ذراتو نقطوباندي مشتمله کيږي. ددغه ډيرې تيزۍ په وجه سره منظرې اوشکلونه پراسکرين اينداره باندي په حرکت کونو سره معلوميږي.

1_ light speed of ۳۰۰,۰۰۰ kilometers per second (۱۸۶,۰۰۰ miles per second) Britannica ;v:۳p۱) (۲) the screen is refreshing at ٦۰ frames per second. (how stuff works : page no ۱۳٦) ۳-۴۸۰p- the picture is ۷۰۴*۴۸۰ pixels, sent at ٦۰ complete frames per second . ۷۲۰- the picture is ۱۲۸۰* ۷۲۰pixels, sent at ٦۰ complete frames per second.

دتفصيل لپاره وګورئ! دمارشل برين کتاب (هاو سټاف ورک) صفحه ۱۳۶ تر ۱۹۵ پوري.

الغرض: ددغه شعاعي ذراتو دبنکاره کيدلو اودفورا ختم کيدلو دسترګو په وسيله ئي ليدل هيڅ کله ممکن نه وو، که چيرې الله تعالى په خپل حکمت بلغه اوپه فضل ومهرباني سره په قوت باصره کښې دليدلو طاقت (persistence of vision) کښې نږدي، داخو دربِ کريم احسان دی چې هغه په سترګوکې دغه طاقت ايښي دی چې کله موږ ويو منظرې ته ديوه ګړي لپاره هم ګورو نو دهغه دخراپيدلو څخه وروسته هم دهغه عکس ديوساني لپاره (1/16) حصې پوري زموږ په سترګوکې پاته کيږي اوهغه منظر دسترګو په وړاندې په فکرکې په راتلو سره محسوسيږي. حاصل دادی چې د ډيجيټل نظام په ذريعه پر اسکرين باندي ليدونکی شکل دتصوير بنيادي شرط (استقرار او قائم والي) پکښې موجود ندی له هم دغه وجې څخه دغه مناظر شرعا په تصوير کي داخل ندي، زموږ ډيرجشرانو علماؤ کرامو رحمهم الله دتصوير حقيقت اودتصوير اوعکس په منځ کي دفرق وضاحت کړيدی اوقيام اوهميشه توب ئي حد فاصل اومعيار بللی دی ـ مفتي اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب قدس الله سره العزيز (تصويرکي شرعی احکام) ص: ۵۱ کی ليکلی دی اوفرماني: واقعه داده چې ظل اوسايه قائمه اوهميشه نوی، بلکه دسايي دخاوند تابع وي، ترڅوپوری چې هغه دايندارې په مقابل کي ولاړوی نو هغه سايه هم ولاړه وي، اوکله چې هغه ددغه ځای څخه ولاړشی نو سايه هم غايبه شي اوفناشي، دعکس پراينداره باندي چې دکوم انسان عکس راشي، وهغه ته عکس ترهغه وخته پوری ويل کيدای شي ترڅوچې دهغه رنګ وروغن ديوې مسالي په وجه سره قائم اوهميشه جوړنشي، اوکله چې هغه عکس قائم اوهميشني جوړشي په دغه وخت کي دغه عکس تصوير شي، (تصوير کي شرعی احکام ص: ۵۱) اوهم دارنګه امدادالاحکام جلد ۴ ص: ۳۸۴ باندي دتصوير اودعکس متعلق ديو سوال دجواب په ضمن کي دتصوير اوعکس فرق بيان کړيدی صاحب داعلاء السنن حضرت مولانا ظفر احمد

عثماني نورالله مرقده ليکلي دی : ترټولو غټ فرق دداوړو په منځ کي دادی چې داينداري وغيره عکس
هميشنی نه وي او د تصوير عکس مساله ورلګول کيږي اوقائم کاوه کيږي. بيانو هغه ترهغه پوری عکس دی
چې مساله په هغه پوری نوی لګيدلی اوبيا چې هغه په يوه نه بله وجه سره قائم اوهميشه کړل شو نوهغه
تصوير جوړيږي. اوحضرت مولانا مفتي رشيد احمد صاحب رحمه الله په احسن الفتاوی جلد ۸ ص: ۳۰۲ کی
دعکس اوتصوير فرق بيان کړيدی اوليکلي دی : تصوير اوعکس دواړه بلکل متضاد شيان دی. تصوير
ديو شی هميشه اومحفوظ نقش وي، اوعکس ناپائيداره اوموقت نقش وی، داصل دغائب والی سره دغه
عکس هم غائبيږی ــ حضرت مولانا مفتي جميل احمد تهانوی رحمه الله جامعه اشرفيه لاهور. دټی وي پر
اينداره باندي رأسا دراتلونکي شکل متعلق ديوي استفتاء په ورکړه شوی جواب کي ليکلی دی :تصوير
وعکس دائيم ته ويل کيږي له دغه وجې په اوبو کښی اوپه اينداره کي چې کم عکس معلوميږی. هغه تصوير
ندی اوممکنه ده چې بعضی ځايونه دی تصوير اخستل شوی وي اوهلته دی اينبودل شوی وی. نو کله چې
هغه ښکاره کيږي تصوير بلل کيږي (الاشرف جلد ۴ ش۱۲شعبان ۱۴۰۹ه صفحه ۶۱) (۲) دغه منظر بعينه
عکس له دغه وجې نشی کيدای چې عکس په حقيقت کښی د ذوالعکس سره يعنی دچا چې عکس دی ورسره
ټکر شی دصفاء والي په وخت کي دهغه منعکس شوی روڼا نوم دی، اوکله چې دلته پر اسکرين باندي
ليدونکی شعاوی دی دابعينه هغه ندی چې د ذوالعکس سره ټکرشوی وی اومنعکس شوی وي. لهذا
دابعينه عکس ندی، البته ددي مشابهت نسبت وتصوير ته ترعکس زيات دی، ځکه په ويډيو فيته سی ډی
کي اويا چپس کي دمحفوظ شوی معلومات مطابق دډيټا (ذخيره) دويلو والا دآلې په مرسته پر اسکرين
باندي ديو خاص تسلسل سره داسکرين سره دټکر کيدونکو شعاودغه دول موږته پراسکرين باندي ليدل
کيږي لکه څنګه چې په اينداره کي عکس ليدل کيږی، له دغه وجې په عکس کي هم دغه سی وي، چې ترڅه
وخته پوری په اينداره وغيره کي دشا لخوا شعاوي راتلونکی وي، ترهغه وخته پوری وموږته عکس
رامعلوميږی، اوکله چې پراينداره باندي شعاوو ليدل بندکړه شی نو په هغه کښی عکس هم نه جوړيږی، که
څه هم انسان واينداره ته ولاړوی، مثلا : چې کله تياره اوتاريکی راشی اوشعاوی پيدانه وي نوکه څه هم
انسان واينداره ته ولاړوی، خودهغه عکس نه جوړيږی، دډيجيټل نظام په ذريعه سره پر اسکرين باندي
ليدونکی منظرونو کي هم دغه خبره ده، چې پراسکرين باندي کم څه په نظر راځی هغه خالصتا دروڼا شعاوی
دی، کم چې دډيجيټل کيمرې اويا دډيجيټل مشين څخه راوزی اوداسکرين سره په ټکر کي ولږی اومسلسل
فناه کيږي اوترڅو چې دغه شعاوی راوزی اوپر اسکرين باندي پريوزی اوبيا سم دستی دفناه والی دغه عمل
جاری وی نو منظر پراسکرين باندي ليدل کيږی، ليکن کله چې ددغه شعاوو راوتل بندشی هغه که دآلي
اوياد مشين دبندوالي دوجې څخه وی اوکه دبرق دقطعه کيدلو په وجه سره وی، په هرحال ! منظرهم سم

دستي ورکيږي، داسې هيڅ کله نشي کيداې چې دبرق دبندوالی څخه وروسته دې آخرۍ منظره پر اينداره باندې پاته شي، ځکه چې پر اسکرين باندې ليدونکې منظر درونړا دشعاوو درحم وکرم څخه وو، له دغه وجې چې روښا ختمه شي نو سم دستي منظره هم غائبيږي ـــ دغه حقيقيت ته په نظر سره که چيرې غور وشي نو دغه منظرې وعکس ته نيږدې دي اوورسره ډيرې مشابه دي، په وروسته کې داخبره دوضاحته سره راتلونکې ده چې داکابرو علماء کرامو وليکنوته په کتلوسره ويوشي ته تصوير هغه وخت ويل کيداې شي چې کله دهغه واضح معلوم شکل وصورت پريوشي باندې قائم اومنقش شي ..اويا داډول تراش شوې وي چې دهغه شکل وصورت پريوشي باندې ثابت وقائم شي، کله چې دلته دغه شعاوې ذرات اوبرقي اشاري پريو شي باندې منقشه اوقائمې نوې، اوکه ددغه منظر ديو حقيقي تصويرسره پرتله کړه شي نو په دغه کښې تريحث لاندې منظر ومشابهت دتصوير سره صرف دونه اندازه دې لکه څنګه چې دحقيقي تصوير دشکل وصورت داصلي شي سره، داغه رقم دغه منظرې هم په ليدلو کې داصلې شي په رقم ليدل کيږي، اوهمدارنګه لکه څنګه چې په حقيقي تصوير کې دانسان د صنع (عمل) دخل دې، داغه رقم دلته هم دانسان د صنع دخل کيداېشي، ليکن دحقيقي تصوير سره مشابهت په اينداره کې دليدونکې عکس سره هم شته، چې په ليدلو کې داصل په رقم معلوميږي اوپه هغه کې هم دانسان دصنع مداخله شته چې هغه باقاعده داينداري ومخ ته دريږي، اويا باقاعده اينداره ولګوې يو طرف دعکس ورکښې معلوميږي، بلکه داينداري دجوړيدلو مقصد دادې چې په هغه کښې عکس معلوم شي، اوددې پر عکس چې دحقيقي تصوير بنيادې وصف دې يعنې قيام واستقرار هغه په دې کښې موجودندې، بلکه بالکليه نيستي دي . ځکه په حقيقي تصوير کې په خپل ځان کې بقاوې، ترڅوپورې چې ديو عمل په ذريعه سره هغه خراب نشي، هغه باقي پاته کيداېشي، دعکس اوحقيقي تصوير ترمنځ دغه شي مابه الفرق دې، يعنې دغه هميشه توب اوبقاء عکس اوحقيقي تصوير يو دبله سره جلاکوې .

(دډيجټل منظرو دحقيقت دتفصيل اودهغه په باره کې دمفصل فني معلومات لپاره ملاحظه کړئ : دمارشل برين کتاب (هاوسټاف ورکس) صفحه ۱۱۲تر۱۱۳چې داسټرليا مشهورې ادارې (wiley publishing ptyltd)خپره کړيده . دډيجټل منظرو ددغه حقيقت په وړاندې داوسنې وخت دمسائلو اووسائلو باندې په ژورنظرسره په کتلو ډيرو محققينو علماء کرامو ډيجيټل مناظر دتصوير پرځاې په عکس کې داخل کړيدي، يعنې په ډيجيټل نظام کې پراسکرين اينداره باندې ليدونکې اويا دتلويزون په نشرياتو کې ليدونکې مناظر ددوې په نزد دعکس سره مشابه دي ،دعکس سره دزيات مشابهت په وجه عکس بلل شوې دي نه تصوير .

مثلاً: پرجديد مسائلو ا و وسائلو باندې ژورغورکولو والا دبرصغير معلوم اومشهور شخصيت حضرت مولانا محمد برهان الدين سنبهلی صاحب مدظلهم په خپل کتاب (جديد مسائل کاشرعی حل) صفحه ۱۵۷کېڅ ليکلي دي : پرتلويزون باندې چې څه په نظر سره راځي هغه په اصل کې ديرتوامشين په وسيله

سره اخستل شوی او ښکارندویه عکس یا سایه ده لهذا ددې حکم هم هغه کیږي کم چې ددغه منظرودی کم چې پر تلویزون باندي وراندی کیږي که چیری تلویزون باندي ژوندی داسی منظري اوپروګرامونه وراندی شی چې دهغه بیله تلویزون څخه هم ښکاره کیدل اوآوریدل جائز وی نو دداسی پروګرامو اومنظرو پر تلویزون باندي اوریدل هم رواه دی. دهندوستان یو محقق عالم مولانا خالد سیف الله رحمانی صاحب په خپل کتاب (جدید فقهی مسائل) صفحه ۱۸۸ کي لیکلی دی :پرتې وي باندي د ذیروحه تصویر که څه هم دفلم (نوار) په ذریعه نشرشی بیا هم دهغه حکم دتصویر دی اوکه چیری ژوندی دارقم پرتلویزون باندي راځرګند شی چې دهغه فلم (نوار) نه وي جوړشوی بیا عکس دی اوپه دغه وخت کي صحی دی، ترڅو چې دښځوپه وړاندی راتوړل شی اونه دغیر اخلاقی مقاصدو لپاره استعمال کړه شی . هذا ماعندی والله اعلم . حضرت مولانا مفتي عبدالله معروفی صاحب استاذ دارالعلوم دیوبند (دتلویزون اوانټرنیټ ددینی مقصد لپاره استعمال پردغه اهمه موضوع باندي په خپل یو سرلیک کښی دټی وي اواسکرین باندي دلیدونکی شکل په باره کي فرمائي ؛ پرتلویزون چې کم صورت معلومیږی هغه دتصویر په حکم کي ندی، بلکه هغه عکس دی، لهذا پردغه باندي دتصویر دحرمت د دلائلو اوروایتو څخه استدلال صحیح ندی حضرت مولانا مفتي محمد زاهد صاحب مدظلهم جامعه اسلامیه فیصل آباد (اشرف التوضیح) دریم جلد ص: ۵۸۵باندي د ډیجیټل منظری په باره کي لیکلی دی : په ویډیو فیته کي چې کم څه پراته دی هغه تصویر ندی، له دی وجی چې په هغه کي اجزاء متمیز جلا ندی اوبیا چې هغه فیته ولګول شی اوپراسکرین چې کم څه ښکاره کیږي هغه هم تصویر ندی، ولی چې هغه ترشعاؤ لاندی دی بلکه هغه دغه شعاوي دی چې دهغه څخه راوزی اوپراسکرین باندي پریوزی، لهذا ودي ته کتل وتصویر ته کتل نشی ویل کیدلای، په ښکاره سره ددي وجی څخه مادغه نقطه ذکر کړه چې راجع معلومیږی ،ځکه چې نه فیته تصویر ده اونه هغه چې پراینداره باندي ښکاره کیږي هغه تصویر دی . (تردغه قول پوری) حاصل داراؤوتل چې په ویډیوفیته کي کم څه پراته دی هغه هم تصویر ندی اودهغه دچلولو په وخت کي چې کم څه پر اسکرین باندي راځی هغه هم تصویر ندی . اوس پاته شو دټی وي حکم، هغه تصویر دی اوکنه دی ؟ په ظاهره خو وهغه ته تصویر ویل هم مشکل دی له دي وجی څخه چې دټی وي پروګرام عموما دوه رقمه وی، یو خو ژوندی پروګرام وي یعنی (لائیو براډکاسټ) اودوهم هغه پروګرام وي چې هغه دویډیو کیمری په وسیله سره اول محفوظه کیږي اوبیا ښکاره کیږی، اول قسم پروګرام خو یقینا عکس دی ځکه چې په هغه وخت کي هلته کم کارکیږي هغه دی اویا یو مقرر وینا کوی په هم دغه ګړی کي تردیره لری ځایه پوری رسیږی، اوکه هغه دکیمری د مخ څخه لیری کړه شی نو دهغه تصویر هم لیری کیږي . اوکم چې دوهم قسم پروګرام دی دهغه حکم ښکاره دی، هغه دویډیو حکم لری اودویډیو حکم په باره کي اول بیان وشو چې هغه تصویر ندی، البته یو دریم صورت هم سته، لیکن دهغه

اي الله زموږ لپاره دغه سفر آسان کری اوددغه ليري والی زموږلپاره نزدي کړی . آی الله، تاسوزموږ سره په دغه سفرکی يو ځای ياست، اوتاسو زموږ ترشا زموږ دکورونو محافظ ياست، آی الله زه په تاسره پناه غوښتونکی يم دسفر دتکليف څخه اودغم دپيښيدلو څخه، اوپه بد حالت کي دمال اودکورني په بيرته تللوکی . والسلام ۱۴۳۲/۴/۱۱(فتوی نمبر ۱۳۴۴/۳۲).

(۱) دتبليغی جماعت وغيرمسلمانانو ته داسلام ددعوت دنه ورکولو حکم

(۲) په يورپی ملکوکی ددعوت اوتبليغ په نيت دتللوسره دتبليغی جماعت دوريزې د حاصليدلو خاطر ملاقات اود سياحت اراده ښکاره کول

سوال : شيخ الاسلام حضرت اقدس حضرت مولانا مفتي محمد تقي عثماني صاحب السلام عليکم ورحمة الله ! په اوس وخت کي ستاسو حضرات په علم کي ده چی ددعوت اوتبليغ په وجه سره کارکيږی، دملک په داخل کي هم اوملک څخه دباندي هم دجماعتونو په شکل کي دپاکستان د(رائيوند) دمدرسي څخه اوداندیا دنظام الدين دکلی څخه داکابرينو په مشوره سره هر کال وغير مسلم مملکتو ته د کال، او اوو مياشتو،لپاره تقريبا دوستان تشريف وړی، په

دغه مذکوره صورت کی، (۱)... دجماعتو درخصتی په وخت کي دتبلیغی جماعت مسئولین حضرات لاربنووني کوي چی وغیرمسلم ممالکو ته ورسیږی ،هلته هغه اوسیدونکوته چی ددین څخه لیری شوی مسلمانان دی دحق لاری وراوستلوته ني کوشش اوفکروکړی. دهغوی سره ملاقاتونه وکړی هغوی وروړی اولمانځه اودمکمل دین وپابندی ته اوددعوت دعظیم کارلپاره تیار کړی، دغیری مسلمانانو ودین اسلام ته ددعوت کولو څخه منعه کیږی، داپیره بیانیږی چی دغیری مسلمانانو واسلام ته په داخلیدلو سره دهغوی دلاربنوني لپاره هیڅ څوک نه وي، چی په دغه وجه سره هغه دوهم ځل مرتد کیږی،آیا دغه مذکوره خدشه صحی دہ؟ (۲)... په دعوت اوتبلیغ کي دلګیدلی دوستانو هدف دادی چی ترقیامته پوری راتلونکي درسول صلی الله علیه وسلم ټوله اُمتیان دجهنم څخه وساتی وجنت ته دورتللووالا ني جوړکړی، دصحیح لاربنووني دنشت والی اودغافلو مسلمانانو په اصلاح کي داخته کیدلو په وجه وغیر مسلمانانوته ددین اسلام دقبلیدلو ددعوت نه ورکول اوځنګ کول شرعا څرنګه دی ؟ (۳)...یوه وجه داهم بیانیږی که چیری غیرمسلمانانو بیا وخپلو ملکوته داخله بند کړه، آیادغه اندیښني څخه وغیری مسلمانانو ته داسلام دعوت نه ورکول شرعا جائز دی ؟ (۴)... ویورپی ممالکو ته اوددنیا ونورو غیرمسلم هوادوته دتګ لپاره دویزي ضرورت وي، دجماعت والاؤ څخه چی دکم ملک لپاره هغوی استول کیږی، دسفارت خاني والا وهغه ملک ته دتللو وجه ورڅخه غواړی، چی پردغه باندي دجماعت ملګری دلویانودمشوري څخه داجواب ورکوی، چی موږستاسو وملک ته دسیراوسیاحت لپاره څو، اوحال داچی دهغوی مقصد هلته دغافلو مسلمانانوسره ملاقات وي، دخپل کاراومقصد په خلاف وسفارت خاني والاؤته جواب ورکول شرعا څنګه دی ؟ دمحترم شیخ الاسلام مفتي محمد تقي عثماني صاحب عظیمه رائیه ضرورشامله کړی ستاسو حضراتو به عظیم احسان وي . والسلام محمد ابراهیم کوهاټ.

جواب : مکرم بنده ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! (۱)... وغیر مسلمانانو ته ددعوت اسلام د ورکولوڅخه په کلی طریقه سره بندیدل اویا دبندیدلو بند وبست کول دبنده په فکر

اورانیه سره صحي ندي، البته دهر جماعت خپله دکار دائره وي، تبلیغي جماعت هم خپله دائره دمسلمانانو ترحده پورې اینېی ده، تردغه حده پورې هیڅ تکلیف نشته. لیکن دغه عذر صحي ندی چې کوم مسلمان وي او دهغه دی صحی لاربښوونه ونشی. څکه یوازې دکفرڅخه ځان ساتل غټ نعمت دی، که څه هم په عمل کې کمی وی . (۲)... په دغه کښې دغه تأویل کیدایشی چې په غیرې مسلم هیوادوکښی سیراوتفریح کیږي اوسیروسیاحت هم دTOURISM په فراخه تعریف کې شاملیږی . والسلام ۱۴۲۹/۳/۵ هجري .

دحکیم الامت حضرت تانوي رح په نصیحت کې بیان شوې دحضرت شاه ابوالمعالی رح پریوې قیصې باندې سوال اوجواب

سوال : مکرم اوخدمت گاره جناب مولانا محمد تقي عثماني صاحب السلام علیکم ورحمة الله (۱)... ما دجناب مشفق اومربی مولانا محمد شفیع رح پرلاس باندې بیعت کړیدی .

(۲).... دمطالعه په دوران کې دبنده په نظر کې دجناب حضرت مولانا محمد اشرف علی تهانوی رح یوه داسی لیکنه تیره شوه چې ددیري شرمندگی باعث جوړه شویده، دمذکوره لیکنی نقل ستاسو وخدمت ته وړاندی کیږي ،(۳).. ددغه لیکنی څخه دبدعاتو په باره کې دغه تأثر راپیدا کیږي چې څرنگه دغه په دین کې یو ناوړه شی دی، اوحال داچې ترموږه پورې دانبکاره حکم رارسیدلی دی : چې هربدعت گمراهی ده اودهري گمراهی ځای جهنم دی . ددغه دوضاحت سخت ضرورت دی، چې هغه شرمندگی ختمه شی . (۴) ... هم داډول په دغه لیکنه کې دغه الفاظ هم راپیدا کیږي چې بدعتی په دغه وجه ورته ویل کیږي چې دده څخه بعضې خبرې دبدعت په صورت کې صادریږی که څه هم په واقع کې هغه بدعت ندی . دمهربانی له مخې ! ددغه صورت حال دیو مثال څخه وضاحت وفرمایاست، کم چې صورتا بدعت وی لیکن اصلا بدعت نوی . په بل لحاظ په مذکوره الفاظو کې داهل بدعت حضراتو وخپل عقائدوته

دتائيد ډيرمواد موجود دی . دکرم له لاري دواضحه مثال ځخه مو آگاه کړه دبنده لارښوونه وکړه . (جزاکم الله جزاء الخير) (۵)... په دغه ضمن کي ترټولو پريشانه ونکي خبره داده که چيری دغه مذکوره ليکنه په دقيق نظر سره مطالعه کړه شي نو خبره دنبی کريم صلی الله عليه وسلم وذات اقدس ته رسيږی . چی دهغه دتصورهم زه متحمل نشم کيدلای . نعوذُ بالله من ذلک . دمهربانی له لاري دبنده داطمنان اوشِفاء لپاره دخپل قيمتی وخت ځخه څه وخت راکړه دپورته ذکر شونکاتو مناسب وضاحت وتطبيق ځخه مو خبر کړه ترڅو چی ناپوهی او وسوسي مو پورته شي . فقط والسلام احقر العباد محمد عاقل

په وعظ نور پوري اړونده حصه

د حضرت شاه ابو المعالی رحمة الله عليه يو مريد وحج ته ولاړی، حضرت ورته وفرمائل چی کله ومدينې ته ورغلي نو د صلی الله عليه وسلم پرروضه مبارکه باندي زما هم سلام ؤوايه . کله چی مريد دپيرسلام وروورساوې ،ارشاد وشو چی وخپل بدعتی پيرته زما سلام هم ؤوايه . بدعتې ئې له دغه وجی ورته ؤويل چی دپير ځخه به بعضی خبری دبدعت په صورت سره کيده لي، که څه هم په واقع کي به هغه بدعت نه ؤو، يعنی ديو معذوری په وجه به دده ځخه بعضي کارونه ظاهرا دسنت خلاف کيدله، نوکله چی مريد راورسيدی، نو حضرت شاه ابوالمعالي صاحب پوښتنه ورځخه وکړه چی زما سلام دی هم ورته ورسوی، مريد ؤويل چی ماورته وراندی کړی، پيغمبرصلی الله عليه وسلم هم راته ؤويل چی وخپل پيرته زماسلا م ؤوايه ،حضرت شاه صاحب ؤويل چی هغه الفاظ راته ؤوايه کوم چی دهغه طرفه درته ارشاد شويدی، مريد ؤويل چی حضرت داچی وتاته هغه الفاظ معلوم دی نو زما وه ويناته څه ضرورت سته ؟ اوزه هغه الفاظ څنګه ؤوايم ؟ پيرصاحب ؤويل چی راته معلوم دی مګر په اوريدلوکی ئي نورخوند شته، آغاصاحب داخوته نه وايه هغه خو دصلی الله عليه وسلم ارشاد دی ګويا د صلی الله عليه وسلم دژبي ځخه اداکيږي .آخرمريد هغه الفاظ اداکړه .

بس د پیرد احالت شو چی ودریدې اوناڅاپه ئې دغه شعر پرخوله باندې جاري شو (بدم گفتی، وخرسندم عفاک الله نکو گفتی !!! جواب تلخ می زیبد لب لعل شکر خارا) ژباړه ؛ تاوماته بد ووېیل مګرزه درڅخه خوشاله یم، ستاد شرابې شونډانولپاره دغه تریخ جواب ښه دی .. حالات ئې مجذوبه کیدله اوداغه شعرئې وایې خلاصه دا چی محبت هغه شئ دی چی دهغه دآثاروپه نسبت کې ما اول ویلي ۈو (وتاته پرمحبت باندې غصه راځی، اوو ماته ستا پرغصه باندې مینه راځی، له هم دغه وجی که به پیغمبرصلی الله علیه وسلم نارازه هم ۈو، نو صحابه کراموبه هم د دغه څه د خوند یادونه کول ؟

جواب : محترمه ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ؛ دحضرت د دغه وړاندی شوې قصې حاصل دادی چی شاه ابوالمعالیٰ دیو عذر په بناء باندې بعضی داسی کارونه کوی چی به په حقیقت کې بدعت نۀو، مګر صورتا یو څوک هغه بدعت فهمه ولایشی، له هم دغه وجی د آنحضرصلی الله علیه وسلم له طرفه څخه دهغه په محبت کې ورته، بدعتی پیر، ووېیل شو اوس د دغه تحقیق وه ویلو ته ضرورت نشته چی هغه اُمورڅه ۈو؟ په بعضی وختو کې دمحبت دغلبه یې حال څخه داسی کارونه صادرېږی چی دسنت خلاف وی، مګر دهغه کارفاعل دغلبه یې حال له وجی څخه معذوره وي، مثلا یو شخص دغلبه یې حال په وخت کې ، یا رسول الله، وایي آوازکوی، دده عقیده دحاضر اوناظر نه وي نو دغه صورتا بدعت دی، حقیقتا دغلبه یې حال دوجی معذوره دی . والسلام ۱۴۲۱/۳/۹ په کلیاتِ امدادیه، قصائدِ قاسمی، نشرالطیب، او امدادالمشتاق، کې پرذکرشو څواشعاروباندې سوال اودهغه جواب .

سوال : وخدمت ته دجناب عزت منداستاذ مکرم شیخ الاسلام مفتي تقي عثماني صاحب دامت فیوضهم . السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته :

ستاسو محترم لیک راورسیدی، ترڅوورځوپوری مې دهغه برکات اوفائدې محسوسه کړی، الله تعالی دې ستاسو سایه پرموږ باندې تردیره وخته پوری قائمه اودائمه ولری . محترم استاذه : په دارالعلوم کې چی پاته شوم دیرڅه مې ووېیل، خصوصا دحقوق العباد په باره کې،

چې دهغه دوجې څخه ومنا عاجزته خپلی څه غلطی ښکاره شوي ،بیا دهغه داصلاح په فکرکی شوم. الله دیې رااصلاح کړی. دوهم چې ډیره مهمه خبره ده زما دفکرمطابق تر تولو زیاته چې زماپاره فائیده منده ده هغه داعتدال دلاری درس دی. اوس داسی شوی یم چې پرهره موقع باندي که هغه دجذبي وي اویا کمه دفکراوفهم موقع وي، الحمد لله اعتدال همیشه په وړاندی پدم، ستاسو څخه ددعاء غوښتنه ده، او هروخت ستاسو لپاره دعاء کونکی یم چې دغه تول څه ستاسو په برکت دي . محترم استاذه، زموږ دحضروپه اولسوالی کې داحال دی چې دلته متعصب غیرمقلدین، اومتعصب بریلویان ،اوسیږی اوپه خپل کارباندي اخته دی، خصوصا ددیوبند. کثرالله سوادهم، پراکابرینوباندي هلته د، حسام الحرمین، والا فتوی لګول کیږی، په اوسنی حالت کې دغیرمقلدینو په رساله کې داکابرینو ددیوبند په خلاف د فتوی ږو باران کیږي اوبو څو شعرونه ئي شائع کړی دی اوبیا ئي دهغه څخه داتیجه را ایستلی ده چې (دیوبند غیرُ الله مشکل کشا بولی) العیاذبالله ! ده دوستانو څخه ترمشوري وروسته مې وتاسو ته درجوع فیصله وکړه، ستاسو دمصروفیاتو خبر یم، لیکن دمشوري په توګه وړاندیز کوم، الله مې دی د بي آدبی څخه وساتي، په داسی حالاتو کې زموږ(خادمانو لپاره کمه مشوره ده، موږپه داسی حالاتو کې کمه رویّه اختیارکړو ؟ دوهمه خبره دهغه اشعارو مناسب تأویل کم چې تاسو ته ښه معلومیږی. کم به وي ؟ دوخت دضائع کولو سره سره بخښنه غواړم، هغه اشعار لاندي ذکر کیږي :

یارسولِ کبریا فریاد هی یا محمد مصطفی فریاد هی /آپ کي امداد هو میرا یا نبی حال ابتر هو ا فریادهی سخت مشکل میں پھنسا هو آج کل /ای میری مشکل کشا فریاد هی.

(کلیاتِ امدادیه ص: ۹۰بحواله الحدیث ص: ۴۸)

مدد کر ای کرم احمدی که تیری سوا/ نهیں هی قاسم بی کس کا کوئ حامی کار

جوتو هی هم کونه پوچهی تو کون پوچهی گا / بنی گا کون همارا تیری سوا غمخوار

(قصائدِ قاسمی ص: ۸ بحواله : ماهنامه الحدیث ص: ۴۳)

رجاء وخوف خون کي موجوو مي هي اُميد کي ناؤ /جوتو هي هاته لگائ توهو وي بيڑاپار

(تصنيف قاسمي ص ۹)

دغه رقم نشرالطيب في ذکر النبی الحبيب او امدادالمشتاق په نامه کتابو کي څو اشعار سته، يقينا ددیوبند کتابونه، کثرالله جماعتهم، کي په باره کي داستمداد غيرُالله، ددغه په خلاف مصرح دي، ليکن ددغه اشعارو هيڅ يو مناسبه تاويل راته نه معلوميږی، چی دهغه له وجی دفتواؤ دخاوندانو دفتواوو سره موافقت ښکاره شي . محترم استاد، ستاسو مصروفيت خوزياد دی اووماته معلومه ده چی وتاته دغه زحمت درکوم، له دي لپاره چی په داسی ماحول کي ستا ودغه خادم ته ستا له طرفه څخه څه لارښوونه وشی، يقينا ستاسو خبری دزړه اطمنان بولم، اوستاسو سره مي بي اندازي محبت دی، الله دی تاسو ته جزائي خير درکړی، ډير وخت مو نه نيسم، بصد احترام غوښتنه ده چی په دعاؤ کي مي يا دولري . که مي کومه نا مناسبه خبره ليکلی وي نو په زرواره دمعافی غوښتونکې يم.

والسلام ستاسو کمزوری خادم او شاگرد محمد ادريس قاسمي بن هدايت الرحمان تحصيل حضرو ضلع اټک بهبودی

جواب: عزتمند او قدرمنه وروره ، سلمه الله تعالی ! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته : ستاسو دمحبت ليک باعث دخوشحالۍ شو په حقيقت کي په شاعری کي شاعرانه تخيلات اومجاز، اوداستعارو استعمال معلوم وی شاعر ډير وختونه ودريابو ، غرونو ، او آباديو ته خطاب کوی اودهغوی سره خبری کوی، اودهغوی څخه غوښتنی هم کوی، دهغه مطلب دانه وي چی هغه دخپلی عقيدی له مخی هغه ژوندي اويا مشکل کشا بولې، بلکه دايو تخيل وي، لهذا دکم شخص چی داعقيده معلومه وي چی دالله تعالی څخه بغيردبل هيڅ چا څخه مرادونه، دعاوي کول جائز ندی، که څه هم دهغه په اشعاروکی داسی کمه خبره راشي نو هغه يقينا پرمجاز واستعاره باندي حمل کيږي . اوکم اشعار چی تاسو ليکلی دی، په هغه کښی په حقيقت کي دآنحضرت صلی الله عليه وسلم د سنت عمل خواهش اوصلی الله عليه وسلم دشفاعت حاصليدل مراد دی، اوداغه شيان دبنده لپاره ذريعه دنجات کيدايشی، پردغه موضوع باندي

دبنده یو اندازه مفصله فتوی، فتاوی عثماني جلد اول، (۱) کي هم شائع شویده که ضرورت وی نو هغه مطالعه کړی والسلام ۱۴۲۷/۳/۱۳هجری (۱)ص: ۵۸، ۵۶، ۵۵، ۵۹(ط مکتبه دارالعلوم کراچی.

(۱) دجهری ذکر شرعی حکم او ثبوت

(۲) په اجتماعی طریقه سره دقرآن کریم په زوره تلاوت کولو حکم

(۳) دخواجه ګانو دختم شرعی حیثیت او دهغه حکم

سوال : الی شیخنا واستاذنا ومولانا العلامة محمد تقي العثماني نفع الله تعالى به خلقه . السلام عليكم ورحمة الله وبركاته ! الرجاء ان تكونوا بكمال الصحة والعافية، ونحن هنا في بلدة نرتهامتن بخير، والحمد لله على ذلک ،اری من المناسب ان اعرّف نفسی عند سماحتكم قبل الدخول في مقصدی، انا عبد حقير من عباد الله تعالى، ولدت في بنغلاديش ونشات في بريطانية، اكرمنى الله سبحانه وتعالى بان هدانى بتراجم كتب شيخ مشايخنا مولانا الامام محمد زكريا رحمه الله باللغة الانكليزية وبحركة الجماعة التبليغية، ثم بعد ذلک لم ينته شآبيب فضله وكرمه على، وفقنى الله تعالى للرحلة الى طلب علم دينه من العلماء والمشايخ ببلاد بنغلاديش وبدار علومكم في كراتشى (عام ۲۰۰۰الى ۲۰۰۲م) الآن اعمل في حكومية محلّية واجتهد مهما اتاحت لى الفرصة في مجال الدعوة ،فلله سبحانه والحمد والمنة، منذ سنتين بدأت احضر مجلس فضيلة الشيخ مولانا محمد سليم دهورات (والشيخ مرشد جماعتنا الدعوية في بلدتنا) وقد وفقنى الله تعالى للشركة في بعض الاعمال الاصلاحية التى تنعقد عند الشيخ بهيئة اجتماعية ولكن اجد في نفسى اشكالات (علمية) تضطرّنى فرأيت من المناسب ان اكتب الى سماحتكم ليشرح الله سبحانه صدرى بعلومكم وفيضكم الروحانية، والاشكالات هى التالى : (۱).. الشيخ، حفظه الله، ومن يجتمع حوله من السالكين يجلسون

مجتمعا يذكرون الله تعالى بشئ من الجهر، أظنّ في بعض الافراد انهم يجهرون بذكرهم جهرا مفرطا حسبما قرأت في كتب سادتنا الحنفية رحمهم الله مثل العلامة عبدالحى اللكنوى وشيخنا الحبيب العلامة سرفرازخان صفدر، أليس هذالاجتماع وهذالجهر بيدعة ؟ هل كان شيخ مشايخنا مولانا الامام محمد زكريا رحمه الله يوصى مريديه بالذكر بهذه الهيئة ؟ وقد رأيت مثل هذا عندما حضرت مجلس الشيخ الكبير مولانا يوسف متالا في دارالعلوم (برى).

(۲).. من عادة السالكين عند الشيخ انهم يتلون القرآن الكريم مجتمعا في المسجد اوفى غرفة من الغرفات ،أليست التلاوة جهرا حيث لايمكن الاستماع لمن يصل اليه صوت التالى للقرآن من المحظورات (كما صرح به في كتب الفقه الحنفى وغيرها) ؟ (۳).. ومن معمولات الشيخ عمل اجتماعى يسمّى، ختم خواجكان، سمعت ان هذا العمل كان من اعمال شيخ مشايخنا مولانا الامام محمد زكريا رحمه الله، لوكان كذلک كيف يجاب لمن يدّعى ان هذالعمل وماشابهه من اعمال بعض مشايخنا الكرام من المنكرات والمبتدعات في الدين ؟ أليس لنا غنية وكفية في ماسنّ لنا سيدنا رسول الله صلى الله عليه وسلم؟ امرآخر في غير موضوع ماسبق : ارسل الى سماحتكم ترجمة انكليزية لمقالتكم المفيدة حول حياة الشيخ المحدّث عبدالفتاح ابوغده رحمه الله تعالى قدنقلها الى الانكليزية صديقان لى وقد من الله على بان وفقنى لتعليقات تلميذية في نهاية المقالة لا ادرى هل تكون مفيدة للقراء ام لا، لو اكرمتم علينا بالنظر في ترجمة مقالتكم ومشورتكم واذنكم في طبعها ونشرها كي ينتفع بها المسلمون في هذه البلاد البعيدة عن الاكابر من العلماء والمشايخ، اكتفى بهذه الكليمات خشية تضييع وقتكم المعمور بالخير والافادة وبالتماس الدعاء من سماحتكم لى ولو الدىّ ولاهلى ومشايخنا الكرام، وانا عبدكم واحقرتلاميذكم بدرالاسلام بن مصدّرعلى جواب : الى الاخ الكريم الشيخ بدر الاسلام حفظه الله تعالى، السلام عليكم ورحمة الله وبركاته فأعتذر اليكم للتأخير في الجواب على رسالتكم الكريمة، ولم يكن ذلک الا لازدحام اشغالى وتتابع اسفارى، فأرجو أن تعذرونى في ذلک، ولقد سرّنى ماذكرتم من اشغالكم العلمية والدعوية ،تقبل الله منكم و وفقكم لما فيه رضاه، واليكم الجواب عن اسئلتكم : (۱) الذكر بالجهر جائز عند الفقهاء، وثابت

بالسنة مالم يكن جهرا مفرطا لحديث، اربعوا على انفسكم، غير ان الذكر الخفيّ افضل منه، ولكن اختار بعض المشايخ الذكر بالجهر،لاسيما للمبتدئين لكونه اوقع في النفس، وادعى للخشوع (١)، فلو فعله احد علاجا، (٢) وليس باعتقاد افضليته فلا باس بذلک ،وهذاهو المعمول به في طريق بعض مشايخنا الذين ذكرتم اسماءهم. (٢) ان كان جميع الحاضرين يتلون القرآن جهرا، فلا بأس بذلک، اما ما ذكره الفقهاء من عدم الجهر عند الآخرين فمحمله الحاضرون المشتغلون بغير قراءة القرآن الكريم (٣). ختم خواجگان، ذكرمن الاذكار وليس سنة بهذه الهيئة فمن اعتقد سنيته بهذه الهيئة فهو ابتداع في الدين، اما اذا

---

(١)وفى الشامية اقول ؛ اضطرب كلام البزازية فنقل اولا عن فتاوى القاضى انه حرام لما صح عن ابن مسعود انه اخرج جماعة من المسجد يهللون ويصلون على النبى صلى الله عليه وسلم، جهرا وقال لهم، ما اراكم الامبتدعين. ثم قال البزازى وما روى في الصحيح انه عليه الصلاة والسلام قال ؛ لرافعى اصواتهم بالتكبير اربعوا على انفسكم انكم لن تدعوا اصم ولا غائبا انكم تدعون سميعا بصيرا قريبا انه معكم الحديث، يحتمل انه لم يكن للرفع مصلحة فقد روى انه كان في غزاة ولعل رفع الصوت يجر بلاء. والحرب خدعة ولهذا نهى عن الجرس في المغازى، واما رفع الصوت بالذكر فجائز كما في الاذان والخطبة والجمعة والحج آه وقد حرر المسأة في اخيرية وحمل ما في فتاوى القاضى على الجهر المضر وقال ؛ انهناک احاديث اقتضت طلب الجهر، واحاديث طلب الاسرار والجمع بينهما بان ذلک يختلف باختلاف الاشخاص والاحوال، فالاسرار افضل حيث خيف الرياء اوتأذى المصلين اوالنيام والجهر افضل حيث خلا مما ذكر، لانه اكثر عملا ولتعدى فائدته الى السامعين، ويو قظ قلب الذاكر فيجمع همه الى الفكر، ويصرف سمعه اليه، ويطرد النوم ويزيد النشاط آه ملخصا، (ردالمحتار كتاب الحظر والاباحة، فصل في البيع ٦/٣٩٨ (ط سعيد) وفيه ايضا ؛ فقال بعض اهل العلم ان الجهر افضل .... وفى حاشية الحموى عن الامام الشعرانى اجمع العلماء سلفا وخلفا على استحباب ذكر الجماعة في المساجد وغيرها الا ان يشوش جهرهم على نائم او مصل اوقارئ الخ (ردالمحتار مطلب في رفع الصوت بالذكر (٦٦٠/١) ط سعيد) (٢) وفى البزازية على هامش الهندية الحادى عشر في القراءة ٤٢/٤ (ط رشيديه) واعظ يدعو(باتي برخه راتلونكى صفحه).

لم يعتقد سنيته فلا باس لانه ذكر من الاذكار ولانه لا يخلو من ذكر ثابت من رسول الله صلى الله عليه وسلم او من تلاوة القرآن اومن الصلاة على النبى الكريم صلى الله عليه وسلم وكل واحدمنها مشروع في حد ذاته، اما هذه المجموعة بهذه المقادير فليست سنة، ولكنها من معمولات المشايخ الچشتيه الذين لم يفعلوها باعتقاد السنية، وانما ثبتت فائدتها بالتجربة، وليس كل مالم يكن سنة غير جائز، نعم اذا اعتقد الانسان سنية ماليس سنة، فانه بدعة، (٤)..

سرّحت النظر في ترجمة مقالي في العلامة الشيخ عبدالفتاح ابو غدّة رحمه الله تعالى وما علقتم عليه، فوجدته مناسبا غير ان بعض احبابی كتب في حواشيه بعض الاقتراحات في تعديل الترجمة تختارون ما تشائون وأرجوان لا تنسونی في ادعيتكم الصالحة، والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته، ۷ /رمضان المبارک /۱۴۳۰ھ (فتوی نمبر ۱۱۹۱/۹).

(۱) دسالک دافکرکول چی دمرشد په توسط سره می دزړه خوشحالی حاصله شوه ،څنګه ده ؟

(۲) دمحبت په بناء باندي دشيخ دتصورحکم

سوال : محترم ومعظم حضرت مولانا محمد تقي عثماني صاحب مدظله ! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته ! اُميد مى دى چی په خيروعافيت سره به ياست، الله تعالى دی ستاسو درجی لوړی کړی، آمين، دنومبر مياشت، البلاغ، کي دمولانا ابوالحسن على ندوی رح اودهغوی پرتګ لاره باندی، ستاسو په برطاينه کښی شوی تقرير، ما دری ځله ؤوايه شخصا ئي وماته ډيره فائيده وکړه، زما دحضرت ميا سره ډيرمحبت اومينه وه اوزما دهغه سره دبيعت تعلق هم ؤو، محترم ومعظم مدظله ! سوال (۱).. ديو کامل بزرګ سره ترييعت کولو ورسته، اودخپل مرشد په هداياتو سره ترعملي کيدلو وروسته ،چی کم حالات اوواقعات ياعبادات ذکر واذکاردمرحلوڅخه په تيريدلو سره، يو علحيده خوشحالی حاصليدل يقيني وي، همداسی داخبره په ذهن کي نيول چی کم څه وماته حاصل شويدی اويا حاصليږی، دخپل مرشد په توسط سره ټول څه رارسيدلی دی، آيا داصحی ده ؟ جواب: بي له شکه صحی ده . سوال : (۲).. چی مرشِد کامل ليری وي نو دمرشِد تصور يعنی په زړه ؤ دماغ کي راوړل شی، داسی صحبت او اُلفت دمراقبي په شکل دزړه په آرامي اوراحت حاصلولوکی خو به کوم ممانعت نه وي، اوکه

دامنعه دی ؟ (طلعت محمود راوالپنډی) جواب : (۲).. هیڅ ممانعت نشته بلکه فائیده مند دی . والسلام

کل اسبوع بدعا، مسنون جهرا لتعليم القوم ويخافته القوم، اداتعلم القوم خافت هو ايضا وفى عمدة القارى كتاب الاذان باب الذكر بعد الصلاة ۱۸۱/۶(ط دار الكتب العلمية بيروت) قال : واختار للامام والماموم ان يذكر الله بعد الفراغ من الصلاة، ويخفيان ذلك، الا ان يقصد التعليم فيعلما ثم يسر. (۳) وفى رد المحتار كتاب الصلاة ۵۴۶/۱(ط سعيد) وفى الفتح عن الخلاصة : رجل يكتب الفقه وبجنبه رجل يقرأ القرآن فلايمكنه استماع القرآن فالاثم على القارى وعلى هذا لو قرأ على السطح والناس نيام يأثم آه اى لانه يكون سببا لاعراضهم عن استماعه، او لانه يؤذيهم بايقاظهم تأمل .... يجب على القارى احترامه بان لا يقرأه في الاسواق ومواضع الاشتغال، فاذا قرأه فيها كان هو المضيع لحرمته، فيكون الاثم عليه دون اهل الاشتغال دفعا للحرج .

حسد صغیره ګناه ده او که کبیره

(دحسد دمختلف قسمونو او صورتونو تفصیل اوشرعی حکم)

سوال : فقیه ابوالليث سمرقندی رحمه الله تعالی حسد، کبر، اوعجب، په صغائیرو کي شمیرلي دي . (رسائل ابن نجیم ص: ۲۵۲) علامه ابن نجیم رحمه الله تعالی په دغه کښی دغه لاندنی تفصیل ذکر کړیدی : الخامس عشر: عدابوالليث السمرقندی رحمه الله تعالى فعل القلب المذموم من الصغائر كالحسد، وسكت عنه كثير من الفقهاء في كتاب الشهادات، والمعتمد عندنا انه لامؤاخذة عليه بمجرده الا ان صمم وعزم عليه فصغيرة اوتعدى منه اصرار الغير بقول اوفعل فكبيرة . (حواله بالا ص : ۲۶۱) آیا دغه تفصیل صحی دی ؟ محمد عامر خادم جامعة الرشید ،احسن آباد یکم صفر ۱۴۲۴ه) .

جواب : اوس راسره داوخت رسائل ابن نجیم نشته، مګردعلماؤ او اهل تصوف دخبرو څخه چی بنده کمه خبره فهموي، هغه داده چی په غیر اختیا ري طریقه سره دحسد په خیال کي راتګ په صغائروکی هم داخل ندی، البته اختیاری طریقه سره داسی خیالات په زړه کي راګرځول کم ترکمه صغیره به ضرور وي، اوقصد چی تر زیریدلو پوری ورسیږی ،پکښی اختلاف دی، اوکه

ترعمله پورې ورسيږي نو کبيره ده، ددغه شخصه دټولو عباراتو تطبيق کيږي . والله سبحانه اعلم ۱۴۲۴/۳/۲۴ه (فتوی نمبر ۶۲۲/۳) .

شيخ بايد څوک جوړ کړای شي؟ دشيخ په مجلس کي په ګناو اخته کيدل

سوال: که چيرې يو شخص ښکاره په ناروا کارو اخته وي ، 'ويا په بدعاتو باندي اخته وي، نو آيا داسې څوک شيخ جوړيدل رواء دی؟ جواب: کم څوک چې په ښکاره سره د بدعاتو مرتکب وي، مثلا لکه د رباب سره قوالۍ ويل چې په ښکاره سره نارواء عمل دی، نو ددغه شيخ د صحی والي هيڅ احتمال نشته، يعنی دا چې دهغه سره تعلق قائمه ول او يا دهغه شخه فائده اخستل، او يا خپل ځان ورباندي اصلاح کول، ددي هيڅ احتمال نشته، يعنی کم شيخ چې نارواء کار روابولي، بدعت ښه کاربولي دغه شيخ معصوم نه شی کيدای، غلطی اوګناه هم ورڅخه کيدايشی. ليکن که چيرې هغه ګناه ګناه وبولي او دهغه څخه وروسته توبه ورباندي وکاږی يا هغه شيخ صحی دې . که چيرې يو وخت يو چا شيخ پرغلط کار وليدې نودهغه دافکر چې اوس دا دشيخ جوړيدلو اهل ندی، دغه نتيجه رائستل په هرکار کي صحی نده . ليکن کم شيخ که کومه ګناه رواء وبولې ،اويا يو بدعت صحی وبولې، دهغه وطرفته رجوع کول صحی نده . والله اعلم.

دداسې کارو څخه پرهيزکول پکاردې چې په هغه کښې دبل چا ذليل کيدل وي

سوال : که چير ديو اصلاحی عمل اختيارولووالا شخص يو داسی کارو کړی چی رواء وي مګردنورو بي عزتې پکښی کيږي آيا دغه کارکول رواء دي ؟

جواب: داسی کار کول په کار ندې، چې دهغه څخه دنورو تذليل وي، چې دهغه څخه سپکتيا محسوسه کړی دهغه لحاظ پکاردې، داډير نازک کاردی، دهرې خبری مراعات ساتل

پکاردي، په يوه اندازکی چی څوک گذاره کوي نوبيا خامخا څه خبره وي، دټولو خبرو مراعات ساتلوسره گذاره کيږی، والله اعلم.

دچاچي تعويذاودم فائده مندوي هغه شيخ جوړيدايشی؟

سوال: چيری ديو چاتعويذ او دَم بلکل صحی وی او ډير فائيده مند اومجرب وي نو آيا هغه شيخ جوړيدل صحی دی؟ جواب: داهم کيدای شی که چيري يو څوک قرآنئ، تعويذ او دمونه، کوي او هغه صحيح او رواء وي او دهغه په ذريعه ديو چا شِفاء وشی، اوويو چاته فائده ورسيږی،ليکن ددغه څخه ودته څه معلومه شوه چی دغه څوک ددين په باره کښی دمقتداءلائق دی، اودهغه څخه ددين دخبرومعلومات غواړي؟ عمليات (جادو، دم،)يو علاج دی، اوس که چيري يو څوک په علاج کولو کي ډيرښه مهارت ولري نو دهغه دامطلب ندی چی هغه نو ددين هم ماهره شو، اوپه، تعويذاو دمو، کي هم ضرورت پيداکيږي دامعلومول چی کوم رواء دی اوکوم نارواء دی؟ بعضی تعويذونه اودمونه داسی هم وي چی نارواء وي. که يو شخص ته ددين او شريعت دونه علم وي چی هغه داوپيژني چې کوم رواء دي اوکوم نارواء دي؟ کم چې نارواء وي دهغه څخه هم فائده رسيږې داسي نده چی دنارواء تعويذو اودموڅخه نوفائده نه رسيږی، کوم څوک چی دسفلياتو عمل کوي، دهغه څخه هم هغه مقصد حاصليږی دکم مقصد لپاره چی هغه ئي کوي، تاسو پوهيږی چی ډيري دواوي داسې وي چی دهغه استعمال نارواء دي، ليکن دهغه څخه فائده حاصليږې. والله اعلم

دمشيت (ارادې) اورضاء (خوښي) په منځ کي فرق

سوال: دارادې اورضاء په منځ کي څه فرق کيدايشی په تفصيل سره يې بيان وفرماياست؟

جواب: يوه اراده ده اويوه رضاء ده، ددواړو فرق سته، په دنيا کي هيڅ يو انسان دالله دارادې په خلاف هيڅ هم نشی کولای، او دالله درضاء خلاف ډير کارونه کيږی، ټوله کارونه درضاء په

خلاف سره کیږي، داچي کفر کیږي ،داتوله درضاء خلاف کیږي، څونه ظلمونه چي کیږي داټوله درضاء په خلاف سره کیږي نو دالله تعالی درضاء په خلا ف ډیر کارونه کیږي، لیکن دارادې په خلاف هیڅ هم نشی کیدائ، او دمشیت معنی ده، دالله تعالی اراده، دالله تعالی اُصول دی چي کوم انسان کوم کاروغواړي، که هغه کار صحي وي اوکه غلط، چي کله دئ په خپل اختیار سره یو لا ر اختیار کړي نو بیا ودته دهغه توفیق ورکول کیږي، ددې نوم مشیت اراده ده . والله اعلم

داجتماعي ذکر دمجلسونو شرعی حکم

(تفصیل دمصنف څخه)

داجتماعي ذکر دمجلسو دشرعي حیثیت څخه متعلق دمفتي محمد رضوان صاحب یوه استفتاء په جواب کي تفصیلي فتوای دحضرت محترم دامت برکاتهم وخدمت ته واستول شوه، دغه فتوی په کتابي صورت کي هم شائع شویده، دلته داوږد بحث څخه دځان ساتلو په غرض دفتوی صرف اصلی اولنئ حصه اودهغې مجموعي فتوی څخه متعلق دحضرت محترم دامت برکاتهم العالیه رائیه شائع کیږي . (مرتب عفی عنه)

سوال : څه فرمائیلې دي ددین علماؤ په دغه مسئله کښي، چي نن سبا بعضی حضرات چي ګدي نشینه اودتصوف اوپیري، اومریدي په طریقه کي ډیرمشهوره دي ،هغه ځاي ځاي په مسجدونو اویا دخلقو په کورونوکي اجتماعي ذکرونه اومجلسونه کوي، چیرې چي پیر صاحب اویا دهغه نمائنده د ذکرکولو لپاره تشریف راوړي او خلق ورته جمعه کیږي او په لوړ آوزسره اجتماعي ذکر کیږي، چي دهغه شکل داسي وي، چي پیر صاحب اویا دهغه مقرر شوي نمائنده سره حلقه جوړه کړه شي ټوله خلق کښي ني نو پیرصاحب اویا دهغه دنمائنده سره په لوړ آوازسره یو ځاي ټوله خلق ذکر کوي، کله چي یو خاص ذکر مثلاد درود شریف ختم کیږي نو بل ذکرهم شروع کیږي، اوداغه ډول په یو مخصوص تعداد سره ذکر مکمله کیږي، اوددغه سره دمجلس شریکان حضرات په زوره زوره سره وراسته طرف او چپه طرف ته د ذکره سره ښوري، او

ودغه ته جذب ویل کیږي، اوبعضې دمجلس شریکان خو د ذکرپه دوران کي داسې مست اومجذوبه شي چي آواز یې تراختیاروؤزي اولوړشي، دداسې شخص په باره کي دافهمول کیږي چي دادیرلوړشوي دي اودالله تعالی وطرفته دیرمقرب بنده دي اوو هغه ته دیبهوښي نوم هم ورکول کیږي دااجتماعي ذکر دمجالسو آواز ترلیرې ځایه پوري اوریدل کیږي، ددغه خلقو له طرفه څخه وذکرکونکو خلقوته دعوت ورکول کیږي، اشتهارات هم چاپ کړل کیږي اودمختلفو لاروڅخه په وینا اولیکنو سره دهغه اعلانات کیږي اوپردغه خاصه طریقه باندي په اجتماعي ډول سره وذکرکولوته داصلاح ذریعه بلل کیږي اوبعضې ځایونه برق هم بند کړي په تیاره کښې ذکرکوي، دبعضې خلقو له طرفه څخه ودغه ډول ذکر ته دصوفیا ئي کرامو طریقه ویل کیږي .اوفائده یې دغه ذکرکیدای شي، چي دداسي ذکر کولو څخه زړه نرم کیږي. اوخوند محسوسیږي، دغه سلسله په بعضې بدعتیانو کي مروجه وه، چي دهغه لپاره هغوئ په مختلفو ځایو کښې علیحده د ذکر او مراقبې لپاره لوي ځایونه خاص کړي دي. مګر اوس په بعضې اهل سنت والجماعت کي هم شروع شوي دي، یو ځل چي کله داهل سنت دبعضې خلقو څخه ددغه په باره کي ثبوت طلب کړه شو نو هغوي وښودل چي په احادیثو کي د ذکر مجلسوته. ریاض الجنة. یعني دجنت ځایګي ویل شوي دي، اوهغوي دشیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب رحمه الله ورسالې، فضائل ذکر. ته حواله ورکړه اودائې وښودل چي په دغه رساله کي د ذکر دمجلسو په باره کي ډیر احادیث او مواد موجود دي، دهغه مطالعه وکړي. ددغه څخه به ستاسو شبهې لیري کړه شي، دهغه سره هغوي یوه رساله هم راکړه، چي دهغې نوم، په مسجدو کښې پزوره ذکرکول مستحب دی، (دشرعي دلائلو سره داکابرینو عادت اودهغوي هدایات مبارکه) دغه رساله تقریباپرسل صفحو باندي مشتمله وه، په دغه رساله کي هغوي په مسجدوکښې د جهري ذکرومجلسوته مستحب ویلي دي اوپردغه ئي مختلف ثبوتونه وړاندي کړي دي، اوفرمائي چي په مسجدوکی د جهري ذکرمجلسونه جوړولوباندي زموږ داکابرینو هیڅ اختلاف نشته، بلکه دهغوي ټولو اتفاقي فیصله دهغه پر جواز اواستحباب باندي ده، اوکوم څوک چي دهغه خلاف نظرلري هغه دهغوي خپله ذاتي رائیه ده، ودغه ته داکابرینو رائیه

ویل غلط دي ددغه د ذکر دمجلسو خلاف فتوی لیکلو والاؤ ته هغوي د ذکر مخالفین ویلي دي، په دغه رساله کي هغوي د ذکر مجلسونه ځای ځای جوړیدلو اوخوررولوباندي وخلقوته ترغیب ورکوي اودحضرت مولانا مدني رحمه الله یوه لیکنه هم په دلیل کي وړاندي کوي، دهغه څخه علاوه دنورو بزرگانو په حواله سره یې دلته د ذکر دمجلسو یادونه کړیده. دغه رساله داستفتاء سره سنجاک ده. دتفصیل غوښتلو مسئله داده چي دعلماء حق په دغه باره کي کم مؤقف دي؟ ددلائلو سره یې واضح کړي اوورسره په سنجاک شوي رساله کي په درج کړه شوو خبرو باندي هم رڼا واچوي، چي دنورو لپاره هم داطمینان باعث وګرځي.

(الجواب دمفتي محمد رضوان څخه): د ذکر فضیلت: دالله تعالی ذکر ډیر اهم عبادت دي، که هغه دتلاوت په شکل کي وي، یا دتسبیح ویلو، یا درود ویلو، وغیره ویلوکي، څه رقم چي دالله تعالی د ذکرویلو توفیق وي، ډیره غټه نیک بختي ده، په قرآن مجید اواحادیثو کښی د ذکر کولو ترغیب ورکول شویدي، اود ذکر مختلف فضائل اوفائدي بیان شویدي، (قولي اوفعلي ذکر) لیکن داپه یاد ولره چي د ذکر معنی یادول دي اودالله تعالی یادول یو په ژبه اوقول سره کیږي، اویو په خپل عمل اوفعل سره، له همدغه وجي محقیقین فرمائي چي دالله ذکر یو په ژبه اوقول سره کیږي اوبل په عملي اوفعلي طریقه سره. لهذا دالله تعالی ذکر صرف په ژبني ذکرسره خاص ندي، بلکه عملي وفعلي ذکر یعني دالله تعالی اطاعت، اودهغه دحلال اوحرام ،اوجائز ؤ ناجائز وغیره احکامو اتباع کول هم په ذکر الهي کښی داخل دي. اوپه بعض احادیثوکښي ودغه ته هم ذکر ویل شویدی، ددغه مناسبت څخه دالله تعالی داحکامو یادونه اوپه زدکړه اوښوونه کي مشغول حضراتُ ته اهل ذکر اوددوي ومجالسو ته ذکرویل شویدي. اوله هم دي لپاره که کوم څوک صرف په ژبني ذکرسره اکتفاء وکړي اودالله تعالی داحکاماتو پیروي ونکړي هغه په حقیقي ذکرکونکو کښی شامل ندي.

قطعه نظر دقولي وفعلي ذکرددغه مذکوره عام مفهوم څخه ذکر صرف په ژبه سره خاص بلل ندې، او دژبني ذکرمتعلق چي کومه پوښتنه شوې وه) دهغه لپاره هم کوم خاص یوداسي شکل

اختيار کول چي دشريعت څخه ثابت نوي، صحي ندي، ځکه دغه ذکر عبادت مطلقه دي اووعبادت مطلقه ته دعبادت مقيده درجه ورکول غلطه ده.

(دصحابه ئي کرامو اودا سلافُ د ذکر طريقه) صحابه ئي کرام رضی الله عنهم اوسلف صالحينُ دواړه قسمه (قولي وفعلي) ذکر کوي، لکه څرنګه چي دصحابه ئي کرامو (رض) فعلي اوعملي ذکر څخه خودهغوي ټوله زندګي ډکه وه دهغوي هرهر عمل دشريعت دترجماني حيثيت لري، دهغوی ټوله مجالس دالله تعالی داحکامو اودرسول الله صلی الله عليه وسلم دارشاداتو اوسنتود يادوني څخه منور وه، کم چي د ذکر دمجلسو مصداق ؤو، ددې څخه علاوه دصحابه ئي کرامُ رضی الله عنهم اجمعين دکورو اومسجدو څخه دزباني ذکر وتسبيح کولو روايات ثابت دي، ليکن دهغوي په نزد نه ديو خاص ذکر پابندي وه اونه دوي دکوم خاص چا د ذکر پابند وه، اونه ئي خاص ددغه غرض لپاره مجلس او محفل جوړه وي چي يو بل دي ورته را دعوت کړي، بلکه دغو حضراتو په مسجد او کور کي پرخپله خپله طريقه باندي دتلاوت او استغفار څخه ونسې تسبيح ؤ تحميد پوري مختلف قسمه اذکار ؤ کلمات ئي خپله منشأ اوطريقه کرځولې وه، ځکه چي دالله تعالی د ذکرلپاره دهيڅ وخت وغيره قيد نه ؤو په يو خاص هيئت اوحالت کي اويا دبل چاسره د ذکر کولو پابندي نوه اوپه يوه ځاي کي دجمع کيدلو شرط نه ؤ. دغه وجه ده چي په قرآن مجيد کي په ولاړه اوناسته او دپروتې په حالت کي دالله تعالی ذکر اويا د باندي اطمنان حاصل کړي لکه څرنګه چي دالله تعالی ارشاد دي: (الذين يذکرون الله قياما وقعودا وعلی جنوبهم) (سورة آل عمران، آيت نمبر۱۹۱).

ژباړه : هغه خلق چي دالله تعالی ياد کوي، په ولاړي، اوناسته، او پروته، هم دغه رنګه بيله کوم قيد وشرط څخه په ذکر کولو. اوپه کثرت سره ذکر کولو کنبی نه کمه خبره شته اونه هيڅ اختلاف شته. څرنګه چي صحابه ئي کرامو اوسلف صالحينُ په مسجدونو کنبي هم په ژبه سره ذکر اوتسبيح کوي دمياشتني او يا هفتې دپروګرامو پرځای به ئي روزانه چي دلمانځه وغيره څخه به فارغه شول نو په مختلفو اذکارو اواورادوبه مشغوله کيدل، که څه هم بعضې کسان به په

زدکړه اوښونه اودرس ؤ تدریس کي مشغولتیا اختیاره وله نو هغه به ویوه طرفته شول اوکومو کسانو چي به د ذکر واذکارُ عادت پوره کول مقصد ؤ هغه به وبل طرف ته شول، ددې لپاره چي دیوه ځخه وهغه بل ته کوم نقصان یا خلل ونه رسیږي . اوهرڅوک خپل شغل په ښه اساني سره پوره کړي، څوک به په تلاوت سره اخته ؤ ،څوک به په تکبیر(الله اکبر) اوڅوک به په تسبیح (سبحان الله) اوڅوک به په تحمید (الحمدلله)اوڅوک به په تهلیل (لااله الاالله) اوڅوک به د درود شریف اوڅوک به په توبه او استغفاراودعاء اونوافلو باندي اخته وه ـــ غرض دا یو دهغه بل دااذکارو پابنده نه ؤ، هریو دخپل آساني وفرصت اوموقع ځخه په استفاده مناسب ذکرکوي، اوکله چي به د ذکرڅخه فارغه شو بیا به په خپل نورو ضروریاتو کي مصروف اومشغوله کیدي، هم دغه ډول دکمې پابندي اوالتزام ځخه بغیر په مسجدوکی د ذکر مجلسونه قائمې دله، کوم حضرات چي په اذکارو اورادو کي مشغوله کیدل، نه دیو خاص عنوان د ذکر ومجلس ته جمع کیدل، اونه به ئي یوڅوک مقتداء جوړه وي چي په یوه آوازسره د یوه ذکرپه ویل سره پابنده شي . اودمسجدو ځخه بغیر به په کورونو کي هم د میاشتني او هفتني پروګراموڅخه بغیر په ذکر سره مشغوله کیدل، مثلا دسهار اوسفیده داغ ځخه وړاندي اویا وروسته دلمانځه دفارغ کیدلو به دکورني افرادوبه هریو په خپل ذکر وتلاوت سره مشغوله کیدل، اوهریوه په خپل استعداد سره خپل ذکروتلاوت وعبادت کاوي، اوپه کوروکي به دښوني اوروزني سلسله هم جاري وه . او دغه ډول به په کورو کښي هم دکومي پابندي والتزام ځخه بغیر د ذکر وتسبیح مجلسونه قائمي دله، او وکوروته به ئي دیوخاص ذکرلپاره د دباندې ځخه خلق نه رادعوت وله اونه دوي کوم څوک مقتداء جوړوي چي په یوه ژبه یوه آوازسره د ذکر کولو پابنده واوسي، . هم دغه رنګه دصوفیاؤ کرامو په جوړه شویو خانقاؤ کښي هم دمذکوره قیودو اوتخصیص ځخه بغیر د ذکر عادت ؤ، و دغه خانقا ؤ ته دمختلفو طرفو ځخه خلق دخپلې اصلاح لپاره راځي، چیري چي دهغوي د اصلاح اوتزکیي نفس متعلق دوعظ مجلسونه قائمیږي اوډیرو مشائیخواوصوفیاؤ کرامودغه دوعظ مجلسونه د، مجالسو، په عنوان سره اوس هم شائع شویدي اودچاپ په شکل کښی موجود دي، ددغه سره دمشایخوله طرفه ځخه مُریدان په اندازه

داستعداد مختلف اذکاراو اوراد ورته ښودل کېږي او هغوي دخانقاه داقامت په وخت کښې دخپلوخپلو اذکارو عملي شکل پوره کوي . بعضې اوقاتو کښې دوعظ دمجلسو په ډېرپه خانقاوي معمولاتو کښې هم د ذکر لپاره وخت مقرره کېږي، چې په هغه کښې په خانقاه کښې موجود ټول حضرات دخپل شيخ له طرفه دورښودل شوي طريقې مطابق په خپلو حجروکښې اويا دخانقاه په مسجد کې کښيني اوذکر کوي (که هغه خفي ذکروي اوکه جهري)ليکن هريو دخپل شيخ له طرفه څخه داخستل شوې وظيفې ذکر دانفرادي طريقه مطابق کوي، هغه که دتلاوت په شکل کې وي يا دتسبيح وتهليل وغيره په شکل کښې، اوکله چې دهغه وظيفې پوره کړه شي هغه په خپل نوروو ظيفو باندي مشغوله کېږي، بيا نو بعضې وختونه ديو مصلحت لپاره په دغه ناسته کښې شيخ هم موجود وي . ليکن دغه خبره دقدرمشترک په طريقه سره پيداکيدله چې مريدان دخاص ذکر لپاره دلته نه جمعه کيدله، اونه ددوي لپاره کوم اعلان اواشتهار ؤو، اونه د يو مخصوص ذکردټولولپاره لازم ؤو، اونئي کوم شخص د ذکر کولو لپاره معلومه وي غرض داچې په مذکوره ټولوصورتونو کي يو وخت او تريو ځايه پوري اتفاقي اواجتماعي کيدل، ليکن په موجوده وخت کي ددغه مروجه ذکر په مجلسو کښې رانبکاره شوي قيود (مثلا د خاص ذکرلپاره رابلل اودټولو لپاره دمخصوص ذکر التزام لکه دغه تخصوصات) نه وه .

(دمروجه اجتماعي ذکر دمکروه اوممنوع والې ثبوت)

ليکن په سوال کښې چې دمخصوص اجتماعي ذکر دمجلسو په باره کښې چې کوم سوال شوي ؤو (چې په هغه کښې وذکرته بلنه کيږ ي، اوديوه ذکرالتزام کېږي اودارنګه نور قيودات وي، اوزموږ تربحث لاندي دداسي قسم اجتماعي ذکر مجالس دي)نو دغه قسم مجلسونه په قرآن، وحديث ،اودصحابه ئي کراموافقهائي عظامو اودسلف صالحينوڅخه ثابت ندي، بلکه دفقهائي کرامو او اکابروعظامو دتصريحاتو مطابق مکروه اوممنوع دي۔ ځکه چې اولادکوم

عمل چي هيڅ خاص هيئت او طريقه د خير القرون څخه ثابته نه وي، په هغه کښې د خپل طرفه څخه کوم خاص ترکيب او ترتيب او ښوونه کول او بيا د غه طريقه ثواب بلل صحي نه د (۱) دوهم داچي ذکر يو مستحب او د نفلي درجې يو داسي عمل دي چي نه د هغه لپاره د جمعه کيدلو ضرورت شته، او نه د دغه غرض لپاره د خلقو را غوښتل او يو ځاى کيدل صحی دي، د دغه لپاره د خلقو جمع کول او د دغه غرض لپاره و خلقو ته دليک دلارى او بيا په ژبه سره دعوت کول او دعوت ورکول خاص د هم دې غرض لپاره مجلسونه کول او محفلونه تيارول د فقهائي کرامو په ويل شوي بيان د (تداعي) په مفهوم کښې داخل دي او تداعي سره د غه عمل مکروه دي، د دغه مروجه تربحث لاندي د ذکر مجالس د مکروه والي او ممنوع والي بنيادي وجهي دادي او د دغه څخه علاوه نورې وجهي هم د مروجه د ذکر په مجلسو کښې پيدا کيږي، چي د هغه ذکر مخته راځي (۲) (جواب د حضرت محترم دامت برکاتهم العاليه څخه) جواب : مکرمه السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته ! ستاسو د شميرېه حساب رسالې په اوس وخت کي پيدا کيږي د هغوى څخه د (وصل) په باره کي راته دويلو موقع پيدا شوه . الحمد لله ! مناسبه ده، په تکمله کي چي تاسو د کم اضافه توب ښوونه کړيده، مناسبه ده، که څه هم د خبرو څخه هغه فهمول کيږي، مګر تصريح نه ده، هم د غه وجي انشاء الله په راتلونکي چاپ کښې به ئي اصلاح کړو .

---

(۱) ملاحظه کړي : تحفة المسلمين جلد اول صفحه : ۶۱، مؤلفه : مفتي محمد عاشق الهي بلند شهرى رحمه الله، خليفئه اجل شيخ الحديث حضرت مولانا محمد ذکريا صاحب کاندهلوي رحمه الله . او د مروجه مجلسو د ذکر د غوه کونکې او حاميان په خپله د هغه مروجه مجلسو د ذکر سنت و مستحب بلکه بعض خو د اصلاح لپاره ضروري عمل بولي، راتلونکي صفحه .

(۲) د ذکر د مجالسو ، والا رساله هم تر ديره حده پوري وُويل شوه، خبره خو صحيح ده ليکن څرنګه چي زموږ د بزرګانو څخه حضرت شيخ الحديث مولانا محمد ذکريا صاحب قدس سره په خپلو متوسلينو کښې د غه سلسله جاري کړې وه او په اوس وخت کي زموږ نورو بزرګانو هم پر د غه باندي ډير ممانعت ندي بيان کړي، له هم دغه وجی اوس بايد لهجه ډيره نرمه شي . بلکه ښه

خبره داده چي د حضرت رحمه الله بعضي بزرگان خليفه ګانو ته دکتاب دعام والي څخه وړاندي ديوې زړه دردونکي مشورې په شکل سره يو خط وليکل شي چي اوس حالات بدل شويدي، له هم دغه وجی پردغه باندي دنظرثاني ضرورت شته، ددغه څخه وروسته دي کتاب شائع کړه شي . ليکن په هر حال کي ! يو ځل شائع شويدي او په هغه کښي حذف او اضافه توب هم شويدي، نو له دغه وجی څخه دي پرکتاب باندي نظرثاني وکړل شي ترڅو لهجه نرمه شي . مثلاد (۹) صفحي دغه عبارت دي .... دغه صفحه قابل دترميم ده . اوزما دافکر دي چي ددې داصلاح پرځاي دئي ددفاع جذبه پيداشي، اوديو نوي بحث دروازه دي خلاصه شي ددغه خبرو په نظرکي دنيولو ضرورت شته . والسلام (۱۴۳۰/۲۴/۱۲) .

دلمانځه، ذکراو تسبيحاتو څخه ترفارغ والې وروسته ددعاء په وخت کښي دلاس پورته کيدلو متعلق دنورالايضاح ديوه عبارت مطلب

سوال: څه فرمائيلي دي علماؤ ددين په دغه مسئله کي ،چي په کتاب نورالايضاح. فصل کيفية تركيب الصلاة کښی ص: ۲۰باندي : ولايسن رفع اليدين الا عند افتتاح كل صلاة وعندالتسبيح عقيب الصلات . واذافرغ (ددي عبارت څه مطلب دي، واذافرغ، ددې جزاء خوپه ښکاره، قرأتشهد ابن مسعود، معلوميږي، ليکن، وعند التسبيح عقب الصلوات، مطلب مي په ذهن کي نه راغلي، له دغه وجي ئی معلومات غوښتونکي يم، بينوا وتوجروا . جواب : دنورالايضاح پوره عبارت په اصل کي دادي داورسره يو ځاي کړه اوبيا ني ؤوايه اومطلب ښکاره دي . ولايسن رفع اليدين الا عند افتتاح كل صلاة وعند تكبير القنوت في الوتر وتكبيرات الزوائد في العيدين .... وعند دعائه بعد فراغه من التسبيح عقب الصلواة واذا فرغ الرجل من سجدتی الركعة الثانية افترش رجله اليسرى وجلس عليها .[1] دخط کړه شوي عبارت مطلب دادي چي کم وخت دلمانځه څخه وروسته دتسبيح وتحميد وغيره څخه چي فارغه شوې اوددعاء غوښتنه شروع کړې، په دغه وخت کښي لاس پورته کيدل سنت

دي، ددي څخه وروسته مصنف رح، اذافرغ، چي کم عبارت شروع کړيدی، هغه جمله ئي مستأنفه دداو د، اذافرغ. جزاء افترش رجله اليسرای، ده چي پرهغه باندي وجلس عليها .

دتېرې شوی صفحي څخه او دهغه ومورو صراحت او وضاحت دهغوي دطرفه څخه په متعلقه رسالو کي ځای پرځای ذکرشويدی (۲) په ذهن کي دوي چي مروجه د ذکرمجلسونه دمنع و ئي اصلي وجه د ذکرپه ذوره کول ندي نکه څنګه چي بعضی خلق پوهيږی بلکه دهغه اصلي وجه ددغه مروجه طريقه او کيفيت حدوث اومکروه والي دي . (حاشيه دمحمد رضوان څخه)(۱) نورالايضاح کتاب الصلواة فصل في کيفية ترکيب الصلواة ص: ۴۷ (طبع قديمی کتب خانه) .

وغيره مع . وقرأ تشهد ابن مسعودرض، معطوف دي، يعني کله چي دد وهم رکعت ددواړو سجودو څخه فارغه شوي نو چپه پښه وغوړوه پرهغه باندي کښينه اودابن مسعود تشهد ؤوايه . الجواب صحيح محمد شفيع عفاالله عنه، والله سبحانه وتعالی اعلم احقر محمد تقي عثماني عفی عنه .

دکعبې شريفې دليدلو په وخت کښي ددعاء حکم

سوال : داخبره مشهوره ده چي کم مسلمان اول ځل دحج يا عمرې لپاره ځي، هغه چي کعبه شريفه ؤويني چي کومه دعاء وکړي هغه قبليږي، آيا داحقيقت دي ؟ او آيا ددغه په باره کښی په قرآن مجيد کښي يو آيت موجود دي، اويا په احاديثو کي يوه لاربښونه شته ؟ اوهمدارنګه داول وار دليدلو مطلب، په ټوله ژوند کښی چي اول وار هلته دتللو په وخت کښی چي اول ځل سترګي ورباندې ولګيږي، اوکه چي هروخت موږ هلته ولاړشو، او اول ځل سترګي ورباندې ولګيږي هغه اول بلل کيږي ؟ جواب : ومسجد حرام ته د داخليدلو په وخت کي اوديبت الله دليدلوپه وخت کي درې ځله تکبير ويل او درې ځله، لا اله الا الله، ويل په اتفاق سره دحنفيه ؤ مستحب دي . البته دهغه څخه وروسته لاس پورته کيدل ددعاء کولو په باره کي دفقهاؤ حنفيه ؤ

اقوال مختلف دي، امام طحاوي رحمة الله عليه دحضرت امام ابوحنيفه او صاحبينو څخه نقل کړيدي، چي دهغوی په نزد لاس پورته کيدل مکروه دي . اوعلامه عيني رحمة الله عليه هم دهغوی تأئيد کړيدي (نخب الافکار في شرح معانی الآثار ج: ۹ص:۳۴۸)(۱). بعضې حنفيه حضراتو دامام طحاوي رحمة الله عليه ددغه نقل په بناء باندي فرمائيلي دی چي دبيت الله شريفې په ليدلو سره دې لاسونه نه پورته کيږی، اوداسي کول مکروه دې ،ځکه چي درسول اقدس صلی الله عليه وسلم څخه ثابته ندې، حضرت مخدوم محمد هاشم ټهټوی رحمة الله عليه دغه رائيه اختيارکړيده (حيات القلوب ص: ۱۱۲) (۲) اوحضرت مولانا شيرمحمد صاحب رحمة الله عليه هم ودغه طرفته ميل کړيدي (عمدة المناسک ص : ۱۱۰) (۳) البته دحنفيهؤ څخه بعضی محقيقينو ودغه ته ترجيح ورکړيده چي دبيت الله دليدلو په وخت کښی لاسونه پورته کول اودعاء کول مستحب دي . لکه څرنګه چي علامه ابن الهمام رحمة الله عليه فرمائي : واذا عاين البيت کبر وهلل ثلاثا ، ويدعو بما بداله ... فانّ الدّعاء مستجابٌ عند رؤية البيت، (فتح القدير ج :۲ص:۳۵۲) (۴). هم دغه رقم دحضرت ملا علی قاری رحمة الله عليه مَيل که څه هم په ارشاد الساری ص: ۱۲۸کی (۵)

---

(۱)ج: ۶، ص: ۲۸۵ ط شيخ الاسلام اکيدمی (۲)ص: ۱۳۸ ط دارالکتب النعمانية (۳) طبع : ايچ ايم سعيد (۴) باب الاحرام ،ج (۵) ارشاد الساری الی مناسک الملا علی قاری ص :۱۸۱(طبع : مکتبة الامدادية مکة المکرمة).

ددعاء په وخت کي دلاس دنه پورته کيدلو وطرفته معلوميږی، ليکن په مشکوة شريف شرح مرقاة المفاتيح کي هغویٔ په يوه اندازه تفصيل سره پردغه موضوع باندي بحث فرمائيلي دي، اودمختلفو رواياتو په راوړلو سره ئي ترجيح ودغه ته ورکړې ده، چي په اول وار ليدلو سره دکعبې مبارکې دلاس په پورته کيدلو سره دعاء کول مستحب ده (مرقاة المفاتيح، باب دخول مکة والطواف حديث : ۲۵۷۴ج: ۵ ص:۴۶۷ و ۴۶۸) (۱) . غا لبا ددغه وجی څخه قطب الارشاد حضرت مولانا رشيد احمد صاحب ګنګوهي رحمة الله عليه فرمائيلې دي :، اوپه وخت

کي د مشاهدې د بيت الله شريفي لاس پورته کيدل د بعضي رواياتو د حديث څخه ثابت دي. لکه څرنګه چي په فتح القدير کي رانقل شويدي. بيانو کيداى شي چي لاس پورته کيدل دي ئته هم سنت وي (زبدة المناسک ص: ۱۰۹) (۲) همدارنګه حضرت علامه محمد حسن شاه صاحب رحمة الله عليه چي د حضرت ګنګوهي رحمة الله عليه شاګرد دي)په مناسک کي چي د ده خپل مشهور کتاب دى دغه موقف اختيار کړيدي (غنية الناسک في بغية المناسک، ص: ۹۷) (۳) حضرت مولانا مفتي سعيد احمد صاحب رحمة الله عليه هم دغه تحقيق اختيار کړيدى په (معلم الحجاج، ص: ۱۱۸و۱۱۹) (۴) اوزما قبله ګاه صاحب حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب رحمة الله عليه هم په احکام حج، کي پر بيت الله باندي د اول نظر په وخت کښې د دعا يادونه کړيده، که ئي څه هم د لاس پورته کيدلو ذکر ندي کړي په (جواهر الفقه ج: ۴ ص: ۱۱۸) کي (۵) په اصل کي چي متعلقه روايات او د فقهاؤ کرامو اقوال مخته کښې بنودل شي نو معلوميږي چي هغه مسئلې جلاجلا دي، او ددوارو حکم جلادي. يوه مسئله داده چي کله انسان د حج يا عمرې لپاره ولاړشي او اول ځل بيت الله شريفه ؤويني نو په هغه وخت کي لاس پورته کړي دعاء وکړى اوکنه؟ په دغه مسئله کښې راجح داده چي هم داسي کول مستحب دي. دوهمه مسئله داده چي بعضې حضرات چي هر وار بيت الله شرفه ؤويني اولاس پورته کوي (لکه چي د استلام اشاره چي کيږى) د هغوي استدلال د حضرت عبدالله ابن عباس رضى الله تعالى عنه د دغه حديث څخه ؤو کم چي امام شافعى رحمة الله عليه په ، کتاب الام، کي روايت کړيدى او د هغه الفاظ دادي :عن ابن جريج قال : حُدِّثت عن مقسم مولى عبدالله بن الحارث عن ابن عبّاس، عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال : تُرفع الأيدى في الصلوة، واذرأى البيت، وعلى الصّفا والمروة، وعشيّة عرفة ،وبجمع، وعندالجمرتين، وعلى الميّت .(کتاب الامّ للشافعي ج :۵ ص:۲۳۵ حديث ۶۰۶۵)(۶) وبل طرفته د حضرت جابر رضى الله تعالى عنه هغه حديث چي هغه امام طحاوى رحمة الله عليه د کراهيت په بنياد رواړيدي، هغه هم د دغه دوهم عمل سره متعلق دي. دغه حديث په ابو داؤد

(۱)طبع رشيدية (۲) طبع : ايچ ايم سعيد (۳) طبع ادارة القرآن والعلوم الاسلامية (۴) ج: ۶ ص: ۱۲۴(طبع مكتبه تهانوی) (۵) طبع مكتبه دارالعلوم كراچی)(۶) ج: ۱۰ ص: ۳۹۹ رقم الحديث : ۵۹۱، طبع : داراحيا التراث العربي.

وغيره كي هم مروي شويدي . دهغه الفاظ دادي : عن المهاجر المكی، قال سُئل جابر بن عبدالله عن الرجل يری البيت يرفع يديه ؟ فقال : ماكنتُ اری احداً يفعل هذا الاّ اليهود . قد حججنا مع رسول الله صلی الله عليه وسلم فلم يكن يفعله، (سنن ابی داوٗد، اول كتاب المناسک، حديث : ۱۸۶۵) (۱) كه څه هم دغه روايت مهاجر مكی مجهول بللي دي . اوحافظ منذری رحمة الله عليه په تلخيص ابوداوٗد ج: ۲ص: ۷۵ كي علامه خطابی رح په حواله سره فرمائيلي دي چي دغه حديث (سفيان ثوری، عبدالله بن المبارک، امام احمد بن حنبل، اسحاق بن راهویٗ رحمهم الله تعالی ضعيف بللي دي، ځكه مهاجر مكي مجهول دي، اوهم دارنګه امام طحاوي رحمة الله عليه ددغه سند په اعتبارسره دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه دحديث په مقابله كي بنه بللي دی كم چي دبيت الله په ليدلوسره دلاس دپورته كيدلو ذكر پكښي شويدي . ليكن په دغه روايت كي ددعاء كولو هيڅ ذكر ندي شوی، بلكه دبيت الله په ليدلو سره مطلق لاس پورته كيدل دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه څخه نكير مذكوردي . اودحافظ ابن خزيمه رحمة الله عليه څخه ددغه حديث يوه داسی طريقه روايت شويده چي دهغه څخه داخبره بالكل ښكاره كيږي چي دهغه تعلق داول وار ليدلو په وخت كي ددعا سره ندي . هغه طريقه داده : حدثنامحمد بن يحيی، ثنا مسلم بن ابراهيم، ثنا قزعة، حدثنی ابی سويد بن حجير، ثنا المهاجربن عكرمة، قال : قال سألنا جابر بن عبدالله عن الرجل يقضی صلاته وطوافه ثم يخرج من المسجد فيستقبل البيت، فقال : ماكنت اری يفعل هذا الااليهود، حافظ ابن خزيمه رحمة الله عليه دغه روايت دهغه مخكني روايت لپاره مفسر بللي دي پردغه ئي دغه باب جوړكړيدي : باب ذكر الخير المفسر للفظة المجملة التی ذكرتها، والدليل علی ان جابر بن عبدالله انما اراد بقوله : لم يكن يفعل هذا، ای لم نكن نرفع ايدينا عند الخروج من المسجد- بعدالفراغ من الطواف والصلاة لم نكن نستقبل البيت فنرفع ايدينا بعد ذلک، لا انا لم نكن نرفع ايدينا عند

رؤية البيت اول مانراه. (صحيح ابن خزيمه، ج: ۴ص: ۲۱۰ باب: ۱۴۶ حديث: ۲۷۰۵) (۲) اوامام طحاوي رحمة الله عليه په شرح معاني الآثار کې چې کم بحث کړيدي هغه ته که په نبه غور سره وکتل شي نو معلوميږي چې هغه کم رفع اليدين مکروه کړيدی. دهغه څخه ددعاء رفع اليدين مراد ندي بلکه دبيت الله دتعظيم لپاره رفع اليدين مراد دي . لکه څرنګه چې هغه فرماني: فرأينا الذين ذهبوا الى ذلک ذهبوا انه لا لعلة الاحرام، ولکن لتعظيم البيت. (شرح معاني الآثار ج: ۱ص: ۸۹ (۳) لهذا ښکاره خبره داده چې دهغه تولـه بحث دهغه رفع اليدين سره متعلق دي کم چې دبيت الله دتعظيم په خاطر دهر وارپه ليدلو سره لاس پورته کوي، اومخته هغوئ دحضرت امام ابوحنيفة رحمة الله عليه.

---

(۱) کتاب المناسک باب رفع اليد اذارأى البيت، حديث: ۱۷۸۹، ۲۷۲/۲/۲۷۲ طبع الاثرية (۲) المکتب الاسلامی (۳) ۲۹۱/۱ طبع مجتبائي.

اودصاحبينو رحمهم الله تعالى څخه چې کوم مکروه والي رانقل شويدي ،هغه ددغه رفع اليدين سره متعلق دي، داول نظر په وخت کيئ ددعاء کولو سره دهغه تعلق نشته، اوحافظ ابن خزيمه رحمة الله عليه دحضرت جابر رضى الله تعالى عنه دحديث چې کوم محمل بيان کړيدي، دهغه څخه هم ددغه تأئيد کيږي . اوهمدارنګه حضرت ملاعلي قاري رحمة الله عليه درفع اليدين داثبات او دنفی درواياتو په منځ کي دغه تطبيق بيان کړيدي :چې په کومو رواياتو کي درفع اليدين اثبات دي، په هغه کي اول وار دليدلو په وخت کي دلاس پورته کيدلو سره دعاء مراد ده، اوپه کومو رواياتو کي چې درفع اليدين نفی دي په هغه کي هروار دبيت الله شريفي دليدلو سره لاس پورته کيدل مراد دي . لکه څرنګه چې د دواړو رواياتو د ذکر کيدلو وروسته فرمائي : الاولى الجمع بينهما بان يحمل الاثبات على اول رؤية والنفى على کل مرة، (مرقاة المفاتيح کتاب المناسک باب دخول مکة والطواف الفصل الثاني ج:۵ص :۴۶۸) (۱) ددغه څخه داهم ښکاره کيږي چې کومو حضراتو اول وار کعبه شريفه وليدل دهغوي لپاره دلاس پورته کيدلو

سره دعاء کول مستحب بللې ده، ښکاره داده چې دهغوي دغه قول دامام ابو حنيفه رحمة الله عليه دقول سره مخالفت نه لري، ځکه حضرت امام صاحب رح چې کوم رفع اليدين مکروه بللي دي، هغه دحضرت جابر رضی الله عنه پر ارشاد باندي بنادي چې دهغه تشريح پورته تيره شويده چې هغه دبيت الله دتعظيم لپاره دهر واره ليدلو سره دلاس پورته کيدلو سره متعلق ده، اوس موږ دهغه رواياتو تحقيق کوو چې په هغه کي دحج يا عمرې لپاره پرحاضريدلو اودبيت الله د اول وار ليدلوپه وخت کي دعاء کول اولاس پورته کول هم منقول دي دغه روايات لاندي ذکرکيږي (۱)...حضرت امام شافعی رحمة الله عليه په کتاب الام، کي دحضرت ابن جريج رحمة الله عليه روايت مرسلا ذکرکړيدي : ان النبی صلی الله عليه وسلم کان اذا رای البيت رفع يديه وقال : اللهم زد هذا البيت تشريفاً وتعظيماً وتکريماً ومهابةً، وزد من شرفه وکرمه ممن حجه او اعتمره تشريفاً وتکريماً وتعظيماً وبراً (کتاب الام للشافعی، کتاب الحج باب القول عند رؤية البيت، حديث : ۶۰۶۴) (۱) دغه حديث که څه هم مرسل دي، ليکن دحضرت امام شافعی رحمة الله عليه په کتاب الام کي دغه حديث نقل کړيدی اوچې کوم حکم ئي ذکر کړيدي هغه دادي : فاستحبّ للرّجل اذا رأى البيت ان يقول ماحکيتُ وماقال من حسنٍ اجزاه ان شاء الله، (پورته حواله) (۲)

ژباړه : لهذا زه دغه خبره مستحب بولم چې کله انسان بيت الله ويني نو هغه الفاظ دي ووايي کوم چې مانقل کړيدي اوچې کوم څوک ښې کلماتې ووايي دهغه لپاره انشاءالله کافی دي ،البته دغه روايت امام بيهقی رحمة الله عليه په، سنن کبری، کي دامام شافعی په دغه سند سره

(۱) تحت حديث رقم : ۲۵۷۴ ط: رشيدية (۲) ۳۹۹/۱۰ حديث ، ۴۲ طبع ، دار احياء التراث العربي وکذا في ۹۴۲/۲ طبع دار احياء التراث العربي.

نقل کړيدي، اودهغه څخه وروسته ئي دافرمائيلي دي چې : هذامنقطع، (السنن الکبری للبيهقی، باب القول عند رؤية البيت، ۵/۷۳) (۱) او په، معرفة السنن والآثار، کي دامام

شافعی رح دغه قول ابو سعید دکتاب الاملاء څخه رانقل کړيدي، ؛ وليس في رفع اليدين شئ اکرهه ولا استحبه عند رؤية البيت وهو عندی حسن، . ژباړه : دبيت الله په ليدلو سره دلاس پورته کيدلو کي نه کومه داسي خبره شته چي په هغه کښي مکروه ؤوايو، اونه داسي چي وهغه ته مستحب ؤوايو، البته هغه زما په نزد ښه خبره ده (معرفة السنن والآثار للبيهقي ج:۷ص:۲۰۱ فقره ۹۸۰۲) (۲) غالبا امام شافعی رحمة الله عليه ورفع اليدين ته دښه ويلو باوجود وهغه ته اصطلاحا دمستحب ويلو څخه له دغه وجی تيښته کړيده چي دابن جريج دغه حديث مرسل دي، اومرسل دامام شافعی په نزد حجت ندي، ليکن کتاب الام کي ددعاء دکلمو ويلو ته له دغه وجی مستحب ويلي دي چي هلته هغوی دحضرت سعيد بن المسيب رحمة الله عليه دعمل روايت کړيدي، چي دهغه الفاظ دادي، عن محمد بن سعيد بن المسيب عن ابيه انه کان حين ينظر الى البيت يقول : اللهم انت السلام، ومنک السلام، فحينا ربنا بالسلام ،(کتاب الام په پورتني حواله سره)(۳) په دغه کي ددعاء ذکر دي، درفع اليدين ذکرنشته . لهذا نفس ددعاء ترحده پوري دحضرت سعيد بن المسيب رحمة الله عليه دعمل څخه دابن جريج دحديث دمرسل والي تائيد وشو . ليکن که چيري دحنفيه ؤ پر اصولو باندي وکتل شي نو دحنفيه ؤ په نزد حديث مرسل حجت دي، که څه هم معضل وي يانه وي، ځکه چي دغه خبره مشهوره ده چي دحنفيه ؤ په نزد په قرون ثلاثه ؤ کي انقطاع دحديث دصحت لپاره ضرر نه لري، (وګوري قواعد في علوم الحديث للعلامة ظفر احمد العثماني بتحقيق الشيخ عبدالفتاح ابو غدة، فصل : ۵ ص: ۱۳۸ ومابعده) (۴) لهذا دحنفيه ؤ پراصولو باندي ابن جريج رح دغه حديث قابل داستدلال کيدايشي . بالخصوص ددغه وجی څخه هم چي دهغه تأئيد حضرت سعيد بن المسيب رح د ذکرشوي پورته عمل څخه هم کيږی، او امام بيهقی رحمة الله عليه دهغه څخه دحضرت عمر رضی الله تعالى عنه عمل هم ددي مطابق روايت کړيدي . هغه دخپل سند څخه نقل کوي ؛ عن حميد بن يعقوب، سمع سعيد بن المسيب يقول : سمعت من عمر رضی الله عنه کلمة ما بقی احد من الناس سمعها غيری سمعته يقول اذا رای البيت : اللهم انت السلام ومنک السلام فحينا ربنا بالسلام ، (السنن الکبری للبيهقي ج :۵ ص: ۷۳) (۵) (۲)... امام بيهقی

رحمة الله علیه دحضرت ابن جریج رحمة الله علیه دمذکوره روایت دشاهد په طور د حضرت مکحول رح دغه روایت هم نقل کړیدي :

